د اهل سنتو په ٤٦ مشهورو کتابونو کې د

# حضرت علي کرم الله وجهه

ځانګړنې


لیکوال:

**علامه سید محمد باقر موسوي همداني**

ژباړن:

**اجرالدین اقبال**

# د اهل سنتو په ٤٦ مشهورو کتابونو کې د
# حضرت علي کرم الله وجهه
# ځانګړنې

لیکوال:
علامه سید محمد باقر موسوي همداني
ژباړن:
اجرالدین اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم
مخخوړ:
د کتاب نوم: حضرت علي کرم الله وجهه
ليکوال: علامه سيد محمد باقر موسوي همداني
ژباړه: اجرالدين اقبال
کمپيوټري چارې: محمد منصف اقبال (MBA)
مخونه:
شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
د چاپ نوبت او کال: لومړی_۱۳۹۰ ل
وېبپاڼه: WWW. ANDYAL. COM

## لړلیک

د ژباړن سریزه ........................................................................ ۹
د حضرت علي کرم الله وجهه د فضایلو ډېرښت.......................................... ۱۰
حضرت محمد (ص) او علي کرم الله وجهه تر آدم علیه السلام مخکې پېدا شوي ول او ختِه یې یوه ده... ۱۰
حضرت آدم پر پنجتن پاک الله تعالی ته قسم ورکړ؛ نو وبښل شو .......................... ۱۲
د پېغمبراکرم او حضرت علي شجره یوه ده ................................................ ۱۳
د پېغمبراکرم او حضرت علي ټاکنه د څښتن له لوري وه ..................................... ۱۴
څښتن خپل استازی په علي کرم الله وجهه تایید کړ ........................................ ۱۵
د علي زوکړه په کعبه کې وه او پخپله د کعبې په څېر دی .................................. ۱۶
رسول الله (ص)، علي روزنې ته بوت ..................................................... ۱۶
علي کرم الله وجهه په اسلام راوړو کې ړومبی و .......................................... ۱۷
علي پر رسول الله (ص) په ایمان راوړو کې ړومبی تن و ..................................... ۲۳
د علي ایمان تر ټولو پیاوړی و ........................................................ ۲۶
حضرت علي ړومبی تن و چې لمونځ یې وکړ................................................ ۲۶
حضرت علي د رسول الله په څېر لمونځ کاوه .............................................. ۳۱
د حضرت علي د څېرې ښکلا ............................................................ ۳۱
د حضرت علي القاب او کنیې............................................................ ۳۲
په دعا پسې چې پر آل محمد درود وویل شي؛ نو قبلېږي ...................................... ۳۵
هغه لمونځ نه قبلېږي چې پکې پر آل محمد درود و نه ویل شي................................. ۳۶
پر محمد او آل یې د درود څرنګوالی....................................................... ۳۷
آل محمد؛ علي، حسن، حسین او فاطمه دي .................................................. ۳۹
رسول الله منع کړي یو، چې بتراء درود مه وایاست .......................................... ٤۰
د تطهیر آیت د رسول الله، علي، فاطمې، حسن او حسین په اړه راغلی دی .......................... ٤۰
رسول الله په ............................................................................. ۵۰
علي، فاطمه، حسن او حسین مباهله وکړه ..................................................... ۵۰
رسول الله، حضرت علي، فاطمې، حسن او حسین ته وویل:........................................ ۵٤
انا حرب لمن حاربتم و سلم لمن سالمتم ..................................................... ۵٤
څوک چې له رسول الله، علي، فاطمې، حسن او حسین سره مینه کوي؛ نو د الله تعالی له استازي سره به یې
یوه درجه وي............................................................................. ۵٦
د هل اتی سورت د حضرت علي، فاطمه، حسن او حسین په اړه نازل شوی دی ............................ ۵٦
د مودت آیت د رسول الله د خپلوانو؛ علي، فاطمه، حسن او حسېن په اړه نازل شوی دی.................. ٦۱
د حضرت علي په اړه نازل شوي آیتونه ....................................................... ٦۵
افمن کان مؤمنا کمن کان فاسقا لا یستون (سجده؛ ۱۷)........................................... ٦٦

د حضرت علي په باب نازل شوی دی ........................................................ ٦٦
افمن کان علي بينه من ربه و يتلوه شاهدمنه (هود؛ ١٧) ........................................ ٦٧
د علي په باب نازل شوی دی ............................................................... ٦٧
فان الله هو مولاه و جبريل و صالح المؤمنين (تحريم؛ ٤٠) ....................................... ٦٨
د حضرت علي به اړه راغلی دی ............................................................ ٦٨
(و تعيها اذن و اعيه) (الحاقه؛ ١٢) ........................................................... ٦٨
د حضرت علي په باب راغلی دی ............................................................ ٦٨
(الذين ينفقون اموالهم باليل و النهار سراوعلانيه فلهم اجرهم عند ربهم ولا خوف عليهم ولا يحزنون (بقره؛ ٢٧٤) ........................................................................................ ٧٠
د علي په باب راغلی دی .................................................................. ٧٠
ان الذين امنوا و عملوا الصالحات سيجعل لهم الرحمن وداً (مريم؛ ٩٦) د حضرت علي به باب راغلی دی ٧١
ان الذين امنوا و عملوا الصالحات اولئک هم خير البريه (بينه؛ ٧) ................................. ٧١
د حضرت علي په باب راغلی دی ............................................................ ٧١
اجعلتم سقايه الحجاج و عماره المسجد الحرام کمن امن باالله واليوم الاخر (توبه؛ ١٩) .................. ٧٢
د حضرت علي په باب راغلی دی ............................................................ ٧٢
(وقفوهم انهم مسئولون) (صافات: ٢٤) ....................................................... ٧٣
د حضرت علي د دښمنانو په اړه راغلي آيتونه .................................................. ٧٩
الله تعالی د حضرت علي له امله ددې امت د نجوا صدقه وبښله ....................................... ٨٠
بې له حضرت علي بل چا د نجوی پر آيت عمل و نه کړ .............................................. ٨١
له رسول الله سره د حضرت علي مقام ......................................................... ٨٢
داسې راته يې؛ لکه هارون چې موسی ته و ....................................................... ٨٥
د رسول الله (ص) رور ..................................................................... ٩٧
د رسول الله (ص) وزير ..................................................................... ١٠٩
رسول الله (ص): علي له ما او زه له علي څخه يم ................................................. ١١٢
د علي وينه او غوښه د رسول الله ده ......................................................... ١١٨
د رسول الله (ص) ځان ..................................................................... ١١٩
رسول الله (ص): د چاچې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی ...................................... ١٢١
د يارانو مبارکي ............................................................................ ١٤٨
د ”خم غدير“ پر ورځ ...................................................................... ١٥٠
رسول الله د علي پر سر پګړۍ کېښووه ....................................................... ١٥٠
د ( يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليک من ربک) آيت د .............................................. ١٥٠
”خم غدير“ پر ورځ راغلی دی ................................................................ ١٥٠
د (اليوم اکملت لکم دينکم) آيت د ........................................................... ١٥١
”خم غدير“ پر ورځ نازل شوی دی ............................................................ ١٥١

حارث بن نعمان پر الهي عذاب ککړ شو؛ ځکه د "خم غدیر" پر ورځ یې د الله تعالی د رسول پر کار خوښ نه شو........................................................................................ ۱۵۲
رسول الله (ص): تر ما روسته علي ولي دی ........................................................ ۱۵۳
آیت: (انما ولیکم الله و رسوله)........................................................................ ۱۵۳
د رسول الله (ص) خلیفه .................................................................................. ۱۵۵
د رسول الله (ص) خلفا دولس تنه دي................................................................. ۱۵۵
د رسول الله (ص) وصي ................................................................................... ۱۵۷
د رسول الله (ص) وارث ................................................................................... ۱۶۰
رسول الله (ص): په تاسې کې دوه گرانبیه څیزونه پرېږدم ...................................... ۱۶۰
د رسول الله (ص) اهلبیت د حضرت نوح (ع) د بېړۍ په څېر دي ............................... ۱٦٤
اهلبیت د امت امامان دي ................................................................................ ۱٦۵
د قیامت پر ورځ بې د رسول الله (ص) له سبب او نسبه ټول سبب او نسبونه پرې کېږي ................ ۱٦٦
د اهلبیتو په باب نازل شوي آیتونه ..................................................................... ۱٦۸
په روایتونو کې د اهلبیتو فضایلو ته لنډه کتنه........................................................ ۱٦۹
له اهلبیتو سره مینه ........................................................................................ ۱۷۱
له اهلبیتو سره دښمني او کرول یې ..................................................................... ۱۷٤
علي صدیق اکبر دی ........................................................................................ ۱۷۵
علي تر ټولو غوره بشر دی ................................................................................ ۱۷٦
یوازې علي او لارویان یې نېکمرغه دي ................................................................ ۱۷۷
له حضرت علي لاروي له خدایه لاروي ده ............................................................ ۱۷۷
علي حجة الله، سیدالاصحاب او سید العرب دی ..................................................... ۱۷۸
علي سیدالمسلمین، امیرالمؤمنین، امام المتقین، قائدالغر المحجلین، فاروق الامة و یعسوب الدین دی ... ۱۸۰
علي تل له حق او حق تل له علي سره دی ............................................................ ۱۸۱
علي له قرآن او قرآن له علي سره دی .................................................................. ۱۸۳
علي ته کتل او یاد یې عبادت دی ........................................................................ ۱۸٤
الله تعالی له علي سره خواله وکړه........................................................................ ۱۸۵
د رسول الله (ص) په دعا لمر علي ته راستون شو .................................................... ۱۸۵
د قرآن د دوو آیتونو د راتگ شان ....................................................................... ۱۸۹
د حضرت علي او فاطمة الزهرا واده..................................................................... ۱۹۰
د الله تعالی نبي بې د علي له وره د نورو ټولو اصحابو کرامو ورونه وتړل ..................... ۱۹۲
د هر پېغمبر ځوځات له ځانه وي؛ خو د حضرت محمد (ص) ځوځات له علي دی ............ ۱۹۳
پر الله تعالی او استازي یې علي او پر علي هم الله تعالی او استازی یې گران دي .............. ۱۹۵
رسول الله (ص) وایي: د الله تعالی حکم دی، چې له علي، سلمان، ابي ذر او مقداد سره مینه وکړم........ ۱۹۸
حضرت علي څومره د الله تعالی پر استازي گران و؟............................................... ۱۹۹

له علي سره مينه له الله تعالى او استازي سره يې مينه ده ..................... ۲۰۲
د حضرت علي د دوستانو ثواب او دښمنانو عذاب ..................... ۲۰٤
د علي دوستي هغه حسنه ده، چې سيئات سوځوي ..................... ۲۰۵
بوټي او ونې هم له حضرت علي سره مينه کوي ..................... ۲۰٦
له علي سره هر ډول چلن له رسول الله (ص) سره چلن دی ..................... ۲۰۷
د حضرت علي پوهه ..................... ۲۱۰
د حضرت علي وړاندوينې ..................... ۲۱۵
يمن ته د حضرت علي کرم الله وجهه مسافرت ..................... ۲۱۸
علي کرم الله وجهه تر ټولو اصحابو کرامو پر قضا ښه پوهېده ..................... ۲۱۹
د حضرت ابوبکر (رض) ستر سلاکار ..................... ۲۲٤
د حضرت عمر (رض) ستر سلا کار ..................... ۲۲۵
حضرت علي ته د حضرت عثمان او معاويه بن ابوسفيان مراجعات ..................... ۲۳٦
د هجرت پر مهال د پېغمبر په بستره کې د علي څملاستل ..................... ۲٤۲
د بدر د جګړې پر ورځ حضرت جبراييل وويل: لا سيف الا ذوالفقار و لا فتى الا على ..................... ۲٤٤
د احد غزا ..................... ۲٤٦
د قيامت تر ورځې د علي ..................... ۲٤۷
مبارزه د امت تر ټولو کړنو غوره ده ..................... ۲٤۷
د خيبر او حنين غزاګانې ..................... ۲۵۰
حضرت علي پر ځمکه سيف الله او اسدالله دی ..................... ۲۵۱
د ټولو جګړو مشري د حضرت علي په لاس کې وه ..................... ۲۵۲
الله تعالى د حضرت علي زړه پر ايمان ازمېيلی دی ..................... ۲۵۳
رسول الله به خطبه ويله او حضرت علي به يې وينا تقريروله ..................... ۲۵٤
يوازې حضرت علي د رسول الله پر اوږو وختوت ..................... ۲۵۵
د برائت د سورت تبليغ ..................... ۲۵٦
رسول الله حضرت علي ته دنده ورکړه ..................... ۲۵۸
چې پېريان راوبلي ..................... ۲۵۸
رسول الله د قرآن د تنزيل لپاره وجنګېد او حضرت علي به يې د تاويل لپاره جنګېږي ..................... ۲۵۹
رسول الله علي ته د ناکثينو، قاسطينواو مارقينو د وژلو دنده ورکړې وه ..................... ۲٦۱
پر علي د ظلم په اړه د رسول الله (ص) وړاندوينه ..................... ۲٦۳
رسول الله (ص) ام المؤمنين عايشه له حضرت علي سره له جګړې منع کړې وه ..................... ۲٦۵
د رسول الله (ص) وړاندوينه: ..................... ۲٦۷
حضرت عمار ياسر (رض) به ياغي او ظالمه ډله وژني ..................... ۲٦۷
د حضرت عبدالله بن عمر خواشيني ..................... ۲۷۳
د خوارجو په اړه د رسول الله وړاندوينه ..................... ۲۷٤

د رسول الله (ص) بدني غښتلتيا ته يې په يوه کجوره يوه بوکه راايسته ....................................... ۲۷۸
د علي کرم الله وجهه زهد .................................................................................... ۲۸۰
د حضرت علي عدالت، پاکلمنتوب او تقوی ............................................................... ۲۸۲
د علي تواضع، سخاوت او ښښنه .......................................................................... ۲۸۵
د الله تعالی له حقه په دفاع کې پرېکندتوب ............................................................... ۲۸۷
د الله تعالی ذکر ............................................................................................ ۲۸۸
حضرت حضرت معاويه بن ابي سفيان ته د ضرار په خبرو کې د حضرت علي کرم الله وجهه فضايل ..... ۲۹۰
حضرت علي د رسول الله له نظره ........................................................................ ۲۹۱
تر رسول الله روسته يې د دندو سرته رسونکی .......................................................... ۲۹۶
تر رسول الله (ص) روسته له حضرت علي سره د امت چلن ........................................... ۲۹۷
د حضرت علي د شهادت په هلکه د رسول الله وړاندوينه او داچې په کومه شپه او په کوم ساعت کې به په شهادت رسي ........................................................................................ ۲۹۹
حضرت علي ددې امت ذوالقرنين دی .................................................................... ۳۰۲
د قيامت پر ورځ حضرت علي پر جنتي اوښ سپور دی .................................................. ۳۰۷
حضرت علي او لارويان به يې د حوض کوثر تر څنګ وي .............................................. ۳۰۸
له پل صراطه د تېرېدو لپاره د حضرت علي اجازه په کار ده ........................................... ۳۰۹
حضرت علي د جنت او دوزخ ايشونکی دی .............................................................. ۳۱۰
رسول الله، حضرت علي، جعفر، حمزه، حسن، حسين او مهدي د جنتيانو سادات دي ............... ۳۱۰
علي او لارويان يې د جنت آيتونه او مخالفين يې د دوزخ آيتونه دي ................................. ۳۱۲
د حضرت فاطمة الزهرا فضايل ............................................................................ ۳۱٤
رسول الله او فاطمة الزهرا پر يو بل خورا ګران وو ..................................................... ۳۱۵
فاطمة الزهرا د نړۍ د ښځمنو اغلې ده ................................................................... ۳۱۷
حضرت فاطمة الزهرا د رسول الله (ص) په ويناوو کې .................................................. ۳۱۹
د حسنينو فضائل ............................................................................................ ۳۲۱
د امام مهدي د راښکاره کېدو په باب د رسول الله (ص) وړاندوينه ................................... ۳۲۷
سرچينې ...................................................................................................... ۳۳۱

# د ژباړن سریزه

امام علي کرم الله وجهه د نبوي ښار ور، د اسلام د برخلیک سازو غزاگانو ستر سوبمن، د درې گونو خلفاوو، اصحابو (رضي الله عنهم) او ان د حضرت حضرت معاویه بن ابي سفیان علمي مرجع او د حضرت عمر فاروق (رض) د وینا له مخې: " داسې ستونزه به نه وي، چې علي يې هوارونکی نه وي" او د امام احمد حنبل (ره) د پلټنو له مخې، د نبي کریم په اصحابو کې د بې ساریو ځانگړنو خاوند دی.

ددې کتاب ژباړه، چې لولئ، د اهلسنتو په ٤٦ حدیثي سرچینو کې د امام علي کرم الله وجهه ځانگړنې راټولې شوي او په لومړي ځل په پښتو اړول شوي دي، په دې کتاب کې د علي کرم الله وجهه په اړه داسې فضایل روایت شوي، چې زموږ په ټولنه کې خورا لږ پر ممبرونو او لیکنو کې یادېږي، دا کتاب لوستونکي ته د دیني پوهې په اړه نوی ور پرانځي او د پوهاوي نیمگړنې يې پوره کوي.

علامه سید محمد باقر موسوي همداني د علامه سید مرتضی فیروز آبادي د "فضایل الخمسه" له کتابه د علي کرم الله وجهه ، "حسنینو او حضرت فاطمة الزهرا فضایل او د امام مهدي په باب روایتونه راخستي او موږ يې د ۱۳٦۱ لمریز له چاپه ژپاړه کړې ده.

تمه ده، نوي کهول ته د "اسلامپوهنې" په لړ کې یو گټور ور پرانستل شي.

په درنښت

رور مو

اجرالدین اقبال

## د حضرت علي کرم الله وجهه د فضایلو ډېرښت

(ریاض النضره: دویم ټوک: ۲۱٤ مخ) وایي: له حضرت عمر څخه روایت دی، چې وایي: رسول الله وویل: ((یو پلټونکی هم د علي د ځانګړنو په څېر ځانګړنه تر لاسه کولای نشي؛ علي ښیون غواړي، حق ته ورسیخوي او له هلاکته یې ژغوري او بې لاری له بې لاری باسي))

دا خبره طبراني هم نقل کړې ده.

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۰۷ مخ) په خپل سند له محمد بن منصور طوسي روایت کړی، چې وایي: ما له احمدبن حنبل څخه واورېدل، چې و یې ویل: د رسول الله د یو صحابي فضایل هم د علي هومره نه دي نقل شوي.

(استیعاب: دویم ټوک، ٤٦٦ مخ) احمدبن حنبل او اسماعیل بن اسحاق قاضي: د رسول الله د اصحابو د فضیلت په باب، چې په سمو اسنادو کوم روایتونه راغلي، د علي هومره د یو صحابي په باب هم نه دي راغلي. په دې خبره احمدبن شعیب بن علي نسائي هم منښته کړې ده.

لیکوال: پر دې خبره ابن حجر په صواعق۷۲ مخ، عسقلاني په فتح الباري؛ شپږم ټوک، ۷۱ مخ او شبلنجي د نورالابصار په ۷۳ مخ کې هم منښته کړې او شبلنجي هم دا خبره له ابي علي نیشابوري نقل کړې ده.

## حضرت محمد (ص) او علي کرم الله وجهه تر آدم علیه السلام مخکې پیدا شوي ول او خټه یې یوه ده

(ریاض النضره: ۲ټوک، ۱٦٤ مخ) له سلمان څخه روایت راخستی، چې و یې ویل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل چې و یې ویل: ((زه او علي له الله تعالی سره نور وو او چې الله تعالی آدم پیدا کړ؛ نو هغه نور یې دوه برخې کړ، چې یوه برخه یې زه او بله یې علي شوه.))

د ریاض خاوند وایي: دا روایت احمد هم په خپل مناقب کې راخستی دی.

ليکوال: ذهبي هم دا روايت د ميزان الاعتدال د لومړي ټوک په ۲۳۵ مخ کې له ابن عساکرا و سلمان پارسي نقل کړی دی.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۲۸ مخ) وايي: له بريده روايت دی، چې وايي: رسول الله، حضرت علي د يمن په جګړه کې د لښکر مشر کړ او خالد بن وليد يې پر جبل امير کړ او و يې ويل: ((که دا دواړه لښکرې سره يو ځای شوې؛ نو مشر به مو علي وي.)) چې همداراز هم وشول او له دې جګړې ډېر زيات غنيمت لاس ته راغی، چې دومره غنيمت لا په يوه جګړه کې هم لاس ته نه و راغلی. علي د غنيمت په خمس (پينځمه) کې يوه وينځه واخسته. حضرت خالدبن وليد، بريده ته وويل: شاهد وسه، چې علي د ځان لپاره وينځه ځانګړې کړه. بريده وايي: مدينې ته راغلم او جومات ته ولاړم او و مې ليدل، چې رسول الله په کور کې دی او يوه ډله اصحاب ورته د کور په وره کې په تمه دي، چې خلکو وپوښتلم: بريده څه حال او احوال دی؟ ورته مې وويل: الله تعالی برى د مسلمانانو پر برخه کړ. وويل شول: ولې راغلی يې؟ و مې ويل: راغلی يم، چې رسول الله ته د هغې وينځې په باب خبر ورکړم، چې علي په غنيمت کې ځان ته ځانګړې کړې. راته وويل شول: هو! همداراز وکړه، چې علي د رسول الله له سترګو ولوېږي. زه خبر نه وم، چې دا ټولې خبرې پاک نبي اورېدلی، چې غوسه له کوره راووت او و يې ويل:
((پر خلکو څه شوي، چې غواړي پر علي نيوکې وکړي. چاچې پر علي نيوکه وکړه؛ نو پر ما يې کړې. څوک چې له علي بېل شو؛ نو له ما به بېل شوی وي. به رښتيا چې زه له علي او علي له ما ځنې دی. هغه زما له خټې او زه د ابراهيم له خټې جوړ شوی يم؛ خو زه تر ابراهيمه افضل يم (ذريه بعضها من بعض و الله سميع عليم) بريده! خبر نه يې، چې په غنيمت کې تر يوې وينځې د علي برخه ډېره ده؟ او خبر نه يې چې هغه تر ما روسته ستاسې ولي او مشر دی؟))
و مې ويل: رسول الله! ستا دې قسم پر هغو خبرو وي، چې و دې کړې، يو ځل بيا لاس راکړه، چې بيعت درسره وکړم او له سره اسلام راوړم او بيا وايي: او تر بيعت او بيا اسلام راوړو مخکې ترې بېل نه شوم.
هيثمي وايي: دا روايت طبراني په اوسط کې هم راوړی دی.
(د بغداد تاريخ: ٦ټوک، ۵۸ مخ) پر خپل سند له موسی بن جعفر بن محمد بن علي له پلار او له نيکه روايت کړی: ((رسول الله وويل: زه او هارون د عمران زوی او يحيی بن زکريا او علي ابن ابي طالب له يوې خټې يو.))

(حلية الاولياء: لومړی ټوک، ۸٦ مخ) پر خپل سند له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی، چې و یې ویل: ((رسول الله وویل: څوک چې غواړي زما په څېر ژوند وکړي او زما په څېر ومري او په هغه جنت کې مېشت شي، چې الله تعالی راته ځانګړی کړی؛ نو تر ما روسته دې له علي سره مینه وکړي او باید، چې د علي له دوستانو سره هم مینه وکړي او باید تر ما روسته له امامانو لاروي وکړئ، چې هغوی زما عترت او زما له خټې جوړ شوي او ځانګړې پوهه او علم ورکړل شوی او هغه دې وېرېږي، چې زما په امت کې وي او د دوی فضایل دوروغ وګڼي، له هغوی سره زما پیوند پرې کړي؛ نو الله تعالی به یې زما له شفاعته بې برخې کړي.))

## حضرت آدم پر پنجتن پاک الله تعالی ته قسم ورکړ؛ نو وبښل شو

د خوشحال ختټک دې حشر له هغو شي
چې دوستدار د پنجتن پاک چهارده معصوم وي

(خوشحال بابا)

(سیوطي په درالمنثور کې د "فتلقی ادم من ربه کلمات" په تفسیر کې) د بقرې په سورت کې وایي: ابن نجار له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی: رسول الله مې وپوښت: د ا ټکي څه ول، چې حضرت آدم له خدایه تلقي کړل او الله تعالی د هغو ټکیو په درناوي وبابښه؟ و یې ویل: پر محمد، علي، فاطمه، حسن او حسین قسم و.
(کنز العمال: ۱ ټوک، ۲۲٤ مخ) وایي: له حضرت علي روایت دی: رسول الله مې وپوښت: د (فتلقی ادم من ربه کلمات) په آیت کې د کلمات له ټکي مراد څه دی؟ رسول الله راته وویل: الله تعالی آدم په هند کې او حوا په جده کې له اسمانه راکوزه کړه او آدم په هند کې پر خپله کړې ګناه سل کاله وژړل، چې حضرت جبراییل راغی او د الله تعالی له لوري یې وویل: آدمه! مګر ته مې په خپل لاس جوړ نه کړې؟ مګر له خپلې ساه مې در پو نه کړه او مګر پرښتې مې درته پر سجده نه کړې؟ حضرت آدم د ټولو پوښتنو ځواب هو ورکړ؛ نو الله تعالی وویل: دا دومره ژړا د څه لپاره؟ آدم وویل: ځکه د الله تعالی له رحمته لرې شوی یم.
حضرت جبراییل وویل: تا ته په کار دي، چې پر دې کلماتو الله تعالی ته قسم ورکړې او هغه توبه منونکی او بښونکی دی او هغه کلمات دادي: (اللهم اني اسئلک بحق محمد و آل محمد، سبحانک لا اله الا انت عملت سو و ظلمت نفسي-فتب علی انک انت التواب الرحیم) دا څو ځل ووایه، چې الله تعالی دې وبښي.

د کنزالعمال خاوند وايي: دا روايت ديلمي هم راوړی دی.
ليکوال: سيوطي هم په در المنثور کې تر همدې آيت لاندې دا روايت راوړی او ويلي يې دي: ديلمي د مسند الفردوس په کتاب کې دا روايت له حضرت علي په يو سند روايت کړی او بيا يې د ديلمي روايت په لږ توپير نقل کړی دی.

## د پيغمبراکرم او حضرت علي شجره يوه ده

(مستدرک الصحيحين: دويم ټوک، ۲۱٤ مخ) پر خپل سند له حضرت جابر بن عبدالله روايتوي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې حضرت علي ته يې وويل: علي! خلک هر يو له يوې شجرې وي؛ خو زما او ستا شجره يوه ده او بيا يې دا آيت ولوست: و جنات من اعناب و نخيل صنوان يسقی و غير صنوان يسقی بما واحد).
حاکم وايي: دا حديث له هغو حديثونو څنې دی، چې سند يې صحيح دی.
ليکوال: سيوطي هم دا روايت په در المنثور کې د رعد د سورت په پيل کې د ((و في الارض قطع متجاوزات و جنات من اعناب و زرع و نخيل صنوان و غير صنوان)) تر آيت لاندې راوړی او ابن مردوديه هم دا روايت نقل کړی دی.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٦٠ مخ) پر خپل سند د عبدالرحمن له مريي روايت کړی، چې ويل يې: له ما يې زده کړئ او وا يې ورئ، مخکې تردې چې احاديث له ا باطيلو سره ګډ شي، چې ما د الله تعالی له استازي واورېدل: زه ونه او فاطمه يې ښاخونه او علي يې لقاح او حسن او حسين يې مېوې او لارويان يې پاڼې دي او اصلي جرړه يې د عدن په جنت کې ده او نورې ريښې يې په نورو جنتونو کې دي.
(کنوز الحقايق: ١٥٥ مخ) دا روايت داسې راوړی: ((خلک له ډول ډول شجرو دي؛ خو زه او علي له يوې شجرې يو)) او ليکونکی بيا زياتوي، چې دا روايت ديلمي هم له حضرت جابر څخه نقل کړی دی.
(ذخاير العقبی) پر خپل سند له عبدالعزيز او د الله تعالی له استازي روايت کړی، چې و يې ويل: زه او اهل بيت مې په جنت کې يوه ونه يو، چې ښاخونه يې په دنيا کې دي او چاچې پر موږ منګولې ښخې کړې؛ نو خپل څښتن ته به يې لار موندلې وي.
ذخاير بيا وايي: دا حديث ابوسعد په شرف النبوه کې هم نقل کړی دی.

## د پېغمبراکرم او حضرت علي ټاکنه د څښتن له لوري وه

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۲۹ مخ) پر خپل سند له حضرت ا بوهریره روایت کړی، چې و یې ویل: بي بي فاطمې، رسول الله ته وویل: زه دې علي ته ورکړم، چې یو غریب سړی دی؟ رسول الله وویل: فاطمې خوښه نه یې؟ سره له دې، چې څښتن ټول عالم ته وکتل او دوه تنه یې پکې وټاکل، چې یو زه او بل ستا مېړه علي دی.

لیکوال: دا حدیث خطیب بغدادي هم د خپل تاریخ د څلورم ټوک په ۱۹۵ مخ کې له څو کسانو راخستی، چې پکې راغلي: روسته تر دې چې پېغمبراکرم، حضرت فاطمه، علي ته ورکړه؛ نو بي بي فاطمې وویل: الخ.

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ٤٢ مخ) پر خپل سند له علي بن علي هلالي روایت کړی، چې و یې ویل: له رسول الله کره ولاړم، چې رنځور و او د هماغې رنځورۍ له امله یې ساه هم ورکړه؛ و مي لیدل، چې فاطمه ورته سر ته ناسته ده او دومره یې ژړل، چې غږ یې اورېدل کېده، چې د الله تعالی استازي وویل: د زړه سره! ولې ژاړې؟ فاطمة الزهرا وویل: وېرېږم، چې تر تا روسته بې کسه پاتې شم. رسول الله وویل: زړگیه! مگر خبره نه یې، چې الله تعالی پر ځمکه انسانانو ته یو نظر وکړ؛ هغه نظر چې بې له هغه پرې څوک نه پوهېږي او بیا یې په ټولو خلایقو کې ستا پلار وټاکه او چې یو ځل بیا یې نظر وکړ؛ نو ستا مېړه یې وټاکه او حکم یې راکړ، چې تا ورواده کړم.

د اسد الغابه خاوند وایي: دا حدیث ابو موسی او ابو نعیم نقل کړی دی.

لیکوال: هیثمي هم د خپلې مجمع د نهم ټوک په ۱٦٥ مخ کې او طبري د ذخایر العقبی په ۱۳۵ مخ کې هر یو په مفصله توگه د ا حدیث نقل کړی، چې ډېر ژر به یې د (علي؛ د پېغمبراکرم وصي) په باب کې را وړو هیثمي دا هم ویلي: دا حدیث طبراني په دوو کتابونو؛ کبیر او اوسط کې راوړی او محب طبري هم ویلي: دا حدیث حافظ ا بوالعلاء همداني هم نقل کړی دی.

(کنز العمال٦ ټوک، ۱۵۳ مخ) روایت په دې عبارت نقل کړی: ((مگر نه پوهېږې، چې الله تعالی پر ځمکه ستا پلار په نظر کې ونیو او هغه یې د نبوت لپاره وټاکه اوچې بل ځل یې ځمکې ته نظر کړ؛ نو ستا مېړه ته یې نظر کړ او ما ته یې وحې وکړه، چې هغه ته دې ورکړم او خپل وصي او ځایناستی یې کړم؟)) راوي وایي: دا خبرې یې فاطمې ته وکړې او بیا د کتاب لیکوال وایي: دا روایت طبراني له ابي ایوب څخه نقل کړی دی.

لیکوال: دا حدیث هیثمي هم د مجمع الزواید د شپږ م ټوک په ۲٦۳ مخ کې راوړی دی.

(كنز العمال: ٦ ټوک، ١٥٣ مخ) روايت داسې نقل کړی: خوښه نه يې چې هغه چا ته مې ورکړې، چې تر ټولو ړومبی يې اسلام راوړی او تر ټولو عالم دی؟ او داچې ته زما د امت د ښځو اغلې يې؛ لکه څنګه چې مريم د خپل قوم د ښځو اغلې وه ؟خوښه نه يې چې الله تعالی ځمکې ته نظر کړي او پکې دوه کسه وټاکي، چې يو يې ستا پلار او بل يې ستا مېړه وي؟ او بيا وايي: دا روايت حاکم او طبراني او خطيب هم نقل کړی دی.
(كنز العمال: ٧ ټوک، ١٠٣ مخ) له حضرت ابن عباس څخه راويت کړی، چې و يې ويل: رسول الله وويل: الله تعالی راته د اهلبيتو په درېو کسانو کې پر ټول امت غوره والی راکړ او په قيامت کې د هغه درې کسانو سيد او د آدم د اولادې ښاغلی کړم او دا خبره له وياړه نه کوم او هغه درې تنه؛ علي، حمزه او جعفر بن ابيطالب دي؛ يوه ورځ مو ږ په خپل ابطح کې ويده وو او هر يو له ځانه يو څادر تاو کړی و؛ علي مې ښي اړخ ته، جعفر مې کيڼ لوري ته او حمزه مې پښو ته پروت و، چې د پرښتو د وزرو غږونو را پاڅولم او سر مې د علي لستوڼي ته و او جبراييل او درې نورې پرښتې مې مخامخ وکتې او وا مې ورېدل، چې يوه له درېو پرښتو جبراييل پوښتي: په دې څلورو کې کوم يو ته راغلی يې او جبراييل پخپله پښه ما ته اشاره وکړه، چې ده ته رالېږل  شوې يم او دا د آدم د ځوځات ښاغلی دی او بيا هماغې پرښتې وپوښتل: د ا څوک دی؟ جبراييل وويل: محمد بن عبدالله د انبياوو ښاغلی او دا علي او هغه حمزه سيد الشهداء او هغه هم جعفر دی، چې په جنت کې دوه وزرې لري او چېرې، چې وغواړي، الوځي به.
د کنز خاوند وايي: دا روايت يعقوب بن سفيان، خطيب او ابن عساکر نقل کړی دی.

## څښتن خپل استازی په علي کرم الله وجهه تاييد کړ

(د بغداد تاريخ: ١١ ټوک، ١٧٣ مخ) پر خپل سند له انس بن مالک څخه روايت کړی، چې و يې ويل: رسول الله وويل: معراج ته چې يې بوتلم؛ نو پر عرش يې ليکلي وو: لا اله الا الله محمد رسول الله ايدته بعلي؛ يعنې بې له خدايه بل معبود نشته او محمد يې استازی دی او په علي مې تاييد کړ.
سيوطي په درالمنثور کې تر ((سبحان الذي اسری بعبده ليلا من المسجد الحرام))آيت لاندې ليکي: ابن عدی او ابن عساکر له انس بن مالک څخه روايت کړی، چې ويل يې: رسول الله وويل: معراج ته يې چې بوتلم؛ نو پر عرش يې ليکلي ول: لا اله الا الله محمد

رسول الله ایدته بعلي؛ یعنې بې له خدایه بل معبود نشته او محمد يې استازی دی او په علي مې تایید کړ.
(ذخایر العقبی؛ ٦٩ مخ) دا حدیث راوړی او ویلي يې دي: ملا هم هغه په خلاه سیرة کې روایت کړی دی (کنزالعمال: ٦ټوک، ١٥٨ مخ) هم دا حدیث په څه اختلاف راوړی او د طبراني وینا يې د کبیر په کتاب کې له ابي الحمراء نقل کړې ده او په هماغه مخ کې يې یو بل روایت په دې مضمون راوړی او ابن عساکر او ا بن جوزي له دوو لارو له ابي الحمراء روایت کړی دی.
لیکوال: ابونعیم هغه په لږ اختلاف د حلیة د ٣ ټوک په ٢٦ مخ کې په خپل سند له ابي الحمراء نقل کړی دی.

## د علي زوکړه په کعبه کې وه او پخپله د کعبې په څېر دی

(مستدرک الصحیحین: ٣ ټوک، ٤٨٣ مخ) وايي: د ا خبره تواتر ته رسېدلې، چې فاطمې بنت اسد علي په کعبه شریفه کې وزیږاوه.
(نورالابصار: ٦٩ مخ) وايي: علي په مکه کې په بیت الحرام کې وزیږېد _ او دا زوکړه د یو قول له مخې د جمعې پر ورځ، د رجب د میاشتې په دیارلسم، تر عام الفیله دېرش کاله روسته وه (؛ یعنې د رسول الله تر زوکړې دېرش کاله روسته او دیارلس کاله او د بېلابېلو روایتونو له مخې ١٢ کاله، لس کاله تر بعثته مخکې و او ترې مخکې او نه روسته د چا زوکړه په کعبه کې نه وه، چې دا خبره ابن صباغ هم کوي.
(کنزالحقایق: ١٨٨مخ) د الله تعالی له استازي نقل کړي، چې و يې ویل: ((علي! مقام دې د کعبې په څېر دی.)) دا روایت دیلمي هم نقل کړی دی.
(اسد الغابه: ٣ټوک، ٣١ مخ) پر خپل سند له صنالجي له علي روایت کړی چې و يې ویل: رسول الله وویل: ته د کعبې په څېر يې او ټول باید درشي؛ خو ته به په چا پسې نه ځې. (د حدیث تر پایه).

## رسول الله (ص)، علي روزنې ته بوت

(مستدرک الصحیحین: ٣ټوک، ٥٧٦ مخ) پر خپل سند له مجاهد ابن جبر ابي الحجاج څخه روایت کړی، چې و يې ویل: الله تعالی علي ته دا نعمتونه ورکړل: د رسول الله په لمنه کې

وروزل شو؛ په هغو ورځو کې، چې قریش په تنګسه کې ول او د ابوطالب هم واړه زاګـه ډېـر ول؛ نو رسول الله خپل تره حضرت عباس ته _ چې د نورو بني هاشمو په پرتلـه يـې واړه کـم ول _ وويل: اباالفضله! رور دې ابوطالب واړه ډېر لري او نور خلک هم ويني، چې په تنګسه کې دی؛ نو راځه چې ورشو او د وړو ييتنې يې لږ له اړو ورته کم کړو او ته هم ترې يـو زوی راوړه او زه به هم ترې يو زوی راوړم. عباس وويل: ډېر ښه وړانديز دی او د ابوطالب د کـور پر لور شول او ورته يې وويل: تر هغه چې الله تعالی له دې تنګسې نه يې راايستی؛ نو غـواړو د وړو ييتنې دې يو څه سپک کړو. ابو طالب وويل: عقيل ما ته پرېږدئ او نور ستاسې؛ نو بيا رسول الله علي په غېږ کې راونيو او عباس جعفر په غېږ کې راونيو او په پايله کې علي  به تـل رسول الله سره و، چې الله تعالی محمد پېغمبری تـه وټاکـه او عـلي پـر پېغمـبر ايمـان راوړ او جعفر هم له عباس سره و، چې اسلام يې راوړ او له هغه مړه خوا شو.

## علي کرم الله وجهه په اسلام راوړو کې لومړی و

(صحيح ترمذي: ۲ ټوک، ۳۰۱ مخ) پر خپـل سـند لـه ابي حمـزه _ انصـاري _ څخـه روايـت کړی، چې و يې ويل: له حضرت زيد بن ارقم نه مې واورېدل، چې و يې ويل: عـلي لومړی تن و، چې اسلام يې راوړ.

دا روايت حاکم د مستدر ک الصحيحين د ۳ ټوک په ۱۳٦ مخ کې نقل کړی او صـحيح يـې ګڼلی او نسائي هم د خصايص پـه ۲ مـخ کـې راوړی او ا بن سـعد هـم د طبقـات د ۳ ټـوک لومړۍ برخې په ۱۲ مخ کې نقل کړی او هم ابن اثير د اسد الغا به د ٤ ټـوک پـه ۱۷ مـخ کـې راوړی او همداراز متقي؛ کنزالعمال، ٦ ټوک، ٤۰ مخ.

ابن شيبه او احمدبن حنبل د مسند په ٤ ټوک کې پر دوو سندونو؛ يـو پـه ۳٦۸ مـخ او  بل پـه ۳۷۱ مخ کې نقل کړی.

ابن جريرطبري هم د خپل تاريخ د ۲ ټوک پـه ۵۵ مـخ کـې پـر دوو سـندونو؛ لـه محمـد  بن منکدر او ربيعه بن ابي عبدالرحمن او ابي حازم مدني او کلبي نقـل کـړی، چـې ټولـو ويـلي دي: ((او علي هغه مهال نهه کلن و.))

(مستدرک الصحيحين: ۳ ټوک، ٤٦۵ مخ) له حضرت ابن عباس څخه له ا بو مـوسی ا شعري همدا مضمون او د هماغه ټوک په ۱۳٦ مخ کې له سـلمان څخـه پـه دې مضـمون روايـ توي: رسول الله وويل: ((په تاسې کې به تر ټولو لومړی هغه ما ته د کوثر د حوض غاړې ته راشي، چې تر ټولو لومړی يې اسلام راوړی وي او هغه علي دی.))

او همداراز دا حدیث خطیب بغدادي د خپل تاریخ د ۲ ټوک په ۱۸ مخ، ا بن عبد البر؛ استیعاب: ۲ ټوک، ٤٥٧ مخ. ابن اثیر؛ اسد الغابه: ٤ ټوک، ۱۷ مخ او مناوي په کنوزالحقایق کې یې تر نقلولو روسته وایي: دا حدیث دیلمي او هم کنزالعمال په شپږم ټوک، ٤۰۰ مخ کې راوړی او کنزالعمال د ابن ابي شیبه خبره هم راوړې او همداراز هیثمي هغه د مجمع د ۹ ټوک په ۱۰۲ مخ کې نقل کړی او د طبراني خبره یې هم راخستې ده.

(مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ٤۹۹ مخ) پر خپل سند له قیس بن ابي حازم څخه روایت کړی، چې وایي: په مدینه کې وم، چې په دې ترڅ کې، چې په بازار کې مې چکر واهه، چې باحجارزیت ته ورسېدم او ومې لیدل، چې یوه ډله د یوه سواره شاوخوا ته راټول شوي او هغه هم علي ته کنځلې کوي، خلکو هم ورته غوږ نیولی و او چا هم ورته څه نه ویل، چې دا مهال ناڅاپه حضرت سعد بن ابي وقاص راورسېد او ورسره ودرېد او و یې پوښتل: څوک دی؟ وویل شول: یو سړی دی، چې علي ته کنځلې کوي. سعد غوښتل رامخکې شي؛ خو خلکو لار ور نه کړه؛ خو سعد پخپله ځان هغه سړي ته وررورساوه او و یې پوښته: سړیه! ولې علي ته کنځلې کوې؟ مگر علي تر ټولو ړومبی اسلام را نه وړ؟ مگر هغه تر ټولو مخکې د الله تعالی له استازي سره لمونځ و نه کړ؟ مگر هغه تر ټولو زاهد نه و؟ مگر تر ټولو پوه نه و؟ او همداراز د علي یو یو فضلیت یې وایه، چې دلته راورسېد: مگر هغه د الله تعالی د استازي زوم نه و؟ مگر د الله تعالی داستازي د جگړو بېرغچي نه و؟ او پر دې مهال مخ په قبله ودرېداو دعا یې وکړه: خدایه! دا سړی ستا یو ولي ته کنځلې کوي؛ نو مخکې له دې، چې خلک له دې ځایه خواره شي، خپل زور وروښیه.

قیس وایي: پر الله تعالی قسم! تر اوسه لا خواره شوي نه وو، چې د سړي اس اوټاو شو او لاندې یې راگوزار کړ او سر یې پر ډبره ولگېد او د سر ماغزه یې وشیندل شول.

حاکم وایي: دا حدیث د اعتبار لپاره ټول هغه شرایط لري، چې مسلم او بخاري یې د یو حدیث د اعتبار لپاره غواړي.

(احمد حنبل؛ مسند: ۵ ټوک، ۲٦ ټوک) پر خپل سند له معقل یسار څخه نقلوي: یو ه ورځ مې رسول الله پرېمنځه؛ نو راته یې وویل: لېوال یې چې له فاطمې سره ملاقات وکړې؟ ورته مې وویل: هو! بیا پاڅېد حال دا، پر ما یې ډډه وهلې وه او و یې ویل: خبر شه، چې ډېر ژر به مې درونداوالی بل زغمي او یوازې ته به یې اجر وړې او په هماغه حال کې مې ولیدل، چې هغه مبارک بېخي دروند نه دی؛ ته وا؛ لکه چې بېخي وزن نه لري او په همدې حال کې د بي بي فاطمې کور ته ورننووتو؛ نو رسول الله وویل: ((پر الله تعالی چې خپگان او رنځ مې ډېر شوی دی.))

ابو عبدالرحمن وايي: ما د خپل پلار په کتاب د هغه په خپل خط دا حديث داسې وموند، چې رسول الله بي بي فاطمې ته وويل: خوښه نه يې چې داسې سړي تـه مې ور واده کـړې، چې تر ټول امته مخکې يې اسلام راوړ او تر ټولو يې پوهه او زغم يې ډېر دی؟
دا روايت متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۳ مخ کې راوړی او هيثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۱ او ۱۱٤ مخونو کې راوړی او دواړو ويلي، چې هغه طبراني روايت کړی دی.
(امام ابي حنيفه؛ مسند: ۲٤۷ مخ) پر خپل سند له حبه روايت کړی، چې و يې ويـل: لـه عـلي مې واورېدل، چې ويل يې: ((ما ترټولو ړومبی اسلام راوړ او د الله تعالی له اسـتازي سره مـې لمونځ وکړ.))
خطيب بغدادي هم د خپل تاريخ د څلورم ټوک په ۲۲۳ مخ کې دا روايت راوړی دی.
(الاصابه: ٤ټوک، لومړی قسم، ۱۱۸ مخ) وايي: ابن شاهين له ابراهيم ا بن جعفـر لـه پـلار يـې جعفر بن عبدالله بن سلمه له عمرو بن مره جهني او عبدالله بن مزني ـ دا دواړه اصـحابان وو ـ له جابر څخه روايت کړی، چې ټولو به ويل: ((علي ړومبی تن و، چې اسلام يې راوړ.))
(الاصابه: ۸ ټوک، لومړی قسم، ۱۸۳ مخ) وايي: له علي بن هاشم بن يزيد څخه يـې روايـت راوړی، چې ليلای غفاريه راته وويل: د الله تعالی له استازي سره جگـړې تـه تللـې وم، چـې هلته د ټپيانو ټپونه درمل کړم او چې کله عـلي د بصرـې جگـړې تـه تـه او چـې هلته مـې ام المؤمنين عايشه وليده، ورغلم، ورته مې وويل: د الله تعالی له استازي دې نه اورېـدل، چـې د علي د فضايلو په ويلو نه مړېده. عايشې بي بي را ته وويل: ولې اورېدلي مې تـرې ول او ښـه مې يادېږي؛ پر هغه ورځ، چې علي رسول الله ته راغی او رسول الله له ما کره و او له ځانه يې يو زوړ څادر راتاو کړی و، چې علي راغی او زما او د رسول الله په منځ کې کېناست؛ نو ورته مې وويل: له دې ځايه دې بل پراخ ځای و نه موند، چې راغلې او دلته کېناستې؟رسـول اللـه راته وويل: عايشې! رور ته مې داسې خبره مه کوه؛ هغه تر ټولو ړومبی اسلام راوړ او تر ټولـو روستی به وي، چې راسره پر کړې ژمنه ولاړ وي او د قيامت پر ورځ به هغـه ړومبـی تـن وي، چې ما به ويني.
(اسد الغابه: ۵ ټوک، ۵۲۰ مخ) پر خپل سند له حارث او له حضرت علي روايت کړی، چې و يې ويل: حضرت ابوبکر او حضرت عمر د رسول الله پر لور فاطمې مرکه وکـړه؛ خـو رسـول الله يې مرکه و نه منله، چې حضرت عمر وويل: علي! ته د فاطمې يې. ما وويل: زه خو د دنيا له ماله هېڅ نه لرم او يوازې دا زغره لرم او بالاخره رسول الله خپلـه لـور عـلي تـه ورکـړه او دا خبره، چې فاطمې ته ورسېده؛ نو و يې ژړل، چې رسول الله ورغی او ورته يې وويـل: لـورې!

ولې ژاړې؟ پر الله تعالی قسم! په مسلمانانو کې مې تر ټولو پوه او هغه ته ورکړې، چې حلـم يې تر ټولو ډېر دی او تر ټولو ړومبی يې پر ما ايمان راووړ.
(متقي؛ کنزالعمال، ٦ ټوک، ٣٩٢ مخ) ددې حديث تر نقلولو روسته په اختلاف سره وايـي: دا روايت ابن جرير (دا روايت صحيح ګڼلی) او دولابي د (الذريه الطاهره) پـه کـتاب کـې نقـل کړی دی.
(رياض النضره: ٢ټوک، ١٨٢ مخ) وايي: او له حضرت انس څخه روايت دی، چې کله رسول الله خپله لور فاطمه حضرت علي ته ورنکاح کړه؛ نو رسول الله ام ايمـن تـه وويـل: لـور مـې ناوې کړه او د علي کور ته يې يوسه! او ورته ووايه: تر هغې لاس مـه وروړه، چې زه نـه يـم راغلی او د ماځښتن تر لمانځه روسته يې د اوبو يو لوښی راواخست او پکې اوبه يې پـه دعـا دم کړې او بيا يې علي ته وويل: له دې اوبو وڅښه او اودس هم پرې وکړه او بيا يـې فـاطمې ته همدا خبره وکړه او په داوړو پسې يې ور وتاړه، چې فـاطمې وژړل. رسـول اللـه وپوښـتله: ولې ژاړې؟ حال دا، داسې سړي ته مې ور واده کړې يې، چې تر ټولو مخکې يې اسلام راوړ او تر ټولو يې خوی غوره دی (او بيا وايي: ) دا حديث ابوالخير حاکمي هم نقل کړی دی.
(استيعاب: ٢ټوک، ٤٥٦ مخ) د حضرت علي د اسلام او پر نورو اصحابانو يې د غوره والي په اړه پر خپل سند په ٤٥٧ مخ کې له حضرت عمر او غفره مريي روايت کړی، چې و يې ويـل: محمد بن کعب قرظي وپوښتل شو: ړومبی تـن څـوک و، چـې اسـلام يـې راوړ؟ عـلي و کـه ابوبکر؟ په حيرانتيا يې ځواب ورکړ: سبحان الله؛ په هغو دوو کې علي ړومبی و او که پـه دې باب څوک تېروتي وي؛ نو له دې امله به وي، چې علي خپل اسلام له خپل پـلار پټـاوه؛ خـو ابوبکر خپل اسلام ښکاره کړ؛ ګڼې هېڅ شک نشته، چـې عـلي تـر ټولـو ړومبـی اسـلام راوړ (ليکوال: کېدای شي دا پټول د ابوطالب تر ايمان راوړو مخکې وي) او پـه ٤٥٨ مـخ کـې پـر خپل سند له قتاده له حسن او په هماغه مخ کې يې له حضرت ابن عبـاس څخـه پـه همـدې ټکيو يو بل روايت نقل کړی او بيا يې ويلي: دا روايت له دوو معتبرو او ښو لارو له ابن عمـر نه هم نقل شوی دی.
ابن اثير؛ اسدالغابه، ٤ټوک، ١٧ مخ او همداراز هيثمي؛ مجمع الزوايد، ٩ ټوک، ٣٩٥ مـخ هـم دا روايت له طبراني راخستی دی.
(کنز العمال: ٦ټوک، ٣٩٥ مخ) له حضرت عمر نه روايت کړی، چې و يې ويل: هېڅکله علي ته بدرد و نه وياست او نيوکه پرې و نه کړئ؛ ځکه د الله تعالی له استازي مې په اړه يـې درې ځانګړنې واورېدې، چې که يوه يې ما درلودای؛ نو تر ټولو هغو څيزونو به را ته ښه وې، چـې پر ځمکه پرې لمر لېږي او بيا وايي: د الله تعالی لـه اسـتازي سره وم چـې ابوبکر، ابو عبيـده

جراح او یوه ډله نور اصحاب هم ورسره ول، چې رسول الله د علي پر اوږه لاس کېښود او و يې ويل: ((علي! ړومبی تن وې، چې اسلام دې راوړ او ړومبی تن وې، چې ايمان دې راوړ او داسې راته يې؛ لکه هارون چې موسی ته و)) (بيا وايي) دا روايت ابن النجار هم نقل کړی دی او په خپله کنزالعمال هم پر يو بل سند له حضرت ابن عباس او حضرت عمر بن خطاب نه نقل کړی دی، چې و يې ويل: په علي پسې سپکې مه وياست او هېڅکله ورپسې بدې ردې مه وياست، چې له رسول الله نه مې واورېدل، چې ويل يې: په علي کې درې ځانګړنې دي. حضرت عمر په پای کې ويلي دي : رسول الله وويل: ((علي! راته به دروغ وايي، چې راته وايي مينه درسره لرم؛ خو تا دښمن ګڼي.))

(د کنزالعمال خاوند وايي: ) دا حديث حسن ابن بدر په روايات خلفاء کې او حاکم په کنـي کې او شيرازي په القاب کې را وړی دی.

(کنزالعمال: ٦ټوک، ۱۵۳ مخ) د علي د اسلام، زغم او علم په باب روايت راوړی، چې طبراني هم نقل کړی او همداراز د شپږم ټوک په ۱۵۳ او ۳۹۷ مخونو کې يو بل روايت راوړی او ويلي يې دي: دا روايت خطيب د المتفق و المتفرق په کتاب کې له حضرت بريده نقل کړی او په ۱۵۳ مخ کې همدې روايت ته نږدې يو بل روايت په دې زياتوالي راوړی، چې پرښتو د علي تر اسلامه اوه کاله مخکې پر ما او علي درود وايه. (له ابن عسا کر نه نقل شوی دی)

(حلية الاولياء: ٤ټوک، ۲۹٤ مخ) پر خپل سند له حسن نه روايت کړی، چې و يې ويل: همداچې حجاج بن يوسف، سعيد بن جبير لاس تړلی ونيو؛ نو ورته يې وويل: شقي بن کسير يې؟ ورته يې وويل: سعيد بن جبير يم. ورته يې وويل: بلکې ته شقي بن کسير يې. و يې ويل: ستا په پرتله مور مې زه او زما نوم ښه پېژانده؛ ورته يې وويل: ته د محمد په اړه څه وايې؟ پوښتنه يې وکړه: مراد دې رسول الله دی؟ و يې ويل: هغه د آدم د ځوځات ښاغلی؛ مصطفی او تر ټولو غوره پاتې شوی او تر ټولو غوره تېر شوی دی (تردې چې حجاج وپوښت: ) د علي په اړه څه وايې؟ هغه د الله تعالی داستازي د تره زوی او هغه و، چې تر ټولو ړومبی يې اسلام راوړ او د الله تعالی د استازي زوم و او د حسن او حسين پلار و (تر پايه حديث).

(هيثمي؛ مجمع، ۹ټوک، ۲۲۰ مخ) له مالک بن نويرث نه يو حديث او بل حديث له حضرت بريده نه او بل حديث له ابي رافع نه نقل کړی، چې په نارينه وو کې ړومبی علي اسلام راوړ او په ښځمنو کې بي بي خديجه وه. (له بزار نه نقل شوی، چې راويان يې هم صحيح دي).

(سیوطي په در المنثور کې تر: ((و کنتم ازواجا ثلاثا))(واقعه/۸)آیت لاندې له ابن مردویه لـه حضرت ابن عباس څخه نقل کړي، چې و یې ویل: د (السابقون والسابقون) جمله د حزقیل د آل فرعون د مؤمن او حبیب نجار په اړه ده، چې د دویمي کیسه د یس په سورت کې راغلـې او هم د علي په اړه دی؛ ځکه دا درې وانه پخپلو امتونوکې تر ټولو مخکیني دي او لـه نـورو وړاندې دي او په دې درېو کې علي تر ټولو غوره او افضل دی.
(کنزالعمال: ٦ټوک، ۱۵۲ مخ) وایي: د خلکو مخکیني درې دي: د موسی د امـت یو شع بن نون او د عیسی د امت حبیب نجار دی، چې کیسه یې د یس پـه سـورت کـې راغلـې ده او د محمد د امت علي دی. (طبراني او ابن مردویه له حضرت ابن عباس څخه راویت کړی دی)
لیکوال: مناوي د فیض القدیر د څلورم ټوک په ۱۳۵ مخ کې او ا بن حجـر د صـواعق پـه ۷۲ مخ کې او د ابن حجر د وینا له مخې دیلمي هغه له عایشې بي بي او همداراز محب طبري د ذخایر په ۵۸ مخ کې او د ریاض النضره د دویم ټوک پـه ۱۵۸ مـخ کـې نقـل کـړي، چـې دا حدیث ابن ضحاک د (الاحاد والمثاني) او سیوطي په در المنثور کې د (و کنتم ازاجا ثلاثـه؛ واقعه: ۸) تر آیت لاندې او ابن ابي حاتم له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی دی.
ثعلبي د قصص په ۲۳۸ مخ کې وایي: د الله تعالی له اسـتازي روایـت دی، چـې و یـې ویـل: درې کسان دي، چې ان د سترګې د رپ هومره یې هم کفـر نـه دی کـړی، چـې لـومړی یـې حزقیل د آل فرعون مؤمن، دویم حبیب نجار د یسین خاوند او درېیم یې عـلي دی، چـې تـر هغو دوو غوره دی.
ثعلبي همدا روایت په ۲۵۷ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: عـلي د آل محمـد مـؤمن دی او علي تر هغو دوو غوره دی او په ۵۸ مخ کې د خمشاوي خبره پر خپل سند له ابن ابي لیلي او له پلاره یې راویت کړې، چې و یې ویل: الخ زمخشري هـم د کشـاف پـه تفسـیر کـې د: ((و جاء من اقصی المدینه رجل یسعی قال یقوم اتبعوا المرسلین؛ یاسین: ۲۰)) تر آیت لانـدې او دې ته ورته سـیوطي پـه درالمنثـور کـې د: ((واضرب لهـم مـثلا اصـحاب القریـة اذ جـاء هـا المرسلون؛ یاسین: ۱۳)) ترآیت لاندې له ابن عدد او ابن عساکر څخه نقـل کـړی او خطیـب هم د بغداد په تاریخ کې د څلورم ټوک په ۱۵۵ مخې کې دې ته ورتـه یـو حـدیث لـه جـابر څخه د حبیب نجار، علي او آسیه د فرعون د مېرمن په اړه نقل کړی دی.
(تهذیب التهذیب؛ ۷ ټوک، ۲۳٦ مخ د عفیف کندي د حال پـه شرح کـې لـه عسـکري نقـل کړي، چې عفیف وویل: ((که الله تعالی دا ویاړ را پر برخه کړی، چې اسلام راوړم؛ نو دا ویاړ هم لرم، چې دویم تن وم، چې تر علي روسته مې اسـلام راوړ)) او لـه دې حدیثـه جـوتېږي، چې علي په اسلام راوړو کې ړومبی و او موږ به هم له څو لارو د عفیف کیسه راواخلو.

(مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ۱۲۵ مخ) پر خپل سند لـه ابي اسـحاق څخـه روایـت کـړی، چې و یې ویل: قثم بن عباس مې وپوښت: څنګه ده، چې تاسې هم د الله تعالی داسـتازي د تره زامن یاست؛ خو یوازې علي د الله تعالی له استازي میراث وړي او تاسې یې نـه وړئ؟ و یې ویل: ((ځکه تر موږ ټولو یې مخکې د الله تعالی پر استازي ایمان راووړ او تر مـوږ ټولـو یې ډېر د آنحضرت خدمت کړی دی.)) د مستدرک خاوند وایي: دا حدیث صحیح دی.
متقي؛ کنزالعمال، ٦ټوک، ٤٠٠ مخ هم دا حدیث له ابن ابي شیبه نقل کړی دی.
(نورالابصار: ٦٩ مخ) وایي: او له هغې ـ؛ یعنې فاطمه بنت اسـد ـ نـه روایـت دی، چـې هغـه مهال یې چې علي پر ګېډه و؛ نو بوتانو ته یې سجده نشوه کړای؛ ځکه ماشوم به پر خپله پښه د مور ګېډې ته فشار ورکاوه او خپله شا به یې د مور په شا پورې نښلوله؛ نـو ځکـه هـر مهـال چې یې نوم راوړل کېږي؛ نو وایو: (کرم الله وجهه)؛ یعنې الله تعالی تردې ستر کړ، چې خپل مخ د بوتانو پر وړاندې د خاورې پر لور کوږ کړي.

## علي پر رسول الله (ص) په ایمان راوړو کې ړومبی تن و

(تاریخ ابن جریر طبري: ۲ټوک، ۷۵ مخ)پر خپل سند له اسحاق څخه نقل کړي، چـې و یـې ویل: په نارینه وو کې علي ړومبي تن و، چې د الله تعالی پر استازي یې ایمان راوړ او لمـونځ یې ورسره وکړ او رسول الله یې په هغه څه کې تایید کړ، چې د الله تعالی له لوري یې راوړی و، سره له دې، چې لس کلن و او هغه نعمتونه، چې الله تعالی علي ته ورکړي ول، یـو یـې دا و، چې تر اسلامه مخکې هم د رسول الله په لمن کې و روزل شو.
(سیوطي په در المنثور کې) د نساء په سورت کې د: ((فابعثوا حکـما مـن اهلـه و حکـما مـن اهلها)) تر آیت لاندې وایي: طبراني، حاکم او بیهقي یه سنن کې او ابو نعیم (په حلیة کې) له عبدالله بن عباس څخه راویت کړي، چې و یې ویل: هغه مهال چې خوارج له علي بېل او په یوه دښته کې راټول شول؛ نو علي ته مې وویل: وربه شم او یـو څـه خـبرې به ورسره وکـړم، کېدای شي سمې ته شي؛ نو ورغلم، حال دا، په لوی لاس مـې ویـاړنې جـامې اغوسـتې وې.
خوارجو وپوښتلم: ابن عباسه! دا ویاړنې جامې څه دي، چې تا اغوستي، یـاره افـرین دې وي او پرتا دې وي؟ ورته مې وویل: دا لا څه نیوکه ده، چې کوئ یې، ما رسول الله وکوت، چـې ښکلې جامې یې اغوستي او دا آیت وایي: (قل من حرم زینة الله التي اخرج لعبـاد والطیبـات من الرزق؛ یعنې ووایه: چا حرام کړ هغه زینت، چې الله تعالی یې د بندګانو لپاره روزي کړی او همداراز د رزق طیبات). خوارجو وویل: خبره کوه څه ته راغلی یې؟

ورته مې وويل: راغلې يم و مو پوښتم: څه نيمگړتيا مو زما د تره په زوی کې موندلې ده، سره له دې چې هغه د الله تعالى داستازي زوم و او ړومبی تن و، چې ايمان يې راوړ او اوس هم د رسول الله اصحاب يې لارويان دي (راوي حديث ته ادامه ورکوي، چې دلته رارسي او وايي: ) په خوارجو کې لس زره کسان سمې لارې ته راووښتل او څلور زره پاتې شول، چې ټول ووژل شول.

هيثمي؛ زاويد: ٦ټوک، ۲۳۹ مخ هم دا حديث نقل کړی او ويلي يې دي، چې احمد هم دا حديث نقل کړی او رجال يې هم صحيح دي.

(سيوطي په در المنثور کې د: (اجلعتم سقاية الحجاج و عمارة المسجدالحرام کمن امن واليوم الاخر(التوبه/۱۹) تر آيت لاندې ويلي: ابونعيم د فضايل الصحابه په کتاب کې او ا بن عساکر له حضرت انس نه روايت کړی، چې و يې ويل: عباس او شيبه د کعبې کونجي ساتي سره ناست ول او پر يو بل يې وياړنې کولې او عباس ويل: زه تر تا شريف يم؛ ځکه د رسول الله تره يم او د رسول الله وصي او هم د الله تعالى د کور د زيارت کوونکيو ساقي يم. شيبه وويل: زه تر تا شريف يم؛ ځکه د هغه د کور امين او خزانه دار يم او که تا زما مقام درلود؛ نو الله تعالى به ته د خپل کور امين کړی وې؛ خو دا دنده يې ماته راکړه. علي له دې پېښې خبر شو او و يې ويل: زه تر تاسې داړو شريف يم؛ ځکه په اسلام راوړو او هجرت کې ړومبې وم. بيا درې وانړه رسول الله ته ورغلل او له کيسې يې خبر کړ او رسول الله هم ورته يو څه وويل او څو ورځې روسته رسول الله ورته د پورتني سورت لس آيتونو ولوستل.

(سنن بيهقي: ٦ټوک، ۲۰٦ مخ) پر خپل سند له حسن او نورو نه روايت کړی، چې و يې ويل: علي ړومبی تن و، چې د الله تعالى پر استازي يې ايمان راوړ حال دا، ۱۵ کلن که ۱٦ کلن و.

دا روايت هيثمي؛ مجمع، نهم ټوک، ۱۰۲ مخ کې هم له طبراني نقل کړی او رجال يې هم ټول صحيح دي.

(خصايص نسائي: ۳ مخ) پر خپل سند له عمرو بن عباد بن عبدالله روايت کړی، چې و يې ويل: علي وويل: زه د الله تعالى بنده، د الله تعالى داستازي رور او صديق اکبر يم او بې له ما څوک دا ادعا نه کوي؛ مگر دروغجن او تر ټولو مخکې مې ايمان راوړی دی.

(اسد الغابه: ٤ټوک، ۱۹ مخ) له ابي اسحاق او (استيعاب: ۲ټوک، ۷۵۹ مخ) د ليلای غفاريه په شرح کې او (رياض النضره: ۲ټوک، ۱۵۷ مخ) له ابي ذر او همداراز (رياض النضره: ۲ټوک، ۱۵۷ مخ) له معاذه عدويه او (کنزالعمال: ٦ ټوک، ٤۰۵ مخ) او محمد بن ايوب د په خپل کتاب کې او عقيلي او ذهبي؛ ميزان الاعتدال، ۱ ټوک، ٤۱۷ مخ کې هر يو په دې باب روايت نقل کړی دی.

(رياض النضره: ۲ټوک، ۱۹۷ مخ) وايي: له حضرت معاذ بن جبل څخه روايت شوی، چې و يې ويل: رسول الله علي ته وويل: ته پر اووه ګامونو د نورو خلکو په پرتله غوره يې، چې يو قريش يې هم نه لري: ۱ـ ته پکې ړومبی يې، چې پر الله تعالی دی ايمان راوړ. ۲ـ په پرتله يې له الله تعالی سره پر کړې ژمنه تر ټولو وفادار يې. ۳ـ په پرتله يې د الله تعالی پر امر پايدار يې. ٤ـ په ويش کې تر ټولو عادل يې. ٥ـ پر رعيت تر ټولو عادل يې. ٦ـ په قضا کې تر ټولو تکړه يې. ۷ـ الله تعالی ته دې مقام تر ټولو نږدې دی. (د حاکمي د نقل له مخې) او (ابونعيم هم يه حلية کې د لومړي ټوک په ٦٦ مخ کې) دا روايت نقل کړی دی.

(الاصابه: ۷ټوک، لومړی قسم، ١٦٧ مخ) وايي: ابو احمد او ا بن منده او نورو د اسحاق بن اسدي له خالد بن حارث له عوف له حسن له ابي ليلای غفاري روايت کړی، چې و يې ويل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: تر ما روسته به فتنه راولاړه شي؛ نو دا مهال هر لوري ته چې علي و، تابعدار يې وسئ اوترې مه بېلېږئ او هغه پر ما په اسلام راوړو کې ړومبی و او هغه به ړومبی تن وي، چې د قيامت پر ورځ به راسره يو ځای کېږي او اکبر صديق او ددې امت فاروق او د دين مشر او يعسوب دی؛ لکه هماغسې، چې د دنيا مال د منافقينو يعسوب دی.

(فيض القدير: ٤ټوک، ۳٥۸ مخ) په شرح کې وايي: طبراني او بزار له ابي ذر او سلمان څخه په يوه اوږده حديث کې نقل کړي، چې و يې ويل: رسول الله د علي لاس ونيو او و يې ويل: دا ړومبی تن و، چې پر ما يې ايمان راوړ او په قيامت کې به ما ته لاس راکوي او صديق اکبر او ددې امت فاروق او د مؤمنينو مشر دی؛ لکه څنګه چې د دنيا مال د ظالمينو مشر دی.

ليکوال: دا روايت متقي؛ کنزالعمال، ٦ټوک، ١٥٦ مخ کې له طبراني په کبير کې او هغه هم سلمان او ابي ذر دواړو نقل کړی دی او خپل نقل يې له بيهقي په سنن کبری او ابن عدی په کامل کې له حذيفه راخستی دی.

(کنزالعمال: ٦ټوک، ۳۹۳ مخ) پر خپل سند له مامون له پلار يې هارون الر شيد او له پلار مهدي او له پلار منصور او له پلار عبدالله عباس څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: له حضرت عمر بن خطاب نه مې واورېدل، چې ويل يې: په علي پسې بدی ردې مه وياست، پر الله تعالی چې رسول الله به ورسره داسې ځلن درلود، چې که يو يې هم راسره درلود؛ نو تر ټولو هغو څيزونو به راته ښه وي، چې لمر پرې لګېږي: يوه ورځ زه، ابوبکر، ابو عبېده جراح او څو نور اصحاب د ام المؤمنين ام سلمه د کور له مخې تېرېدو، چې و مو ليدل علي په وره کې ولاړ دی؛ نو ورته مو وويل: د الله تعالی له استازي سره کتل غواړو. و يې ويل: رسول الله اوس له کوره راوځي او ډېر وخت لا وتلی نه و، چې رسول الله راووت؛ ور نږدې شو؛ نو

رسول الله پر علي تکيه وکړه او پر اوږه يې ډب ورکړ او ورته يې وويـل: ((ډېـر ژر بـه درسره دښمني وشي، سره له دې، چې ړومبی تن وې، چې پر ما دې ايمان راوړ او تـر ټولـو مؤمنينـو دې پوهه هم ډېره ده. له هغه سره پر کړې ژمنه ولاړ يې او په وېش کې تر ټولو عادل يې او پر ولس تر ټولو مهربانه يې او خپگان دې تر ټولو زيات دی او سره له دې، چې ته زما ملاتړ يې او غسل به راکوې ښخوې به مې او ته يې چې په هر کړاو او خپگان کې مخکښ وې او تـر ما روسته به کفر ته ستون نشې او ته يې چې د قيامت پر ورځ به د حمد له لواء سره زما مخـې ته راځې او زما له حوض نه به دفاع کوې او هغوی يې چې وړ نه دي، له هغه ځايه به يې لرې کوې)) او بيا حضرت ابن عبـاس زيـاتوي، داچـې عـلي د اللـه تعـالی داسـتازي زوم و او لـه بېوزليو سره د مرستې او د تفسير، فقهې او تاويل د علم له امله تر ټولو غوره و.

## د علي ايمان تر ټولو پياوړی و

(کنزالعمال: ٦ټوک، ١٥٦ مخ) د الله تعالی له استازي نقلوي، چې و يې ويل: که ټول اسمانونه او ځمکه د تلې په يوه تله کې او د علي ايمان په بله کې کېښوول شي؛ نو د علي ايمان به ترې درون وي (له ديلمي او ابن عمر نه نقل دی).
رياض النضره: ٢ټوک، ٢٢٦ مخ کې له حضرت عمر بن خطاب (رض) نه روايت شوی، چې د پورتني روايت پر مضمون يې لېينه-گواهي ورکړې ده. (له ابن سمان او حافظ نه د سلفي په کتاب کې نقل)

## حضرت علي ړومبی تن و چې لمونځ يې وکړ

(صحيح ابن ماجه: ١٢ مخ) پر خپل سند له عباده بن عبدالله روايت کړی، چې ويلي يې دي: علي وويل: ((زه د الله تعالی بنده او د رسول الله رور او صديق اکبر يم او که چا تر ما روسته دا ادعا وکړه؛ نو دروغجن به وي، ما اوه کاله تر ټولو مخکې لمونځ وکړ.))
دا مضمون حاکم هم په (مستدر الصحيحين؛ ٣ټوک، ١١٢_١١١ مخونو) کې راوړی او طبري هم د خپل تاريخ د ٢ټوک په ٥٦ مخ کې نقل کړی او هم متقي؛ کنزالعمال، ٦ټوک، ٣٩٤ مخ او طبري؛ تاريخ طبري، ٢ټوک، ٥٦ مخ کې له حاکم او مردويه نقـل کـړی دی او اسـدالغابه: ٤ټوک، ١٨ مخ هم دې مضمون ته نږدې له حضرت ابو ايوب انصاري او محب طبري هم په رياض النضره: ٢ټوک، ١٦٥ مخ کې له ابي الحسن څخه نقل کړی دی.

(امام احمد حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۹۹ مخ) پر خپل سند له حضرت حبه عرني په دې باب یو روایت نقل کړی، چې متقي؛ کنزالعمال، ٦ټوک، ۳۹۵ مخ هم له ابي داوود طیالسي، احمد حنبل، ابي یعلي او مستدرک حاکم نه نقل کړی او هیثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۲ مخ کې راوړی او ویلي یې دي، چې دا روایت احمد، ابویعلي، بزار او طبراني په اوسط کې راوړی دی.

(ابن عبدالبر؛ استیعاب، ۲ټوک، ٤٥٨ مخ) دې مضمون ته نږدې یو روایت نقل کړی دی او د هغه دا روایت ابن اثیر د اسدالغابه د ٤ټوک په ۱۷ مخ کې راوړی او د هغه په نقل کې هم ۵ کاله راغلي او هم ۷ کاله او د خصایص نسائي په ۳ مخ کې په یو روایت کې ۹ کاله هم راغلي دي.

(واحدي؛ اسباب النزول، ۱۸۲ مخ) وایي: حسن، شعبي او قرضي ویلي دي: ((اجعلتم سقایة الحجاج و عماره المسجد الحرام کمن کان امن با الله و الیوم الاخر و جاهد في سبېل الله لا یستوون عند الله و الله لا یهدي القوم الظالمین الذین امنو و هاجرو و جاهدو في سبېل الله باموالهم و انفسهم اعظم درجه عند الله و اولئک هم الفائزون؛ توبه: ۲۰_۲۱ آیتونه) د علي، عباس او طلحه بن شیبه په باب نازل شوي او کیسه داسې وه، چې دې درېو تنو پر یو بل ویاړل. طلحه وویل: زه د الله تعالی د کور کونجي ساتی یم او د کور پرده یې زما په لاس کې ده . عباس وویل: زه د الله تعالی د کور زیار ت کوونکیو ته اوبه ورکوم او لاربنود یې یم. علي وویل: ((نه پوهېږ م د څه په اړه خبرې کوئ؟ دومره پوهېږم، چې ٦ میاشتې مخکې مې تر نورو خلکو لمونځ وکړ او زه د الله تعالی په لار کې د جهاد ویاړ لرم)) او په پورتني آیتونو کې الله تعالی د حضرت علي د خبرې پخلی وکړ او و یې ویل: (ایا د حاجیانو سقایت او د مسجد الحرام تعمیرول پر الله تعالی له ایمان، د قیامت له ورځې او د الله تعالی په لار کې له جهاد سره برابروئ؛ هېڅکله د الله تعالی په نزد برابر نه دي او الله تعالی ظالمانو ته ښیون نه کوي، هغوی چې ایمان راوړی، مهاجرت یې کړی او د الله تعالی په لار کې یې پر مال او ځان جهاد کړی؛ نو له الله تعالی سره اوچته درجه لري او رستګاران دي).

داچې حضرت علي تر ټولو مخکې ایمان راوړی و، ابن جریر طبري د خپل تفسیر د لسم ټوک په ۷٦ مخ کې له محمد بن کعب قرظي او همداراز فخر رازي په خپل تفسیر کې تر پورتني آیت لاندې او د استیعاب د دویم ټوک په ٤٥۹ مخ کې (او صحیح ترمذي د ۲ټوک په ۳۰۱ مخ کې) له حضرت ابن عباس څخه او ابن جریر په خپل تاریخ کې (۲ټوک؛ ۵۵ مخ) او محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ۱۵۸ مخ کې او ابوالقاسم په موافقات کې دا روایت نقل کړی دی.

(مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ۱۱۱ مخ) پر خپل سند له حضرت ا بن عباس څخه روایت نقل کړی، چې و یې ویل: علي څلور ځانګړنې لري چې هېڅ څوک یې نه لري: ۱_ په عر بو او عجمو کې په ایمان راوړو کې ړومبی و. ۲_ یوازېنی تن دی، چې په ټولو جګړو کې د رسول الله بېرغچي و. ۳_ یوازېنی تن دی، چې د مهراس پر ورځ _ د احد جګړه _ چې له خطره ډکه ورځ وه، یو ګام هم شا ته نشو او و نه تښتېد. ٤_ یوازېنی تن دی، چې رسول الله ته یې غسل ورکړ او ښخ یې کړ.
دا حدیث ابن عبدالبر؛ استیعاب: ۲ټوک، ٤٥۷ مخ هم نقل کړی دی.
ابن اثیر جزري په نهایه کې د (غریب الحدیث والاثر) په باب ویلي دي: په حدیث کې راغلي: هغه _؛ یعنې رسول الله د احد د جګړې پر ورځ ډېر تږی و او علي ورته له مهراس څخه اوبه راوړې او د یو باز په څېر یې حمله کوله او دښمن یې د الله تعالی له استازي شړل او لرې کول او پر هماغه اوبو یې د رسول الله د بدن وینې ووینځلې او د مهراس په ډېره کې جوغړندي ته وایي؛ خو ځینو هم ویلي: د هغو اوبو نوم و، چې پر هغه ورځ په احد کې وې.
(خصایص نسائي: ۲ مخ) او احمدبن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱٤۱ مخ او همداراز څلورم ټوک: ۳۷ او ۳٦۸ مخونه او ا بن سعد؛ طبقات: ۳ټوک، لومړی قسم، ۱۳ مخ او ا بن اثیر؛ اسدالغابه: ٤ټوک، ۱۷ مخ او ابوداوود طیالسي؛ مسند: ۳ټوک، ۹۳ مخ او بیهقي؛ سنن: ٦ټوک، ۲۰٦ مخ او ابن عبد البر؛ استیعاب: ۲ټوک، ٤٥۸ مخ او ا بن جریر طبري؛ تاریخ طبري: ۲ټوک، ٥٦ او ٥۷ مخونه او ترمذي؛ صحیح ترمذي: ۲ټوک، ۳۰۰ مخ او متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ۱٥٦ او ۲۰٦ مخونه او حاکم؛ مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ۱۱۲ مخ په دې اړه روایتونه راوړي چې: "علي ړومبی تن و، چې د الله تعالی پراستازي یې ایمان راوړ او لمونځ یې ورسره وکړ حال دا، لس کلن و او د رسول الله د بعثت پر دویمه ورځ؛ یعنې د سه شنبې پر ورځ پر لمانځه ودرېد؛ خو د وېینې د لنډوالي لپاره یې را نه وړل.
(خصایص نسائي: ۳ مخ) پر خپل سند له عفیف کندي روایت کړی، چې و یې ویل: په جاهلیت مکې ته ولاړم او غوښتل مې، چې د کورنۍ لپاره مې جامې او عطر وپېرم؛ نو ددې موخې لپاره د عباس بن عبدالمطلب هټۍ ته ولاړم، چې یو سوداګر و او ورسره کېناستم او په دې حال کې مې پر کعبه سترګې ولګېدې؛ نا څاپه مې ولیدل، چې یو ځوان راغی او اسمان ته یې وکتل او د کعبې پر لور ودرېداو څه موده روسته یو کوچنی راغی او د ځوان ښي اړخ ته ودرېد او څه موده روسته یوه مېرمن راغله او په دوی دواړو پسې ودرېده؛ ځوان رکوع ته ولاړ او هغه دوه هم ورپسې رکوع ته ولاړل او بیا ځوان سجدې ته ولاړ او هغه دوه کسان هم ورپسې ولاړل او بیا ځوان سر راپورته کړ؛ نو ورپسې هغه دوو هم سر را پورته کړ؛ نو عباس

ته مې وويل: څه ستره پېښه وينم؟ عباس وويل: هو دا ستره پېښه ده! پوهېږې هغه ځوان څوک دی؟ ورته مې وويل: نه! و يې ويل: هغه محمد بن عبدالله زما وراره او هغه ماشوم هم د ابوطالب زوی او زما وراره دی او هغه مېرمن خديجه د خويلد لور د هغه ځوان کورودانې ده او هغه راته وايي، چې پالونکی يې د اسمانونو او ځمکې يوازېنی څښتن دی او بې له هغه بل پالونکی نشته او هماغه پالونکي دنده ورکړې ده، چې دين يې خلکو ته ورسوي او پر الله تعالی قسم، چې بې له دې درېو تنو، چې وينې يې، څوک پردې دين نه دي.

دا روايت احمد حنبل؛ مسند: لومړي ټوک، ۲۰۹ مخ کې راوړی او په پای کې يې راغلي دي: گروهمن دی، چې ډېر ژر به د کسری او قيصر ماڼۍ او خزانې سوبه کړي.

او په خپله عفيف، چې د اشعث بن قيس د تره زوی و او په هر ځای کې به يې داکيسه کوله او په پايله کې مسلمان شو او اسلام يې هم بختور و او تل به يې ويل: کاشکې پر هماغه ورځ مسلمان شوی وم، چې له علي سره درېيم تن شوی وم.

د حاکم؛ مستدرک: ۳ټوک، ۱۸۳ مخ د وينا له مخې، و يې ويل: چې په پايله کې يې د اسلام څلورمه برخه زما شوې وه.

دا روايت پر نوموړيو سربېره دوی هم نقل کړی: ابن سعد؛ طبقات: ٦ټوک، ۱۰ مخ او ا بن حجر عسقلاني؛ اصابه: ٤ټوک، لومړی قسم، ۲٤۸ مخ او له بغوي او ابي يعلي، نسائي، عقيلي، بخاري، ابن ابي خيثمه، ابن منده او د غلانيات له خاونده نقل کړی دی او ا بن عبدالبر؛ استيعاب: ۲ټوک، ٤۵۸ او ۵۱۱ مخونو او متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ۳۹۱ مخ له ابن عدی نه په په کامل او تاريخ ابن عساکر کې او ابن اثير؛ اسد الغابه: ۳ټوک، ٤۱٤ مخ او هيثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱۰۳ مخ او د هغه د وينا له مخې احمد، ابو يعلي او طبراني پر څو سندونو او ا بن جرير طبري؛ تاريخ طبري: ۲ټوک، ۵٦ او ۵۷ مخونو کې له څو لارو څو عبارته نقل کړي دي.

(رياض النضره: ۲ټوک، ۱۵۹ مخ) له ابي اسحاق څخه نقل کړي، چې و يې ويل: ځينو عالمانو ويلي دي (گواکې دا يو تور دی، چې پر ابوطالب يې لگولی؛ ځکه د چا نوم پکې نه دی رواړل شوی او سند يې هم نه دی په گوته کړی او يوازې له څو تنو يې يې نقل کړی دی.

ليکوال: چې د لمونځ وخت به را ورسېد؛ نو رسول الله به د مکې د درو پر لور شو او علي به هم له خپل پلاره پټ ځان وررساوه او علي به له خپل پلار او خپلوانو پټ لمونځ کاوه او چې مازيگر به شو؛ نو راستنېدل به. تر ډېر وخت پورې وضع همداسې وه، چې يوه ورځ ابوطالب ترې خبر شو او رسول الله يې وپوښت: وراره دا څه دي، چې وينم يې او ته پرې م تدين

شوی يې؟ رسول الله وويل: کاکاجانه! دا د الله تعالی، پرښتو، پيغمبرانو او د پلار مې ا براهيم دين دی او الله تعالی زه د خپلو بندگانو لپاره استازی رالېږلې يم او کاکا جانه! تر ټولو وړ يې، چې بلنه مې ومنې او د دين په پرمختگ کې راسره مرسته وکړې _ دا عالم، چې معلومه نه ده له کومې سرچينې يې دا خبره راختستی، وايي: _ ابوطالب وويل: وراره! پر الله تعالی قسم، چې نه شم کړای د خپلو نيکونو له دينه لاس واخلم؛ خو دومره ژمنه درسره کړای شم، چې له ما به هېڅ تاوان در و نه رسي؛ بيا وايي: _ چې بيا هم معلومه نه ده، چې د ا خبره د کومې سرچينې پر بنسټ کوي _ علي ته يې وويل: زويه کوم دين، چې ته لرې، څه دی؟

علي وويل: پلار جانه! ما د الله تعالی پر رسول ايمان راوړی او هغه څه مې منلي او تصديق کړي، چې راوړي يې دي او بيا وايي: ابوطالب وويل: دومره پوه شه، چې هغه دې بې له ښېگڼې بل څه ته نه رابلي او څومره چې دې په وسه کې وي ترې بېل نشې. (له ابواسحاق څخه نقل)

(کنزالعمال: ٧ټوک، ٥٦ مخ) له ابن مسعود څخه روايت کړی، چې و يې ويل: لومبی څيز، چې ما د الله تعالی له استازي وليد؛ دا و، چې کله مې له ترونو سره مکې ته راغلی وم؛ نو موږ ته يې د عباس بن عبدالمطلب درک راوښيه؛ ورغلو چې د زمزم د چينې په څنگ کې ناست و، په همدې ترڅ کې، چې ورسره وو؛ نو و مو ليدل، چې د صفا له لوري يو سړی جومات ته راننووت، يو سپين سوربخن سړی و او اوږده او غونجې وېښتان يې تر اوږو رارسېدل، ښکلې اوږد پوزه يې درلوده، بڼره يې ډکه وه، غاښونه يې د مرغللو په څېر پړکېدل، توري او غټې سترگې يې درلودې، د پښو او لاس تلي يې غوښن وو او سپينې جامې يې اغوستې وی او دومره ښايسته او ځلېدلی و ته وا لکه د څوارلسم سپوږمی ده، حال دا، ښي اړخ ته يې يو تنکی هلک و، چې زلميتوب ته ورنږدې و او شونډه يې لا نه وه توره شوې او په دې دوو پسې يوه ښځه هم ورروانه وه، چې ويښتان يې پټ وو، سړی د حجرالاسود خوا ته ورغی او لاس يې پرې راکښوده او بيا مېرمنې او ځوان هم وکړ او اوه ځله له کعبې تاو شول؛ نو عباس مو وپوښت: دا کار او دود يې راته نوی ښکاري، پخوا خو ترې خبر نه وو؟ عباس وويل: هغه مې وراره محمد بن عبدالله او هغه بل هم علي د ا بو طالب زوی دی او هغه ښځه هم د محمد کوروداني خديجه ده، پر الله تعالی چې بې له دې دربو کسانو نور څوک داسې عبادت نه کوي. (نقل له يعقوب بن شيبه اوابن عساکر څخه)

هيثمي؛ مجمع: ٩ټوک، ٢٢٢ مخ هم ددې روايت مضمون ته نږدې يو روايت نقل کړی دی.

## حضرت علي د رسول الله په څېر لمونځ کاوه

(صحيح بخاري: كتاب الصلوة په ركوع كې د تكبير اتمام په باب كې) پر خپل سند له مطرف بن عبدالله روايت كړى، چې و يې ويل: په علي ابن ابي طالب پسې مې لمونځ وكړ او عمران بن حصين هم راسره و، سجده يې، چې كوله؛ نو تكبير يې وايه او چې سر يې هم راجيگاوه، تكبير يې وايه او چې له دويم ركعته پاڅېد؛ نو هم يې تكبير ووايه. تر لمانځه روسته، عمران له لاسه ونيوم او را ته يې وويل: دې لمونځ د رسول الله لمونځ راياد كړ (او يا يې ويل) د رسول الله لمونځ مو ورسره وكړ.
دا روايت يې د لمانځه په بل باب كې هم راوړى دى او مسلم هم د خپل صحيح د كتاب الصلوة (باب التكبير في كل خفض و رفع) او نسائي؛ صحيح: لومړى ټوک، ١٦٤ او ١٦٧ مخونو او ابوداوود؛ صحيح: ٥ټوک، ٨٤ مخ او احمد حنبل؛ مسند: ٤ټوک، ٤٢٨ او ٤٢٩ او ٤٤٠ مخونو او ابن ماجه؛ كتاب الصلوة: باب تسليم كې له ابي موسى او فتح الباري في شرح البخاري: ٢ټوک، ٤١٣ او ٤١٤ مخونو كې دا مضمون په لږ اختلاف راخستى دى.

## د حضرت علي د څېرې ښكلا

استيعاب: ٢ټوک: ٤٦٩ مخ وايي: څو ځانگړنې مې په علي كې وليدې، چې غوره دي: ١_ ونه يې مناسبه وه؛ نه اوږده وه او نه لنډه ٢_غټې او تورې سترگې يې درلودې٣_مخ يې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده ٤_گېډه يې مخكې راوتې وه ٥_چهار شانه و ٦_ د لاس ورغوي يې غوښن و ٧_ ښايسته ورمېږ يې درلود ٨_ پر مخامخ كوپړۍ يې وېښتان نه وو ٩_ سر يې يوازې له شا وېښتان درلودل ١٠_ ډكه ږيره يې درلوده ١١_اوږه او د اوږې هډوكي يې پلن ول١٢_ لاسونه يې داسې ول، چې مټ يې له ساعده نه ښكارېده؛ بلكې يكسره وو ١٣_پر لار چې ته؛ نو بدن يې كږېده ١٤_ څوک به يې چې له مټه ونيو؛ نو ساه به يې بنده شوه ١٥_لږ چاغ و ١٦_د لاس پنجه او مټ يې غښتلي وو ١٧_پر لار چې ته؛ نو هروله به يې كوله ١٨_پياوړى، ارام او مهربانى زړه يې درلود ١٩_ له هر دښمن سره به چې مخ شو؛ نو له غيبو به ورسره مرسته كېده.
(اسدالغابه: ٤ټوک: ٣٩ مخ) د علي د ښكلا په اړه له مدرک بن حجاج نه يو حديث نقل كړى دى. رياض النضره: ٢ټوک: ٢٠٢ مخ هم د ملا له سيره نه نقل كړي، چې ځينو وپوښتل: رسول الله! علي به څنگه وكړاى شي د الحمد لواء يوسي؟ رسول الله وويل: څنگه به يې نشي

وړای، حال دا، الله تعالی ورته ښایسته ځانګړنې ورکړي؛ زما په څېر صبر لري او د یوسف د ښکلا په څېر ښکلا لري او د جبراییل د قوت په څېر قوت لري.
(ریاض النضره: ۲ټوک: ۲۱۸ مخ) له حضرت عباس څخه روایت نقل کړی، چې ویلي یې دي: رسول الله وویل: څوک چې غواړي د ا براهیم زغم، د نوح حکم او د یوسف ښکلا ووینې؛ نو علي ته د وګوري. (د ملا له سیرته راخستل شوی دی)
(کنزالعمال: ۳ټوک: ۳۳۶ مخ) له عبد خیر نه روایت نقل کړی دی، چې و یې ویل: علي څلور ګوتې درلودې، چې پر ګوتو کولې یې، چې یوه یې له یاقوتو وه، چې موخو ته ورسي، یوه فیروزه وه، چې پر دښمن بر لاس شي او یوه چیني اوسپنه وه، چې غښتلی شي او یوه د عقیق وه، چې له بلا ګانو بچ پاتې شي د یاقوتو پر ګوته یې لیکل شول ول: لا اله الا الله الملک الحق المبین او پر فیروزه یې لیکل شوي ول: الله الملک او پر چینې حدید یې لیکلي وو: العزة الله. او پر عقیقو یې درې کرښې لیکلې وې: ۱ـماشاءالله ۲ـلا قوة الا باالله ۳ـاستغفر الله.
(اخستل شوی دی له: د حاکم له تاریخه، د صابوني له ماتینه او د ابوعبدالرحمان سلمي له امالي څخه) (نورالابصار: ۹۴ مخ) کې د علي د ګوتو په اړه روایت راغلی دی).

## د حضرت علي القاب او کنیې

(صحیح بخاري د بدءالخلق، باب مناقب علي بن ابیطالب کتاب) پر خپل سند له ابي حازم څخه روایت کړی دی، چې ویلي یې دي: یو سړی سهل بن سعد ته ورغی او و یې ویل: پلانکیه! ـ؛ یعنې ای د مدینې امیره ـ پر ممبر علي ته کنځلې کوئ!؟ پوښتنه یې وکړه: مثلا څه ورته وایي؟ و یې ویل: وایي: علي ابوتراب دی، سهل وخندل او و یې ویل: پر الله تعالی قسم دا هغه کنیه ده، چې رسول الله ورکړې ده او د علي هم دا کنیه تر ټولو کنیو ښه راتله؛ نو زه هم چې هلته ناست وم او اورېدونکی وم، ومې لیدل چې د حدیث د زده کړې ښه وخت ګوتو ته لاس ته راغلی؛ نو ومې پوښتل: ابن عباسه! ددې کنیې کیسه څه ده؟ و یې ویل: یوه ورځ علي فاطمې بي بي ته راغی او څو شېبې روسته ووت او په جومات کې پر خاورو څملاست؛ رسول الله فاطمه وپوښتله: د تره زوی دی چېرې دی؟ بي بي ویل: په جومات کې دی؛ نو رسول الله هم ورپسې ووت او جومات ته چې راغی؛ نو و یې لیدل، چې علي پر څمکه پروت او څادر یې پر ځان را خپور کړی او شا یې پر خاورو ککړه شوې ده او رسول الله یې له شا ورته خاورې لرې کولې و یې ویل: پاڅه ابوترابه! او دا یې دوه ځل وویل.

دا روایت په لږ اختلاف د کتاب الصلوه؛ باب نوم الرجل في المسجد کې او د (الادب باب تکنی بابي تراب) په کتاب کې او د (استیذان _ باب القائله فی المسجد) کتاب هم راوړی دی او بخاري هم د (ادب المفرد؛ باب من کنی رجلا بشیء و هو فیه) په کتاب کې او همداراز مسلم د خپل صحیح د (فضایل الصحابه باب من فضل علي بن ابیطالب) په کتاب کې او ابن جریر طبري د خپل تاریخ په ۲ټوک: ۱۲٤ مخ کې هم نقل کړی دی.

(خصایص نسائي: ۳۹ مخ) پر خپل سند له حضرت عمار بن یاسر نه روایت نقل کړی، چې و یې ویل: له علي سره د عشیره په جګړه کې ملګری وم او رسول الله یوه میاشت هلته پاتې شو او له بني مدلج او د هغوی له هم ژمنو سره یې سوله وکړه؛ نو بیا علي راته وویل: اباالقیظانه! غواړې د بني مدلج څو کسانو ته چکر ور ووهو؟ و مې پوښتل: چېرې دي؟ علي: هماغه، چې په خپله چینه کې کار کوي؛ راځه چې پر کار کولو یې پوه شو؛ نو ورغلو او د هغوی کار مو ولید او هماغلته خوب راغی؛ هماغلته تر یوې ونې لاندې چې پر ځمکه یې واخه نه وو او وچې خاورې وې، څملاستو او ویده وو، چې رسول الله را پاسولو؛ نو موږ په داسې حال لـه خوبه را ویخ شو، چې پر خاورو ککړ وو، چې رسول الله علي ته وویل: ابوترا به! څومره پر خاورو ککړ یې، بیا یې وویل: آیا غواړئ له ددو بدمرغو مو خبر کړم؟ ورته مو و ویل: ولې نه رسول الله!

رسول الله وویل: یو یې د ثمود احمیر و، چې د حضرت صالح اوښه یې اوټاوه کړه او دویم یې هغه کس دی، چې تا به پردې ځای وهي او بیا یې خپل لاس پر خپل تندي کېښود او بیا یې خپل لاس پر خپله ږیره کېښووه او و یې ویل: چې دا به پر وینه ککړه شي.

دا روایت احمد هم د خپل مسند؛ ٤ټوک: ۲٦۲ مخ کې، حاکم؛ مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ۱٤ مخ کې، طحاوي؛ مشکل الاثار: لومړی ټوک، ۳۵۱ مخ کې، متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ۳۹۹ مخ کې او بغوي، طبراني، ابن مردویه، ابن عساکر او ابن النجار هم نقل کړی دی.

(کنزالعمال: ٤ټوک: ۳۹۰ مخ) او ابونعیم (په معرفت کتاب کې له سهل عدی نه) پر همدې مضمون روایتونه نقل کړي دي.

(هیثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱۱۱ مخ) له حضرت ابن عباس څخه روایت نقل کړی، چې کله رسول الله د ددو بدوي اصحابو تر منځ رورولي وکړه؛ نو علي یې له یو صحابي سره هم رور نه کړ، چې دې کار علي خپه کړ او په خپګان یې لاس تر سر لاندې کړ او څملاست او پر هغه ورځ باد هم لګېده او علي یې په خاورو کړ، چې رسول الله یې په لټه کې و، چې هغه یې په دې حال وموند او را ویښ یې کړ او ورته یې وویل: پاسه! تاته به له دې بله غوره کنیه

نه وي، چې درته ووایم: ابوترابه! علي له ما خپه شوی یې، چی ته مې نه لـه انصـارو سره رور کړې او نه له مهاجرو سره او له هیچا سره مې رور نه کړې؟ خوښ نه یې، چې داسې راته یې؛ لکه هارون، چې موسی ته و؛ خو پر دومره توپیر، چې تر ما روسته به الله تعالی بل استازی نه رالیږي؟! علي! یوازې هغه به درسره مینه کوي، چې بشپړ ایمان رانغاړلی وي او څـوک چـې درسره دښمني کوي؛ نو الله تعالی به یې د جاهلیت پر مرگ مړ کړي.

د هیثمي د وینا له مخې، دا حدیث طبراني په کبیر کـې او هـم اوسـط او متقـي د کنـزالعمال: ٦ټوک: ١٥٦ مخ کې نقل کړی دی.

(حلیة الأولیاء: ٣ټوک: ٢٠١ مخ) پر خپل سند له جابر څخه روایت نقل کړی دی، چې ویلي یې دي: رسول الله علي ته وویل: سلام دې پر تا وي ای زمـا د دوو ریحـانو پـلار! زه درتـه د خپلو دوو ریحانوسپارښتنه کوم، چې په دنیا کې ورسره نېک چلن وکړې، چې ډېر ژر به سـتا دوه رکنه ورژیږي او الله تعالی پر تا زما ځایناستی دی؛ نو چې کله رسول الله له دنیـا سـترگې پټې کړې؛ نو علي وویل: له هغو دوو مې یو ورژېده او بې بې فـاطمې، چـې لـه دنیـا سـترگې پټې کړې؛ نو و یې ویل: دا مې دویم رکن و، چې ورژېده او رسول الله ترې خبر کړی وم.

دا روایت محب طبري؛ ریاض النضره: ٢ټوک، ١٥٤ مخ او علي بن سلطان؛ شرح مرقـاه: ٥٩٧ مخ کې دواړو د احمد له مناقب نقل کړی دی او احمد په خپل مناقب کې ویلي: همدا چـې فاطمه له دنیا ولاړه؛ نو علي وویل: دا دویم رکن و.

دا روایت مناوي هـم د کنـوز الحقـایق پـه ٧٩ مـخ کـې لـه دیلمـي نقـل کـړی دی او متقـي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ١٥٩ مخ له له ابي نعیم نه او د ٧ ټوک په ١٠٧ مـخ کـې یـې د ابي نعـیم د معرفت له کتابه او له دیلمي او ابن عساکره نقل کړی دی.

(نورالابصار: ٩٤ مخ) وایي: اما د علي القاب: مرتضی، حیدر، امیر المؤمنین او همداراز "انزع البطین" دی او کنیه گانې یې یو "ابوالحسن"، "ابوالسبطین" او یو یې "ا بوتراب" دی، چـې دا کنیه پرې رسول الله ایښې وه.

(ریاض النضره: ٢ټـوک: ١٥٥ مخ)وایـي: څـو نـور لقبونـه هـم لـري: ١_بیضـة البـد ٢_امـین ٣_شریف ٤_هادي ٥_مهتدي ٦_اذن و اعیه ٧_ حیدره؛ ځکه په یوه روایت کې راغلي: عـلي په خپل حماسي شعر کې وویل: (انا الذي سمتنی امی حیدره؛ یعنې زه هغه یم، چې مور مـې راباندې حېدره کېښود) تردې چې وایي: د حیدره ټکی د زمري پر مانا دی او چې کلـه عـلي وزیږېد؛ نو مور یې فاطمې بنت اسد پرې د خپل پلار نوم اسد کېښود او بیا د مېړه یې دا نـوم خوښ نه شو او د علي نوم یې پرې کېښود.

البته د علي نو ر القاب هم شته؛ لکه یعسوب الدین، امام المتقین او قائد الغرالمحجلین او نور، چې په نورو ځېرکیو کې به ورته اشاره وشي.

## په دعا پسې چې پر آل محمد درود وويل شي؛ نو قبلېږي

(کنزالعمال: لومړی ټوک: ۱۷۳ مخ)وايي: د دعا او الله تعالی ترمنځ یو حجاب دی او چې کله پر آل محمد درود وويل شي؛ نو دا حجاب څیرې شي او دعا قبلېږي او که پر آل محمد درود و نه ويل شي؛ نو دعا بېرته راستنېږي او نه قبلېږي. (له دیلمي نقل شوی دی)

(ابن حجر؛ صواعق: ۸۸ مخ) او فیض القدیر: پینځم ټوک: ۱۹ مخ او متقي؛ کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲۱٤ مخ له عبیدالله بن ابي حفص عیشي او عبدالقادر رهاوي په اربعین کې او طبراني په الکبیر کې او بیهقي په (شعب الایمان) کې او بیا فیض القدیر: ۳ټوک: ۵٤۳ مخ له ابو الشیخ نه او په شرح کې له بیهقي په شعب الایمان کې او له ترمذي او ا بن عمر نه او دیلمي په مسند الفردوس کې هر یو په دې اړه یو مضمون راوړی دی.

او ثعلبي په خپل قصص کې د حضرت یوسف په کیسه (۱۵۷ مخ) کې راوړي: پر څلورمه ورځ جبراییل حضرت یوسف ته راغی او و يې پوښته: چا په څاه کې اچولی یې؟ حضرت یوسف وويل: ورونو مې چې له یوه پلاره هم دي. جبراییل: ولې يې دا کار درسره وکړ؟ یوسف: ځکه کینه يې راسره کاوه، چې زه ولې ترې پر خپل پلار ګران یم. جبراییل: غواړې له دې څاه راووځې؟ یوسف: هو! غواړم. جبراییل وويل: نو و وایه: (یا صانع کل مصنوع و یا جابر کل مکسور و یا حاضر کل ملاء و یا شاهد کل نجوی او یا قریبا غیر بعید و یا مونس کل وحید و یا غالبا غیر مغلوب و یا علام الغیوب و یا حیا لا یموت و یا محیی الموتی لا اله الا انت سبحانک اسالک یا من له الحمد یا بدیع السموات و الارض یا مالک المک یا ذالجلال و الاکرام ان تصلی علی محمد و علی آل محمد و ان تجعل لي من امری و من ضیقی فرجا و مخرجا و ترزقنی من حیث احتسب و من حیث لا احتسب) حضرت یوسف دا دعا وويله او الله تعالی يې هم له څاه د راایستو وسیله چمتو کړه او له ورونو يې بچ کړ او د مصر واکمن يې کړ، چې سوچ ته يې هم نه راتلل.

## هغه لمونځ نه قبلبېږي چې پکې پر آل محمد درود و نه ویل شي

(سنن بیهقي: ۲ټوک: ۳۷۹ مخ) پر خپل سند له ابي مسعو د څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: که لمونځ وکړم او پکې پر محمد او آل یې درود و نه وایم؛ نو فتوا مې داده، چې لمونځ مې پوره نه دی کړی.

دا روایت دارقطني؛ سنن: ۱۳٦ مخ او همداراز په هماغه مخ کې یې د الله تعالی لـه استازي روایت نقل کړی دی. ذخایر العقبی په ۱۹ مخ کې له جابر څخه روایت نقل کړی او صواعق المحرقه هم په ۸۸ مخ کې له شافعي روایت نقل کړی دی، چې و یې ویل:

یا اهل بیت رسول الله حبـک فرض من الله فی القرآن انزله

کفاکم من عظیم القدر انـکم من لم یصل علیکم لا صلوه له

یعنې آل محمده! درسره مینه هغه فرض چار دی، چې الله تعالی په خپل قرآن کې نازل کړی دی او همدا دلیل مو عظمت ته بس دی، چې که څوک په لمانځه کې دربانـدې درود ونـه وایي؛ نو لمونځ به یې لمونځ نه وي.

دا دوه بیته شعر شبلنجي هم د نور الابصار په ۱۰٤ مخ کې له شافعي نقل کـړی دی او پـه بل باب کې به په دې اړه خبره وشي، چې په لمانځه کې په تشهد کې پـر درود سپارښـتنه کـوي؛ لکه ددې حدیث په څېر چې وایي: چې کله په لمانځه کـې پـر تشـهد شوې؛ نـو وویاسـت: اللهم صل علی محمد و آل محمد.

او ټول پوهېږو، چې د امر صیغه (وویاست) پر وجوب دلالت کوي او هم پـوهېږو، چـې کـه څوک په لوی لاس د لمونح یو فرض پرېږدي؛ نو لمونځ به یـې باطـل وي؛ بلکـې د قاعـدې غوښتنه ده، چې سهواً هم باطل وي مگـر داچـې د لمانځـه د اجـزاوو پـه اړه ځـانگړی دلیـل ووایي، چې سهوي اخلال لمونځ نه باطلوي؛ لکه دا حدیث: (لا تعاد الصلوة الی من خمس؛ یعنې لمونځ نه کېږي؛ خوداچې په پینځو (فرضو) کې اخلال راشي) راښیي، چې بې له پینځو (فرضو) په نورو کې اخلال، لمونځ نه باطلوي.

فخر رازي په خپل تفسیر کې د: ((قل لا اسئلکم علیه اجرا الا المـودة فی القـربی)) تـر آیـت لاندې لیکي: غوره دعا پر محمد او آل یې درود دی؛ نوځکه یې د تشهد په پای کـې فـرض کړی دی او هغه: اللهم صل علی محمد و علی آل محمد دی.

# پر محمد او آل يې د درود څرنګوالی

په دې اړه ډېر روايتونه راغلي دي او که د سيوطي د درالمنثور پـه تفسـير کـې د: ((ان اللـه و ملائکته يصلون علی النبي)) تر آيت لاندې مطالبو ته مراجعه وکړئ؛ نو د خبرې پخلی به مو شوی وي.

او دا روايتونه کعب بن عجره، يونس بن خباب، ابراهيم، عبدالرحمان بن ابي کثـير، د رسـول الله يو صحابي (چې نوم يې نه دی ويل شوی)، طلحه بن عبيد اللـه، ابي سـعيد خـدري، ابي هريره، ابي مسعود، عقبه بن عمرو، علي بن زيد بن ابي خارجه، بريـده او ا بن مسـعود (رضی الله عنهم) نقل کړی، چې موږ يې په متواترو بسيا کوو.

(صحيح بخاري: کتاب دعوات: باب صلوات علی النبی) پر خپل سند له عبدالرحمان بن ابي ليلي روايت کړی، چې و يې ويل: : کعب بن عجره وليدم او را ته يې وويل: غواړې يوه ډالۍ درکړم؟ يوه ورځ رسول الله راغی او موږ وويل: رسول الله (ص)! پوه شو، چې څرنګـه پـر تـا سلام ووايو؛ نو اوس مو پوه کړه، چې څرنګه پر تا درود ووايو؟ رسول اللـه وويـل: وواياسـت: (اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صـليت عـلی آل ا براهيم انـک حميـد مجيـد؛ اللهم بار ک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی آل ابراهيم انک حميد مجيد).

دا روايت بخاري په خپل يو بل کتاب (بداء الخلق) او تفسير کې راوړی او مسلم هم د خپـل صحيح په کتاب صلوة کې په (صلوة علی النبی بعد التشهد) باب کې له څو لارو راوړی دی.

نسائي په خپل صحيح، ابن ماجه په خپل صحيح، حاکم په مستدرک، ا بوداوود پـه صـحيح، احمد بن حنبل په مسند، ابوداود طيالسي په مسند، دارمي په سنن، بيهقي په سنن، ا بونعيم پـه حلية، طحاوي په مشکل الاثار، خطيب په تاريخ کې او نورو عالمانو له څـو لارو دا حـديث نقل کړ ی دی.

صحيح بخاري يو بل روايت د پورتني آيت په تفسـير کـې راوړی، چـې نسـائي هـم د خپـل صحيح د لومړ ي ټوک په ۱۹۰ مخ، احمد حنبـل؛ مسـند: ۲ټـوک، ٤٧ مـخ، طحـاوي مشـکل الاثار؛ ۳ټوک: ۱۳ مخ او په خپله بخاري پـه لـږ اخـتلاف د ک تاب دعـوات د "پـر پېغمـبر پـر درود" په باب کې راوړی دی.

(بخاري؛ ادب المفرد: ۹۳ مخ) د الله تعالی له اسـتازي يـو درود روايـت کـړی، چـې کـه چـا ووايه؛ نو رسول الله به د قيامت پر ورځ ګواهي لي، چې شفاعت به يې کوي.

(صحيح مسلم د الصلوة کتاب: د الصلاة علی محمد بعد التشهد باب) پـر خپـل سـند لـه ابي مسعود انصاري روايت کړی، چې ويلي يې دي: د سعدبن عباده په مجلـس کـې ناسـت وو،

چې رسول الله راننووت؛ نو بشير د سعد زوی وويل: رسول الله! قرآن کريم سپارښتنه راکړې، چې پر تا درود ووايو؛ نو څرنگه يې ووايو؟ رسول الله غلی شو او دومره چوپ پاتې شو، چې هيله مو وکړه، چې کا شکې د سعد زوی دا پوښتنه نه وه کړې او بيا رسول الله وويل: ووياست: اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صليت علی ا براهيم و بارک علی محمد و علی آل محمد کما بارکت علی آل ابراهيم فی العالمين انک حميد مجيد.

دا روايت ترمذي هم په خپل صحيح کې (۲ټوک: ۲۱۲ مخ) راوړی او ويلي يې دي: په دې اړه له علي، ابي حميد، کعب بن عجره، طلحه بن عبېدالله، ابي سعيد خدري، زيد بن حارثه اوبريده نه نقل شوي، چې حسن او صحيح حديث دی.

ابن حجر؛ صواعق: ۷۸ مخ وايي: د ((ان الله و ملائکته يصلون علی النبی يا ايها الذين آمنو صلوا عليه و سلموا تسليما)) آيت بايد هغه آيت وگڼو، چې د اهلبيتو په اړه نازل شوی دی؛ ځکه له کعب بن عجره صحيح روايت نقل شوی، چې و يې ويل: چې کله دا آيت نازل شو؛ نو رسول الله ته مې وويل: پر تا مو د سلام اچولو طريقه زده کړه؛ نو اوس راته پر تا او اهلبيتو د درود طريقه راوښيه. رسول الله وويل: ووياست: (اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صليت علی آل ابراهيم انک حميد مجيد؛ اللهم بار ک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی آل ابراهيم انک حميد مجيد). تر دې آيت روسته د اصحابو پوښتنه او د رسول الله ځواب پر گوته کوي، چې په آيت کې پر ټولو اهلبيتو د درود سپارښتنه شوې او بې د الله تعالی له استازي پکې نور هم راغلي او که داسې وای؛ نو اصحابو به پوښتلي وای: رسول الله! څرنگه پر تا درود ووايو او رسول الله به هاغسې ځواب نه ورکاوه او داچې داسې ځواب يې ورکړ؛ نو جوتېږي، چې رسول الله تر ځان روسته خپل اهلبيت ځايناستي کړي او داچې پر رسول الله يې له درووده مراد درناوی او احترام او د رسول الله د اهلبيتو درناوی د رسول الله درناوی هم دی او د همدې لپاره د کساء په کيسه کې، چې رسول الله خپل اهلبيت تر څادر لاندې کړل؛ نو و يې ويل: ((اللهم انهم مني و انا منهم؛ يعنې خدايه! دوی له ما څنې او زه له دوی څنې يم؛ نو خدايه!پر ما او دوی درود، لورنه، مغفرت او رضوان ووايه)) او معلومه ده که الله تعالی دا د عا د خپل استازي په اړه قبوله کړې وي؛ نو بايد د هغه پر آل يې هم درود ويلی وي او له مؤمنينو يې غوښتې وي، چې پر استازي او پر آل يې درود ووياست. دا وه په صواعق کې د ابن حجر خبره.

# آل محمد؛ علي، حسن، حسین او فاطمه دي

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: ٦ټوک، ٣٢٣ مخ) پرخپل سند لـه شهر بن حو شب لـه ام سـلم څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: رسول الله، بي بي فاطمې ته وویل: ((مېړه او دوه زامن دې راوله)). بي بي فاطمې راوستل؛ بیا رسول الله پرې فدکي څادر خپور کړ او خپل لاس یې پرې کېښود او و یې ویل: ((خدایه! دوی آل محمد دي؛ نو درود او برکـت پـر محمـد او آل یې راولېږه، چې ته حمید او مجید یې)) حضرت ام سلمه بي بي وايي: مـا تـرې د څـادر یـوه څنډه راکښوده، چې زه هم تر څادر لاندې شم؛ نو رسول الله راڅخه کش کړ او و یـې ویـل: ته پر خیر یې.

دا روایت طحاوي؛ مشکل الاثار: لومړي ټوک، ۱۰۸ مخ، متقـي هنـدي؛ کنـزالعمال: ۷ټـوک، ۱۰۳ مخ او سیوطي په درالمنثور کې د د احزاب د سورت تر تطهیر آیت لاندې رواړی دی.

(مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ۱۰۸ مخ) پر خپل سند له عامر بن سعد څخه روایت راوړی، چې لنډیز یې دادی: یوه ورځ معاویه بن ابوسفیان سعد بن ابي وقاص تـه وویـل: ولـې د ابو طالب زوی ته کنځل نه کړې؟ سعد: په اړه یې، چې درې خبرې رایادې شي؛ نو کنځلې ورته نه کوم؛ هغه درې څیزونه، چې رسول الله یې په اړه وویل، که یو یې هم زمـا پـه اړه و؛ نـو پـر ځمکه به را ته تر ټولو ګران بیه څیزونو شه و. معاویه بن ابوسفیان وپوښتل: ابا اسـحاقه! هغـه درې څیزونه څه دي؟ سعد: هغه مهال، چې له اسمانه وحی راغله؛ نو رسول الله، علي، حسن، حسین او فاطمه تر څادر لاندې کړل او و یې ویل: ((خدایه! دوی مې اهلبیـت دي)). دویـم داچې د تبوک د جګړې پر ورځ رسول الله علي خپل ځایناستی کړ او پخپله جګړې ته ولاړ؛ نو علي ګیله وکړه: رسول الله! زه دې په مدینه کې له ښځو او ماشومانو سره پرېښووم؟ رسـول الله وویل: ((خوښ نه یې داسې راته ووسی؛ لکه هـارون، چـې مـوسی تـه و؛ خـو پـر دومره توپیر، چې تر ما روسته به بل پیغمبر نه راځي؟)) او دریېم داچې د خیـبر پـر ورځ رسـول اللـه وویل: د جګړې بیرغ به دېر ژر هغه ته ورکړم، چې پر الله تعالی او اسـتازي یـې ګـران دی او الله تعالی او استازی یې هم پرې ګران دی او الله تعالی به دا جګـړه مسـلمانانو تـه د هغـه پـه لاس و ګټي؛ نو دا مهال ټول اصحاب په تمه ول، چې هغوی به ښیي؛ خو رسـول اللـه وویـل: علي چېرې دی؟ وویل شول: سترګې یې خوږېږي. د الله تعالی استازي وویـل: ورتـه ووایـه، چې راشي. ولاړل او علي یې راوست، چې راغی؛ نو رسول الله ورته خپلې توکاڼې په سـترګو کې وموږلې او د جګړې بیرغ یې ورکړ او الله تعالی پرې خیبر سوبه کړ.

حاکم ددې حدیث تر نقلولو روسته وايي: دا حدیث ټول هغه شرائط لري، چې مسلم او بخاري يې د يو حدیث د سم والي لپاره غواړي او دا حدیث يې د دريیم ټوک په ۱۴۷ مخ کې لندوون راوړی دی. متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ٤٠٥ مخ له عبد الله بن حعفر بن ابيطالب څخه د صفيه (د ام سلمه په ځای) په اړه راوړي او سند يې هم ورته سم گڼلی دی او سیوطي؛ درالمنثور هم دا روایت د تطهیر تر آیت لاندې راوړی دی.

(امام احمد حنبل؛ مسند: ٦ټوک، ۲۹٦ مخ) پر خپل سند له ام سلمه نقل کړي: یوه ورځ رسول الله زما په کور کې و، چې خادم وویل: علي او فاطمه د وره شاته دي. رسول الله راته وویل: پاڅه او زما له اهلبیتو لرې شه! زه پاڅېدم او لرې ودرېدم، چې علي او فاطمه راغلل، حال دا، حسن او حسین هم ورسر ه ول؛ بیا رسول الله دواړه واخستل او په غېږ کې يې کېنول او ښکل يې کړل او بیا يې یو لاس پر علي او بل يې پر فاطمې کېښود او دواړه يې ښکل کړل او بیا يې پرې یو تور څادر واچاوه او و يې ویل: ((خدایه! زه او اهلبیت مې د تا پر لور یو؛ نه د اور پر لور.)) ام سلمه وايي: ما وویل: او زه. راته يې وویل: او ته.

دا مضمون او ورته نږدې یو مضمون محب طبري له ذخایر نه (۷ټوک؛ ۱۰۳ مخ)او اختصار يې په هماغه مخ کې له طبراني نقل کړی او او بیا يې یو ورته مضمون په ۲۱۷ مخ کې له طبراني له واثله څخه روایت کړی او هیثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱٦۷ مخ هم دا روایت له واثله بن اسقع نه نقل کړی دی.

## رسول الله منع کړي یو، چې بتراء درود مه وياست

(صواعق محرقه: ۸۷ مخ) کې د رسول الله وینا ده: پر ما بتراء درود مه وياست. وپوښتل: بتراء څه دي؟ و يې ویل: داچې وویاست: اللم صل علی محمد او بس؛ بلکې باید وویاست: اللهم صل علی محمد و علی آل محمد.

## د تطهیر آیت د رسول الله، علي، فاطمې، حسن او حسین په اړه راغلی دی

(صحیح مسلم د فضایل الصحابه کتاب: د فضایل اهل البیت باب) پر خپل سند له صفیه بنت شیبه نه روایت کړی، چې و يې ویل: یوه ورځ سهار د الله تعالی استازي حال دا، یو تور خال څادر پر اوږه اچولې و، په کور کې ناست و، چې حسن او ورپسې حسین او ورپسې فاطمه

او په پای کې علي هم راغی او رسول الله تر څادر لاندې ځای کړل او چې راټول شول، دا آیت یې ووایه: ((انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهر کم تطهیرا)).
دا روایت حاکم؛ مستدرک الصحیحین: ۳ټوک، ۱٤۷ مخ هم راوړی او هغه یې د ټولو هغو شرایطو خاوند وګاڼه، چې مسلم او بخاري یې د یو صحیح حدیث لپاره غواړي.
بیهقي؛ سنن: ۲ټوک، ۱٤۹ مخ او ابن جریر د خپل تفسیر د ۲۲ ټوک په ۵ مخ کې او سیوطي هم په درالمنثور کې د تطهیر تر آیت لاندې راوړی (او د هغه د وینا له مخې) ابن ابي شیبه او ابن ابي حاتم هم دا روایت نقل کړی او زمخشري هم دا روایت د مباهلې په آیت کې راوړی او فخر رازي یې په اړه ویلي: پوه شه، چې دا هغه روایت دی، چې پر سموالي یې د تفسیرونو او حدیثونو د کتابونو خاوندان یوه خوله دي.
(صحیح ترمذي: ۲ټوک: ۲۰۹ او ۳۰۸ مخونه) پورتني روایت ته ورته روایت راوړی او ویلي یې دي: له ام سلمه، معقل بن یسار، ابي الحمراء او انس نه نور روایتونه هم نقل شوي دي.
طحاوي؛ مشکل الاثار: لومړی ټوک، ۳۳۵ مخ او ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: ۲ټوک، ۱۲ مخ او ابن جریر طبري؛ د خپل تفسیر د ۲۲ ټوک په ٦ او ۷ مخ کې ویلي: ام سلمه د هغوی لپاره حریره (فیرني) پخه کړه؛ هغوی وخوړه بیا ویده شول او بیا پرې رسول الله څادر واچو.
(صحیح ترمذي: ۲ټوک: ۳۱۹ مخ)پر خپل سند له شهر بن حوشب څخه همدا مضمون نقل کړی او ویلي یې دي، چې دا حدیث په دې اړه تر ټولو غوره حدیث دی او په دې اړه له عمرو بن ابي سلمه، انس بن مالک، ابي الحمراء، معقل بن یسار او عایشې بي بي روایتونه نقل شوي دي.
ابن جریر طبري ددې روایت تر نقلولو روسته ویلي دي، چې دا یا څادر و او یا چپنه وه.
احمد بن حنبل؛ مسند: ٦ټوک، ۳۰٦ مخ، ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه ٤ټوک، ۲۹ مخ، محب طبري؛ ذخایر: ۲۱ مخ او ابن حجر عسقلاني؛ تهذیب التهذیب، ۲ټوک، ۲۹۷ مخ هم دا روایت په لږ اختلاف نقل کړی دی او حریره هغه خواړه ول، چې له شیدو او اوړو جوړېدل.
(صحیح ترمذي: ۲ټوک: ۲۹ مخ)پر خپل سند له انس بن مالک څخه نقل کړي، چې و یې ویل: دشپږ میاشتو لپاره دا کار رسول الله خپل دود کړی و، چې جومات ته؛ نو د فاطمې د کور د ور له مخې به تېرېده او ویل یې: (لمونځ ای زما اهلبیتو!) (انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا) او په دې اړه له ابي الحمراء، معقل یسار او ام سلمه روایتونه نقل شوي دي.
او همدا روایت ابن جریر طبري؛ تفسیر: ۲۲ ټوک، ۵ مخ او حاکم؛ مستدرک: ۳ټوک، ۱۵۸ مخ کې هم راوړی دی او هغه یې د ټولو هغو شرایطو خاوند ګڼلی، چې مسلم د یو روایت د

سموالي لپاره ښوولي دي او احمد حنبل؛ مسند: ۳ټوک، ۲۵۲ مخ او ا بن اثير جرزي؛ اسدالغابه ۵ټوک، ۵۲۱ مخ او متقي؛ کنزالعمال: ۷ټوک، ۱۰۳ مخ له ابن ابي شيبه نه او سيوطي په درالمنثورکې د تطهير تر آيت لاندې راوړی او ويلي يې دي: ا بن منذر، ا بن مردويه او طبراني يې نقلونکي دي.

سيوطي په درالمنثور کې د طه د سورت په ((وامر اهلک بالصلوة)) آيت کې له ابن مردويه، ابن عساکر، ابن نجار، ابي سعيد خدري روايت کړی او ويلي يې دي: چې دا آيت راغی؛ نو رسول الله د اتو مياشتو لپاره د علي د کور مخ ته راته. ويل يې: (لمونځ! الله تعالی دې درباندې ولوربېږي؛ انما يريد الله) الخ.

(ابن جرير طبري؛ تفسير: ۲۲ ټوک، ۷ مخ) پر خپل سند له حکيم بن سعد څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: له ام سلمه سره د علي خبره رامنځ ته شوه، چې و يې ويل: د (انما يريد الله) الخ، آيت د علي په باب نازل شوی دی (او د حديث تر پايه).

(مستدرک: ۲ټوک، ٤۱٦ مخ) پر خپل سند له ام سلمه روايت کړی، چې ويلي يې دي: د ((انما يرېد الله)) الخ، آيت زما په کور کې نازل شو او بيا يې د را نازلېدو کيسه کړې او د مستدرک خاوند وايي: دا حديث ټول هغه شرايط لري، چې بخاري يې د حديث د سموالي لپاره غواړي او همدا روايت يې د نهم ټوک په ۱٤۷ مخ کې راوړی دی او بيهقي؛ سنن: ۲ټوک، ۱۵۰ مخ، طحاوي؛ مشکل الاثار: لومړي ټوک، ۳٤٤ مخ، خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: ۹ټوک، ۱۲٦ مخ، ا بن جرير طبري؛ تفسير: ۲۲ ټوک، ۷ مخ، ا بن اثير؛ اسدالغابه: ۵ټوک، ۵۲۱ او ۵۸۹ مخونه او محب طبري؛ ذخاير: ۲۳ مخ کې نقل کړی دی؛ چې البته محب طبري يې تر نقلولو روسته ويلي دي: ابوالخير قزويني هغه را وړی دی.

(مستدر ک الصحيحين: ۳ ټوک، ۱٤۷ مخ) پر خپل سند له عبدالله بن جعفر بن ابيطالب څخه دې مضمون ته نږدې يو بل روايت نقل کړی او تر نقلولو روسته يې ويلي دي: سند يې سم دی.

سيوطي؛ در المنثور: ۵ټوک، ۱۹۸ او ۱۹۹ مخونه) تر وييني لاندې د آيت تر تفسير لاندې ليکي: ابن مردويه له ام سلمه روايت کړی، چې و يې ويل: دا آيت په داسې حال زما په کور کې نازل شو، چې اووه کسان مې په کور کې ول: ۱_جبراييل ۲_ميکائيل ۳_علي ٤_ فاطمه ۵_حسن ٦_ حسين ۷_ او په خپله زه، چې ولاړه ومه او و مې ويل: رسول الله! زه له اهلبيتو څنې نه يم؟ و يې ويل: ته پر خير يې او د رسول الله مېرمن يې

سيوطي دې روايت ته ورته يو بل روايت له ابن مردويه نه او خطيب له ابي سعيد نه نقل کړی او وايي: (هغه دا حديث صحيح گڼلی) او ابن جرير او ابن منذر او حاکم (هغه هم دا حديث

صحیح گڼلی) او ابن مردویه او بیهقي پر خپلو سندونو له څو لارو له ام سلمه روایت کړی دی
بیا وایي: ابن جریر، ابن ابي حاتم، طبراني او ابي سعید روایت کړي، چې و یې ویل: رسول الله ویلي دي: دا آیت زما، علي، فاطمه، حسن او حسین په باب نازل شوی دی.
بیا وایي: ابن ابي شیبه، احمدبن جریر، ا بن منذر، ا بن ابي حاتم، طبراني، حاکم (هغه دا حدیث صحیح گڼلی) او بیهقي په خپل سنن کې له واثله بن اسقع نه روایت کړی، چې و یې ویل: (د حدیث تر پایه).
بیا وایي: حکیم ترمذي، طبراني، ابن مردویه، ابونعیم او بیهقي په دلائل کې ټولو له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی، چې و یې ویل: رسول الله وویل: الله تعالی مخلوقات دوې ډولې کړل او زه یې غوره ډول کړم. تردې، چې وایي: بیا یې ټبرونه هم پر کورنو واېشل او زه یې له غوره کورنۍ کړم؛ هغه کورنۍ، چې په اړه یې وویل شول: (انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا)؛ نو موږ اهلبیت له گناه پاک یو.
او همداراز وایي: ابن جریر، ابن ابي حاتم له قتاده نه روایت کړی، چې د پورتني آیت په تفسیر کې یې وویل: ((دا هغه اهلبیت دي، چې الله تعالی له هر ډول بدۍ پاک کړي او خپله لورنه یې ورته ځانگړې کړې)) او دا حدیث ضحاک بن مزاحم راوړی، چې تل به رسول الله ویل: ((موږ هغه اهلبیت یو، چې الله تعالی پاک کړي یو، د نبوت له شجرې او د رسالت له دریځه یو او د پرښتو د تلو راتلو ځای، د رحمت کور او د علم کان یو.))
او هم وایي: ابن مردویه له ابي سعید خدري روایت کړی، چې کله علي د فاطمې بي بي مېړه شو؛ نو رسول الله یې څلوېښت ورځې د کور وره ته راته، ویل یې: ((زما اهلبیتو!سلام، لورنه او برکت دې پر تاسې وي، د الله تعالی لپاره لمونځ مو رحمت شه؛ (انمایرید الله) الخ زه له هغوی سره په جگړه کې یم، چې درسره په جگړه کې دي او د هغوی دښمن یم، چې ستاسې دښمن دی او له هغوی سره په سوله او دوستۍ کې یم، چې درسره په سوله او دوستۍ کې وي.))
دې روایت ته ورته یو بل روایت له ابن جریر، ابن مردویه، ابي الحراء او حضرت ا بن عباس څخه نقل شوی دی.
(امام احمد حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۳۳۰ مخ) پر خپل سند له عمرو بن میمون نه روایت کړی، چې و یې ویل: زه له حضرت ابن عباس سره وم، چې نهه کسان ورته راغلل او و یې ویل: یا دا ځای راته خالي کړه او یا راسره گوښي ځای ته ولاړ شه؛ نو حضرت ا بن عباس وویل: درسره به ولاړ شم. راوي وایي: تر هغه ورځې حضرت ا بن عباس روغ و او لا ړوند

شوی نه و او ورسره یو کونج ته ولاړ او ورسره پر خبرو شو؛ خو پوه نشوم، چې څه یې وویل، چې ناڅاپه مو حضرت ابن عباس زموږ پر لوري پر راتګ ولید، حال دا، جامې یې څنډلې او ویل یې: هېښنده ده، چې هغه سړي ته کنځل کوي، چې لس ځانګړنې لري:
١ـ د الله تعالی استازي یې په اړه وویل: سبا به یو داسې کس جګړې ته ولېږم، چې الله تعالی به یې تر ابده خوار نه کړي؛ الله تعالی او استازی یې پرې ګران دی؛ نو پر هغه ورځ ډېر په تمه ول، چې هغوی ته به غږ وکړي؛ خو رسول الله وپوښتل: علي چېرې دی؟ وویل شول: مېچنه کوي. رسول الله وویل: ولې په تاسې کې کوم یو دا کار و نه کړ؟ بیا علي راغی، حال دا، سترګې یې داسې خوږېدې، چې هېڅ ځای ورته نه ښکارېده او بیا رسول الله ورته سترګې دم کړې او بیا یې د جګړې بېرغ درې وارې ورپاو او بیا یې علي ته ورکړ؛ علي هم د کلا پر لور ولاړ؛ کلا یې سوبه کړه او صفیه د حی لور یې اسیره راوړه.
٢ـپلانی یې د مکې پر لور ولېږه، چې د توبې سورت د مکې خلکو ته ووایي او بیا یې علي ورپسې ولېږه، چې سورت ترې واخلي او د لېږلو پر مهال، رسول الله وویل: دا سورت یوازې هغه کس باید یوسي، چې له ما څخه او زه له هغه څخه ووسم.
٣ـ رسول الله خپلو تربورانو ته وویل: په تاسې کې کوم یو چمتو دی، چې په دنیا او آخرت کې راسره موالات وکړي؟ علي یوازېنی کس و، چې و یې ویل: رسول الله! زه به په دنیا او اخر ت کې درسره موالات کوم. رسول الله وویل: ته په دنیا او اخرت کې زما ولي یې او دا خبره یې دوه وارې وکړه.
٤ـاو هغه په نارینه وو کې ړومبی و، چې اسلام یې راوړ.
٥ـد الله تعالی استازي پر علي، فاطمه، حسن او حسین څادر واچاوه او و یې ویل: (انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا).
٦ـ علي و، چې ځان یې پر الله تعالی وپلوره او د الله تعالی داستازي په بستره کې څملاست؛ نوچې کله حضرت ابوبکر راغی؛ نو ګومان یې وکړ، چې رسول الله دی؛ نو غږ یې کړ: رسول الله! علي وویل: د الله تعالی استازی د میمون د څاه پر لور ووت، ژر ولاړ شه او ځان ورورساوه او بیا حضرت ابوبکر روان شو او ځان یې رسول الله ته ورساوه.
٧ـ علي به د رسول الله په څېر تیره اچوله.
٨ـ رسول الله، چې د تبو ک د جګړې لپاره وته؛ نو علي وویل: اجازه راکوئ، چې زه هم درسره ولاړ شم؟ رسول الله وویل: نه!؛ نو علي وژړل، چې بیا د الله تعالی استازي وویل: ته تر ما روسته د هر مؤمن ولي یې.

۹_ رسول الله حکم وکړ، چې بې د علي د کور له وره نور ټول ورونه وتړئ او علي د رسول الله په څېر کړای شول په جنابت کې جومات ته راشي؛ ځکه لار يې پر جومات وه او بې له هغې يې بله لار نه درلوده.

۱۰_ علي هغه دی، چې رسول الله يې په اړه وويل: د چاچې زه ولي يم؛ نو علي يې هم ولي دی.

دا روايت: نسائي؛ خصايص: ۸ مخ او محب طبري؛ رياض النضره، ۲ټوک، ۲۰۳ مخ کې راوړی او د (موافقات) په کتاب کې يې احمد، حافظ ابوالقاسم دمشقي ته نسبت ورکړی او په (اربعين الطوال) کې يې د هغه روايت يوه برخه نسائي ته نسبت ورکړې او هيثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱۱۹ مخ هم راوړی دی او هغه يې احمد او طبراني ته په (کبير او اوسط) کې نسبت ورکړی دی.

(احمد حنبل؛ مسند: ٤ټوک، ۱۰۷ مخ) پر خپل سند له شداد بن ابي عمار له واثله بن اسقع نه د تطهير د آيت دشان نزول په اړه يو روايت نقل کړی؛ خو داچې مضمون يې د تېرو روايتونو په څېر و؛ نو را مو نه وړ. ابن جرير هم په خپل تفسير ۲۲ ټوک په ٦ مخ کې او حاکم؛ مستدرک: ۲ټوک، ٤١٦ مخ او همداراز په ۳ټوک، ۱٤٧ مخ کې هم راوړی او هغه يې د صحيحو حديثونو د شرايطو خاوند ګڼلی دی.

بيهقي هم دا حديث په خپلو سننو کې له دوو لارو د دويم ټوک په ۱٥۲ مخ کې او طحاوي؛ مشکل الاثار: لومړی ټوک، ۳۳٦ مخ او متقي؛ کنزالعمال: ۷ټوک، ۹۲ له ابي شيبه او ا بن عساکر څخه نقل کړی او هيثمي هم په خپله مجمع کې د نهم ټوک په ۱٦٧ مخ کې او هغه يې احمد او ابويعلي ته نسبت ورکړی او په ۱٤٧ مخ کې يې پر بل عبارت راوړی او طبراني ته يې نسبت ورکړی دی.

(امام احمدحنبل؛ مسند: ٦ټوک، ۲۹۲ مخ)پر خپل سند له حضرت ام سلمه بي بي روايت کړی، چې ويلي يې دي: رسول الله زما په کور کې و، چې فاطمې د تيرې په يو ديګ کې حريره راوړه؛ نو فاطمه مې خپلې کوټې ته بوتله، رسول الله فاطمې ته وويل: ولاړه شه او مېړه او زامن دې هم راوله . ام سلمه وايي: علي، حسن او حسين راغلل او حريره يې وخوړه، د الله تعالی استازی په دې ټوله موده کې پر خيبري څادر ناست و او ما هم په کوټه کې لمونځ کاوه؛ نو الله تعالی د تطهير آيت را نازل کړ او بيا رسول الله د څادر ډېره برخه پرې واچوله، چې ټول يې پټ کړل او بيا يې خپل لاس پورته کړ او و يې ويل: خدايه! دا زما اهلبيت دي. خدايه! له هر ډول چټلۍ يې پاک کړه او هاغسې، چې په خپله پوهېږې پاک يې کړه؛ نو په

دې وخت کې ما هم سر له کوټې رابهر کړ او و مې ويل: زه هم درسره يم. رسول الله وويـل: ته پر خېر يې.
دا روايت: واحدي؛ اسباب النزول: ۲۶۷ مخ او طحاوي؛ مشکل الاثار: لـومړی ټـوک، ۳۳۲ او ۳۳٤ مخونو کې له دوو لارو او محب طبري؛ ذخاير: ۲۳ مخ روارړي او د ذخاير د روايـت پـه پای کې دا زياتوالی راغلی دی: زه به له هغوی سره په دښمنۍ کې يم، چې لـه دوی سره پـه دښمنۍ کې وي او له هغوی سره به په دوستۍ کې يم، چې زما له اهلبيتو سره په دوستۍ کـې وي او بيا وايي: دا حديث قبايي په معجم کې او سيوطي د درالمنثور په کتاب کې د تطهير تر آيت لاندې راوړی او ويلي يې دي: دا حديث ابن جرير، ابن منذر، ابن ابي حاتم، طبراني او ابن مردويه له حضرت ام سلمه روايت کړی دی.
(امام احمد حنبل؛ مسند: ٦ټوک، ۲۹۲ مخ)پر خپل سند لـه شهر بن حو شب څخـه روايـت کړی، چې ويلي يې دي: هغه مهال، چې د حسين بن عـلي د وژنـې خـبر ام سـلمه بي بي تـه راغی؛ نو و يې ويل: د عراق خلک ملعون شوي دي؛ حسـين بن عـلي يـې وژلی دی؛ اللـه تعالی دې هغوی ووژني، چې ورسره وجنګېدل او مړ يې کړ، مـا پـه خپلـه وليـدل، چـې يـوه ورځ فاطمې د تيږې په يوه ديګې کې حريره راوړه او په پتنوس کې تـر اچولـو روسـته يـې د رسول الله مخې ته کېښود، چې رسول الله فاطمه وپوښتله: د تره زوی دې چېرې دی؟ و يـې ويل: په کور کې دی. رسول الله وويل: ولاړه شه او ورته ووايه، چې راشه او زامن دې هم لـه ځان سره راوله. ام سلمه وايي: فاطمه راغله او دوه بچي يـې لـه لاسـه نيـولي ول او عـلي هـم ورپسې را روان و؛ نو رسول الله هغه دوه ماشومان په غېږ کې واخستل او علي يې ښې خواتـه او فاطمه يې کيڼې خوا ته کېنوله او تر دې روسته رسـول اللـه هغـوی پـه خيـبري څادر کـې راټول کړل او پر چپ لاس يې د څادر دواړه پيسکې ونيوې او ښې لاس يې اسمان تـه پورتـه کړ او و يې ويـل: خدايـه! چـټلي تـرې لـرې کـړه او هماغسـې، چـې پخپلـه پـوهېږې، دوی سپېڅلي کړه. خدايه! دا زما اهلبيت دي، له دوی پليدي لـرې کـړه او هماغسـې، چـې پخپلـه پوهېږې، سپېڅلي يې کړه. ما په دې وخت کې وويل: آيا زه ستا اهل نه يـم؟ و يـې ويـل: تـه هم راننوځه او زه هغه مهال تر څادر لاندې شوم، چې د اهلبيتو په اړه يې دعا پای ته ورسېده.
دا روايت: ابن جرير، طبري؛ تفسير طبري: ۲۲ ټوک، ٦ مخ، طحاوي؛ مشـکل الاثـار: لـومړی ټوک، ۳۳۵ مخ او محب طبري؛ ذخاير: ۲۲ مخ هم نقل کړی دی.
(خصايص نسائي: ٤ مخ) پر خپل سند له عامر بن سعد بن ابي وقـاص څخـه روايـت کـړی، چې و يې ويل: معاويه بن ابوسفيان مې پلار ته امـر وکـړ، چـې عـلي تـه کنځـل وکـړه. سـعد وويل: چې کله د هغه په باب د رسول الله درې جملې رايادې شي؛ نو هېڅکله به ورته کنځل

و نه کړم او که هغه یوه ییس هم زما په اړه وه؛ نو پر ځمکه به راته تر ټولو ګران بیه څیزونو غوره وه: ۱_ په یو جګړه کې رسول الله علي ته ګډون نه و ورکړی؛ نو علي ګیله وکړه او و یې ویل: رسول الله! ما د جهاد له ثوابه بې برخې کوې او له ښځو او ماشومانو سره مې پرېږدې، چې پیغمبراکرم وویل: ((خوښ نه یې، چې داسې راته یې؛ لکه هارون، چې مو سی ته و؛ خو پر دومره توپیر، چې تر ما روسته څه نبوت نشته.))

دویم داچې رسول الله د خیبر پر ورځ په اړه یې وویل: سبا به د جګړې بېرغ هغه ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی یې پرې ګران دی او هغه هم پر الله تعالی او استازي یې ګران دی؛ نو چې سبا شو؛ نو ټولو غړ نیولی و، چې رسول الله به پرې غږ کوي؛ خو رسول الله پر علي غږ وکړ او چې علي یې ورته راوست؛ سترګې یې خوږېدې، رسول الله خپلې توکانې ورته په سترګو کې مرهم کړې او بیا یې د جګړې بېرغ ورکړ.

درېیم داچې کله د (انما یرید الله) الخ آیت نازل شو؛ نو رسول الله علي، فاطمه، حسن او حسین را وغوښتل او یې ویل: خدایه! دا زما اهلبیت دي.

(د بغداد تاریخ: ۱۰ ټوک: ۲۷۸ مخ) پر خپل سند له حضرت ابي سعید خدري د تېرو راویتونو په څېر روایت راوړی او ابن جریر طبري؛ تفسیر: ۲۲ ټوک، ۷ مخ هغه له حضرت ام سلمه او په ۵ مخ کې له حضرت ابي سعید خدري او محب طبري؛ ذخایر: ۲٤ مخ کې راوړی او هغه یې امام احمد او په مناقب کې یې طبراني ته نسبت ورکړی دی او هیثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱٦۷ مخ کې راوړی او هغه یې بزار ته نسبت ورکړی او علي بن سلطان د مرقاة د پینځم ټوک په ۵۹۰ مخ کې نقل کړی دی.

(ریاض النضره: ۲ټوک، ۱۸۸ مخ) وایي: د تطهیر آیت، چې راغی؛ نو رسول الله علي، فاطمه، حسن او حسین د ام سلمه بي بي کور ته را وغوښتل (د حدیث تر پایه) او په پای کې یې هغه قلعي ته هم نسبت ورکړی دی.

(استیعاب: ۲ټوک: ۵۹۸ مخ) له ابي الحمراء روایت کړی دی، چې ویلي یې دي: زه یوه میاشت په مدینه کې وم او هر سهار به مې لیدل، چې رسول الله د فاطمې بي بي د کور مخې ته راځي او وایي: (لمونځ! لمونځ! انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا).

دا روایت: ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: ۵ټوک، ٦٦ او ۱۷٤ مخ هم نقل کړی دی.

(د ابن جریر طبري تفسیر؛ ۲۲ټوک: ٦ مخ) له ابي الحمراء یو بل روایت نقل کړی، چې و یې ویل: چې اوه میاشتې په مدینه کې وم.

ابي داودطیالسي؛ ۸ټوک، ۲۷٤ مخ له حضرت انس بن مالک څخه یو بل روایت نقل کړی، چی د رسول الله ددې عمل موده یې یوه میاشت ښوولې ده.
(کنزالعمال؛ ۷ټوک، ۹۷ مخ) له واثله پر همدې مضمون روایت نقل کړی دی. اسدالغابه هم د دویم ټوک په ۲۰ مخ کې له اوزاعي له شدادبن عبدالله له واثله بن اسقع نه همدې روایت ته ورته روایت نقل کړی دی او په اخر کې یې راغلي: ما واثله ته وویل: له رجسه مراد څه دی؟ و یې ویل: پر الله تعالی شک او د دریم ټوک په ٤١٣ مخ کې د عطیه په ژ باړه کې (چې اسماعیل په اصحابانو کې شمېرلی) او له عمیر ابي عرفچه له عطیه هغه روایت ته ورته یو روایت راوړی، چې دا روایت ابن حجر؛ اصابه: ٤ټوک، ۲٤۷ مخ هم راړی دی.
(مشکل الاثار: لومړی ټوک، ۳۳۲ مخ) پر خپل سند له ام سلمه بي بي او په ۳۳۳ مخ کې هم له ام سلمه بي بي او په ۳۳۲ مخ کې له عامر بن سعد له پلار یې او ۳۳٦ مخ کې پر خپل سند له عمرة الهمدانیه په دې اړه روایت نقل کړی، چې په روستي کې راعلي، چې عمرة وویل: ام سلمه ته مې وویل: ام المؤمنین! ددې سړي په اړه را ته څه ووایه، چې په موږ کې و او ووژل شو او ځیني ورسره دښمنان ول او ځیني ورسره دوستان وو. ام سلمه بي بي وویل: ستا بدې راځي او که ښه دې راځئ؟ ورته مې وویل: نه مې ښه راځي او نه مې بدې راځي. ـ د مشکل الاثار په کتاب کې یو څه نه دي چاپ شوي او له دې ځایه پیلېږي ـ الله تعالی د (انما یرید الله) آیت را نازل کړ، حال دا، په کور کې بې له جبراییل، د الله تعالی له استازي، علي، فاطمې، حسن او حسین بل څوک نه وو؛ نو ما وویل: رسول الله! زه هم له اهلبیتو ځنې یم؟ راته یې وویل: ته له الله تعالی سره خپل ثواب لرې. پر الله تعالی چې ډېر مې زړه غوښتل، چې رسول الله راته وو ایي، چې ته هم له اهلبیتو څخه یې او که را ته یې ویلي وای؛ نو تر ټولو هغه څیزونو به را ته ښه وای، چې لمر پرې لگېږي.
مشکل الاثار: ۳۳۸ مخ هم له ابي الحمراء په همدې اړه یو روایت راوړی دی.
(هیثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱٦۹ مخ) له حضرت ابي سعید خدري روایت نقل کړی، چې ویلي یې دي: روسته تردې، چې رسول الله فاطمه علي ته ورواده کړه؛ نو څلوېښت ورځې به یې دکور د وره مخې ته راتله او ویل یې: (السلام علیکم اهل البیت و رحمة الله و برکاته؛ انما یرید الله. . .) الخ او دا روایت یې د طبراني د اوسط کتاب ته هم نسبت ورکړی دی او د٦ټوک په په ۱۲۱ مخ کې یې له ابي الحمراء روایت نقل کړی، چې د الله تعالی استازي دا کار ٦میاشتې وکړ او د ۹ ټوک په ۱٦۹ مخ کې یې له ابي برزه روایت نقل کړی، چې رسول الله دا کار ۷ میاشتې وکړ او د لومړي ټوک په ۲۰٦ مخ کې یې له حضرت انس بن مالک څخه روایت راوړی، چی ویلي یې دي: حضرت عمر بن الخطاب، حضرت ابو بکر ته ورغی

او ورته يې وويل: ولې پر فاطمه مړکه نه کوې؟ حضرت ابوبکر وويل: رسول الله ما تـه خپلـه لور نه راکوي او بيا حديث ته ادامه ورکوي، چې دې ځای ته را رسي، چې عـلي لـه فـاطمې سره واده وکړ او په پای کې وايي: رسول الله وويل: ام ايمن! يوه لوښه اوبه راوړه؛ اوبه يې ورته راوړې او رسول الله هم له هغې اوبو يو څه وڅښکلې او بيا يې فاطمې ته ورکړې، چـې هغـه يې هم وڅښکې او بيا يې ترې اوبه واخستی او پر هغه اوبو يې د فاطمې تندی، د وليو منځ او سينه واچولې او بيا يې علي ته اوبه ورکـړې او ورتـه يـې وويـل: وڅښـکه! او بيـا يـې د عـلي تندی، د وليو منځ او سينه پرې غوړه کړه او و يې ويل: خدايه! دا زما اهلبيت دي، چټلي ترې لرې کړه او هاغسې، چې په خپله پوهېږې، تطهير يې کړه.

او د نهم ټوک په ۲۰۷ مخ کې يې له حضرت ابن عباس څخه روايت کـړی، چـې ويـلي يـې دي: خلکو به تل د الله تعالی پر استازي د فاطمې مړکه کوله؛ خو رسول اللـه بـه نـه ورکولـه، چې حضرت سعد بن معاذ له علي سره وکتل او همداراز خپله کيسه کوي، چې وايـي: د اللـه تعالی استازي وويل: اسماء! په يو لوښي کې اوبه راوړه! اسماء راوړې او بيا رسول الله هغه پر خپل مخ او پښو و موږلې او بيا يې فاطمه راوغوښته او اوبه يې ورته پر سر او سـينه و شيندلې او بيا يې هغه اوبه راخستی او پر خپل ځان او فاطمې يې پخنک کولې او بيا يې وويـل: هغـه له ما او زه له هغه يم؛ نو خدايه؛ لکه څنگه چې دې زه له چټلۍ پاک کړم، لور مې او مېړه يې هم له پليدۍ پاک کړې او هغسې، چې ته پوهېږې، سپېڅلی يې کړې او بيا يې د اوبو يـو بل لوښی راوغوښت او هماغه کار يې له علي سره هم وکړ او هماغه دعا يې ورته وکړه او تر دې روسته يې دواړو ته وويل: پاسئ او خپل کور ته ولاړ شئ؛ الله تعالی دې تاسې دواړه وبښـي او الله تعالی مو زړونه سره ولگوه او الله تعالی دې ستاسې نيتونه الله تعالی صالح کړي. (او د حديث تر پايه)

او د نهم ټوک په ۱۴٦ مخ کې وايي: له ابي الطفيل نه روايت شوی، چې ويلي يې دي: حسن بن علي موږ ته وينا کوله؛ د الله تعالی تر حمد او ثنا روسـته يـې وويـل: زه د بشـير او د نـذير زوی يم، زه د رسول الله زوی يم، زه د الله تعالی پر لور د رابلونکي زوی يم، زه د بلې ډيوې زوي يم، زه د هغه چا زوی يم، چې الله تعـالی د عالميـانو لپـاره رحمـت رالېـږلی دی، زه لـه اهلبيتو څخه يم، چې الله تعالی چټلي ترې لرې کړې او هغوی اللـه تعـالی هغسـې، چـې پـه خپله پوهېده، تطهېر کړي دي (د حديث تر پايه) او بيا يې حديث د طـبراني کبـير او اوسـط کتابو او بوعلي او بزاز ته نسبت ورکړی دی.

او د نهم ټوک په ۱۷۲ مخ کې وايي: له ابي جميله نه روايت شوی، چې د علي تر وژل کېـدو روسته حسن بن علي ځايناستی وټاکل شو، يو د لمانځه پر مهال له خپل ځايه راپاڅېد او هغه

يې پر پنډۍ په چاړه وواهه؛ حسن د څو ورځو لپاره رنځور شو او تـر رغېـدو روسـته يـې پـر ممبر وويل: د عراق خلکو! زموږ په اړه له خدايه ووېرېږئ ؛ موږ هم ستاسې اميران يـو او هـم مېلمانه او موږ هغه اهلبيت يو، چې الله تعالی يې په اړه په قرآن کـې ويـلي دي: (انمـا يريـد الله) پر هغه ورځ يې دومره خبرې وکړې، چې په جومات کې داسې څوک نه وو پاتې، چـې ژړلي به يې نه وي او بيا وايي: طبراني هم دا حديث راوړی او رجال يې ټول ډاډمن دي.
(مستدرک الصحيحين: ۳ټوک، ۱۷۲ مخ) پر خپل سند له علي بن الحسين نـه روايـت کـړی، چې ويلي يې دي: حسن بن علي د خپل پلار تر وژل کېدو روسته خلکو تـه وينـا وکـړه او د الله تعالی تر حمد او ثنا روسته يې وويل: خلکو څوک چې موږ پېژني؛ نـو پېـژني مـو اوکـه څوک مو نه پېژني؛ نو زه حسن بن علي د رسول الله زوی يـم؛ زه يـې د وصي زوی يـم، زه د بشير زوی يم، زه د نذير زوی يم، زه د الله تعالی پر لور د رابلونکي زوی يم، زه د بلې ډيـوې زوی يم، زه له هغو اهلبيتو څخه يم، چې جبراييل به ورته راتله او له کـوره به يـې اسـمان تـه الوته، زه له هغو اهلبيتو څخه يم، چې الله تعالی له هر ډوله پليدۍ پـاک کـړي وو او هغسـې، چې پخپله پوهېده، تطهير کړي يې ول.
(تفسير ابن جرير طبري: ۲۲ ټوک، ۷ مخ)پر خپل سند له ابي الـديلم نـه روايـت کـړی، چـې ويلي يې دي: علي بن الحسين يو شامي ته وويل: د احزاب په سورت کې دې نه دي ويـلي: (انما يريد الله ليذهب عنکم الرجس اهل البيت ويطهرکم تطهيرا) شامي وويـل: مگـر تاسـې اهل البيت ياست؟ ورته يې وويل: هو موږ اهل البيت يو.

## رسول الله په

## علي، فاطمه، حسن او حسين مباهله وکړه

صحيح مسلم د فضايل الصحابه د کتاب د (من فضايل علي بن ابيطالب) په باب کې پر خپل سند له عامر بن سعد بن ابي وقاص له خپل پلار روايت کړی، چې ويلي يې دي: معاويه بن ابوسفيان سعد ته امر وکړ، چې علي ته کنځل وکړي. سعد وويل: هر کله مې چې د عـلي پـه اړه د الله تعالی د استازي درې يناوې يادې وي؛ نو هېڅکله به ورته کنځل و نه کړم او که په هغو دريو خبرو کې يوه هم زما په اړه وه؛ نو تر هغه څه به راته ښه وای، چې پـر ځمکـه پـرې لمر لگي: ۱_ په يو جگړه کې د الله تعالی استازي، علي خپل ځايناستی کړ او جگړې ته يـې له ځان سره يو نه وړ؛ نو علي خپه شو او گيله يې وکړه، چې ښځو اوماشومانو ته يې پرېـږدې

او د جهاد له ثوابه مې بې برخې کوې؛ نو د الله تعالی استازي وويل: خوښ يې، چې مقام دې راته داسې وي؛ لکه د هارون، چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته څه نبوت نشته.

۲_د خيبر پر ورځ مې واورېدل، چې رسول الله وويل: سبا به د جګړې بېرغ هغه ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی يې پرې ګران دی او هغه هم پر الله تعالی او استازي يې ګران دی؛ نو ټول پر تمه ول، چې رسول الله به هغوی ښيي؛ خو چې سبا شو؛ نو وا مې ورېدل، چې علي ته يې غږ کړ او چې علي يې ورته راوست؛ نو سترګې يې خوږېدې؛ نو رسول الله ورته په سترګو خپلې توکانې وموږلې او د جګړې بېرغ يې ورکړ اوکلا هم د علي په لاس سوبه شوه.

۳_ چې کله د (قل تعالوا ندع ابنائنا و ابنائکم)آيت نازل شو؛ نو د الله تعالی استازي علي، فاطمه، حسن او حسين راوغوښتل او و يې ويل: خدايه! دوی زما اهلبيت دي.

دا روايت ترمذي؛ صحيح: ۲ ټوک، ۳۰۰ مخ، احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۸۵ مخ، سيوطي په درالمنثور: کې د آل عمران د سورت د مباهلې تر آيت لاندې او درېيمه جمله يې صحيح ترمذي: ۲ټوک، ۱٦٦ مخ پر خپل سند له عامر بن عباس بن سعد بن ابي وقاص له پلار او حاکم؛ مستدرک: ۳ټوک، ۱۵۰ مخ (هغه دا حديث د ټولو هغو شرايطو خاوند ګڼلې، چې مسلم او بخاري يې د حديث د صحت لپاره غواړي) بيهقي؛ سنن: ۷ټوک، ٦۳ مخ او زمخشري په کشاف کې او فخر رازي دواړو د مباهلې تر آيت لاندې او شبلنجي؛ نورالابصار: ۱۰۰ مخ کې راوړی دی او د شبلنجي عبارت دا دی: ((مفسرينو ويلي دي: رسول الله چې کله دا آيت له نجرانه راغلي مسيحي پلاوي ته ووايه او مباهلې ته يې را وبلل؛ نو هغوی وويل: موږ به په خپل کار کې سوچ وکړ او سبا به ځواب درکړو او تر سلا مشورې روسته خپل مشر ته هم ورغلل، چې څه ورته وايي، هغه وويل: نصاراو! تاسې ښه پوهېږئ، چې محمد پېغمبر دی او که مباهله مو ورسره وکړه؛ نو هلاک به شو))

او په يوه بل روايت کې يې ويلي دي: پر الله تعالی هر قوم، چې له کوم پېغمبر سره مباهله وکړه؛ نو تر روستي تنه هلاک شوي دي، که زما منئ، ايمان پرې راوړئ که زما خبره نه منئ او مباهله کوئ؛ نو لږ تر لږه دا خبره خو مې واورئ، چې ولاړ شئ او له هغه سره الله تعالی پاماني وکړئ او بيا خپلې سيمې ته ستانه شئ. د نجران پلاوی پېغمبر ته ورغلل؛ و يې ليدل چې حسين يې په غېږ کې راختی او حسن يې له لاسه رانيولی او فاطمه په پېغمبر پسې او علي هم په فاطمې پسې را روان دی؛ نو د الله تعالی استازي وويل: چې کله ما دعا وکړه؛ نو تاسې آمين ووياست. چې کله د نجران اسقف دا حالات وليدل؛ نو و يې ويل: د نجران نصاراوو! کومې څېرې، چې وينم که له خدايه وغواړي غر ورته له ځايه را ونه ړوي؛ نو الله

تعالی به دا کار وکړي؛ نو مباهله و نه کړئ، چې هلاک به شئ او د قیامت تر ورځې پورې به یو نصارا هم پر ځمکه پاتې نشي؛ نو نصاراوو له ناکامه وویل: ابا القاسمه! زمونږ خوښه پر دې راغله، چې مباهله و نه کړو او تا پر خپل دین پرېږدو او ته هم مونږ پر خپل دین پرېږدې.
رسول الله وویل: اوس چې حاضر نه یاست، چې اسلام راوړئ او مباهله وکړئ؛ نو په گټه او تاوان کې له مسلمانانو سره شریک شئ؛ خو نصاراو و نه منله؛ نو رسول الله وویل: باید جگړې ته چمتو شئ. نصارارو وویل: مونږ له عربو سره د جگړې وس نه لرو؛ خو سوله به درسره وکړو او داچې راسره و نه جنگېږې او و مو نه وېروې او و مو نه گواښې او له خپل دینه مو وا نهړوې؛ نو مونږ به هر کال دوه زره توپه ټوټه درکوو، چې زر توپه به یې د صفر په میاشت او نوره به یې د رجب په میاشت کې درکوو (او په یوه نقل کې راغلي)، ۳۳ زره، ۳۳ نر اوښان، ۳٤ جنگي اسونه به درکوو، چې رسول الله یې دا وړاندیز ومنه او له سوله یې ورسره وکړه او و یې ویل: پر هغه الله تعالی قسم، چې ژوند مې د هغه په لاس کې دی، چې عذاب تر نجران پورې رسېدلی و او که سوله یې نه وه کړې؛ نو ټول به د بیزو او خوک پر بڼه شوي ول او دښته به ورته سور اور شوې وه او الله تعالی به ان د نجران ونې او چرگان هم له منځه وړي وای او په کال کې دننه دننه به پر ځمکه ټول نصارا له منځه تللي وای.
زمخشري ددې روایت تر نقلولو روسته وایي: دا آیت د اهل کساء د فضیلت ښکارندوی دی، چې هېڅ دلیل یې قوت ته نه رسي او همداراز د رسول الله د نبوت یو ښکاره دلیل دی؛ ځکه نه مخالف او نه موافق داسې کوم روایت نقل کړی، چې د نجران نصاراو مباهله وکړه.
فخر رازي هم ددې روایت تر نقلولو روسته وایي: دا آیت دلالت کوي، چې حسنین د الله تعالی داستازي زامن دي؛ ځکه کله رسول الله ته دنده ورکړه شوه، چې خپلو زامنو ته په مباهله کې گډون ورکړي؛ نو د الله تعالی استازي هغه دواړه راوړل؛ نو فرضېږي، چې ووایو هغه دواړه د رسول الله زامن دي.
بیا وایي: او هغه آیت چې پردې مانا ټینگار کوي، د انعام د سورت دا آیت دی: (و من ذریته داود و سلیمان _ تردې چې وایي: و زکریا و یحیی) چې معلومه ده، چې عیسی د مور له پلوه ابراهیم ته منتسب دی؛ نه د پلار له لوري؛ نو جوتېږي، چې کله د لور زامن هم د انسان خپل اولاد گڼل کېږي او تر یوې خبرې روسته وایي: روایت شوی، چې ابا جعفر باقر له حجاج بن یوسف سره پردې آیت استدلال کړی دی.
او همداراز د بقرې د سورت د (وعلم آدم الاسماء کلها) آیت په تفسیر کې لیکي: له شعبي نقل شوي دي، چې ویلي یې دي: زه له حجاج سره وم، چې خراساني فقیه "یحیی بن یغمر" یې پر زنځیرونو تړلی له بلخه راوست؛ نو ورته یې وویل: تا ویلي، چې حسن او حسین د الله

تعالی د استازي زامن دي. و يې ويل: هو!. حجاج وويل: يا بايد د خپلې خبرې لپاره د الله تعالی له کتابه واضح دليل راوړې او يا به دې د بدن يو غړی غوځوم. يحيی وويل: حجاجه! د الله تعالی له کتابه به درته داسې ښکاره دليل راوړم، چې ته هم ورته حيران شې. حجاج يې جرات ډېر زيات حيران کړ، چې په نوم يې ورته غږ وکړ او و يې ويل، چې د ((ندع ابنائنا و ابنائکم)) پر آيت استدلال و نه کړې. يحيی: تر دې به هم روښانه دليل راوړم او و يې ويل: (و نوحاهدينا من قبل و من ذريته داود سليمان ـ تردې چې وايي ـ و زکريا و يحيی و عيسی) چې په دې آيت کې عيسی د نوح څوځات ښوول شوې ده؛ نو ته راته ووايه، چې د عيسی- پلار څوک و، حجاج د څو شيبو لپاره غلی شو او بيا يې وويل: ته وا دا آيت مې تر اوسه اورېدلی نه و او بيا يې حکم وکړ: زنځير يې له پښو او لاسونو خلاص کړئ او دومره انعام هم ورکړئ.

دا کيسه سيوطي هم په درالمنثورکې د انعام د سورت ((و وهبناله اسحاق و يعقوب کلا هدينا و نوحا هدينا من قبل ومن ذريه داود و سليمان) په آيت کې له دوو لارو، چې يو يې ابن ابي حاتم له ابي حرب بن اسود او بل يې له ابي الشيخ، حاکم، او بيهقي له عبدالملک بن عميره نه نقل کړې ده.

(تفسير ابن جرير طبري: ۳ټوک، ۲۱۲ مخ) له زيد او بيا په ۲۱۲ مخ کې له سدی نه او په ۲۱۳ مخ کې له علباء بن، احمر يشکري او بيا په هماعه مخ کې له زيد نه په دې اړه روايت نقلوي، چې رسول الله، علي، فاطمه، حسن او حسين په مباهلې کې گډون کړی و.

(سيوطي په درالمنثور کې د آل عمران د سورت د مباهلې د آيت په تفسير کې) وايي: حاکم (هغه دا حديث صحيح گڼي) او ابن مردويه او ابو نعيم په دلايل کې له جابر څخه روايت کړی، چې و يې ويل: عاقب او سيد رسول الله ته راغلل؛ نو د الله تعالی استازي دواړه اسلام ته راوبلل، چې دواړو وويل: محمده! موږ اسلام راوړی دی. د الله تعالی استازي وويل: دروغ وياست او که زړه مو غواړي؛ نو درته به ووايم، چې ولې اسلام نه راوړئ. ورته يې وويل: ووايه. رسول الله وويل: کومه مينه، چې تاسې له صليب، شرابو او د خوک له غوښې سره لرئ؛ نو نه مو پرېږدي، چې اسلام راوړئ او بيا رسول الله ورته د مباهلې بلنه ورکړه او هغوی دواړو هم د سبا وعده ورکړه، چې بله ورځ رسول الله علي، فاطمه، حسن او حسين راوستل او پيغام يې ورولېږه، چې راشئ؛ خو را نه غلل او د رسول الله پر نبوت يې منښته وکړه. د الله تعالی استازي وويل: قسم پر هغه الله تعالی، چې زه يې استازی رالېږلی يم که منښته يې نه وه کړې؛ نو الله تعالی به پرې په دښته کې اور راورلی و.

جابر وايي: د ((تعالوا ندع ابنائنا)) آيت په دې پيښه کې نازل شوی او همداراز وايي: له (انفسنا) نه مراد رسول الله او علي او له (ابنا ئنا) نه مراد حسنين او (نسائنا) نه مراد فاطمه ده.
(صواعق محرقه: ۹۳ مخ)وايي: دار قطني روايت کړی، چې علي د شورى پر ورځ هغه کسانو ته، چې هلته ناست ول، داسې وينا وکړه: پر الله تعالی قسم درکوم، چې په تاسې کې تر ما رسول الله ته نږدې شته؟ او څوک شته، چې الله تعالی هغه د رسول الله نفس او زامن يې د رسول الله زامن او مېرمن يې د الله تعالی د استازي ښځې ښوولې وي؛ نو ټولو منښته وکړه، چې شهد الله، نه (د حديث تر پايه)

## رسول الله، حضرت علي، فاطمې، حسن او حسين ته وويل:

## انا حرب لمن حاربتم و سلم لمن سالمتم

(صحيح ترمذي: ۲ټوک، ۳۱۹ مخ) له صبيح د ام سلمه له مولا له زيد بن ارقم نه، (ابن ماجه؛ صحيح: ١٤ مخ)، (حاکم؛ مستدرک الصحيحين: ۳ټوک، ١٤٩ مخ) ا بن اثير جرزي؛ اسدالغابه: ۵ ټوک، ۵۲۳ مخ)، متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ۲۱٦ مخ د نقل په توګه له صحيح ابن حيان نه او د ۷ټوک په ۱۰۲ مخ کې له ابن ابي شيبه، ترمذي، ابن ماجه، ا بن حيان، طبراني، حاکم، ضياء مقدسي او همداراز محب طبري؛ ذخاير: ۲۵ مخ کې له ابو حاتم څخه او امام احمد حنبل؛ مسند: ۲ټوک، ٤٤۲ مخ کې پر خپل سند له ابوهريره او حاکم؛ مستدرک: ١٤٩ مخ (هغه دا حديث صحيح ګڼلی)او خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: ۷ټوک، ۱۳٦ مخ کې ټولو د الله تعالی له استازي روايت کړی: ((علي، فاطمه، حسن او حسين ته يې وويل: زه په جګړه کې يم له هغوی سره، چې درسره په جګړه کې وي او په سوله کې يم له هغوی سره، چې درسره په سوله کې وي.))
(اسدالغابه: ۳ټوک، ۱۱ مخ) پر خپل سند له صبيح د ام سلمه مولا روايت کړی، چې ويلي يې دي: ((د رسول الله د کور د وره ترڅنګه ولاړ وم، چې علي، فاطمه او حسنين د رسول الله کور ته ننوتل او په يو ځای کې کېناستل؛ نو رسول الله ورغی او ورته يې وويل: پاڅېږئ او بيا يې پرې خيبري څادر واچاوه او ورته يې وويل: ((زه په جګړه کې يم له هغوی سره، چې درسره په جګړه کې وي او په سوله کې يم له هغوی سره، چې درسره په سوله کې وي.))
دا روايت هيثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱٦۹ مخ کې هم راوړی او د طبراني د اوسط کتاب ته يې نسبت ورکړی دی.

(رياض النضره: ۲ټوک، ۱۹۹ مخ) وايي: له حضرت ابي بکر څخه روايت شوی، چې ويلي يې دي: رسول الله مې په داسې حال کې وليد، چې يوې عربي لينديۍ ته يې تکيه وهلې وه (حکم يې وکړ، چې کېږدۍ ووهئ) کېږدۍ يې ووهله او علي، فاطمه، حسن او حسين يې کېږدۍ ته دننه کړل او بيا يې وويل: مسلمانانو! زه به له هغوی سره په سوله کې يم، چې په دې کېږدۍ کې له ناستو سره په سوله کې وي او له هغوی سره به په جګړه کې يم، چې په کېږدۍ کې له ناستو سره په جګړه کې وي او د دوستانو يې دوست او د دښمنانو يې دښمن يم او يوازې هغوی ورسره مينه کوي، چې سعيد الجدا (؛ يعنې کړنې يې الله تعالی منلي وي) وي او د زوکړې بستره يې پاکه وي (؛ يعنې حرامي نه وي) او يوازې هغوی به يې دښمنان وي، چې شقي الجد وي (؛ يعنې يوه کړنه يې هم الله تعالی نه وي قبوله کړې)او زوکړه يې د ناپاکه بسترې وي.))

(ذخاير العقبی؛ ۲۳ مخ) وايي: او له هغې ـ؛ يعنې ام سلمه ـ روايت شوی، چې و يې ويل: ((رسول الله له ما کره و، سر يې په ګرېوان کې و، چې فاطمه له پخې شوې حريرې سره راغله او حسن او حسين يې هم له ځان سره راوړي ول؛ نو د الله تعالی استازی وويل: مېړه دې چېرې دی؟ ولاړه شه او رايې وړله. فاطمه ولاړه او علي يې راوست؛ ټولو حريره وخوړه بيا رسول الله يو څادر راواخست او هغوی يې پکې راونغاړل او د څادر څنډې يې پر کيڼ لاس ونيوې او ښی لاس يې اسمان ته پورته کړ او و يې ويل: خدايه! دا زما اهلبيت دي، زما خپلوان او ځانګړي دي؛ نو خدايه! چټلي پليدي ترې لرې کړه او هاغسې، چې ته په خپله پوهېږې پاک يې کړه او زه په جګړه کې يم له هغوی سره، چې ورسره په جګړه کې وي او په سوله کې يم له هغوی سره، چې ورسره په سوله کې وي.))

د ذخاير خاوند بيا وايي: د ا روايت قبابي په معجم کې هم راوړی دی.

(سيوطي په درالمنثور کې)د احزاب د سورت د تطهير په آيت کې وايي (ا بن مردويه له حضرت ابي سعيد خدري روايت کړی، چې ويلي يې دي: روسته له دې، چې علي له فاطمې سره واده وکړ؛ نو د الله تعالی استازی به د څلويښت ورځو لپاره د هغوی کور ته ورتله او ورته يې ويل: ((السلام عليکم اهل البيت و رحمة الله و برکاته؛ د الله تعالی لمونځ رحمت دی؛ انما يريد الله ليذهب عنکم الرجس اهل البيت و يطهرکم تطهيرا) زه په جګړه کې يم له هغوی سره، چې درسره په جګړه کې وي او په سوله کې يم له هغوی سره، چې درسره په سوله کې وي.

## ځوک چې له رسول الله، علي، فاطمې، حسن او حسين سره مينه کوي؛ نو د الله تعالی له استازي سره به يې يوه درجه وي

(صحيح ترمذي: ۲ټوک: ۳۰۱ مخ) پر خپل سند لـه حضرت علي روايت کړی دی، چې رسول الله د حسن او حسين لاس نيولی و او خلکو ته يې وويل: ((ځوک چې له دې دوو او ددې دوو له مور و پلار سره مينه وکړي؛ نو د قيامت پـر ورځ به لـه ما سره او زما پـر درجه وي.))

دا روايت عبد الله د احمد بن حنبل زوی د خپل پلار د مسند په زياتونو کې (لـومړی ټوک؛ ۷۷ مخ)، خطيب بغدادي؛ تاريخ: ۳ټوک، ۲۸۷ مخ، ابن حجر عسقلاني؛ تهذيب التذيب: ۱۰ ټوک، ٤۳۰ مخ کې نقـل کړی دی او عسقلاني ددې روايت تـر نقلولـو روسته ويـلي دي: ابوعلي بن صواف له عبد الله بن احمد نه نقل کړي، چې و يې ويل: چې کله دا روايت نصر بن علي حديث کړ؛ نو متوکل حکم وکړ، چې هغه ۱۰۰۰ کوړې ووهئ؛ جعفر بن عبدالواحد يې واسطه شو او متوکل ته يې وويل: هغه شيعه نه دی؛ بلکې سني دی او دا خبره يـې دومره تکرار کړه، چې متوکل له خپل هوډه لاس واخست.

دا روايت متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ۲۱۷ مخ او د ۷ټوک پـه ۱۰۲ مخ کې وايي: دا روايت طبراني له حضرت علي روايت کړی دی او بيا يې په ۷ټوک کې ويلي: ترمذي، عبدالله بن احمد بن حنبل د خپل پلار د مسند په زياتونو کې، نظام الملک په امالي کې، ا بن النجـار او سعيد بن منصور هم روايت نقل کړی دی؛ خو کنزالعمال په دې عبـارت راوړی دی: چاچې له دوی سره مينه وکړه؛ نو له ماسره به يې مينه کړې وي او چاچې له دوی سره دښمني وکـړه؛ نو راسره به يې دښمني کړې وي او په اخر کې يې ويلي: دا حديث ا بن عسـاکر لـه زيـد بن ارقم څخه هم نقل کړی دی.

## د هل اتی سورت د حضرت علي، فاطمه، حسن او حسين په اړه نازل شوی دی

(اسد الغابه: ۵ټوک، ۵۳۰ مخ) پر خپل سند د فضه نوبيه د حالاتو په شرح کې لـه مجاهـد او حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چی د: (يوفون بالنذر و يخافون يوما کان شره مستطيرا و يطعمون الطعام على حبه مسکينا و يتميا و اسيرا) آيت په تفسير کې يې ويلي دي: حسن او

حسین ناروغ شول؛ نو رسول الله یې پوښتنې ته راغی او بیا نور هم پوښتنې ته راغلـل، رسـول الله حضرت علي ته یې وویل: اباالحسنه! څومره به ښه شي، چې د زامنـو د روغتیـا لپـاره دې نذر وکړې. حضرت علي وویل: که الله تعالی دا دواړه روغ کړل؛ نو د الله تعالی لپاره به درې ورځې روژه ونیسم او دا خبره بي بي فاطمې هم واورېده؛ نو هغې هم همدا نذر وکړ. د فضـه په نامه یې یوه وینځه درلوده، چې د نوبه (افریقا) وه؛ نو هغې هم وویل: که الله تعالی مې دې دوو بادارانو ته شفا ورکړه؛ نو زه به هم روژه ونیسم. حسن او حسـین روغ شول، حـال دا، لـه "آل محمد" کره هېڅ څه هم نه وو؛ نو علي خیبري شمعون تـه ورغـی او درې منـه د روټـې اوړه یې ترې کور ته راوړل او له زهرا بي بي سره یې کېښوول چـې بي بي زهـرا تـرې یـو مـن واغږل اوپاخه یې کړل؛ نو بیا چې علي کـور تـه راغـی؛ نـو فـاطمې بي بي هغـه لـه عـلي سره کېښوول، چې په همدې مهال یو مسکین یې د وره مخې ته ودرېد او و یې ویل: سـلام دې د محمد پر اهلبیتو وي! مسکین مسلمان یم؛ خواړه راکړئ، الله تعـالی دې تاسـې تـه لـه جنـتي دستر خوانه خواړه درکړي.
علي چې واورېدل؛ نو و یې ویل: خواړه مسکین ته ورکړئ؛ نو "آل محمـد" پـر هغـه ورځ او شپه وږي پاتې شول او د روژه ماتي لپاره یې بې له اوبو هېڅ څـه نـه درلـودل، چـې بلـه ورځ شوه؛ نو بي بي زهرا له هغه اوړو یو من نور واغـږل او پاخـه یـې کـړل. عـلي د اللـه تعـالی لـه استازي سره په جومات کې لمونځ وکړ او چې کـور تـه راغـی او خـواړه یـې ورتـه مخـې تـه کېښوول؛ نو د وره له خولې غږ راغی: سلام دې پر تاسې وي د محمد اهلبیتو! زه د مهاجرینو د شهید پلار مړی یم؛ پلار مې شهید شوی؛ څه خواړه راکړئ. آل محمد پـر هغـه ورځ خپـل خواړه پلارمړي ته ورکړل او په خپله یې پر اوبو روژه ماتی وکړ. پـر درېیمـه ورځ بي بي زهـرا یو من اوړه واغږل او پاخه یې کړل. علي چې د الله تعـالی لـه اسـتازي سره پـه جومـات کـې لمونځ وکړ؛ نو کور ته راغی. بي بي زهرا ورته خواړه مخې ته کېښوول، چې په همدې وخت کې یو اسیر راغی او و یې ویل: سلام دې پر تاسې وي نبوي کورنۍ! موږ اسیرانوئ او خواړه هم نه راکوئ. پر هغه ورځ نبوي کورنۍ خپل خواړه اسیر ته ورکړل او په پایله کې پرلـه پسـې درې ورځې وږي پاتې شول او بې له اوبو یې هېڅ څه هم و نه خـوړل، چـې دا مهـال رسـول الله ورته راغی او د هغوی لوږه یې ولیده او له کیسې خبر شو او پر هماغه مهال رسول الله دا آیت را واستاوه: (هل اتی علی الانسان حین من الدهر لم یکن شئاً مذکوراً_ تردې چې وایـې _ لا نرید منکم جزاء ولا شکوراً).
دا روایت ابوموسی نقل کړی او زمخشري هم د کشاف په تفسیر کې د (و جزیهم بما صـبروا جنة و حریرا) آیت په تفسیر کې راوړی او ویلي یې دي، چې واحـدي هـم دا روایـت نقـل

کړی او همداراز فخر رازي هم دا آیت ددې سورت په تفسیر کې راوړی او ویلي یې دي: واحدي، چې زموږ له اصحابو څنې دی، د سبط په کتاب کې یې ویلي: دا سورت د علي په باب نازل شوی او بیا زیاتوي، چې د کشاف خاوند، چې په خپله معتزلي دی، دا روایت یې له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی دی.

(واحدي؛ اسباب النزول: ۳۳۱ مخ) د: ((و یطعمون الطعام علی حبه مسکینا و یتیما و اسیرا)) آیت د شان نزول په اړه ویلي: عطاء له حضرت ابن عباس څخه روایت نقل کړی، چې هغه مهال، چې علي د کجورو یو بڼ ته د اوبو ورکولو ټېکه واخسته، چې ورته به په بدل کې یې د روټې اوړه ورکول کېږي؛ نو کله یې چې د روټې اوړه کور ته راوړل او د حریره په نامه خواړه یې پاخه کړل؛ نو همدا چې حریره پخه شوه؛ نو یو مسکین د کور د وره مخې ته ودرېد او د خوړو سوال یې وکړ. سبا یې بیا اوړه پاخه کړل، چې پاخه شول؛ نو یو پلار مړی یې د کور د وره مخې ته ودرېد او د خوړو سوال یې وکړ، چې د نن ورځې دا خواړه یې پلار مړی ته ورکړل او بله ورځ هم، چې کله خواړه پاخه شول؛ نو اسیر ته یې ورکړل او نبوي کورنۍ درې ورځې وږې پاتې شوه، چې بیایې دا آیت په اړه راغی.

مولف: دا روایت محب طبري؛ ریاض النضره: ۲ټوک، ۲۲۷ مخ او په خپل بل کتاب کې؛ یعنې د ذخایر په ۱۰۲ مخ کې، سیوطي په درالمنثور کې د (یطعمون الطعام) د آیت تر تفسیر لاندې ، ابن مردویه او شبلنجي؛ نورالابصار: ۱۰۲ مخ د شیخ اکبر له مسامرات نه دا راویت نقل کړی دی او په مسامرات کې راغلي: حسن او حسین، چې ناروغه شول؛ نو رسول الله یې پوښتنې ته ورغی او علي ته یې وویل: اباالحسنه! څومره به ښه شي، چې د زامنو د روغتیا لپاره دې نذر وکړې، علي وویل: زه به یې د روغتیا لپاره درې روژې ونیسم. بي بي زهرا وویل: زه به هم درې روژې ونیسم. زامنو یې وویل: موږ به هم روژه شو او وینځې یې هم وویل: زه به هم درې ورځې روژه شم او ماشومان، چې الله تعالی روغ کړل؛ نو سبا ته ټول روژه شول او ددې لپاره، چې د روژه ماتي لپاره یې څه نه درلودل؛ نو علي له خپل یهودي گاونډي کره ولاړ او وړی یې ترې راوړې، چې و یې وربشي او د هغه پر وړاندې ترې درې منه د روټې اوړه واخلي، چې فاطمې د اوړو دریمه برخه واغږل او پاخه یې کړل، چې د هر کس یوه روټه رسېده. علي د الله تعالی له استازي سره په جومات کې تر لمانځه روسته کور ته راغی؛ نو چې خواړه یې ورته مخې ته کېښوول او همداچې غوښتل یې روژه ماته کړي؛ نو یو مسکین یې دکور مخې ته راغی او و یې ویل: اهلبیتو! سلام دې پر تاسې وي، مسکین مسلمان یم؛ نو له خپلو خوړو ما ته هم راکړئ او الله تعالی دې جنتي خواړه درکړي. علي په لاس کې کپ کېښود او و یې ویل:

فاطم ذات المـــــجدواليـــــقینی    یا بنت خېر الناس اجمعینې
اما ترې ذا البـــائس المـــسکینی    جاء الی الباب له حنینی
کل امراء بکسبه رهینی

فاطمې! د مجد او یقین خاوندې! په خلکو کې د تر ټولو غوره انسان لورې! نه وینـې چـې دا مسکین مو دکور وره ته راغلی، زړه سوځونکی غږ لري او داسې نـه ده، چـې هـر څـوک پـه خپلو کړنو کې راښکېل دی.

بي بي فاطمې هم وویل:

امرک سمع یا ابن عم و طاعة  مالی من لوم ولا ضراعة
باللب قد غذیت بالبراعة   ارجوا اذا انفقت من مجاعه
ان الحق الابرار و الجماعة   و اد خل الجنة بالشفاعة

د تره زویه! حکم دې پر سر سترګو او هېڅ ګیله نه لرم او هیلمنه یم، چې د یـو وږي د مړولـو په بدله کې له ابرار سره یو ځای شم او پر شفاعت یې جنت ته ورننوځم.

وایي: بیا فاطمې دستر خوان ته لاس کړ او څه چې پکې ول، ټول یې مسکین ته ورکړل او په خپله وږي ویده شول. د هغې ورځ پر سبا یې هم د روژې نیت وکړ، حال دا، په روژه ماتي او پیشنمي کې یې بې له اوبو هېڅ څه نه درلودل. فاطمې د اوړو درېیمه برخه واغږل او پاخه یې کړل، چې د هر کس یو روټه رسېده. علي د الله تعالی لـه استازي سره پـه جومـات کـې تـر لمانځه روسته کور ته راغی؛ نو چې خواړه یې ورته مخې ته کېښوول او همداچې غوښتل یې روژه ماته کړي؛ نو یو پلار مړی یې د کور مخې ته راغی او و یې ویل: اهلبیتو! سـلام دې پـر تاسې وي، پلار مړی یم او د مسلمانانو پلار مړی هم یم؛ نو له خپلو خوړو ما ته هم راکړئ او الله تعالی دې جنتي خواړه درکړي. علي کپ پر دسترخوان کېښود او و یې ویل:

فاطم بنت اسید الکریم   قد جائنا الله بذالپلار مړی ی
من یطلب الیوم رضا الرحیم ی   موعده فی جنه النعیم ی

د کریم سید لورې! الله تعالی دا پلار مړی را استولی؛ نـو نـن چـې څـوک د لـورین څښـتن خوښي وغواړي؛ نو موعد به یې سبا له نعمتونو په ډک جنت کې وي.

بي بي زهرا ځواب ورکړ:

فسوف اعطیه و ال ابالی   و اوثر الله علی عیالی
امسوا جیاعاً و هم امثالی  اصغر هم یقتل فی القتال ی

ژر به مې خپل او د زامنو خواړه پلار مړي ته ورکړم او هېڅ باک هم نه لرم او خپل الله تعالی به له خپلو هغو زامنو مخکې کړم، چې له پرونه تر اوسه پورې وږي دي؛ هغه زامن چې وړوکی (حسین) به یې د الله تعالی په لار کې وژل کېږي.

او هغه مهال څه چې په دسترخوان کې ول، پلار مړي ته یې ورکړل او پر هغه شپه هم وږي ویده شول او بې له اوبو یې هېڅ هم و نه خوړل؛ نو سبا فاطمې د اوړو درېیمه برخه واغږل او پاخه یې کړل، چې د هر کس یوه روټه رسېده. علي د الله تعالی له استازي سره په جومات کې تر لمانځه روسته کور ته راغی؛ نو چې خواړه یې مخې ته ورته کېښوول او همدا چې غوښتل یې روژه ماته کړي؛ نو یو اسیر یې د کور مخې ته راغی او و یې ویل: اهلبیتو! سلام دې پر تاسې وي، اسیر یم، اسیر یې کړم؛ خو خواړه یې را نه کړل؛ نو له خپلو خوړو ما ته هم راکړئ، الله تعالی دې جنتي خواړه درکړي. علي کپ پر دسترخوان کېښود او و یې ویل:

فاطمـــــــــة ابنـه النبی احمـد بنت نبـــی سیـــد مـــــسود

هذا اسیر جاء لیـس یهـــتدی مکبـــــل فـــی قیده المقید

شکی الینا الجوع و التشدد من یطعم الیوم یجده فی غد

عند العلی الواحد الموحد ما یزرع الزارع یوماً یحصد

فاطمې د احمد نبي لورې! د هغه پېغمبر لورې، چې په خپله ستر دی او بشر-یې ستر کړی دی، داچې ګورئ د کور وره ته دې ولاړ دی؛ هغه اسیر دی چې له دې ځایه بل ځای نه لري او اوس یې زولنې په لاس کې دي او له لوږې تنګ شوی او موږ ته یې ګیله راوړې او نن که چا ورته خواړه ورکړل؛ نو سبا به هغه خواړه ومومي. هو! هغه به د علي له واحد الله تعالی سره ومومي او هر څوک هر څه چې نن وکري سبا به هماغه رېبي.

بي بي زهرا وویل:

کور ته چې راغلي ول، یوازې یو من پاتې دی او زما لاسونه پر مېچنه ستړي شوي دي او پر الله تعالی قسم، چې درې ورځې دي، چې زامن مې وږي دي. پالونکیه! هغوی هلاک مه کړې او هغه څه چې په دستر خوان کې ول، اسیر ته یې ورکړل او سبا یې د روژې نیت و نه کړ؛ خو د نن د روژه ماتي لپاره یې هم څه نه درلودل؛ نو علي، حسن او حسین رسول الله ته ورغلل او دواړه ماشومان د چورګوړو په څېر له لوږې رپېدل. رسول الله چې ولیدل؛ نو و یې ویل: حال مو ډېر خپه کوونکی دی، پاسئ چې لور ته مې ورشو او بیا له بي بي فاطمې کره راغلل؛ نو و یې لیدل چې په خپل محراب کې پر عبادت بوخته ده او له ډېرې لوږې یې ګېډه په ملا پورې نښتي ده او سترګې یې ننوتې دي؛ نو همداچې رسول الله ولیده؛ نو په غېږ کې یې را ونیوه او و یې ویل: وا غوثاه! بیا جبراییل راغی او و یې ویل: محمده! الله تعالی د

اهلبیتو د مېلسمتیا په اړه آیت را لېږلی دی: (و یطعمـون الطعـام عـلی حبـه مسـکینا ویـتیما _ وکان سعیهم مشکورا).

## د مودت آیت د رسول الله د خپلوانو؛ علي، فاطمه، حسن او حسېن په اړه نازل شوی دی

په دې اړه ډېر زیات احادیث دي، چې موږ یې یو څو ته لنډه اشاره کوو:
(تفسیر ابن جریر طبري؛ ۲۵ ټوک، ۱٦ مخ) پر خپل سند له سعید بن جبیر نه او محب طـبري په ذخایر کې له ابن سري نه او بیا طبري د ۲۵ټوک په ۱۷ مخ کې له ابي اسحاق له عمرو بن شعیب نه او حلیة الاولیاء؛ ۳ټوک، ۲۰۱ مخ پر خپل سند لـه جـابر څخـه روایـت کـړی، ې د: ((قل لا اسئالکم علیه اجرا الا الموده فی القربی)) آیت د الله تعالی د اسـتازي د خپلوانـو پـه اړه نازل شوی دی او د روستي روایت مضمون داسې دی، چې یو کلیوال سړی رسول الله ته راغی او و یې ویل: محمده! اسلام راوښیه. رسول الله وویل: اسلام دادی، چې لېینه- شهادت ورکړې، چې (لا اله الا الله وحده لا شریک له و ان محمـداً عبـده و رسـوله) اعـرابي وویـل: پردې مانا به له ما مزدورې هم غواړې؟ رسول اللـه وویـل: د خپلوانـو لـه مینـې پرتـه هـېڅ نـه غواړم. اعرابي وپوښتل: ستا خپلوان که زما خپلوان؟ د الله تعالی استازي وویل: زمـا خپلـوان. سړي ورسره ومنله او ورته یې وویـل: لاس دې راکـړه، چـې ددې خـبرې لپـاره درسره بیعـت وکړم او د الله تعالی لعتت دې پر هغه وي، چې له تا او خپلوانو سره دې مینه نـه کـوي. داللـه تعالی استازي وویل: امین.
سیوطي په درالمنثور کې تر ویینې لاندې تر آیت لاندې (سوره شوری) له عبد بن حمیـد او ابن منذر له مجاهد نه او همداراز له ابن مردویه نه د ا بن المبـارک لـه لارې لـه حضرـت ا بن عباس څخه او همداراز ابونعیم او دیلمي له مجاهد له حضرت ابن عبـاس څخـه او همـداراز سعید بن منصور له سعید بن جبیر نه روایت راوړی، چې ټولو ویلي دي، چې مراد ترې د الله تعالی د استازي خپلوان دي.
(مستدرک الصحیحین: ۳ټوک: ۱۷۲ مخ) پر خپل سند له علي بن الحسین نـه روایـت کـړی، چې و یې ویل: حسن بن علي د خپل تره تر شهادت روسته خلکو ته وینا وکړه او دالله تعالی تر ستاینې روسته یې وویل: خلکو! څوک چې ما پېـژني؛ نـو پېژنـې مـې، کـه څـوک مـې نـه پېژني؛ نو زه حسن د علي زوی او د پیغمبر زوی یـم، زه داللـه تعـالی داسـتازي د وصي زوی

یم، زه د بشیر او د نذیر زوی یم او د الله تعالی په لور د رابلونکي زوی یم، زه د بلې ډیوې زوی یم او زه له هغو اهلبیتو یم، چې جبراییل به ورته راته او له کوره به یې اسمان ته تـه او زه له هغه اهلبیتو یم، چې الله تعالی له هر ډول پلیدۍ پاک کړي دي او هغسې، چې په خپله پوهېده، پاک کړي یې دي او زه له هغو اهلبیتو یم چې الله تعالی یې مینه پر هر مسلمان فرض کړې ده او ویلي یې دي: (قل لا اسئلکم علیه اجرا الا الموده فی القربی) او همداراز یې وویل: (ومن یقترف حسنه نزدله فیها حسناً) او څوک چې څه نېکي وکړي؛ نو موږ یې نېکي او د نېکۍ ښکلا ورډېروو او د نېکۍ اقتراف هماغه زموږ د اهلبیتو مینه ده.
لیکوال: دا روایت محب طبري؛ ذخایر: ۱۳۸ مخ هم له زید بن حسن نه نقل کړی دی اودولابي ته یې نسبت ورکړی دی او هیثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱٤٦ مخ کې هم راوړی او ابي الطفیل، طبراني، ابویعلي، بزاز او احمد ته یې نسبت ورکړی دی او همداراز دا روایت ا بن حجر؛ صواعق: ۱۰۱ مخ کې نقل کړی او هغه یې بزاز او طبراني ته نسبت ورکړی دی.
(اسدالغابه: ۵ټوک: ۳٦۷مخ) له حکیم بن جبیر له حبیب بن ابي ثابت نه روایت کړی، چې د خپل ټبر له یوې ډلې سپین ږیرو سره ناست وم، چې له مخې مو علي بن الحسین تېر شو او دا هغه وخت و، چې د هغه او دیوې ډلې قریشو تر منځ د یوې ښځې پر سر شخړه وه، چې له هغه نه یې اخستی وه او له هغه سره نږدې توب یې ښه نه راته؛ نو د انصارو سپین ږیرو وویل: : پرون تاسې موږ د هغه شخړې په باب چې له پلانۍ کورنۍ سره مو درلوده راغوښتي وو؛ خو موږ ستاسې په چار کې هېڅ ډول لاس وهنه نه شو کړای او هېڅ خبره هم پکې نه شو کړای؛ څکه زموږ سپین ږیرو موږ ته حدیث کړی، چې د الله تعالی استازي ته ورغلو او ورته مو وویل: محمده! اجازه راکړه ددې ټولو نعمتونو له امله، چې الله تعالی ستا له امله موږ ته راکړي اودا دومره فضیلتونه او کرامتونه یې موږ ته راکړي، تا ته له خپلو مالونو څخه یو څه درکړو، چې د هغوی په ځواب کې د (قل لا اسئالکم) آیت راغی او لیکونکي په اخر کې دا حدیث ابن منذر ته نسبت ورکړی دی.
(ذخایر العقبی؛ ۲۵ مخ) د ملا له سیرة نه نقل کړي، چې رسول الله وویل: هغه اجر، چې تاسې یې باید راکړئ، الله تعالی دا ټاکلی، چې زما له اهلبیتو سره مینه وکړئ او زه به دا د قیامت پر ورځ درنه غواړم.
(صواعق المحرقه؛ ۱۰۲ مخ) له ثعلبي او بغوي له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی، چې و یې ویل: (همداچې د: (قل لا اسالکم علیه اجرا الا المودة فی القربی) آیت نازل شو؛ نو ځینو په زړونوکې وویل: بې له دې بل هېڅ مراد نه لري، چې تر ځان روسته موږ له خپلو اهلبیتو سره مینې ته اړ کړي؛ نو ځکه تر دې آیت روسته د: (ام یقولون افتری علی الله کذباً؛

يعنې لکه چې وايي چې محمد په دې سپارښتنه کې پر الله تعالی دروغ تړلي دي) آيت راغی؛ نو ځينو وويل: موږ ستا هغه سپارښتنه تصديق کړه، چې د الله تعالی له لوري ده او تا پر الله تعالی دروغ نه دي تړلي؛ نو بيا دا: (و هوالذی يقبل التوبه عن عباده؛ يعنې هغه الله تعالی دی چې د بندگانو توبه قبلوي) آيت راغی.

(صواعق محرقه: ۱۰۱ مخ) له ابو الشيخ او نورو نقل کړي، چې علي وويل: يوازې هغوی به زموږ مودت رعايتوي، چې پر الله تعالی ايمان لري او بيا يې د: (قل لا اسالک) آيت ولوست.

دا روايت: متقي هندي؛ کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲۱۸ مخ هم نقل کړی دی.

(تفسير ابن جرير طبري: ۲۵ ټوک: ۱٦ مخ) پر خپل سند له ابي الديلم نه روايت کړی، چې و يې ويل: چې کله يې علي بن الحسين اسير راوړ او په دمشق کې يې ځای پر ځای کړ؛ نو يو سړی پاڅېد او و يې ويل: ستاينه د هغه الله تعالی ده، چې تاسې يې ووژلئ؛ نو علي بن الحسين وپوښته: قرآن دې لوستی دی؟ و يې ويل: هو!. علي بن الحسين وويل: آيا "آل حم" دې ندی لوستی؟ و يې ويل: قرآن مې لوستی؛ خو" آل حم" مې نه دی لوستی. علي بن الحسين وويل: نه دې دي لوستي چې: (قل لا اسالکم عليه اجرا الا الموده فی القربی)؟ و يې پوښتل: مگر تاسې، تاسې، تاسې هغه (خپلوان) ياست؟ و يې ويل: هو موږ د الله تعالی د استازي خپلوان يو.

اما د الله تعالی د استازي خپلوان څوک دي؟ داسې روايتونه او خبرې شته، چې د تېرو خبرو پخلی کوي، چې له هغې ځنې يو هم زمخشري دی، چې د کشاف په تفسير کې د شوری دسورت د پورتني آيت تر تفسير لاندې ليکي: روايت شوی، چې کله د مودت آيت راغی؛ نو خلکو رسول الله وپوښت: د الله تعالی استازيه! خپلوان دې څوک دي، چې مودت يې پر موږ واجب شوی دی؟ و يې ويل: علي، فاطمه او دوه زامن يې.

(فخر رازي په کبير تفسير کې د شوری د سورت د مودت د آيت تر تفسير لاندې له زمخشري د پورته روايت تر نقلولو روسته وايي: نو جوت شول، چې دا څلور کسان د الله تعالی د استازي خپلوان دي او چې کله دا جوت شول؛ نو واجبېږي. . . . . . . . . . . . . . . .

(سيوطي په در المنثور کې) د پورتني آيت په تفسير کې له ابن منذر، ابن ابي حاتم، طبراني، ابن مردويه د سعيد بن جبير له لارې له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې کله دا آيت راغی؛ نو خلکو د الله تعالی استازی وپوښت: خپلوان دې څوک دي، چې مينه يې رابانديې واجب شوې ده؟ رسول الله وويل: علي، فاطمه، حسن او حسين او دواړو اولاده يې.

همدا مضمون ذخاير العقبى؛ ۲۵ مخ، محب طبري د احمد له مناقب نه، هيثمي؛ مجمع: ۷ټوک، ۱۰۳ مخ او همداراز د نهم ټوک په ۱٦۸ مخ کې، ابن حجر؛ صواعق: ۱۰۱ مخ له احمد، طبراني، ابن ابي حاتم او حاکم ټولو له حضرت ابن عباس څخه او شيخ شبلنجي؛ نورالابصار: ۱۰۱ مخ له تفسير بغوي نقل کړی دی.

## د حضرت علي په اړه نازل شوي آيتونه

(خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: ٦ټوک، ۲۲۱ مخ) له حضرت ابن عباس څخه نقل کړي، چې د قرآن ۳۰۰ آيتونه د علي او فضايلو په اړه يې نازل شوي دي.
او همدا راز له ابن حجر؛ صواعق: ۷٦ مخ او شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۳ مخ او له ابن عساکر له حضرت ابن عباس څخه روايت دی، چې الله تعالی د علي هومره ديو چا د فضايلو په اړه هم دومره آيتونه نه دي رالېږلي او په دې باب کې به بې له هغو آيتونو، چې مخکې مو په اړه يې خبرې وکړې؛ نورو هغو آيتونه ته اشاره وکړو، چې د علي په باب راغلي دي.

آيت: انما انت منذر و لکل قوم هاد (رعد؛ ۷)
(مستدرک الصحيحين: ۳ټوک، ۱۲۹ مخ) پر خپل سند له عباد بن عبد الله اسدي له حضرت علي روايت کړی، چې د: (انما انت منذر و لکل قوم هاد؛ يعنې ته يوازې وېرونکی يې او د هر قوم لپاره لارښود شته) آيت په تفسير کې وويل: د الله تعالی استازی منذر او زه هادي يم.
حاکم وايي: ددې روايت سند صحيح دی.
(متقي؛ کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲۵۱ مخ) وايي: ابن ابي حاتم هم دا روايت نقل کړی.
هيثمي؛ مجمع: ۷ټوک، ٤۱ مخ هم نقل کړی او په نقل کې يې راغلي: او هادي له بني هاشمو څخه يو سړی دی او بيا هيثمي زياتوي، چې دا حديث عبدالله بن احمد او طبراني د صغير او اوسط په کتابونوکې راوړی او ددې روايت رجال يې ډاډمن ګڼلي دي.
او له هاشمي سړي يې مراد خپل ځان و، ګواکې خوښ نه و خپل نوم واخلي.
دا مطلب سيوطي هم د پورتني آيت په تفسير کې د پورتني حديث تر راوړو روسته راوړی دی.
(تفسير ابن جرير طبري: ۱۳ ټوک، ۷۲ مخ) پر خپل سند له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې و يې ويل: چې کله د: (انما انت منذر) آيت راغی؛ نو دالله تعالی استازي خپل لاس پر خپله سينه کېښود او و يې ويل: زه منذر او د هر قوم لپاره لارښوونکی شته او بيا يې خپل لاس د علي پر سينه کېښود او و يې ويل: ته هغه لارښوونکی يې، چې تر ما روسته به بشر ته په تا ښيون-ښيون کېږي.
دا روايت سيوطي هم په درالمنثورکې د پورتني آيت په تفسير کې راوړی او ا بن مردويه، ابونعيم (د المعرفه کتاب)ديلمي، ابن عساکر او ابن نجار ته يې نسبت ورکړی دی.

فخر رازي په کبیر تفسیر کې د پورتني آیت په تفسیر کې وایي: او یوه شه چې په مفسرینو کې "اهل ظاهر" ددې آیت په اړه څو خبرې کړې دي او تردې چې وایي: او درېیم دا چې منذر د الله تعالی استازی او هادي علي دی. حضرت ا بن عباس ویلي: چې کله دا آیت راغی؛ نو د الله تعالی استازي پر خپله سینه لاس کېښود او و یې ویل: زه منذر یم او بیا یې پر لاس علي ته اشاره وکړه او و یې ویل: ته هغه هادي یې، چې بشر- به تر ماروسته په تا ښیونېږي.

سیوطي په درالمنثور کې تر همدې آیت لاندې له ابن مردویه، ابي برزه اسلمي روایت کړی، چې و یې ویل: وا مې ورېدل، چې کله د (انما انت منذر آیت نازل شو؛ نو د الله تعالی استازي پر خپله سینه لاس کېښود او و یې ویل: (انما انت منذر) او بیا یې د علي پر سینه لاس کېښود او و یې ویل: (ولکل قوم هاد).

دا روایت ابن مردویه او ضیاء (د مختار په کتاب کې) له حضرت ا بن عباس څخه او کنزالعمال: ٦ټوک، ۱۵۷ مخ او د کنز د وینا له مخې دیلمي هم له حضرت ا بن عباس څخه روایت کړی او شبلنجي؛ نورالابصار؛ ۷۰ ټوک او مناوي؛ کنزالحقائق، ٤٢ مخ هم نقل کړی دی.

## افمن کان مؤمنا کمن کان فاسقا لا یستون (سجده؛ ۱۷)

## د حضرت علي په باب نازل شوی دی

(تفسیر ابن جریر طبري: ۲۱ټوک: ٦٨ مخ) پر خپل سند تر پورتني آیت لاندې له عطاء بن سیار نه روایت کړی، چې و یې ویل: دا آیت په مدینه کې د علي او ولید بن عقبة بن ابي معیط په اړه راغی او کیسه یې داسې وه: د هغوی دواړو په منځ کې څه خبره شوه. ولید وویل: زه ستا په پرتله روانه ژبه، تېره نېزه او د دښمن د لیکو ماتونکی یم. علي وویل: غلی شه فاسقه!

اوبیا دا آیت د هغوی په منځ د خبرو د ورمندون-قضاوت لپاره راغی، چې ورپسی وایي: (اما الذین آمنوا وعملوا الصالحات فلهم جنات الماوی نزلا بما کانو یعلمون × و اما الذین فسقوا فماواهم النار الذی کلما ارادوا ان یخرجوا منها اعیدوا فیها و قیل لهم ذوقوا عذاب النار الذی کنتم به تکذبون _

دا روایت زمخشري هم د کشاف په تفسیر کې او سیوطي د سجده د سورت په تفسیر کې لـه عطاء بن سیار نه نقل کړی دی؛ بیا یې ویلي دي: ابن ابي حـاتم هـم دا روایـت نقـل کـړی او (واحدي؛ اسباب النزول: ۲۶۳ مخ) و د سـیوطي د وینـا لـه مخـې ددې آیـت پـه تفسـیر کـې ابوالفرج اصفهاني په اغاني کې، ابن عدی، ابن مردویه او خطیب؛ د بغداد تاریخ: ۱۳ ټـوک، ۳۲۱ مخ او ابن عساکر روایت کړی، چې حضرت ابن عباس وویل: مؤمن علي او فاسق ولیـد بن عقبة بن ابي معیط دی.

(ریاض النضره: ۲ټوک، ۲۰۶ مخ) هم پـورتني روایـت تـه ورتـه روایـت نقـل کـړی او خپـل روایت یې حافظ سلفي ته نسبت ورکړی دی.

## افمن کان علي بینه من ربه و یتلوه شاهدمنه (هود؛ ۱۷)

## د علي په باب نازل شوی دی

سیوطي په درالمنثور کې تر پورتني آیت لاندې وایي: ابن ابي حاتم، ابن مردویه او ابونعیم د المعرفة په کتاب کې له حضرت علي روایت کړی، چې و یې ویل: په قریشـو کـې به داسـې څوک و نه وینې، چې په اړه به یې په قرآن کې آیت نه وي نازل شوی. یو سړي وویل: ستا په اړه څه نازل شوي دي؟ علي وویل: مګر د هود په سورت کې دې نه دي ویـلي: (افمـن کـان علی بینه من ربه و یتلوه شاهد منه _؟ رسول الله د پالونکي پر بینه و او زه یې له کورنۍ شاهد وم.)

دا روایت کنزالعمال (لومړی ټوک؛ ۲۵۲ مـخ) او د هغـه دوینـا لـه مخـې ا بن مردویـه او ا بن عساکر نقل کړی دی او فخر رازي په کبیر تفسیر کې تر پورتني آیت لاندې ویلي: د شاهد د ټکي په تفسیر کې یې په وجوه کې وجوه یاد کړی (تردې چې وایي) او دریمه وجـه داچـې له شاهد څخه مراد علي دی، چې په خپله د نبوت له کورنۍ دی او د الله تعالی د استازي پـر بلنه صدق دی او ددې آیت مطلب دادی، چې د الله تعـالی اسـتازی پـر خپـل نبـوت د اللـه تعالی له لوري بینه درلوده او د بینه لپاره یې له خپلې کورنۍ هـم یـو شاهد راووړ او د (منـه) ټکی ښیي، چې هغه شاهد د الله تعالی د استازي له کورنۍ او له هغه څخه او د هغه د وجـود ټوټه ده او که څېنو شاهد پخپله رسول الله ښوولی؛ نو دا کار یې یوازې درسول الله د درناوي لپاره کړی دی.

## فان الله هو مولاه و جبريل و صالح المؤمنين (تحريم؛ ٤٠)

## د حضرت علي به اړه راغلی دی

سیوطي په درالمنثورکې تر پورتني آیت لاندې له ابن مردویه له اسماء بنت عمیس نه روایت کړی، چې د (صالح المؤمنین) په مانا کې یې ویلي: مراد ترې علي دی.
کنزالعمال: لومړي ټوک، ۲۳۷ مخ هم پر همدې مضمون یو روایت نقل کړی دی، ابن حجر هم په صواعق کې (١٤٤ مخ)هم هغه په رفع او وقف توګه نقل کړی او (عسقلاني؛ فتح الباري: ۱۳ټوک، ۲۷ مخ) له طبري له مجاهد او همداراز له نقاش له حضرت ا بن عباس او محمد بن علي باقرالعلوم او زوی یې جعفر بن محمد صادق څخه دا مضمون روایت کړی دی.

## (و تعیها اذن و اعیه) (الحاقه؛ ۱۲)

## د حضرت علي په باب راغلی دی

(تفسیر ابن جریر طبري؛ ۲۹ټوک، ۳۵ مخ) پر خپل سند له مکحول نه روایت کړی، چې ویل یې: د الله تعالی استازي، چې دا آیت ولوست؛ نو علي ته یې مخ کړ او و یې ویل: له خدایه مې غوښتي، چې هغه غوږ ستا غوږ کړي. هغه مهال علي وایي: تر هغه روسته مې د الله تعالی له استازي داسې خبره وا نه وربده، چې هېره کړې مې وي.
د ۲۱ ټوک په ۳۵مخ کې یې پر خپل سند له بریده نه روایت کړی، چې ویل یې: ما د الله تعالی له استازي واورېدل، چې علي ته یې وویل: علي! الله تعالی حکم راکړی، چې تا رانږدې کړم او لرې دې نه کړم او تا ته یې دروښیم او ته یې هم زده کړې او پر الله تعالی دي، چې درزده یې کړي او بیا دا (و تعیها اذن و اعیه) آیت راغی.
ابن جریر دا روایت د ۲۹ ټوک په ۳٦ مخ کې له اسلمي نقل کړی او زمخشري هم په فخر رازي کې دې ته ورته روایت نقل کړی او همداراز متقي؛ کنزالعمال: ٦ټوک، ۳۹۸ مخ له بریده نه او حلیة الاولیاء (لومړي ټوک٦۷ مخ) اوسیوطي هم تر وینني لاندې آیت تر تفسیر لاندې له سعید بن منصور، ابن جریر، ابن منذر، ابن ابي حاتم، ابن مردویه، مکحول او پر یو

بل نقل له ابن جرير او ابن ابي حاتم او واحدي (اسباب النزول؛ **۳۲۹** مخ)، ابن مردویه، ابن عساکر، ابن نجار له بریده نه او په کنزالعمال ٤٠٨ مخ کې د متقي د وینا له مخې ضیاء مقدسي او ابونعیم (د معرفت په کتاب کې) او همداراز شبلنجي د نورالابصار په ٧٠ مخ کې راوړی دی.

**(الذین ینفقون اموالهم بالیل و النهار سراوعلانیه فلهم اجرهم عند ربهم ولا خوف علیهم ولا یحزنون (بقره؛ ۲۷٤)**

## د علي په باب راغلی دی

(ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: ٤ټوک، ۲۵ مخ) له ددو لارو له مجاهد نه له حضرت ا بن عباس څخه روایت کړی، چې تر پورتني آیت لاندې یې ویلي دي: دا آیت د علي په باب راغلی؛ هغه څلور درهمه درلودل، چې یو یې د شپې بل یې د ورځې بل یې پټ او بل یې ښکاره نفقه کړ.

دا روایت زمخشري په کشاف کې او سیوطي په درالمنثور کې د پورتني آیت تر تفسیر لاندې راوړی دی او سیوطي ددې روایت نسبت عبدالرزاق، عبد بن حمید، ا بن جریر، ا بن منذر، ابن ابي حاتم، طبراني، ابن عساکر د مجاهد د زوی عبدالوهاب له پلار له حضرت ا بن عباس څخه نقل کړی دی.

ریاض النضره: ۲ټوک، ۲۰٦ مخ هغه له حضرت ابن عباس نه نقل کړي، چې په نقل کې یې دا زیاتوالی هم راغلی، چې رسول الله وپوښته: دا څلور درهمه دې په کوم نیت نفقه کړل؟ علي: په دې هیله، چې د وعدې مستحق شم، چې الله تعالی یې وعده ورکړې ده. د الله تعالی استازي وویل: تا د هغې وعدې استحقاق وموند او بیا کوم آیت، چې راغلی و، ورته یې ولوست او بیا وایي: مجاهد، ابن االسائب هم دا حدیث نقل کړی دی. فخر رازي په کبیر تفسیر کې د پورتني آیت تر تفسیر لاندې دا روایت په لږ توپیر نقل کړی دی.

(صواعق المحرقه؛ ۷۸مخ) له واقدي له حضرت ابن عباس څخه او شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۰ مخ د واحدي له تفسیر نه پر خپل سند له حضرت ابن عباس څخه او د اسباب النزول په ٦٤ مخ کې له مجاهد نه نقل کړی دی او د مجاهد په نقل کې کلبي ویلي: دا آیت د علي په اړه راغلی، چې څلور درهمه یې درلودل اوهغه ټول یې انفاق کړل.

## ان الذين امنوا و عملوا الصالحات سيجعل لهم الرحمن وداً (مريم؛ ٩٦) د حضرت علي به باب راغلی دی

(زمخشري په کشاف کې) د پورتني آيت په تفسير کې وايي: روايت دی، چې رسول الله علي ته وايي: علي! ووايه: خدايه ما ته له ځان سره يوه ژمنه وکړه او زما مينه د مؤمنينو په زړونو کې ډېره کړې. علي دا دعا وکړه او ورپسې سملاسي دا آيت راغی.
سيوطي هم دا روايت په درالمنثور کې داسې راوړی دی: خدايه ستا پر وړاندې مې مينه او د مؤمنينو پر وړاندې مې مينه زياته کړې.
او دا روايت ابن مردويه او ديلمي له براء نه نقل کړی دی.
هيثمي؛ مجمع: ۹ټوک، ۱۲۵ مخ هم دا روايت نقل کړی او هغه يې د طبراني اوسط ته نسبت ورکړی دی.
رياض النضره: ۲ټوک، ۲۰۷ مخ وايي: او يو له هغوی څنې؛ يعنې هغه آيتونه، چې د علي په باب راغلي دي، يو يې هم د (سيجعل لهم الرحمن وداً) آيت دی، چې امام ابوحنيفه (ره) ويلي: په دنيا کې به داسې مؤمن پاتې نشي، چې په زړه کې به يې د علي مينه نه وي (د حافظ سلفي د نقل له مخې) او همداراز دا روايت ابن حجر د صواعق په ۱۰۲ مخ کې او شبلنجي د نورالابصار په ۱۰۱ مخ کې له ځينو محدثينو له محمد بن حنفيه نقل کړی او تر نقلولو روسته يې ويلي: دا آيت د علي په اړه راغلی دی.

## ان الذين امنوا و عملوا الصالحات اولئک هم خير البريه (بينه؛ ۷) د حضرت علي په باب راغلی دی

(تفسير ابن جرير طبري: ۳۰ټوک، ۱۷۱ مخ) پر خپل سند له ابي الجارود له محمد بن علي روايت کړی، چې ويلي يې دي: رسول الله علي ته وويل: علي! ((خير البريه)) ته او ستا لارويان دي.
سيوطي هم په درالمنثور کې تر پورتني آيت لاندې له ابن عساکر له جابر بن عبدالله روايت کړی، چې و يې ويل: د الله تعالی له استازي سره وو، چې علي راغی او رسول الله مور ته وويل: قسم پر هغه الله تعالی دی، چې ژوند مې د هغه په لاس کې دی؛ داچې را روان دی او لارويان يې پخه خبره ده، چې د قيامت د ورځې رستګاران دي او بيا دا آيت راغی: (ان

الذين امنوا و عملوا الصالحات اولئک هم خير البريه)؛ نو ځکه علي به چې راغی؛ نـو د اللـه تعالی د استازي اصحابو به ویل: خير البريه راغی. دا روايت ابن عدی، ابن عساکر له سعيد نه په رفع توگه نقل کړی او ابن عدی هم له حضرت ا بن عباس څخه هم نقل کړی او ا بن مردويه له علي هم نقل کړی، چې رسول الله ماته وويل: د الله تعالی وينا دې واورېده، چې و یې ويل: (ان الذين امنوا و عملوا الصالحات اولئک هم خير البريه) چې هغه تـه او ستا لارويان دي او زموږ او ستاسې موعد د کوثر د حوض تر غاړې دی، هغه مهال چې امتونـه د حساب لپاره محشورشي؛ نو تاسې به د "غر محجل" په نامه يادېږئ.

(صواعق المحرقه؛ ۹٦ مخ) وايي: ددې آيت په تفسير کې حافظ جمال الـدين زرنـدي لـه حضرت ابن عباس څخه روايت کړي چې ويلي يې دي: هغه مهال چې دا ايت راغی؛ نـو د الله تعالی استازي علي ته وويل: هغه تـه او ستا لارويـان دي، چـې تـه او لارويـان به دې د قيامت پر ورځ خوښ او مرضي ياست او ستا دښمنان به غوسه او خپگـان راځـي. علي وپوښتل: زما دښمن څوک دی؟ رسول الله وويل: هغه چې ځان لـه تـا بېـزاره کـړي او پـر تـا لعنت ووايي.

دا روايت شبلنجي د نورالابصار په ۷۰او ۱۰ مخونو کې هم راوړی دی.

## اجعلتم سقايه الحجاج و عماره المسجد الحرام کمن امن باالله واليوم الاخر

## (توبه؛ ۱۹)

## د حضرت علي په باب راغلی دی

(واحدي؛ اسباب النزول: ۱۸۲ مخ) وايي: حسن، شعبي او قرطبي ويـلي دي: دا آيـت د علي طلحه او عباس په اړه نازل شوی دی او کيسه يې داسې وه، چې دې درې کسـانو پـر يـو بل وياړنې کولې؛ طلحه ويل: زه د الله تعالی دکور کونجيدار يم او د الله تعالی دکور پرده راسره ده. عباس ويل: زه حاجيانو ته اوبه ورکوم. علي ويل: نه پوهېږم، چې تاسې څه واست، زه شپږ مياشتې مخکې تر ټولو پر لمونځ درېدلی يم او زه د الله تعالی په لار کې مجاهد يـم او تردې خبرو روسته ول، چې همدا آيت را نازل شو.

دا روايت ابن جرير طبري هم د خپل تفسير د لسم ټوک په ٦٨ مخ کې پر خپل سند له سدي او فخر رازي په خپل تفسير کې د پورتني آيت په تفسير کې او فخر رازي د تکاثر د سورت په تفسير کې نقل کړی دی او ويلي يې دي، چې عقل راښيي، چـې تکـاثر او تفـاخر پـه هـر

ځای کې ناوړه او رټلی وي؛ ځکه که تفاخر په حقیقي تفاخرونو کې وي؛ نو عقل یې خوښوي او ناوړه یې نه ګڼي او یو یې هم د عباس ویاړنه او تفاخر و، چې حاجیانو ته یې د اوبو ور رسولو دنده درلوده او کومه ویاړنه، چې "شیبه" وکړه، چې د الله تعالی د کور کونجي ورسره ده (تر دې چې وایي) بیا علي وایي: ما په توره د کفر خر طوم پرې کړ او د کفر مې بې پته او بې عزته کړ؛ بیا نو تاسې اسلام ته مخه کړه. دا ځواب پر دواړو سخت پرېووت، چې دا آیت راغی.

## (وقفوهم انهم مسئولون) (صافات: ٢٤)

(صواعق المحرقه؛ ٨٩ مخ) وایي: (وقفوهم انهم مسئولون) څلورم آیت دی، چې د علي په باب نازل شوی دی او بیا وایي: دیلمي له حضرت ابي سعید خدري نقلوي، چې د الله تعالی استازي دا آیت ووایه او و یې ویل: د علي له ولایته مسئول دي او بیا وایي: د واحدي مطلب هم همدا روایت دی، چې ددې آیت په تفسیر کې یې ویلي: روایت دی، چې مسئول د علي او د اهلبیتو دي؛ ځکه الله تعالی خپل استازي ته ویلي ول، چې خلکو ته ووایي: د خپل رسالت پر وړاندې د خپلوانو له مینې پرته هېڅ نه غواړم او ددې آیت مانا هم دا ده، چې آیا هاغسې، چې په کار دي، له اهلبیتو سره مو مینه کړې که نه؟ او ایا د اهلبیتو په اړه د رسول الله پر سپارښتنو مو عمل کړی که نه؟ او که د هغوی حق مو ضایع کړی؛ نو له پوښتنې مراد مطالبه او آثار دي؛ دا د واحدي خبره ده.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَ لآئِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاء وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (مائده: ٥٤)= مؤمنانو! له تاسې، چې څوك له خپل دينه واوړي (الله تعالی ته زيان نشي رسولای) الله تعالی به داسې خلك راولي، چې ورته گران وي او الله تعالی (هم) هغوی ته گران وي، د مؤمنانو پر وړاندې به عاجز وي او پر كافرانو به تېز او سخت وي، د الله تعالی په لاركې به جهادكوي او د هېڅ ملامتوونكي له پړې اچولو به نه وېرېږي، دا د الله تعالی لورنه ده، چا ته چې يې خوښه شي (او وړ يې وبولي) وركوي يې او د الله تعالی (لورنه) پراخه او (پر مستحقينو) پوهېدونكی دی.))

فخر رازي په كبير تفسير كې تر پورتني آيت لاندې وايي: يوې ډلې وويل: دا آيت د علي په اړه نازل شوی دی او دليلونه يې دوه دي: ړومبی: چې كله رسول الله غوښتل د خيبر د جگړې مشري علي ته وركړي؛ نو يوه ورځ يې ترې مخكې وويل: ((سبا به د مشرۍ بېرغ هغه ته وركړم، چې الله تعالی او رسول يې پرې گران او هغه هم پر الله تعالی او رسول يې گران دی)) او دا هماغه نښه ده، چې په دې آيت كې راغلې ده؛ نو په دې آيت كې له قومه مراد له (؟) پرته هېڅوک نشي كېدای .

دويم: تر پورتني آيت روسته د ولايت آيت؛ يعنې (انما وليكم الله و رسوله و الذين يقيمون الصلوه و يوتون الزكاه و هم راكعون) راغلی، چې هېڅ څوک ترې منكر نه دي، چې د علي په اړه راغلی دی؛ نو ښه داده، چې ووايو: پورتنی آيت هم د علي په اړه راغلی دی.

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ (تو به: ۱۱۹)= مؤمنانو! د الله تعالی (د فرمان له مخالفته) ووېرېږئ او له رښتینو سره اوسئ.))

(سیوطي په درالمنثور کې) تر پورتني آیت لاندې وايي: له حضرت ابن عباس څخه روایت دی: له ((صادقین)) نه مراد علي دی او بیا وايي: ابن عساکر له ابي جعفر څخه روایت کړی چې د پورتني آیت په تفسیر کې وايي: مراد دادی چې له علي سره شئ.

((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلاَّ رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ (نحل: ۴۳)= او تر تا مخکې مو (هم) یوازې سړي لېږلي، چې وحې مو ورته کوله؛ نو که نه پوهېږئ (د کتابیانو) پوهان وپوښتئ (چې تعجب و نه کړئ، دا سلام پېغمبر یوازې له همدې سړیو رالېږل شوی دی)))

((وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلاَّ رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ (انبیاء: ۷)= او موږ تر تا مخکې یوازې سړي (چې انسانان او د بشر له جنسه وو، د پېغمبرانو په توګه) لېږلي ول، چې وحې مو ورته کوله که نه پوهېږئ (؛ نو) د اسماني کتابونو څېړونکي وپوښتئ.))

تفسیر ابن جریر طبري: ۱۷ ټوک، ۵ مخ له جابر جعفي نه روایت کړی، چې وايي: چې کله دا آیت راغی؛ نو علي وویل: "اهل ذکر" موږ یو.

((وَأَذَانٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الأَكْبَرِ أَنَّ اللّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّهِ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (توبه: ۲)= نو (مشرکانو!) څلور میاشتې (نور مهلت لرئ، چې) پر ځمکه وګرځئ (او چېرې، چې ځئ، ولاړ شئ او فکر وکړئ) او پوه شئ، چې تاسې الله تعالی بېوسې کولای نشئ (او نه یې د ځواک له منګولو تښتېدای شئ او پوه شئ) چې الله تعالی د کافرانو رسواکوونکی دی.))

سیوطي په درالمنثور کې تر پورتني آیت لاندې لیکي: ا بن ابي حاتم له حکیم بن حمید څخه روایت کړی، چې وايي: علي بن الحسین ماته وویل: د الله تعالی په کتاب کې د علي لپاره ځانګړی نوم دی، چې خلک ترې خبر نه دي. ورته مې وویل: هغه کوم نوم دی؟ راته یې وویل: مګر د (وَأَذَانٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الأَكْبَرِ) آیت دې نه دی اورېدلی. پر الله تعالی قسم چې اذان علي دی.

((فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ (تین: ۷)= نو (تر دې ځرګندو دلایلو) روسته څه څیز تاسې د جزا(له ورځې) منکرېدو ته اړ کړئ؟!))

(د بغداد تاریخ: دویم ټوک، ۹۷ مخ) په خپل سند له انس نه روایت کړی، چې کله د تین سورت راغی؛ نو رسول الله مبارک دومره خوشحال شو، چې ټول یې پر خوښی خبر او

خوښ شو او له حضرت ابن عباس څخه، چې ددې آيت تفسير وپوښتل شو؛ نو راته يې وويل: د تين له ټکي مراد د شام سيمه ده او تردې چې و يې ويل: د (فما يکذبک بعد بالدين) له جملې مراد علي دی.

(د بغداد تاريخ: پينځم ټوک، ۱۵ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: د الله تعالی له فضل نه مراد رسول الله او له رحمت نه يې مراد علي دی.

((أَفَمَن وَعَدْنَاهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَاهُ مَتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْمُحْضَرِينَ (قصص/٦١)=ايا هغه چې موږ ورسره ښه وعده کړې او ورته به ورسيږي، د هغه چا په څېر دی، چې موږ ورته د دنيوي ژوند وسايل ورکړي دي بيا د قيامت پر ورځ (د حساب او سزا لپاره) له روستونيو وي؟!))

(تفسير ابن جرير طبري؛ ۲۰ ټوک، ٦۲ مخ) په خپل سند له مجاهد نه روايت کړی، چې وايي: د (افمن وعدناه)آيت د حضرت حمزه، حضرت علي او ابوجهل په اړه نازل شوی. دا روايت واحدي هم د اسباب النزول په کتاب کې په خپل سند له مجاهد نه نقل کړی. محب طبري هم په رياض النضرة؛ دويم ټوک، ۲۰۷ مخ کې راوړی او ويلي يې دي، چې مجاهد ويلي دي: دا آيت د حضرت حمزه، حضرت علي او ابوجهل په باب راغلی دی.

((أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ (زمر: ۲۲) ايا الله تعالی چې د چا سينه د اسلام (منلو) ته پرانستې وي او (په پايله کې هغه) د خپل پالونکي له لوري له يوې رڼا څخه برخمن دی (د مړ زړي سړي په څېر دی؟!)؛ نو پر هغوی افسوس، چې د الله د ياد پر وړاندې سخت زړي وي! هغوی ښکاره بې لارې دي.))

(رياض النضره؛ دويم ټوک، ۲۰۷ مخ) وايي: يو له هغو آيتونو، چې د حضرت علي د فضايلو په اړه راغلی د (أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ) آيت دی، چې حضرت علي، حضرت حمزه او ابولهب او اولاد يې په پرتله شوي، بيا وايي: واحدي او ابوالفرج هم دا روايت راوړی دی.

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا (احزاب/۲۳) = په مؤمنانوکې داسې سړي شته، چې له الله تعالی سره يې کړې ژمنو ټينګ ولاړ دي، ځينو خپله ژمنه پوره کړې (او په لار کې يې شهيدان شوي دي) او ځينې (لا ورته) سترګې پر لار دي او له سره يې (خپله ژمنه) وا نه ړوله.))

(صواعق المحرقه: ۸۰ مخ) وايي: علي د کوفې پر ممبر ناست و، چې ددې آيت په اړه وپوښتل شو، په ځواب کې يې وويل: دا زما او زما د تره حمزه او زما د تره د زوی عبيدة بن

حارث بن عبدالمطلب په اړه راغلی دی؛ څکه عبیده د بدر په جگړه کې شهید شو، حمزه د احد په جگړه کې او زه هم په تمه یم، چې ددې امت تر ټولو کینه کښ مې پر وینو ولړي او بیا یې خپلې ږیرې او سر ته اشاره وکړه او و یې ویل: دا هغه ژمنه ده، چې محبوب مې ابوالقاسم راسره کړې ده (د حدیث تر پایه).

دا روایت شبلنجي هم د نورالابصار د کتاب په ۹۷مخ کې د ا بن صباغ د فصول المهمه له کتابه راخستی دی.

((وَالَّذِي جَاء بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ (زمر/۳۳)=

(سیوطي په درالمنثور کې) تر پورتني آیت لاندې لیکي: ابن مردویه له حضرت ابي هریره روایتوي، چې دالله تعالی استازي وویل: (وَالَّذِي جَاء بِالصِّدْقِ) زه یم او (وَصَدَّقَ بِهِ) علي دی.

مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ. بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ. يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ (رحمن: ۲۰، ۱۹، ۲۱)= دوه (بېلابېل) سیندونه (تریو او خوږ، تود او سوړ) یې [داسې] بهولي دي، چې سره یو ځای کېږې، چې ترمنځ یې پرده ده، چې یو هم ترې نه تېرېږي (او یو له بل سره نه گډېږي).))

(سیوطي په درالمنثور کې) د پورتني آیت په تفسیر کې وایي: ابن مردویه له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی، چې و یلي یې دي: د (مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ) په غونډله-جمله کې له دوو سمندرونو مراد علي او بي بي فاطمه ده او د (بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ) په غونډله کې له برزخه مراد رسول الله مبارک او د (يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ) په غونډله کې له لوء لوء نه مراد حسن او حسین دي.

همدا روایت ابن مردویه له انس بن مالک څخه او شبلنجي د نورالابصار د کتاب په ۱۰۱ مخ کې له انس بن مالک څخه راخستی دی.

((وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (عصر)= پر زمانې قسم! بېشکه (هر) انسان په زیان کې دی. خو بې له هغوی چې ایمان یې راوړی او ښه (کارونه) یې کړي او یو بل ته یې په حق سپارښتنه او په زغم سپارښتنه کړې وي.))

(سیوطي په دارالمنثور کې) د عصر د سورت په تفسیر کې لیکي: ابن مردویه له حضرت ا بن عباس څخه روایت کړی، چې وایي: له (وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ) څخه مراد ابوجهل بن هشام او له (إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ) څخه مراد علي او سلمان دي.

((أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاء مَّحْيَاهُم وَمَمَاتُهُمْ سَاء مَا يَحْكُمُونَ (جاثيه: ۲۱)= ايا هغوی چې ناوړه چارې او گناهونه يې کړي دي، انگېرلې ده، چې موږ به يې له هغو کسانو سره برابر کړو، چې ايمان يې راوړی او ښه (چارې) يې کړې وي (داسې) چې د هغو ژوند او مرگ برابر وي؟! هغوی څومره ناوړه پرېکړه کوي!.))

(فخر رازی په کبير تفسير کې) د جاثيه په سورت کې د پورتني آيت په تفسير کې ليکي: کلبي ويلي: دا آيت د حضرت علي، حضرت حمزه، عبيده او درې منافقينو په اړه نازل شوی، چې نومونه يې دادي: عتبه، شيبه او وليد بن عتبه، چې مؤمنانو ته يې ويل: پر الله تعالی، چې تاسې هېڅ څه نه لرئ اوکه تاسې رښتيا هم وياست؛ نو په اخرت کې به زموږ حالت تر تاسې ډېر غوره وي؛ لکه څنگه چې په آخرت کې زموږ حالات تر تاسې غوره دي، چې الله تعالی په دې آيت کې د منافقينو دا خبره رد کړې او ويلي يې دي، چې داسې نشي-کېدای، چې الله تعالی د مؤمنو په پرتله به د کفارو حالات ښه وي.

((وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاء بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا (فرقان: ٥٤)= او (الله) هغه ذات دی، چې له اوبو يې يو بشر پيداکړ بيا يې ترې (د خپلولۍ) د نسب او خسرگنۍ لړۍ وغځولې (او له دې دوو لارو يې د هغه نسل پراخ کړ) او ستا پالونکی تل وسمن دی.))

(نورالابصار؛ شبلنجي، ۱۰۲ مخ) وايي: له محمد بن سيرين څخه روايت دی، چې وايي: دا آيت د رسول الله مبارک او حضرت علي په اړه راغلی، چې هم يې د تره زوی دی او هم يې ورته لور ناسته ده، چې علي هم په نسب کې رسول الله مبارک ته رسي او هم په خپلوی؛ يعنې زومتوب کې.

# د حضرت علي د دښمنانو په اړه راغلي آيتونه

(زمخشري په کشاف تفسير کې) د ((وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا (احزاب/۵۸)= او هغوی چې مؤمن نارينه او مؤمنې ښځې (بې گناه او) بې له دې، چې (ناروا) يې کړې وي، ځوروي؛ نو په يقين چې د غټو دروغو او ښکاره گناه پيټی يې پر اوږو کړی دی)) آيت په تفسير کې ليکي: دا آيت د هغه منافقينو په اړه راغلی، چې حضرت علي يې کړاوه. واحدي هم په خپل سند (اسباب النزول؛ **۲۷۳** مخ) کې وايي: مقاتل ويلي: دا آيت د حضرت علي د دښمنانو په اړه راغلی او ول داسې منافقين، چې علي يې کړاوه.

((إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُواْ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ (مطففين: **۲۹**)= په واقع کې (په دنيا کې) گناهکارانو تل په مؤمنانو پورې خندل))

(زمخشری په کشاف تفسير کې) د پورتني آيت تر تفسير لاندې ليکي: يوه ورځ حضرت علي له څو کسانو سره روان و، چې منافقان يې را مخې ته شول او پر حضرت علي يې ملنډې ووهلې او بياچې له خپلو ملگرو سره يو ځای شول؛ نو پر ملنډو يې وويل: هغه اصلع (هغه چې د سر مخکې وېښتان يې نه وي) مو وليد؛ نو حضرت علي لا رسول الله مبارک ته نه و رسېدلی، چې دا آيت راغی.

دا روايت فخر رازي هم په کبير تفسير کې او سيوطي هم د محمد د سورت د (۳۰_۲۵) آيتونو په تفسير کې راوړی دی او وايي: ا بن مردويه او ا بن عساکر له حضرت ابي سعيد خدري روايت کړی، چې د (و لتعرفنهم فی لحن القول) تر غونډلې لاندې وايي: له حضرت علي سره دښمني يې د وينا له لحنه پېژندل کېږي.

## الله تعالی د حضرت علي له امله ددې امت د نجوا صدقه وبښله

(صحیح ترمذي؛ دویم ټوک، ۲۲۷ مخ) په "ابواب تفسیر قرآن" کې په خپل سند له حضرت علي نقلوي، چې ویلي یې دي: چې کله د (یا ایها الذین آمنوا اذا ناجیتم الرسول فقدموا بین یدی نجویکم صدقة _؛ یعنې د ایمان خاوندانو! چې غواړئ د الله تعالی له رسول سره پسپسکې وکړئ؛ نو مخکې ترې صدقه ورکړئ _ آیت راغی؛ نو رسول الله له ما وپوښتل: څه سلا ګورې، چې د هر ځل لپاره یو دینار صدقه ورکړي؟ ورته مې وویل: خلک یې وسه نه لري. راته یې وویل: نیم دینار څنګه دی؟ ورته مې وویل: خلک د هغې وسه هم نه لري. راته یې وویل: نو څومره؟ ورته مې وویل: یو شعیر. راته یې وویل: ته زاهد یې. بیا ورپسې آیت راغی، چې بیا روسته علي وویل: زما له امله الله تعالی دې امت ته صدقه ورکول وبښل.

ترمذي وایي: داچې وایي: یو شعیر، مراد یې دادی، چې خلک دې د یو غنم هومره سره زر صدقه ورکړي. دا روایت فخر رازي هم په کبیر تفسیر کې تر پورتني آیت لاندې راوړی او وایي: داچې رسول الله وویل، چې ته زاهد یې؛ مانا یې دا ده، چې ته په خپله کم پیسې یې او دا اندازه دې هم د خپل جېب په پامنیوي کړې ده او دا مانا، چې فخر رازي کړې، څه بده مانا نه ده او پورتنی روایت ابن جریر طبري هم د خپل تفسیر د ۲۸ ټوک په ۱۵ مخ کې او متقي هم د کنزالعمال د لومړي ټوک په ۲۶۸ مخ کې راوړی، چې متقي وایي: دا روایت ا بن ابي شیبه، عبد بن حمید، ابویعلي، ابن جریر، ابن منذر، دورقي، ا بن حیان، ا بن مردویه او سعید بن منصور هم نقل کړی دی (دا د متقي خبره وه) محب طبري هم د ذخایر په ۱۰۹ مخ کې وایي: دا روایت ابوحاتم نقل کړی او طبري د ذخایر په ۱۰۹ مخ کې له ابوحاتم څخه نقل کړی دی. دا روایت سیوطي هم په درالمنثور کې د پورتني آیت په تفسیر کې راوړی دی او دا روایت نورو ډېرو راویانو هم نقل کړی، چې نومونه یې متقي په کنزالعمال کې راوړي، چې دلته یې د راوړو حوصله نشته.

(خصایص نسائي: ۳۹ مخ) په خپل سند نقل کړي، چې کله د نجوی آیت راغی؛ نو د الله تعالی رسول علي ته وویل: خلکو ته ووایه، چې تر نجوی مخکې صدقه ورکړي. علي وویل: څومره؟ رسول الله وویل: یو دینار. علي وویل: خلک یې وس نه لري، بیا رسول الله وویل: نیم دینار. علي وویل: خلک یې بیا هم وس نه لري. رسول الله وویل: نو څومره؟ علي وویل: یو شعیر. رسول الله مبارک وویل: ته زاهد یې.

بیا پورتنی آیت راغی؛ ځکه حضرت علي به تل ویل، چې زما له امله دې امت ته په صدقه ورکولو کې تخفیف ورکړل شو.

## بې له حضرت علي بل چا د نجوی پر آيت عمل و نه کړ

(تفسير ابن جرير طبري؛ ۲۸ ټوک، ١٤ مخ) په خپل سند له ليث له مجاهد نه نقلوي: حضرت علي وويل: د الله تعالی په کتاب کې داسې يو آيت دی، چې چا پرې تر ما مخکې او نه به پرې څوک تر ما روسته عمل وکړي او هغه د (يا ايها الذين آمنوا اذا ناجيتم الرسول فقدموا بين يدی نجويکم صدقة) آيت دی، چې فرض کړي يې دي، چې څوک له رسول الله سره ځانګړې خبرې کول غواړي؛ نو مخکې ترې بايد صدقه ورکړي.

دا روايت زمخشري هم د کشاف په تفسير کې د مجادله په سورت کې د پورتني آيت تر تفسير لاندې ليکلی او په روايت کې يې حضرت علي په پای کې وايي: ما يو درهم درلود، چې لس ديناره مې کړ او هرکله به مې چې د الله تعالی له رسول سره نجوی کوله؛ نو صدقه به مې ورکوله. بيا کلبي وايي: لس واره يې لس درهمه صدقه ورکړه، چې لس مسئلې د الله تعالی له رسوله وپوښتي.

(واحدي هم د اسباب النزول په ۳۰۷ مخ کې) دا روايت نقل کړی دی او په نقل کې يې راغلي، چې علي وويل: ما يو دينار درلود، چې مات مې کړ او هر وار به مې، چې د الله تعالی له استازي سره نجوی کوله؛ نو يو دينار به مې صدقه ورکوله، چې يو دينار مې خلاص شو او د نجوی آيت هم نسخ شو او په نسخ کې يې دا آيت راغی: (ءاشفقتم ان تقدموا بين يدی نجويکم صدقات)

فخر رازي هم دا روايت راخستی او په پای کې وايي: دا روايت ابن جريح، کلبي او عطاء له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی، چې په نقل کې يې راغلي: اصحاب، چې له رسول الله سره له نجوی منع شول؛ خودا چې مخکې ترې صدقه ورکړي، چې بې له حضرت علي بل يوه هم دې صدقې ته غاړه کېنښووه او بيا ترې روسته بل آيت راغی او دا بنديز يې لرې کړ.

(تفسير ابن جرير طبري؛ ۲۸ ټوک، ١٤ مخ) په خپل سند له ابي نجيع او هغه هم له مجاهده همدا مضمون راخستی دی. سيوطي هم په درالمنثور کې د مجادله د سورت د پورتني آيت په تفسير کې دا روايت له سعيد بن منصور، ابن راهويه، ابن شيبه، عبد بن حميد، ا بن منذر، ابن ابي حاتم، ابن مردويه او حاکم (هغه دا حديث صحيح ګڼلی دی) څخه راخستی دی.

سيوطي وايي: دا روايت عبدالرزاق، عبد بن حميد، ابن منذر او ابن ابي حاتم له مجاهد نه نقل کړی دی.

او همداراز وايي: سعيد بن منصور هم همدا مضمون له مجاهد نه نقل کړی او په اخر کې راغلي، چې دا آيت نسخ شو او بې له علي پرې هيچا هم عمل و نه کړ.
او همداراز وايي: دا روايت عبدبن حميد له سلمة بن کهيل نه روايت کړی دی.
(کنزالعمال؛ درېيم ټوک، ۱۵۵ مخ) له عامر بن واثله نقلوي، چې وايي: زه د شورا پر ورځ په وره کې ولاړ وم، چې د اصحابو شور زوږ شو، چې د حضرت علي له خولې مې واورېدل: خلکو له ابوبکر سره بيعت وکړ؛ خو پر الله تعالی چې دې کار ته ترې زه غوره او وړ يم او بيا يې وويل: تاسې ته قسم درکوم، چې آيا په تاسې کې داسې څوک شته، چې له رسول الله سره به رورولي ولري؟ خلکو وويل: نه! بيا يې وويل: آيا په تاسې کې بې له ما بل څوک شته، چې د نجوی پر آيت به يې عمل کړی وي او ددې آيت تر راتګ روسته به يې دولس ځل د الله تعالی له استازي سره نجوی کړې وي؟ ټولو وويل: نه!.

## له رسول الله سره د حضرت علي مقام

(صحيح نسائي؛ لومړی ټوک، ۱۷۱ مخ) په خپل سند له عبدالله بن نجي څخه او هغه هم له خپل پلار روايت کړی، چې و يې ويل: علي راته وويل: د الله تعالی له رسول سره مې داسې منزلت او مقام درلود، چې هېڅ مخلوق نه درلود؛ زه به هر سهار ورتلم او ورته مې ويل: السلام عليک يا نبي الله! که اجازه به يې راکړه؛ نو کور ته به ورننوتم او که را به يې نه کړه؛ نو راستون به شوم.
دا روايت نسائي د خپلو خصايصو په ۳۰ مخ کې هم راوړی او ورته يې يو بل روايت هم په ۲۹ او ۳۰ مخ کې راوړی دی او احمد بن حنبل هم د خپل مسند د لومړي ټوک په ۸۵ مخ کې هم راوړی دی.
(کنزالعمال؛ ٦ټوک، ۳۹۳ مخ) له شعبي روايت کړی: حضرت ابوبکر حضرت علي وليد او ورته يې وويل: څوک چې غواړي د الله تعالی پر رسول تر ټولو ګران او ورته تر ټولو نږدې او ورسره د لوړ مقام خاوند وګوري؛ نو دې سړي ته دې وګوري (د حديث تر پايه) بيا وايي: دا حديث ابن ابي الدنيا د الاشراف په کتاب کې له ابن مردويه او حاکم نه نقل کړی دی.
محب طبري هم دا روايت د رياض النضره د دويم ټوک په ۱٦۳ مخ کې راوړی دی او ويلي يې دي، چې ابن اسمان هغه نقل کړی دی او ابن حجر هم د صواعق په ۱۰٦ مخ کې راوړی او دار قطني او شعبي ته يې نسبت ورکړی دی.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۱۳ مخ) او کنزالعمال شپږم ټوک، ٤۰۲ مخ وايي: له عبدالله بن حارث نه روايت دی، چې و يې ويل: علي ته مې وويل: په هغو فضيلتونو کې کوم تر ټولو غوره دی، چې تا له رسول الله مبارک سره درلود؟ له رسول الله کره ويده وم او هغه مبارک پر لمانځه و او تر لمانځه روسته يې راته وويل: علي! له خدايه مې داسې څه نه دي غوښتي، چې تا ته مې ترې نه وي غوښتي او له هېڅ شره مې الله تعالى ته پناه نه ده وړې؛ خو داچې تا ته مې ترې له خدايه پناه غوښتې وي. بيا وايي: محاملي دا روايت راوړی دی.
ليکوال: دا روايت هيثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ۱۱۰ مخ) کې راوړی او په پای کې يې وايي: و يې ويل: ما چې هر څه له خدايه غوښتي؛ خو يوازې يې راته ويلي: تر تا روسته به بل پېغمبر نه راځي (اوسط طبراني)
متقي هم دا روايت د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱٥۹ او ۳۹۲ مخ کې راوړی او په دواړو ځايونو کې يې ويلي: ابونعيم د فضايل الصحابه د کتاب په ٤۰٦مخ کې نقل کړي او وايي: ابن عاصم، ابن جرير ـ هغه دا حديث صحيح ګڼلی ـ طبراني په اوسط کې، ابن شاهين او نسائي هم د خصايص په ۳۷ او ۳۸ مخ کې له دوو لارو نقل کړی دی.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۱٦۳ مخ) وايي: حضرت ابوبکر او حضرت علي رسول الله ته راغلي ول، چې حضرت علي حضرت ابوبکر ته وويل: مخکې شه! ابوبکر وويل: زه به هېڅکله له هغه چا مخکې نه شم، چې د الله تعالى رسول يې په اړه ويلي دي: (علي ما ته داسې دی؛ لکه زه چې الله تعالى ته يم) نه مخکې کېږم. بيا وايي: دا حديث ابن سمان د موافقت په کتاب کې راوړی دی. دا روايت ابن حجر هم د صواعق په ۱٦ مخ کې راوړی دی.
(د بغداد تاريخ: شپږم ټوک، ۱۲ مخ) وايي: له براء روايت دی، چې وايي: رسول الله مبارک وويل: علي راته داسې دی؛ لکه زما سر چې ما ته دی.
دا حديث شبلنجي هم د نورالابصار په ۷۲ مخ کې راوړی او وايي: ديلمي هغه له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی او همداراز ابن حجر په صواعق، مناوي په فيض القدير (څلورم ټوک، ۳٥۷ مخ) کې له خطيب له براء له ديلمي او حضرت ابن عباس څخه نقل کړی دی.
(مستدرک الصحيحين؛ درېيم ټوک، ۱۳۰ مخ) په خپل سند له ام سلمه بي بي روايت کړی، چې وايي: رسول الله به چې غوسه شو؛ نو په موږ کې به بې له علي هيچا ورسره خبرې نه شوې کړای. ددې روايت سند صحيح دی.

ليکوال: دا روايت ابونعيم د حلية د نهم ټوک په ۲۲۷مخ کې او مناوي د فيض القدير د پينځم ټوک په ۱۵۰ مخ کې راوړی او په شرح کې يې ورته راوړي دي: طبراني هغه له ام سلمه بي بي نقل کړی دی.
(ابن حجر عسقلاني؛ اصابه: لومړی ټوک، څلورم قسم، ۲۱۷ مخ) د خطيب له مولف په خپل سند له انس بن مالکه يو حديث نقل کړی او وايي: موږ به چې هر څه د الله تعالی له رسوله پوښتل؛ نو هغه به له علي، سلمان او يا ثابت بن معاذ (رضی الله عنهم) سره مخامخولو؛ ځکه په اصحابو کې دوی د نورو په پرتله د الله تعالی رسول ته ډېر نږدې ول.
(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۲۹۹ مخ) په خپل سند له حضرت عبدالرحمان بن عبدالله روايتوي، چې وايي: حضرت علي وويل: هر څه به مې چې د الله تعالی له رسوله غوښتل؛ نو راکول يې او که چوپ به شوم؛ نو په خپله به مخکښ شو.
(طبقات؛ ابن سعد، ۱۰۱ مخ) وايي: يو سړي حضرت علي ته وويل: څنګه ده، چې ستا د حديثو پوهه د نورو اصحابو په پرتله غوره او ډېر ده؟ حضرت علي وويل: يوازې زه وم، چې تل د الله تعالی له استازي سره وم او پردې سربېره، هره پوښتنه مې، چې ترې کوله؛ نو ځواب يې راکاوه او که پوښتنه به مې ترې نه کوله؛ نو په خپله پر خبرو کېده او پوهه يې رازده کوله.
دا راويت يې په ۱۰٦ مخ کې هم راوړی، چې پکې راغلي: علي ته مو وويل: اميرالمؤمنينه! د خپل ځان په اړه راته يو څه ووياست. و يې ويل: څه مې، چې له رسول الله پوښتل؛ نو هرومره يې ځواب راکاوه او چې چوپ به شوم؛ نو په خپله يې زما پوهه زياتوله. دا روايت په همدې مضمون د حلية الاولياء د لومړي ټوک په ٦۸ مخ او د څلورم ټوک په ۳۸۲ مخ کې راغلی دی.
(فخر رازي په کبير تفسير کې) د (و اما بنعمة ربک فحدث؛ الضحی: ۱۱) آيت تر تفسير لاندې يو روايت راوړی: علي ته وويل شول: موږ ته د ځان په اړه يو څه ووايه. چوپ شئ! رسول الله له ځان ستاينې منع کړي يو. يو سړي وويل: مګر الله تعالی نه دي ويلي: (و اما بنعمة ربک فحدث)؛ يعنې کوم نعمتونه، چې الله تعالی درکړي، خلکو ته يې ووايه. علي وويل: د نعمتونو په اړه له خبرو نه وېرېږم او بيا يې وويل: هر څه مې چې د الله تعالی له استازي پوښتل؛ نو ځواب يې راکاوه او چې چوپ به شوم؛ نو په خپله يې راته پوهه راکوله؛ نو پايله يې داده، چې اوس خوار پوهه لرم او هر څه چې پوښتئ، ځواب به يې درکړل شي.

## داسې راته يې؛ لکه هارون چې موسی ته و

(صحيح بخاري د بدء الخلق د کتاب د مناقب علي بن ابيطالب په باب کې) په خپل سند له ابراهيم بن سعد او هغه هم له خپل پلاره روايت کړی، چې وايي: رسول الله مبارک علي ته وويل: ((خوښ نه يې چې داسې راته وسې؛ لکه هارون، چې موسی ته و.))
دا روايت مسلم هم خپل صحيح په فضايل الصحابه دفضايل علي بن ابيطالب په باب کې، ابن ماجه د خپل صحيح په ۱۲ مخ کې، احمد بن حنبل د مسند د لومړي ټوک په ۱۷٤ مخ او ابوداوود طيالسي د خپل مسند د لومړي ټوک په ۲۸ مخ کې، ابونعيم د حلية د اووم ټوک په ۱۹٤ مخ کې او نسائي د خصايص په ۱۵ او ۱٦ مخونو کې له دوو لارو راوړی دی.
(صحيح بخاري: بدء الخلق: باب غزوه تبوک) په خپل سند له مصعب بن سعد او هغه هم له خپل پلاره روايت کړی، چې ويلي يې دي: رسول الله د تبوک غزا ته ووت او علي يې په مدينه کې خپل ځايناستی کړ. علي وويل: ما له ماشومانو او ښځو سره پرېږدې؟ رسول الله وويل: ايا خوښ نه يې چې ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو پر دومره توپير، چې تر ما روسته بل پيغمبر نه راځي؟
ليکوال: دا حديث مسلم د خپل صحيح د فضايل الصحابه د کتاب د باب فضايل علي بن ابيطالب کې، ابوداوود طيالسي د خپل مسند د لومړي ټوک په ۲۹ ټوک کې، ابونعيم د حلية د اووم ټوک په ۱۹۵ او ۱۹٦ مخونو کې له څو لارو، طحاوي له مشکل الاثار د دويم ټوک په ۳۰۹ مخ کې، احمد بن حنبل د خپل مسند د لومړي ټوک په ۱۸۲ مخ کې، خطيب بغدادي د د بغداد تاريخ د يوولسم ټوک په ٤۳۲ مخ کې له دوو لارو او نسائي د خصايص په ۱٦ مخ کې نقل کړی دی.
په صحيح مسلم کې سعيد بن مسيب د رسول الله د وينا تر نقلولو روسته وايي: روسته تر دې چې دا خبره مې عامر بن سعد بن ابي وقاص واورېده؛ نو زړه مې وغوښتل دا خبره پخپله هم له حضرت سعد بن ابي وقاصه واورم؛ نو همدا ول، چې يوه ورځ مې حضرت سعد بن ابي وقاص وليد او حديث مې ورته د عامر له خولې ټکی په ټکی ووايه او بيا مې ووېل: تا په خپله دا حديث له رسول الله مبارکه اورېدلی دی؟ و يې ويل: هو! او خپل دواړه لاسونه پر خپلو دواړو غوږونو کېښوول او و يې ويل: پر دې دوو مې له رسول الله دا حديث اورېدلی او که داسې نه وي؛ نو الله تعالی دې داوړه کاڼه کړي.
پورتنی خبرې د ابن اثير د اسدالغابه د څلورم ټوک په ۲٦ مخ او د خصايص نسائي په ۱۵ مخ کې د عامر له روور ابراهيم بن سعده نقل شوی دی.

(صحیح مسلم؛ فضایل الصحابه: باب فضایل علي ابن ابیطالب) په خپل سند له امر بن سعد بن ابي وقاص او هغه هم له خپل پلاره راختسي او وایي: معاویة بن ابوسفیان، سعد ته وویل: ولې علي ته کنځا نه کوې؟ و یې ویل: هرمهال، چې د علي په اړه د رسول الله هغه درې خبرې رایادې شي؛ نو هېڅکله به ورته کنځا و نه کړم او که په هغو درېو خبرو کې یې یوه هم زما په اړه وه؛ نو د راکړل شویو ټولو نعمتونو به راته غوره وو او هغه داچې وا مې وریدل، چې رسول الله په خپله یوه جګړه کې حضرت علي خپل ځایناستی کړ او ورته یې وویل: خوښ نه یې چې نسبت دې راته داسې وي؛ لکه د هارون چې موسی ته و؛ خو پر دومر توپیر، چې تر ما روسته بل پیغمبر نه راځي. (د حدیث تر پایه) چې دا هر څه د مباهلې د باب په ړومبیو کې راغلل.

دا روایت ترمذي د خپل صحیح د دویم ټوک په ۳۰۰ مخ کې، احمد بن حنبل په خپل مسند کې د لومړي ټوک په ۱۸۵ مخ کې، نسائي په خصایص کې په ٤ او ۱٦ مخونو کې راوړی دی. په همدې مضمون یو بل روایت ترمذي د خپل صحیح د دویم ټوک په ۳۰۱ مخ کې، احمد بن حنبل د خپل مسند د لومړي ټوک په ۱۷۹ مخ کې، ابوداوود طیالسي د خپل مسند د لومړي ټوک په ۲۹ مخ کې، ابونعیم د حلیة د اووم ټوک په ۱۹۵ مخ کې له څلور لارو او ۱۹٦ مخ کې له یوې بلې لارې او خطیب بغدادي د خپل تاریخ د لومړي ټوک په ۳۲٤ مخ کې، د څلورم ټوک په ۲۰٤ او د نهم ټوک په ۳۹٤ مخ کې، نسائي د خصایص په ۱٤ مخ کې له دوو لارو او په ۱۵ مخ کې له درېیمې لارې نقل کړی دی.

(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۳۰۱ مخ) په خپل سند له حضرت جابر بن عبدالله نه په همدې مضمون او بل روایت له حضرت سعد له زید بن ارقم له حضرت ابي هریره له حضرت ام سلمې نقل کړی دی او هغه روایت احمد بن حنبل د خپل مسند د درېیم ټوک په ۳۳۸ مخ کې او خطیب بغدادي د خپل تاریخ د درېیم ټوک په ۲۸۸ مخ کې له دوو لارو راختسی دی.

(صحیح ابن ماجه: ۱۲ مخ) په خپل سند له ابن سابط ـ؛ یعني عبدالرحمان له سعد بن ابي وقاصه روایتوي او وایي: معاویه بن ابوسفیان حج ته راغلی و او خلک یې کتو ته راتلل، چې یو یې هم حضرت سعد بن وقاص و، چې په دې کتنه کې د علي خبره رامنځ ته شوه، چې معاویه بن ابو سفیان علي ته کنځل وکړه، چې سعد غوسه شو او و یې ویل: دا کنځا هغه ته کوې، چې په اړه یې ما له رسول الله واورېدل: ((داسې راته یې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته بل پیغمبر نه راځي)) او ما په خپله ترې د خیبر په جګړه کې واورېدل: ((سبا به د جګړې د مشرۍ بیرغ هغه ته ورکړم، چې الله تعالی او رسول پرې ګران دي او هغه هم پر الله تعالی او رسول یې ګران دی.))

(مستدرک الصحیحین؛ دویم ټوک، ۳۳۷ مخ) د منزلت حدیث له حسن بن سعد څخه روایت کړی، چې حضرت علي وویل: رسول الله راته پیغام راواستاوه، چې په مدینه کې پاتې شم او په جګړه کې ګډون و نه کړم؛ نو پیغام راوړونکي ته یې وویل: زه به هېڅکله د رسول الله پر ځای کېننم؛ نو زه رسول الله راوغوښتم، چې د ځایناستی او زما د خپګان په اړه راسره خبرې وکړي؛ نو زه پر ژړا شوم، چې رسول الله را ته وویل: ولې ژاړې؟ ما وویل: ژړا مې له دې امله ده، چې سبا به قریش وایي، چې څومره ژر د خپل تره د زوی ځایناستی شو او هغه یې یوازې جګړې ته ولېږه او په خپله یې په جګړه کې ګډون و نه کړ او بله دا چې د الله تعالی په لار کې مې جهاد خوښ دی؛ ځکه غواړم د توبې د سورت په ۱۲۱ آیت عمل وکړم او غواړم ځان د الله تعالی په فضل کې ونغاړم. رسول الله را ته وویل: ((دا چې و دې ویل، چې قریش به وواییي، چې څومره ژر د خپل تره د زوی پر ځای کېناست او ورسره یې مرسته و نه کړه؛ نو پوه شه، چې ته هم زما په څېر یې؛ ما ته یې چې دروغجن او جادوګر وواییه؛ نو پرېږده چې پر تا هم تور ولګوي. آیا خوښ نه یې ته ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي او داچې و دې ویل، چې ځان د الله تعالی په فضل او رحمت کې رانغاړې؛ نو دا څو مرچک چې له یمن یې ما ته راوړي، په بازار کې وپلوره، چې د الله تعالی له رحمته بې برخې پاتې نشې، د مدینې حالات داسې دي، چې یا زه باید پکې پاتې شم او یا ته.))

حاکم ددې حدیث سند صحیح ګڼلی او سیوطي هم په درالمنثور کې د توبې د سورت د ۱۲۱ آیت تر تفسیر لاندې له ابن مردویه له علي راوړی دی.

(د امام احمد حنبل مسند؛ لومړی ټوک: ۱۷۰ مخ) په خپل سند له د سعد له لور عایشې، چې هغې هم له خپل پلار نقل کړي دي: حضرت علي د رسول الله مخه ښې ته راغی او په ژړا یې وویل: آیا ما له متخلفینو سره پرېږدئ؟ رسول الله ورته په ځواب کې وویل: ((آیا خوښ نه یې چې ما ته داسې شې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو پر دومره توپیر، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.))

لیکوال: دا روایت خطیب بغدادي هم د خپل تاریخ د اتم ټوک په ۵۲ مخ کې، نسائي د خصایص په ۱٦ او ۱۷ مخونو کې له دوو لارو، سیوطي په درالمنثور کې د توبې د سورت د ۸۷ آیت تر تفسیر لاندې راوړی او ویلي یې دي: دا حدیث ابن مردویه له حضرت سعد بن ابي وقاص څخه روایت کړی او ویلي یې دي:

((علي د الله تعالی له استازي سره راووت، چې ثنیة الوداع ته راورسېدل او غوښتل یې چې ورسره تبوک ته ولاړ شي.))

(د امام احمد حنبل مسند؛ لومړی ټوک: ۱۷۳ مخ) په خپل سند لـه سعد بن مسیب څخه روایت کړی: سعد بن مالک ته مې وویل:
غواړم له تا یو حدیث وپوښتم؛ خو وېرېږم. را ته یې وویل: ورواره! که پوهېږې، چې زه پر هغه حدیث پوهه لرم؛ نو مه وېرېږه او و یې وپوښته. ورته مې وویل: رسول الله، چې علي په مدینه کې خپل ځایناستی کړ؛ نو څه یې وویل؟ سعد وویل: علي یې په مدینه کې خپل ځایناستی کړ او په خپله یې غوښتل تبوک ته ولاړ شي، چې علي وویل: ((آیا ما له متخلفینو، ښځو او ماشومانو سره پرېږدئ؟ رسول الله مبارک وویل: آیا خوښ نه یې، چې ما ته داسې وې؛ لکه هارون چې موسی ته و؟ علي وویل: هو خوښ یم! رسول الله علي ته وویل: نو که داسې ده، چټک ستون شه.))
دا روایت احمد حنبل د خپل مسند د لومړي ټوک په ۱۷۵ مخ کې له سعید بن مسیب څخه نقل کړی او همداراز په ۱۷۷ مخ کې یې ویلي چې سعد بن مالک را تـه لـه خپل پلاره یو روایت ر انقل کړ او زه د هغه پلار سعد ته ولاړم او ورته مې وویل: ((ته تریو او تـریخ انسان یې او غواړم له تا څه وپوښتم.)) را ته یې وویل: څه پوښتل غواړې؟ ورته مې وویل: د علي کیسه او دا چې رسول الله په خپله تبوک ته ولاړ او هغه یې په مدینه کې خپل ځایناستی کړ! دا مهال سعد غوسه شو او را ته یې وویل: چا درته دا روایت نقل کړی دی؟ ما نه غوښتل ورته ووایم، چې زوی دې دا کار کړی؛ ځکه کېدای شول ورته غوسه شي او تر څه ځنډ روسته یې راته وویل: ((رسول الله، چې غوښتل تبوک ته ولاړ شي؛ نو علي یې په مدینه کې خپل ځایناستی کړ، چې علي وویل: بېخي مې زړه نه غواړي تاسې یوازې جګړې تـه ولاړ شئ او ما دلته پرېږدئ، چې رسول الله وویل: آیا خوښ نه یې، چې ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته بل پیغمبر نه راځي؟))
دا روایت احمد حنبل د خپل مسندد لومړي ټوک په ۳۳۰ مخ کې له عبدالله لـه سعد څخه نقل کړی، ابن سعد د طبقات د درېیم ټوک او لومړي ټوک په ۱۵ مخ کې او نسائي هم د خصایص په ۱۷ مخ کې له دوو لارو نقل کړی دی.
(د امام احمد حنبل مسند؛ لومړی ټوک: ۳۳۰ مخ) په خپل سند لـه عمرو بن میمون څخه روایت کړی، چې و یې ویل: زه له حضرت ابن عباس سره ناست وم، چې څه کسان ورته راغلل او ورته یې وویل: یا له موږ سره یو چوپ ځای ته ولاړ شه او یا همدا ځای راته خالي کړه. حضرت ابن عباس وویل: پخپله درسره ځم _ دا هغه وخت و، چې حضرت ا بن عباس لا ړوند شوی نه و _ او په خپلو کې پر خبرو شول؛ خو موږ پوه نه شوو، چې څه وایي. ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې حضرت ابن عباس خپلې جامې څنډلې او غوسه را روان و او

ويل يې: تون لعنت دې پرې وي؛ ځکه داسې سړي ته کنځا کوي، چې لس ځانګړني يې درلودې ـ تر دې چې و يې ويل: خلک يې د تبوک جګړې ته بوتلل، چې علي وويل: زه هم درسره درځم؟ رسول الله وويل: نه! علي پر ژړا شو چې د الله تعالى رسول وويل: ((آيا خوښ نه يې، چې مقام دې راته داسې وي؛ لکه د هارون چې موسى ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي؟ او سمه نه ده، چې زه له مدينې ووځم او ته مې ځايناستى نه يې)) (د حديث تر پايه)

دا روايت نسائئ هم د خصايص په ۸ مخ کې، محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۲۰۳ مخ کې راوړی دی او د طبري د وينا له مخې دا روايت احمد، حافظ ابوالقاسم دمشقي (په موافقات او اربعين الطوال)، نسائئ او همداراز هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۱۹ ټوک کې راوړی دی او هيثمي ويلي، چې احمد او طبراني په خپلو دوو کتابونو (کبير) او (اوسط) کې هم راوړی دی.

(مسند احمد بن حنبل؛ شپږم ټوک: ۳٦۹ مخ) په خپل سند له موسى جهني څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: د علي له لور فاطمې کره ولاړم، چې ملګري مې ابوسهل پوښتنه وکړه: څو کلن يې؟ ورته مې وويل: شپږ اتيا کلن يم. را ته يې وويل: له خپل پلاره دې درته کوم حديث نه دی ياد؟ و يې ويل: حضرت اسماء بنت عميس راته وويل: رسول الله علي ته وويل: ((داسې راته يې؛ لکه هارون چې موسى ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.))

دا روايت يې له موسى جهني له بلې لارې په ٤۳۸ مخ کې راوړی او خطيب بغدادي په خپل تاريخ (لسم ټوک، ٤۳ مخ) او (دولسم ټوک، ۳۲۳ مخ) کې، ا بن عبدالبر (استيعاب: دويم ټوک، ٤٥۹ مخ) او نسائي په خصايص (۱۷ او ۱۸ مخ) کې نقل کړی دی.

(خصايص نسائي: ۱٤ مخ) په خپل سند له حضرت سعيد بن مسيب له حضرت سعد بن ابي وقاص څخه روايتوي، چې کله رسول الله د تبوک جګړې ته ته؛ نو علي يې په مدينه کې خپل ځايناستى کړ، چې خلکو وويل: علي ډارن دی؛ نو ځکه يې نه دی بوتلی. علي سملاسي رسول الله ته ولاړ او ورته يې وويل: په مدينه کې مې ځکه ښځو او ما شومانو ته پرېږدې، چې خلک داسې خبرې وکړي؟ رسول الله وويل: ((که داسې مې کړي؛ نو ددې لپاره وو، چې غوښتل مې ته مې په اهل کې ځايناسی يې او آيا خوښ نه يې، چې ته ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسى ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.))

همدا روايت يې په ۱٤ مخ کې په لږ اختلاف نقل کړی دی.

(خصايص نسائي: ۱۷ مخ) په خپل سند له حرب بن مالک څخه روايت کړی، چې سعد بن مالک وويل: رسول الله پر جدعاء (د اوښ نوم) سپور شو او علي يې په مدينه کې خپل ځايناستی کړ؛ نو علي هم پرته له کوم ځنډه ځان د رسول الله اوښ ته ورورساوه او ورته يې وويل: ((رسول الله! قريش وايي: زه دې ځکه په مدينه کې پرېښووم، چې له خبرو مې کرکه کوئ)) او پر ژ ړا شو، چې رسول الله په خلکو کې په لوړ غږ وويل: ((خلکو مگر بېکاره ياست، چې داسې خبرې کوئ! علي! آيا خوښ نه يې، چې ما ته داسې وسې؛ لکه هاورن چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.)) حضرت علي وويل: رسول الله! ولې خوښ نه يم.

(خصايص نسائي: ۱۹ مخ) په خپل سند له هاني بن هاني له حضرت علي روايت کړی، چې ويلي يې دي: چې کله له مکې راووتو؛ نو د حمزه لور چغې کړې: کاکا جانه! کاکاجانه! نو راوامې خسته او ورته مې وويل: راځه راسره سپره شه؛ نو دا مهال زيد او جعفر راسره پر شخړه شول، چې ما وويل: هغه ما ته راغلې او هغه زما د تره لور ده. جعفر وويل: زما د تره لور ده او پردې سربېره، ترور يې زما کورودانه هم ده. زيد وويل: هغه زما وريره ده. شخړه رسول الله ته يووړل شوه، چې بيا يې د حضرت حمزه لور خپلې ترور ته ورکړه او و يې ويل: ((ترور د مور په څېر وي)) او بيا يې علي ته وويل: ته راته داسې يې؛ لکه موسی چې هارون ته و او زه له تا يم او جعفر ته يې وويل: ته په خلق او خوی کې زما په څېر يې او زيد ته يې وويل: ته زما زموږ رور او ملگری يې.

په دې اړه يو بل روايت نسائي په ۳۲ مخ کې راوړی او همداراز سعد په طبقات (درېيم ټوک؛ لومړي قسم، ١٤ مخ) او د طبقات روايت ابونعيم په حلية کې (شپږم ټوک: ۳۰۷ مخ) په لنډه راخستی او خطيب بغدادي په خپل تاريخ کې (څلورم ټوک: ۳۸۲ مخ) او هيثمي په مجمع الزوايد کې (نهم ټوک: ۱۰۹ مخ) او احمد حنبل د خپل مسند د درېيم ټوک په ۳۲ مخ کې راوړی دی.

همدې روايت ته ورته يو بل روايت ابن سعد (درېيم ټوک؛ لومړی قسم: ۱۵ مخ) کې له براء بن عازب او زيد بن ارقم څخه راوړی، چې بيا همدا روايت هيثمي په مجمع کې (نهم ټوک: ۱۱۱ مخ) په لږ اختلاف نقل کړی او هغه يې طبراني ته نسبت ورکړی دی او بيا ا بو نعيم د حلية د کتاب د اووم ټوک په ۱۹۵ مخ کې پر همدې مضمون يو روايت له سعد بن ابراهيم له عامر بن سعد او هغه هم له خپل پلار سعد څخه روايت کړی او بيا يې د هماغه ټوک په ۱۹۶ مخ کې له سعيد بن مسيب له علي څخه نقل کړی، چې پکې حضرت علي وايي: الله تعالی دې و نه کړي، چې زه تر تاسې روسته ژو ندی پاتې شم او ستاسې ځايناستی شم، چې بيا يې

رسول الله په ځواب کې وويل: ((آيا خوښ نه يې، چې ته ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي؟))
دا روايت هم متقي په کنزالعمال کې (شپږم ټوک: ٤٠٤ مخ) او هم هيثمي په مجمع کې (نهم ټوک: ١١٠ مخ) له اوسط او طبراني څخه راخستی او هيثمي د سند رجال صحيح ګڼلي دي.
(د بغداد تاريخ: څلورم ټوک: ٧١ مخ) په خپل سند له مامون عباسي او هغه هم له خپل پلار هارون الرشيد له مهدي څخه روايت کړی: سفيان ثوري راغلی و، چې ورته مې وويل: د علي د فضايلو په اړه تر ټولو غوره حديث را ته ووايه. را ته يې وويل: سلمة بن کهيل له حجية بن عدی له علي روايت کړی، چې رسول الله را ته وويل: ((ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.))
دا روايت متقي په کنزالعمال (شپږم ټوک: ٤٠٢ مخ) کې له ا بن النجار څخه نقل کړی او محب طبري هم په رياض النضره (دويم ټوک: ١٦٢ مخ) کې له حافظ سلفي څخه راخستی دی.
(د بغداد تاريخ: اووم ټوک: ٤٥٢ مخ) په خپل سند له عمر بن خطاب څخه روايت کړی، چې يو سړي علي ته سپکې سپورې کولې، چې ورته يې وويل: په آند مې چې منافق يې؛ ځکه د الله تعالی له استازي مې واورېدل: ((علي ما ته داسې دی؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته پېغمبر نه راځي.))
دا روايت محب طبري هم په رياض النضره (دويم ټوک: ١٦٣ مخ کې له ابن السمان څخه راخستی دی.
(تاريخ ابن جرير طبري؛ دويم ټوک: ٣٦٨ مخ) په خپل سند له ابن اسحاق څخه د تبوک د کيسې د نقلولو په ترڅ کې وايي: همدا چې رسول الله د تبوک پر لور روان شو؛ نو عبدالله بن ابی او د اهل ريب منافقينو سرغړونې پيل کړې. عبدالله بن ابی د بني عوف او بني خزرج هم ژمنی، عبدالله بن نبيل د بني عمرو بن عوف هم ژ منی او رفاعة بن يزيد بن تابوت د بني قينقاع هم ژمنی و، چې د منافقينو مشران ول، چې تل به يې د اسلام پر خلاف دسيسې کولې (تر دې چې وايي) الله تعالی دا آيت د هغوی په اړه راولېږه: (لقد ابتغوا الفتنة من قبل و قلبوا لک الامور)؛ يعنې له ډېر وخت راهيسې په دې هڅه کې ول، چې ستا پر خلاف دسيسه وکړي او چارې ګډې وډې کړي، وايي:
ابن اسحاق ويلي: رسول الله علي په مدينه کې پرېښود او ورته يې وويل: بايد په متخلفينو کې پاتې شې (تردې چې ورته يې وويل) منافقينو په علي بن ابيطالب پسې ډنډورې پيل کړې؛ ځکه يې علي په مدينه کې پرېښی، چې پر رسول الله يې خبرې بدې لګېدې، ځان يې

ترې خلاص کړ او په مدينه کې يې پرېښود. دا خبرې، چې علي واورېدې؛ نو بې ځنډه يې خپله وسله راواخسته او ځان يې رسول الله ته ورساوه، و يې ويل: رسول الله! منافقين وايي: په مدينه کې دې ځکه پرېښی يم، چې دې بدې راځم او ځان راڅخه خلاص کړئ. رسول الله مبارک وويل: ((دروغ يې ويلي! ځکه مې په مدينه کې پرېښوويې، چې په نه شتون کې مې ځايناستی شې او خپل اهل ته پاملرنه وکړې. آيا خوښ نه يې چې ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو له پيغمبرۍ پرته؟)) علي مدينې ته راستون شو او رسول الله ولاړ. (اسدالغابه: ابن اثير، پينځم ټوک، اتم مخ) د نافع بن حارث بن کلده په ژباړه کې وايي: هغه له رسول الله څخه روايت کړی، چې علي ته يې وويل: ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و.

(کنزالعمال: درېيم ټوک: ١٥٤ مخ) په خپل سندله ابي ذر نه روايت کړی: پر هغه ړومبۍ ورځ، چې خلکو له حضرت عثمان (رض) سره بيعت کاوه؛ نو مهاجر او انصار په جومات کې راټول شوي ول. علي بن ابيطالب راغی، او خلکو ته يې ويل: د الله تعالی حمد او ثنا او پر محمد او آل يې درود، هغه تر ټولو حق خبره ده، چې هر ويونکی يې د وينا له مخې کوي او هر ناطق او قائل يې پر ژبه راوړي. (تر دې چې وايي) آيا خبر ياست، چې رسول الله راته وويل: ((ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و)) آيا کوم بل مخلوق له رسول الله سره داسې مقام لري؟ موږ به صبر وکړو، چې هغه چې کېدونکي دي، الله تعالی يې په خير تېر کړي. (د کنز ليکوال) وايي: دا روايت ابن عساکر راوړی دی.

(کنزالعمال: پينځم ټوک، ٤٠ مخ) وايي: چې کله رسول الله خپل اصحاب سره ورونه کړل؛ نو علي وويل: زړه او ملا دواړه مې مات شول، چې کله مې وليدل چې خپل ټول اصحاب دې سره ورونه کړل او زه دې له چا سره رور نه کړم. رسول الله وويل: ((پر هغه الله تعالی قسم، چې زه يې خپل استازی کړی يم! ته مې ددې لپاره له نورو سره رور نه کړی، چې خپلې رورولی ته مې ساتلی وې، ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو له پيغمبرۍ پرته، ته زما رور او وارث يې.))

(متقي) وايي: علي پوښتنه وکړه؟ آيا ميراث دې رارسي؟

رسول الله: هغه چې له ما مخکې پيغمبرانو ميراث پرېښود. علي وپوښتل: له تا مخکې پيغمبرانو څه ارث پرېښي وو؟ رسول الله وويل: د الله تعالی کتاب او د پيغمبرانو سنت او ته او فاطمه په جنت کې له ماسره په يوه ماڼۍ کې ياست.

(متقي) وايي: دا حديث احمد بن حنبل د ((مناقب آل علي)) په کتاب کې او ابن عساکر هم راوړی دی.

ليکوال: متقي د کنزالعمال په ٤٠ مخ کې مفصل او محب طبري په رياض النضره (لومړی ټوک: ۱۳ مخ) کې مفصل راوړي او په پای کې يې وايي: بيا رسول الله دا آيت ولوسته: (اخوانا على سرر متقابلين). حال دا، يو بل ته مخامخ او يو له بل سره مينه کوي، يو بل ته ګوري. (بيا متقي وايي): دا روايت بغوي او طبراني په معجم کې، باوردي په معرفت کې او ابن عدی راوړی دی او محب طبري ويلي: دا روايت حافظ ابوالقاسم دمشقي په ((اربعين طوال)) کې راوړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱٥٤ مخ) داسې راوړي: ((آيا خوښ نه يې چې ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؟)) بيا وايي: دا حديث طبراني له مالک بن حويرث نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱٥٤ مخ) وايي: علي! آيا خوښ نه يې چې ما ته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبرۍ)) بيا وايي: دا حديث طبراني له اسماء بنت عميس څخه نقل کړی دی.

ليکوال: هيثمي په مجمع (نهم ټوک: ۱۰۹ مخ) کې په لږ اختلاف له احمد او طبراني څخه نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۸۸ مخ) وايي: ((ای عقيله! پر الله تعالی چې د دوو ځانګړونو له امله مې خوښ يې؛ يو د خپلوۍ له کبله او بل داچې پر ابو طالب ګران وې؛ خو ته ای جعفره! په خلق او خوي کې زما په څېر يې؛ خو ته علي! ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبرۍ.))

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹٥ مخ) له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې حضرت عمر بن خطاب وويل: په علي پسې له سپکو سپورو لاس واخلئ، چې زه ابوبکر، عبيده جراح او څو نور اصحاب (رضی الله عنهم) له رسول الله سره ناست وو، چې ما پخپله له رسول الله څخه د علي درې ځانګړنې واورېدې، چې که يوه يې هم زما وه؛ نو په ځمکه او اسمانونو کې تر هر څه را ته غوره وو او هغه داسې، چې رسول الله پر علي ډډه وهلې وه او بيا يې لاس د علي پر اوږه کېښود او ورته يې وويل: ((علي! تر ټولو مخکې ته په ايمان راوړو کې ړومبی يې)) او بيا يې وويل: ((ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبرۍ او دروغجن دی هغه چې راسره مينه او درسره دښمني کوي.)) (متقي) وايي: دا روايت حسن بن بدر په (ما رواه الخلفاء)، حاکم په (الکني)، شيرازي په (الالقاب) کې او ابن النجار راخستی دی.

ليکوال: متقي هم د کنزالعمال په ۳۹۵ مخ کې همدا روايت له بلې لارې په لږ اختلاف نقل کړی او په پای کې يې نشته، چې وايي: (دروغجن دی هغه) بيا وايي: دا خبره د ابن النجار ده او همداراز محب طبري په رياض النضره(دويم ټوک: ۱۶۳ او ۱۷۵ مخ) کې راوړی او د هغوی په روايتونو کې هم (دروغجن دی هغه) خبره نه ده راغلې او بيا طبري دا خبره ا بن السمان ته نسبت ورکړې ده

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٥مخ) له سعد څخه يې روايت کړی، چې و يې ويل: رسول الله د علي درې ځانګړنې بيان کړې، چې که يوه مې هم درلوده؛ نو په ځمکه او اسمانونو کې تر هر څه به را ته ښه وو: ((زه او ته داسې يو؛ لکه موسی او هارون؛ خو بې له پيغمبرۍ. سبا به د جګړې د مشرۍ بيرغ هغه ته ورکړم، چې پر الله تعالی او استازي يې ګران دی او هغه هم پر الله تعالی او رسول يې ګران دی او هيڅکله له جګړې نه تښتي. د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.)) متقي وايي: دا روايت ابن جرير نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٥مخ) له عامر بن سعد څخه يې روايت کړی، چې و يې ويل: رسول الله د علي درې ځانګړنې بيان کړې، چې که يوه يې هم زما وه؛ نو په ځمکه او اسمانونو کې به تر هر څه را ته ښه وو. ړومبی داچې رسول الله ته وحې راغله او هغه هم علي، فاطمه، حسن او حسين تر خپل څادر لاندې کړل او و يې ويل: ((خدايه!دا زما اهلبيت دي)). دويم داچې په يوه جګړه کې يې په مدينه کې خپل ځايناستی کړ او علي وويل: رسول الله! ما ښځو او ماشومانو ته پرېږدئ! رسول الله وويل: ((آيا خوښ نه يې چې مقام دې ما ته موسی ته د هارون وي؛ خو له نبوت پرته؟)) درېيم داچې د خيبر د جګړې پر ورځ يې وويل: ((ډېر ژر به د د جګړې د مشرۍ بيرغ هغه ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی يې پرې ګران دی او هغه هم پر الله تعالی او رسول يې ګران دی او الله تعالی به خيبر د هغه په لاس سوبه کړي)) ټول په تمه ول، چې رسول الله به بيرغ ورکوي؛ خو د الله تعالی رسول هيچا ته ور نه کړ او و يې پوښتل: علي چېرې دی؟ وويل شول: سترګې يې خوږېږي. و يې ويل: ورته غږ کړئ. ولاړل او علي ته يې غږ وکړ. چې علي راغی؛ نو پاک رسول خپلې توکانې د علي پر سترګو ومږلې او الله تعالی خيبر د علي په لاس فتح کړ. دا خبره په کنز کې د ابن النجار له خولې راغلې ده.

(کنزالعمال؛ اتم ټوک: ۲۱۵ مخ) وايي: له يحيی بن عبدالله بن حسن او هغه هم له خپل پلار روايت کړی: علي خطبه ويله، چې يو سړی پاڅېد او و يې ويل: اميرالمؤمنينه! ما له اهل جماعت او فرقة خبر کړه، چې اهل جماعت څوک دي او اهل فرقت څوک دي؟ اهل سنت څوک دي او اهل بدعت څوک دي؟ امام علي وويل: اوس چې دې پوښتنه وکړه؛ نو غوږ

شه او چې تر ما روسته دا پوښتنه له چا و نه کړې. تر دې چې وايي: د آفرين آفرين غږونه له هر لوري را پورته شول او ټولو ويل: الله تعالی دې ټول ستا په واسطه ښيون کړي. دا مهال ((عمار)) وويل: خلکو! پر الله تعالی که لاروي ترې وکړئ؛ نو پوټې به مو د پېغمبر له لارې کاږه نه کړي او ځنگه به مو کاږه کړي، حال دا، د رسول الله وارث او وصي دی او هغه ته يې افضل الخطاب ورزده کړی؛ لکه څنگه چې موسی هارون ته ور زده کړی و او رسول الله مبارک وويل: ((ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.)) او دا هغه فضيلت دی، چې الله تعالی پرې خپل استازی پسوللی دی. (د حديث تر پايه)

(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰۹ مخ) وايي: له حضرت ام سلمې بي بي روايت دی، چې پاک نبي علي ته وويل: ((آيا خوښ نه يې چې مقام دې راسره موسی ته د هارون مقام وي؛ خو بې له پېغمبرۍ))

(له ابويعلي او طبراني نقل شوی دی) او همداراز د نهم ټوک په ۱۰۹ مخ کې وايي: له حضرت ابن عباس څخه روايت دی، چې رسول الله علي ته وويل: ((آيا خوښ نه يې، چې راسره دې مقام موسی ته د هارون مقام وي؛ خو له پېغمبرۍ پرته؟)) (له بزار او طبراني نقل شوی دی) او همداراز د نهم ټوک په ۱۰ مخ کې وايي: له ابن عمر څخه روايت دی، چې رسول الله علي ته وويل: ((آيا خوښ نه يې چې مقام دې راسره موسی ته د هارون مقام وي؛ خو بې له پېغمبرۍ؟)) (له کبير او اوسط طبراني څخه نقل شوی دی) او همداراز د نهم ټوک په ۱۰۹ مخ کې وايي: له حضرت ابي سعيد خدري روايت دی، چې د د تبوک په جگړه کې رسول الله علي ته وويل: په خپل اهل کې مې خليفه کړې. علي وويل: رسول الله! وېره مې د عربو له خبرو ده، چې وايي به خپل د تره زوی يې په جگړه کې ځان ته پرېښود او په ښار کې پاتې شو. رسول الله وويل: ((آيا خوښ نه يې چې مقام دې راسره موسی ته د هارون مقام وي؛ خو بې له پېغمبرۍ؟)) (له بزار نقل شوی دی).

او همداراز د نهم ټوک په ۱۱۰ مخ کې وايي: رسول الله علي ته وويل: ((آيا خوښ نه يې چې مقام دې راسره موسی ته د هارون مقام وي؛ خو له پېغمبرۍ پرته؟)) (له طبراني نقل شوی دی)

ا وهمداراز د نهم ټوک په ۱۱۱ مخ کې وايي: له حضرت ابن عباس څخه روايت دی، چې رسول الله ام سلمې بي بي ته وويل: ((د علي غوښه زما غوښه، وينه يې زما وينه او ما ته داسې دی؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي. (له طبراني نقل شوی دی)

ليکوال: دا روايت متقي په کنزالعمال (شپږم ټوک: ۱۵٤مخ) کې راوړی او ليکلي: ام سليم! د علي غوښه زما غوښه ده.
او همداراز د نهم ټوک په ۱۱۱ مخ کې وايي: له حضرت ابن عباس څخه روايت دی، چې هغه مهال چې د الله تعالی رسول خپل اصحاب سره ورونه کړل او علي يې له چا سره رور نه کړ؛ نو علي په گيله شو او ووت او له ښاره بهر يې پر څنگله سر کېښود، چې ويده شي، چې رسول الله وويل: ((پاڅه چې له ((ابا تراب)) پرته به ښه کنيه يوه هم درته نه وي. آيا زړه ته دې گيله راغلې، چې اصحاب مې سره ورونه کړل او ته مې له چا سره رور نه کړې؟ آيا خوښ نه يې چې مقام دې راسره موسی ته د هارون مقام وي؛ خو بې له پيغمبری؟ او پوه شه، چې چا درسره مينه وکړه؛ نو ايمان يې بشپړ دی او چا چې درسره دښمني وکړه؛ نو د جاهليت پر مرگ به مړ وي. (له کبير او اوسط طبراني څخه نقل شوی دی.
ليکوال: دا روايت متقي هم په کنزالعمال (شپږم ټوک: ۱٤٥ مخ) کې راوړی دی.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۱٦۲ مخ) وايي: او له هغه ـ؛ يعنې له سعد ـ روايت شوی چې و يې ويل: چې کله د الله تعالی رسول جرف نومې سيمې ته ورسېد؛ نو خلکو د علي په اړه پېغور ورکړ، چې علي يې ځکه نه دی راوړستی، چې بد پرې لگېده؛ نو علي هم ځان پر وسله سمبال کړ او ځان يې جرف ته ورساوه او رسول الله ته يې وويل: رسول الله! ما تر اوسه په يوه جگړه کې هم له تاسې سرغړونه نه ده کړې او اوس منافقين وايي: ځکه دې په مدينه کې پرېښی يم، چې له ما تنگ شوي ياست. رسول الله مبارک وويل: ((دروغ يې ويلي! ځکه مې په ښار کې پرېښووې، چې د پاتې شويو مشر شې. ستون شه! او زما د اهل مشري وکړه. آيا خوښ نه يې چې مقام دې راته موسی ته د هارون وي؛ خو بې له پيغمبری؟)) (له ابن اسحاق څخه نقل شوی دی) او حافظ دمشقي په معجم کې نقل مانا کړی. (ليکوال) البته د لومړي ټوک په ۱۵٦ مخ کې يې هم راوړی دی.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۱٦٤ مخ) وايي: له حضرت اسماء بنت عميس څخه روايت دی، چې حضرت جبراييل راغی او و يې ويل: محمده! الله تعالی دې دربانډې سلام وايي او وايي: ((د علي مقام تا ته موسی ته د هارون مقام دی؛ خو تر تا روسته بل پيغمبر نشته.)) (له امام علي بن موسی له څخه نقل شوی دی).
(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۵ مخ) وايي: له ابي حازم څخه روايت دی، چې و يې ويل: يو سړی معاويه ته راغی او له هغه يې د يوې مسئلې پوښتنه وکړه، چې معاويه وويل: ولاړ شه، علي وپوښته چې تر ما پرې ښه پوهېږي. سړي وويل: ستا ځواب مې تر علي ډېر خوښ دی. معاويه وويل: ډېره بده خبره دې وکړه! له هغه کرکه کوې، چې رسول الله په خپله پوهه

ورزده کړې وه او ورته يې ويلي وو: ((ستا مقام ما ته داسې دی؛ لکه د موسی چې هارون ته و؛ خو تر ما روسته بل پيغمبر نه راځي او عمر به هم چې کله په کومه مسئله کې پاتې راغی؛ نو له علي به يې مرسته غوښته. (د احمد له مناقب څخه نقل شوی دی)
(ذخاير العقبی: ۱۲۰ مخ) وايي: له حضرت اسماء بنت عميس څخه روايت دی، چې کله د فاطمې بي بي زوی حسن وزيږېد؛ نو د الله تعالی رسول راغی او و يې ويل: اسماء زوی مې راوله او ما هم حسن چې په ژېړ روښي کې تاو و، راوست؛ نو رسول الله ترې روښی لرې کړ، و يې ويل: درته مې نه وو ويلي، چې ماشوم په ژېړ روښي کې مه تاووئ؟ بيا ما حسن په سپين روښي کې تاو کړ، رسول الله راځخه واخست او په ښي غوږ کې يې ورته اذان او په کيڼ غوږ کې يې ورته اقامه وويله او بيا يې علي ته وويل: زما پر زوری دې څه نوم ايښی؟ علي وويل: زه به په دې کار کې له تاسې مخکې نه شم. رسول الله وويل: زه هم په دې کار کې له خدايه نه مخکې کېږم، چې دا مهال جبراييل نازل شو او و يې ويل: محمده! پالونکي دې دربانـدې سلام وايي او درته وايي: علي تا ته داسې دی؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو تر تا روسته بل پيغمبر نه راځي؛ زما استازيه! ته هم پر خپلو زامنو د هارون د زامنو نومونه کېږده. رسول الله وويل: د هارون د زامنو نومونه څه ول؟ و يې ويل: شبر. رسول الله وويل: زما ژبه خو عربي ده. جبراييل وويل: نوم پرې حسن کېږده او رسول الله هم داسې وکړل. يو کال روسته حسين وزيږېد، چې رسول الله راغی او د حسن د زوکړې د ورځ په څېر خبرې شوې، چې بيا جبراييل راغی او و يې ويل: پر هغه د هارون د زوی نوم کېږده او بيا هم رسول الله ورته هماغه خبره وکړه. جبراييل وويل: حسين پرې کېږده. (له امام علي بن موسی څخه نقل)

## د رسول الله (ص) رور

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۲۹۹ مخ) په خپل سند له ا بن عمر څخه روايت کړی، چې رسول الله خپل اصحاب سره ورونه کړل. علي په ژړا رسول الله ته راغی او ورته يې وويل: رسول الله! ټول اصحاب دې سره ورونه کړل؛ خو زه دې له چا سره رور نه کړم؟ رسول الله وويل: ((ته په دنيا او اخرت کې زما رور يې.))
همدا روايت زيد بن اوفي هم نقل کړی دی.
ليکوال: دا روايت حاکم (دريم ټوک: ۱٤ مخ) او مناوي په کنوز الحقايق کې په لنډه راوړی دی او عبارت يې دادی: ((علي په دنيا او اخرت کې زما رور دی.))

(صحیح ابن ماجه: دولسم مخ) په خپل سند له عباد بن عبدالله له حضرت علي روایت کړی، چې ویلي یې دي: ((زه د رسول الله رور او صدیق اکبر یم او که چا هم تر ما روسته داسې وویل؛ نو دروغجن به وي؛ ما اوه کاله مخکې تر ټولو لمونځ کړی و.))
لیکوال: دا روایت حاکم په مستدرک الصحیحین (درېیم ټوک: ۱۱۱ مخ)، ابن جریر طبري په خپل تاریخ (دویم ټوک: ۵٦ مخ)، نسائي په خصایص (۳ او ۱۸ مخونو) او متقي په کنزالعمال (شپږم ټوک: ۳۹٤ مخ) راوړی او ویلي یې دي: دا روایت ا بن شیبه او نسائۍ په خصایص، ابن ابي عاصم په السنه او عقیلي، حاکم، ابونعیم په المعرفه کې نقل کړی او متقي هم په کنزالعمال کې نقل کړی دی او په پای کې یې ویلي: ((له دروغجن پرته به تر ما روسته هېڅ څوک دا خبره نه کوي.)) او یو سړي، چې دا خبره کړې وه؛ بیا لېونی شو (له عدني څخه نقل) محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک: ۱۵۵ مخ) له قلعي روایت کړی دی.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ١٤ مخ) په خپل سند له ا بن عمر څخه روایت کړی، چې رسول الله مبارک خپل اصحاب سره ورونه کړل؛ عمر یې له ا بوبکر، طلحه له زبېر، او عثمان بن عفان یې له عبدالرحمن بن عوف (رضی الله عنهم) سره رور کړل، چې دا مهال علي وویل: رسول الله! خپل ټول اصحاب دې سره رونه کړل؛ زما رور څوک دی؟ رسول الله وویل: ((علي! آیا خوښ نه یې، چې زه دې رور شم؟)) ابن عمر وایي: علي تکړه او مېړنی و او و یې ویل: ولې خوشحاله نه یم ای د الله تعالی رسوله! رسول الله وویل: ((ته په دنیا او اخرت کې زما رور یې.))
لیکوال: دا روایت محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک، ١٦٧ مخ) کې راوړی او یلي یې دي، چې له قلعي یې نقل کړی دی.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۲٦ مخ) په خپل سند له حضرت ا بن عباس راخستي دي: د رسول الله په ژوندون علي وویل: ستر واکمن وایي: (افان مات انقلبتم علی اعقابکم_؛ یعنې که آیا هغه مړ او یا ووژل شي؛ نو بېرته به ستانه شئ) پر الله تعالی قسم، چې روسته به ستانه نه شو، سره له دې، چې الله تعالی موږ ته هدایت/ ښیون کړی؛ خو که هغه مبارک مړ او یا ووژل شي؛ نو پر هماغه لار به وینه تو یې کړو، چې هغه تو یې کړې، چې موږ هم ومرو او پر الله تعالی قسم، چې زه د رسول الله رور، ولي، د تره زوی او د هغه د پوهې وارث یم او څوک به تر ما وړ وي.
لیکوال: دا روایت نسائي په خصایص (۱۸ مخ)، محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک: ۲۲٦ مخ) کې نقل کړی او ویلي یې دي، چې دا روایت احمد هم په مناقب کې، هیثمي په

مجمع (نهم ټوک: ۱۳٤ مخ) کې نقل کړی او ویلي یې دي: طبراني نقل کړی او ټول رجال یې صحیح دي.
(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۱۵۹ مخ) په خپل سند له حضرت اسماء بنت عمیس نه راخستي، چې وایي: زه د فاطمې بي بي د واده پر شپه لـه بي بي کـره وم او همـداچې سـهار شو؛ نو رسول الله د وره مخې ته راغی او یې ویل: ام ایمن! علي تـه غـږ کـړه، چـې راشي. ام ایمن وویل: رسول الله! سره له دې، چې علي مو رور دی؛ نو بیا مو هم ورته خپل لور ورکړه؟ رسول الله راته وویل: هو! دا مهال علي راغی او رسول الله ورته پر مخ او به پخنـک کـړې او دعا یې ورته وکړه او بیا یې وویل: فاطمې ته غږ کړه، چې راشي! فاطمې له شرمه سم گـام نـه شو اخستی او پښه یې خو ېده. رسول الله وویل: ((ورو گام اخله، چې ته مې په اهلبیتو کـې تر ټولو راباندې گران ته واده کړې یې.))
لیکوال: ابن سعد هم په طبقات کې د علي او فاطمې د واده پـه باب نقـل کـړی، چـې پکـې راغلي، چې رسول الله ور وواهه او ام ایمـن ورتـه ور خـلاص کـړ، چـې د اللـه تعـالی رسـول وپوښتل: ((رور مې چېرې دی))؟ ام ایمن وویل: څنگه دې رور دی، چې خپله لور دې هـم ورکړې ده؟ رسول الله وویل: ((هو هغه زما رور دی.)) تر دې چې وایي: ((فاطمې! ستا حـق مې ښه پر ځای کړی؛ ځکه ته مې په اهلبیتو کې تر ټولو راباندې گران ته واده کړې یـې.)) او بیا یې همدا روایت په ۱۵ مخ کې په لږ اختلاف نقل کړی دی.
(متقي؛ کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۱۳ مخ) د همدې کیسې روایت نقل کړی، چې پکې راغلي: رسول الله راغی او و یې ویل: ((رور مې دلته دی؟)) ام ایمن وویـل: رور دې؟ پـه رښـتیا دې رور دی؟ هغه دې څنگه رور دی، چې خپله لور دې ورکړې ده. رسول الله وویل: ((هو هغـه مې رور دی.))
(هیثمي؛ مجمع الزواید: نهم ټوک، ۲۰۵) همدا کیسه یې نقـل کـړې، چـې پکـې راغـلي دي: رسول الله وپوښتل: رور مې دلته دی؟
ام ایمن وویل: رور دې؟ سره له دې، چې خپلـه لـور دې ورکـړې؟ هیثمـي وایـي: دا روایـت طبراني هم نقل کړی او د هماغه کتاب په ۲۰۹ مخ کې یې یو بل روایت هم نقل کړی، چـې د الله تعالی رسول راغی او و یې پوښتل: رور مې دلته دی؟ ام ایمن ـ چـې د اسامة بن زیـد مور او حبشي او صالحه ښځه وه ـ وویل: رسول الله! دا ستا رور دی، سره له دې، چـې خپلـه لور دې هم ورکړې ده؟ پخوا رسول الله خپل اصحاب سره دوه په دوه ورونه کړي ول او علي یې خپل رور کړی و؛ نو رسول الله وویل: ((هو! داسې هم کېدای شي)) او په ۲۱۰ مـخ کـې

یې دریيم حدیث راوړی، چې پکې راغلي: بیا یې وویل: ام ایمن رور ته مې غږ کړه، چې راشي. ام ایمن وپوښتل: هغه دې رور دی او بیا دې هم لور ورکړې ده؟.
نسائي هم د خصایص په ۳۲ مخ کې په همدې اړه یو حدیث راوړی، چې پکې راغلي: رسول الله په وره کې و او و یې پوښتل: رور مې دلته دی؟ رور دې هم دی او لور دې هم ورکړې؟ رسول الله: هو! داسې هم کېدای شي.
(دامام احمد بن حنبل مسند: لومړی ټوک، ۱۵۹ مخ) په خپل سند له ربیعة ا بن ناجذ له روایت کړی، چې علي وویل: رسول الله د عبدالمطلب ټول ټبر راټول کړ او داسې کسان هم پکې ول، چې ځان ته به یې یو چېلی خوړ او درې منه اوبه به یې څښکلې او بیا وایي: رسول الله د یو کیلو هومره خواړه چمتو کړي ول؛ ټولو وخوړه او ټول ماړه هم شول؛ خو بیا هم خواړه پاتې وو، گواکې بېخي چا ترې خوړلي نه وي او بیا یې وویل: د عبدالمطلب زامنو! مبعوث شوی یم، په تېره تاسې ته او بیا په ټولو خلکو ته او تاسې پر دې معجزه پوه شوئ؛ نو اوس په تاسې کې څوک دی، چې بیعت راسره وکړي، چې هغه خپل رور او وصي کړم؟ علي وایي: بې له ما څوک اوچت نه شو ـحال دا، تر ټولو کوچنی وم ـ رسول الله وویل: کېنه! او دا خبره یې را ته درې ځل وکړه او درې واړه ځلې زه اوچت شوم او هغه به راتله ویل: کېنه!
او په دریيم ځل یې زما لاس په خپل لاس کې ونیو او ما ورسره بیعت وکړ.
لیکوال: دا روایت هیثمي هم په مجمع (اتم ټوک: ۳۰۲ مخ) راوړی او ویلي یې دي، چې ټول رجال یې ډاډمن دي او همداراز ابن جریر طبري هم د خپل تاریخ د دویم ټوک په ۶۳ مخ کې راوړی او د هغه په نقل کې رسول الله وایي: ((چې زما رور، وصي او وارث شي)) او محب طبري هم په ریاض النضره (دویم ټوک: ۱۶۷ مخ) کې رواړی او یلي یې دي، چې دا روایت احمد په مناقب او نسائئ د خصایص په ۱۸ مخ کې راوړی او په روستي نقل کې یې راوړي، چې رسول الله وویل: ((په تاسې کې څوک راسره بیعت کوي، چې زما رور، وصي او وارث شي؟)) (تر دې چې علي وایي: ))؛ نو ځکه زه د خپل د تره زوی وارث شوم او تره مې د هغه وارث نه شو.
متقي هم په کنزالعمال (شپږم ټوک: ۴۰۸ مخ) کې راوړي او ویلي یې دي: احمد بن حنبل، ابن جریر او ضیاء مقدسي نقل کړی او همداراز د هماغه ټوک په ۴۰۱ مخ کې یې راوړي: ((څوک دی، چې بیعت راسره وکړي، چې زما رور او تر ما روسته زما وصي شي؟ بیا مې خپل لاس مخکې کړ او ورته مې وویل: زه درسره بیعت کوم.)) او بیا وایي: دا روایت ا بن مردویه هم نقل کړی دی.

(د امام احمد بن حنبل مسند: لومړی ټوک، ۲۳۰ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی: چې کله رسول الله له مکې ووت؛ نو علي د حضرت حمزه لور له ځان سره له مکې بوتله، چې بیا په دې اړه جعفر او زید رسول الله ته ګیله وکړه. علي وویل: هغه زما د تره لور ده او له مکې څخه مدینې ته راوستې ده. جعفر وویل: زما د تره لور هم ده او ترور یې زما کورودانه ده. زید وویل: هغه زما وریره ده ـ زید او حمزه د رسول الله په حکم ورونه شوي وو ـ رسول الله زید ته وویل: ته زما او د هغې مولا یې. علي ته یې وویل: ته زما رور او وصي یې او جعفر ته یې وویل: ته په خلق او خوی کې زما په څېر یې او بیا یې د حمزه لور له جعفر سره ولېږله، و یې ویل: باید له خپلې ترور سره وي.

لیکوال: دا روایت متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۹۱ مخ کې په لنډه له ابن النجار څخه راخستی دی.

(طبقات ابن سعد؛ اتم ټوک، ۱۱٤ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس څخه روایت کړی، چې و یې ویل: عمارة بنت حمزه بن عبدالمطلب چې مور یې سلمی بنت عمیس وه، په مکه کې وه؛ نو چې کله رسول الله مدینې ته راغی؛ نو علي یې په اړه رسول الله سره خبرې وکړې؛ چې د حمزه پلار مړې لور باید په منافقینو کې پاتې نشي رسول الله هم هغه د عمارة له کډن کولو منع کړ او بیا علي هغه له مکې راوایسته. زید بن حارثه ـ چې د حمزه وصي و او رسول الله له حمزه سره رور کړی و ـ ادعا وکړه، چې زه تر ټولو وړ یم، چې د حمزه د لور پالنه وکړم؛ ځکه زما وریره ده او دا خبره چې جعفر بن ابیطالب واورېده؛ نو و یې ویل: ترور هم د مور په څېر وي او زه د حمزه د لور پالنې ته وړ یم؛ ځکه ترور یې اسماء بنت عمیس زما کورودانه ده. علي وویل: تمه مې نه درلوده، چې زما د تره د لور په پالنه کې راسره شخړه وکړئ او بله داچې هغه خو ما له مکې راایستې ده. رسول الله وویل: زه به په تاسې کې حکم وکړم. زیده! ته د هغې او زموږ مولا یې. علي! ته زما رور او وصي یې. جعفره! ته په خلق و خوی کې زما په څېر یې او داچې د عمارة ترور تا ته ناسته ده؛ نو د ترور په شتون کې یې نور څوک نشي بوتللی؛ نو عمارة یې ته له ځان سره بوځه.

لیکوال: دا روایت متقي د کنزالعمال د درېیم ټوک په ۱۲٤ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: له ابن عساکر یې راخستی دی.

(ابن سعد؛ طبقات: درېیم ټوک، لومړی قسم، ۱۳ مخ) په خپل سند له محمد بن عمر بن علي بن ابیطالب څخه روایت کړی: چې کله د الله تعالی استازی راغی؛ نو ځینې مهاجر یې له مهاجرو او ځینې یې له انصارو سره ورونه کړل او دا خبره د بدر تر جګړې مخکې و شوه، چې په حقوقو کې مساوات وساتل شي او علي یې هم خپل رور کړ.

ليکوال: ابن سعد په ١٤ مخ کې يو بل حديث راخستی او د محمد بن عمر بن علي له خولې يې راوړي، چې کله د الله تعالی رسول خپل اصحاب سره ورونه کړل؛ نو لاس يې د علي پر اوږه کېښود او بيا يې وويل: ((ته زما رور او ميراث مې دررسي او ستا ما ته رارسي))؛ خو چې کله د ارث آيت راغی؛ نو دا ډول ارث له منځه ولاړ.

سيوطي په درالمنثور کې د انفال د سورت (ان الذين آمنوا و هاجرو و جاهدو باموالهم و انفسهم فی سبېل الله) دآيت تر تفسير لاندې ويلي: ابن مردويه له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې رسول الله مسلمانان سره روڼه کړل؛ حمزه بن عبدالمطلب يې له زيد بن حارثه، بن عمر بن خطاب او معاذ بن عفراء، زبير بن عوام او عبدالله بن مسعود، ا بوبکر او طلحة عبيدالله او عبدالرحمان بن عوف او سعد بن ربيع (رضی الله عنهم) يې سره ورونه کړل او نورو اصحابو ته يې وويل: تاسې هم دوه په دوه سره ورونه شئ او دا_؛ يعنې علي بن ابيطالب _ هم زما رور دی.

سيوطي په درالمنثور کې د (رب شرح لی صدري و يسرلی امری) د آيت تر تفسير لاندې ليکلي: چې کله د (و اجعل لی وزيراً من اهلی هارون اخی اشدد به ازری) آيت راغی؛ نو د الله تعالی استازی پر يوې غونډۍ و او و يې ويل: ((پالونکيه! رور مې علي هم زما ملا تړ کړه)) او الله تعالی يې هم دعا ومنله.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٣٩٤ مخ) وايي: د علي وينا ده: رسول الله عمر او ا بوبکر، حمزه او زيد، عبدالله بن مسعود او زبير بن عوام او عبدالرحمان بن عوف او سعد بن مالک (رضی الله عنهم) او زما او خپله رورولي يې کړه. (په خلعيات کې له خلعي او بيهقي، عقيلي او سعد بن منصور راغلی دی)

ليکوال: دا روايت محب طبري په رياض النضره (لومړی ټوک، ١٧ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي: دا روايت خلعي نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٠ مخ) وايي: له ابي رافع له ابي ثمامه روايت دی، چې و يې ويل: چې کله رسول الله اصحاب سره ورونه کړل؛ نو علي يې خپل رور کړ (ا بن عساکر) البته هيثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ١١٢ مخ) کې له ابي امامه نقل کړي او ويلي يې دي: دا روايت طبراني هم نقل کړی او مناوي هم د فيض القدير د څلورم ټوک په ٣٥٥ مخ کې د طبراني له اوسط او ديلمي نقل کړی دی.

(کنزالعمال: درېيم ټوک، ١٥٥ مخ) وايي: له زافر مردي له حارث بن محمد له ابي طفيل له عامر بن واثله روايت دی، چې ويلي يې دي: د شورا پر ورځ په وره کې ولاړ وم، چې شور زوږ شو او وا مې ورېدل، چې علي وويل: خلکو له ابوبکر سره بيعت وکړ او پر الله تعالی

قسم، چې زه ترې وړ وم؛ خو څه مې و نه ویل او اطاعت مې یې وکړ؛ ځکه د خلکو له ستنېدو مې وېره درلوده او بیا خلکو تر ابوبکر روسته له عمر سره بیعت وکړ او بیا مې هم څه و نه ویل؛ ځکه د خلکو له ستنېدو او کورنۍ جګړې وېرېدم او تردې روسته غواړئ له عثمان بن عفان سره بیعت وکړئ؛ خو بیا به هم څه و نه وایم او لاروي به وکړم؛ که څه په دې پینځه کې یې شپږم شمېرلی یم او په هېڅ فضیلت او وړتیا راته نه دي قایل او دا پینځه هم زما لپاره هېڅ په ډول فضیلت قایل نه دي او موږ ټول په حکومت کې سره برابر یو؛ خو پر الله تعالی قسم که غوښتل مې چې خبره وکړم او ځان معرفي کړم او خپل فضایل وشمېرم؛ نو نه به یې عرب، نه عجم، نه مشرکین او نه به یې کتابیان رد کړای شي او بیا یې وویل: پر الله تعالی مو قسم، چې په ناستو کې بې له ما بل د رسول الله رور شته؟ وویل شول: نه!.
(کنزاالعمال: درېیم ټوک، ۱۵٤ مخ) په خپل سند له ابي ذر څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: چې کله د عثمان د بیعت ړومبی ورځ شوه؛ نو مهاجر او انصار په جومات کې راټول شول او علي بن ابیطالب هم راغی او په خطبه کې یې د الله تعالی تر ستاینې او پر رسول الله تر درود روسته وویل: پر الله تعالی مو قسم آیا خبر یاست، چې رسول الله وویل: ـ چې کله یې زه اووم اسمان ته بوتلم ـ زه یې د رڼا درجې ته پورته کړم او د نور له حجابونو یې تېر کړم او بیا هلته سبحان پالونکي خپل استازي ته وحې وکړه او په راتګ کې یې د پردې تر شا یو غږ واورېد: محمده! څومره ښه و ستا پلار ابراهیم او څومره ښه دې رور دی علي؟ نو مهاجرو او انصارو! پر دې مانا پوهېږئ که نه؟ عبدالرحمان بن عوف په ډله کې وویل: هو دا خبره مې پردې دوو غوږونو له رسول الله اورېدلې که نه مې وي اورېدلې؛ نو کاڼه دې شي.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۲۲ مخ) وایي: د قیامت پر ورځ به له عر شه غږ شي: محمده! څومره ښه و پلار دې ابراهیم او څومره ښه و رور دې علي. (رافعي له علي څخه نقل کړی)
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱٦۱مخ) وایي: چې کله یې اووم اسمان ته بوتلم؛ نو جبراییل راته وویل: محمده مخکې ولاړ شه، چې داسې کرامت لا د یوې پرښتې او پیغمبر هم نه دی په برخه شوی؛ نو الله تعالی مې راته وحې وکړه . د راستنېدو په تکل کې وم، چې له حجابونو هخوا راباندې غږ وشو: څومره ښه پلار دی ستا ابراهیم او څومره ښه دی ستا رور علي؛ نو په هکله یې ښه سپارښتنې وکړه (د حدیث تر پایه) دا روایت یې په ٤۲۳ مخ کې هم راوړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۵ مخ) وایي: له جابر څخه روایت دی، چې وا مې ورېدل، چې علي لاندې شعرونه پاک نبي ته وایي:
انا اخوا المصطفی لا شک فی نسبی معه ربیت و سبطاه هما ولدی
جدی و جد رسول الله منفرد و فاطم زوجتی لا قول ذی فند

صدقته و جميع الناس فی بهم   من الضلالة و الاشراک و الکند
فالحمد لله شکرا لا شريک له    البر بالعبد و الباقی بلا امد

يعنې زه د مصطفی رور يم او زما په نسب کې څوک شک نه لري له هغه سره روزل شوی يم او دوه سبطه يې زما زامن دي، زما او د رسول الله نيکونه يو دي، فاطمه مې کورودانه ده او دا بې ځايه خبره نه ده، ما هغه په داسې وخت کې تصديق کړ، چې ټول خلک په تياره او شرک ککړ وو؛ نو د شکر لپاره د الله تعالی ستاينه کوم، هغه الله تعالی چې شريک نه لري او پر خپلو بندګانو احسان کوي او بې له هغه نور هېڅ څوک پاتې شوني نه دي.

رسول الله موسکې شو او و يې ويل: ((سمه دې وکړه علي)) (له ابن عساکر څخه نقل شوې وينا ده)

(کنزالعمال: درېيم ټوک، ٦١ مخ) وايي: له ابن عمر څخه راويت دی چې وايي: په حجة الوداع کې رسول الله پر اوښ سپور و او د علي پر اوږه يې لاس کېښود او وا مې ورېدل، چې داسې يې وويل: خدايه! ته يې مل شې، ما خلکو ته ورسول؛ دا زما رور، د تره زوی، زوم او زما د زامنو پلار دی؛ نو خدايه! دښمنان يې د اور په لمبو کې وسوځوې. (له ابن نجار څخه نقل شوی دی)

ليکوال: دا روايت يې د شپږم ټوک په ١٥٤ مخ کې هم راوړی دی، چې پکې راغلي دي: ((خدايه! شاهد وسه، ما خلکو ته ورسول.)) دا روايت شيرازي (د القاب په کتاب کې) او ابن النجار له ابن عمر څخه روايت کړی او لرې هم نه ده، چې د (اشدد: مل يې شه) ټکی، چې په رومبي روايت کې و، د هماغه (اشهد: شاهد وسه) تصحيف او سم شوی وي، چې په دويم روايت کې راغلی او په مطبعه کې غلط چاپ شوی وي.

(رياض النضره: لومړی ټوک، ١٣ مخ) د زيد بن ابي اوفي وينا راخستې، چې وايي: رسول الله مبارک په جومات کې ناست و، چې زه هم راغلم او وا مې ورېدل، چې وايي: پلانی د پلانې زوی چېرې دی؟ او بيا يې خپل يو يار ته اشاره وکړه، چې ولاړ شه او را پيدا يې کړه او ټول هغه چې په غونډه کې نه وو، يو يو يې را پيدا کړ او چې راټول شول؛ نو رسول الله د الله تعالی ستاينه وکړه او بيا يې وويل: غواړم يو حديث درته ووايم، ټول غوږ شئ، ياد يې کړئ او راتلونکيو ته يې هم ووياست: الله تعالی په خپلو مخلوقاتو کې ځينې غوره کړل او بيا وويل: ((الله يصطفی من الملائکة رسلا)) او په خلکو کې يې هم ځينې غوره کړل، چې جنتيان يې کړي او زه به هم په تاسې کې هغه چې راباندې ګران دی، غوره کړم او نور ټول به سره دوه په دوه ورونه کړم؛ لکه څنګه چې الله تعالی پرښتې دوه په دوه سره ورونه کړي دي (بيا د مواخات کيسه کوي تر دې چې وايي ) علي وويل: زړه او ملا مې ماته شوه، چې کله

مې ولیدل، چې ټول اصحاب دې سره ورونه او زه دې له چاسره رور نه کړم؛ نو که له ما خپه یې؛ نو څومره غوسه چې دې خوښه وي، راباندې یې وکړه. پاک نبي وویل: پر هغه الله تعالی قسم، چې زه یې مبعوث کړی یم؛ ځکه مې له چا سره رور نه کړې، چې خپل رور دې کړم؛ ته ما ته داسې یې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبرۍ او ته زما رور او وارث یې.
علي وپوښتل: رسول الله! ایا میراث دې رارسي؟ رسول الله: هماغه میراث، چې تر ما مخکې پېغمبرانو پرېښی و. علي بیا پوښتنه وکړه: تر تا مخکې پېغمبرانو څه په میراث کې پرېښي ول؟ پاک نبي وویل: د الله تعالی کتاب او خپل سنت او ته او لور به مې په جنت له ماسره په یوه ماڼۍ کې یاست او بیا یې دا آیت ووایه : (اخواناً علا سرر متقابلین) او و یې ویل: د الله تعالی په لار کې یو له بل سره مینه کوي او یو بل ته ګوري. (د اربعین طوال په کتاب کې له حافظ ابوالقاسم دمشقي څخه روایت شوی دی) امام احمد حنبل هم د مناقب آل علي په کتاب کې د مواخات د حدیث مانا په لنډه نقل کړې ده.
لیکوال: دا روایت متقي هم (کنزالعمال: پینځم ټوک، ٤٠ مخ) راخستې او وایي: بغوي او طبراني په معجم او باوردي د الموقت په کتاب او ا بن عدی نقل کړی او سیوطي هم په درالمنثور د ((الله یصطفی من الملائکة رسلا)) د آیت تر تفسیر لاندې او د حج د سورت په پای کې یې تر نقلولو روسته ویلي: ابن عساکر او ابن قانع نقل کړی دی.
دا روایت متقي (کنزالعمال: پینځم ټوک، ٤٠ مخ) په لنډه راخستی او وایي: احمد بن حنبل د مناقب آل علي په کتاب کې، ابن عساکر او محب طبري هم د ریاض النضره د دویم ټوک په ۲۰۹ مخ کې د دویم ځل لپاره په لنډه راخستی او ویلي یې دي: له زید ابن اوفي روایت دی، چې ویلي یې دي: د الله تعالی رسول علي ته وویل: ته او فاطمه به راسره په جنت کې په یوه ماڼۍ کې وسئ، ته مې رور او ملګری یې او بیا یې ((اخواناً علی سرر متقابلین)) ووایه. (نقل له مناقب احمد)
(ریاض النضره: لومړی ټوک، ١٥ مخ) وایي: ابن اسحاق د اصحابو تر منځ د رورلۍ خبره داسې کړې ده: رسول الله ـ هغسې چې موږ ته رارسېدلي دي ـ وویل: دوه په دوه سره ورونه شئ او بیا یې د علي لاس ونیو او و یې ویل: ((دا زما رور دی)) او رسول الله او علي سره ورونه شول او جعفر بن ابیطالب او معاذبن جبل (رض) (د بني سلمه هم ژمنې) او همداراز نور ټول اصحاب سره دوه په دوه ورونه شول.
(ریاض النضره: لومړی ټوک، ١٧ مخ) وایي: ا بوعمرو بن عبدالبر وایي: پاک نبي ړومبی مهاجر او بیا انصار سره ورونه کړل او دوه دوه یې چې ورونه کول، علي ته یې ویل: ((ته په دنیا او اخرت کې زما رور یې)) او علي یې له ځان سره رور کاوه.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱٦٨ مخ) وايي: له عمرو بن عبدالله له پلار او له نيکه يې روايت دی، چې د الله تعالی رسول ټول خلک سره ورونه کړل او علي يې له چا سره رور نه کړ او تر پايه بې وروه پاتې شو؛ نو دا مهال علي رسول الله مبارک ته وويل: ټول دې سره ورونه کړل او زه دې بې روره پرېښوم! رسول الله وويل: خبر يې چې ولې؟؛ ځکه ته مې خپلې رورولۍ ته پرېښې يې؛ ته زما او زه ستا رور يم او چا چې درته څه وويل؛ نو ورته ووايه، چې زه د الله تعالی بنده او د استازي يې رور يم او له دروغجن پرته بل څوک داسې خبره او ادعا نشي-کولای. (مناقب احمد)

ليکوال: دا روايت متقي هم (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۳ مخ) راخستی او ويلي يې دي: ابن عدی په کامل کې راوړی او همداراز متقي هم په ۳۹۹ مخ کې په لږ اختلاف له ابويعلي نقل کړی دی.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۰۱ مخ) وايي: له مخدوج بن زيد ذهلي روايت دی، چې ويلي يې دي: ((رسول الله مبارک علي ته وويل: خبر يې چې زه لومړی تن يم، چې په قيامت کې به راته غږ کېږي (حديث ته دوام ورکوي، تردې چې د لواء الحمد خبرې ته رارسي او وايي: ) درسره به لواء وي او حال دا، حسن به دې ښي اړخ او حسين به دې کيڼ اړخ ته وي، د عرش سيوري ته به راورسې او هلته به زما او د ابراهيم ترمنځ ودرېږې او بيا به د جنت جامې دروا‌غوندي او له عرشه به غږ شي: ابراهيم څومره ښه پلار او علي څومره ښه رور دی؛ علي! نو زېری دې پر تا وي، چې په بشپړ درناوي درته جنتي جامې در اغوندي، غږ درباندې کوي او انعام درکوي)) (مناقب احمد)

(ذخاير العقبی: ۹۲ مخ) وايي: له انس بن مالکه روايت دی: د الله تعالی رسول پر ممبر کېناست او ډېر څه يې وويل او بيا يې وويل: علي بن ابيطالب چېرې دی؟ دا مهال علي له ځايه پاڅېد او و يې ويل: دلته يم د الله تعالی رسوله! رسول الله خپلې سينې ته رانږدې کړ، دوه سترگې يې ورښکل او پر لوړ غږ يې وويل: مسلمانانو! ته مې رور، د تره زوی، زوم، زما غوښه، وينه او وېښتان يې. زما د دوو سبطو حسن او حسين پلار دی، چې د جنتي ځوانانو ښاغلي دي. (د حديث تر پايه)

(اسدالغابه: درېيم ټوک، ۲۱۷ مخ) يو حديث د عبدالرحمان بن عويم ساعدة انصاري (چې يو داسې تن و، چې د الله تعالی د رسول او له هغه څخه په روسته وخت کې هم و) په سند نقل کړی او ويلي يې دي: رسول الله حکم وکړ، چې دوه په دوه سره ورونه شئ او بيا يې له لاسه ونيو او و يې ويل: ((دا زما رور دی)).

(استیعاب، دویم ټوک، ٤٦٠ مخ) په خپل سند له جابر څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي:
دویم خلیفه، چې ټپي شو؛ نو د خلیفه ټاکل یې د علي، عثمان، عبدالرحمان بن عوف، طلحه، سعد بن ابي وقاص او زبېر (رضی الله عنهم) شورا ته پرېښودل، چې علي وویل: ((پر الله تعالی مو قسم آیا په تاسي کې څوک شته، چې له رسول الله سره یې رورولي وي؟)) وویل شول: نه! (استیعاب وایي: ) له ځینو اصحابو هم روایت شوي، چې علي وویل: ((زه د الله تعالی بنده او د رسول الله رور یم او که بې له ما چا دا خبره وکړه؛ نو دروغجن به وي.))
(حلیة الاولیاء: اووم ټوک، ۲۵۲ مخ) په خپل سند د حضرت جابر بن عبدالله وینا راخستې، وایي: د الله تعالی نبي وویل: ((د ځمکې او اسمانونو تر پنځونې دوه زره کاله مخکې یې د جنت پر وره یې لیکلي وو: لا اله الا الله، محمد رسول الله، علی اخو رسول الله))
لیکوال: دا روایت خطیب بغدادي هم په خپل تاریخ (اووم ټوک، ۲۸۷ مخ) او متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۹ مخ کې له د خطیب د (المتفق و المتفرق) له کتابه نقل کړی دی. ابن جوزي هم (۳۹۸ مخ) کې له ابن عساکر نقل کړی او مناوي هم په فیض القدیر (دویم ټوک، ۱۵۹ مخ) کې د طبراني له اوسطه نقل کړی او محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک، ۱۵۹ مخ کې د احمد له مناقبو نقل کړی دی.
(د بغداد تاریخ: دولسم ټوک، ۲٦۸ مخ) په خپل سند له محمد بن علي بن الحسین له پلار له علي روایت کړی، چې ویلي یې دي: د الله تعالی رسول وویل: ((علي!ته زما رور او په دنیا او اخرت کې مې ملګری یې.))
ابن عبدالبر هم دا روایت په استیعاب (دویم ټوک، ٤٩٠ مخ) کې له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی دی.
(صواعق محرقه: ۷٤ مخ) وایي: دیلمي له حضرت عایشې بي بي روایت کړی چې وایي: د څښتن استازي وویل: ((تر ټولو غوره رور مې علي، تر ټولو غوره تره مې حمزه او د علي یاد عبادت دی.))
لیکوال: دا روایت مناوي هم د فیض القدیر د دریم ټوک په ٤۸۲ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: دا روایت دیلمي د فردوس په کتاب کې عباس بن ربیعه نقل کړی دی او متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۲ مخ کې راوړی او د سند په اړه یې ویلي، چې له فرودوس له حضرت عایشې بي بي له ابن حجر څخه د اصابه د کتاب د څلورم ټوک، لومړي قسم له دویم مخ یې راختستی دی.
(صواعق المحرقه؛ ۷۵ مخ) وایي: احمد په مناقب کې د حضرت علي وینا راخستې، وایي: رسول الله زما په لټه کې و او زه یې پر یوه (چمبر) چار دېوارۍ ویده وموندم. په خپله یې

ووهلم او راته يې وويل: ((ياڅه چې خوښ دې کړم؛ ته مې رور او زما د زامنو پلار يې؛ نو زما د سنت لپاره وجنګېږه، څوک چې زما په وخت کې ومړ؛ نو ځای به يې د جنت په خزانو کې وي او څوک چې تر ما روسته ستا په وخت کې ومري؛ نو اجل به يې راغلی او مړ شوی به وي او څوک چې زما او ستا تر وختونو روسته، ستا په مينه او دوستۍ کې ومري؛ نو الله تعالی به يې ژوند په ايمان پای ته ورسوي او دا خبره تر قيامته ده.))
( مناوي؛ کنوزالحقايق: ۲۷ مخ ) رسول الله علي ته وايي: ((ته زما او زه ستا رور يم)) (له طبراني نقل شوی)؛ البته هيثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۳۱ مخ کې راوړی دی.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۲۱ مخ ) د علي وينا را اخلي، وايي: رسول الله زما په لټه کې و او زه يې په خاور کې ويده وموندم او راته يې وويل: ((بد نه وايي، هغوی چې "اباتراب" درته وايي)) او د الله تعالی رسول چې احساس کړل، چې زه خپه يم؛ نو را ته يې وويل: ((ياڅه چې خوشحاله دې کړم؛ ته زما رور او زما د زامنو پلار يې، زما د سنتو لپاره به جګړه کوې، زما غاړه به پر خلکو خلاصوې، څوک چې زما په وخت کې ومړ؛ نو د جنت په خزانو کې دی، څوک چې ستا په وخت کې ومړ؛ نو اجل به يې رارسېدلی وي او څوک ستا تر مړينې روسته ستا په مينه او دوستۍ کې ومري؛ نو الله تعالی به يې له ايمان سره له دې دنيا بوځي او چې څوک درسره په دښمنۍ کې ومري؛ نو د جاهليت پر مرګ به مړ وي او دا خبره به د قيامت تر ورځې وي.)) (له ابو يعلي يې نقل کړی دی)
ليکوال: دا روايت متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤٠٤ مخ کې له ابويعلي راخستی او بيا وايي: بوصيري ويلي: ددې روايت ټول راويان ډاډمن دي (او په ۱۵۵ مخ کې هم) وايي: د الله تعالی استازي وويل: ((آيا غواړې خوښ دې کړم؛ ته زما رور او وزير يې، زما پورونه به ورکوی، له خلکو سره به مې کړې ژمنې سر ته رسوې او پر خلکو به مې غاړه خلاصوې)) (د حديث تر پايه) (طبراني له ابن عمره راخستی دی). دا روايت شنقيطي هم د کفاية الطالب دکتاب په ۳٤ مخ کې راوړی او وايي: احمد په مناقب کې هم نقل کړی دی.
(ابن حجر؛ اصابه: شپږم ټوک، لومړی قسم، ۱۸۳ مخ) د ليلای غفاريه په ژباړه کې وايي: ا بن منده ـ د علي بن هاشم بن بريد له روايته ـ وايي چې ليلای غفاريه وايي: تل مې له رسول الله سره په جګړو کې ګډون کاوه، چې د ټپيانو پالنه وکړم. تر رسول الله روسته، علي، چې د بصرې جګړې ته ولاړ؛ نو زه هم ورسره ولاړم او جګړه، چې پای ته ورسېده؛ نو عايشه بي بي مې وپوښتله: آيا له رسول الله دې د علي فضايل اورېدلي که نه؟ راته يې وويل: هو! يوه ورځ رسول الله له ما سره و، چې علي راغی او زما او د رسول الله په منځ کې کېناست؛ نو ما وويل: بل ځای نه و، چې راغلې او دلته کېناستې؟ رسول الله وويل: ((عايشې! له علي سره داسې

چلن مه کوه؛ هغه په اسلام راوړو کې ړومبی و او روستی تن به وي، چې زه یې په ژوندون گورم او په قیامت کې به ړومبی تن وي، چې زه یې گورم.))

## د رسول الله (ص) وزیر

(ابن سعد؛ طبقات: لومړی ټوک، لومړی برخه، ۱۲٤ مخ) په خپل سند له حضرت علي روایت کړی، چې وایي: رسول الله په مکه کې و او بي بي خدیجې ته یې وویل، چې خواړه پاخه کړه او ما ته یې وویل: ((د عبدالمطلب ټول ټبر راوبله چې راشي)) څلوېښت تنه راغلل او بیا یې ما ته وویل: ((خواړه راوړه)) علي وایي: ما دومره خواړه راوړل، چې یوازې یو تن ته بسیا وو؛ خو هغه څلوېښت تنه یې ماړه کړل. بیا رسول الله راته وویل، چې اوبه راوړه، چې ما د یو تن هومره اوبه راوړې؛ خو ټول پرې ماړه شول. په دې وخت کې ابولهب وویل: محمد څه عجیبه جادو کړی و. خلک پاڅېدل او ولاړل او ابولهب هم خلک پاتې کېدو ته پرېنښوول. څو ورځې روسته مو بیا مېلمستیا وکړه او بیا مو بلنه ورکړه؛ نو همداچې ماړه شول رسول الله وویل: ((څوک دی، چې په رسالت کې مې مرستیال او وزیر شي او په پایله کې زما رور او جنت خپل کړي؟)) ما وویل: زه ای رسول الله! دا مهال زه تر ټولو کوچنی وم؛ خو په ټبر کې هیچا د رسول الله خبره و نه منله او یوازې زما پلار ته یې وویل: زوی ته خو دې پام دی. پلار مې وویل: څه کار ورسره لرئ، هغه خو د خپل تره له زویه څار دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۷ مخ) وایي: علي وایي: د ((انذر عشیرتک الاقربین)) آیت، چې راغی؛ نو پاک نبي راوغوښتم او راته یې وویل: ((الله تعالی مې راته حکم کړی، چې نږدې خپلوان اسلام ته راوبلم؛ خو نه پوهېږم، چې څنگه دا کار وکړم؟)) نو چوپ وو، چې حضرت جبراییل راغی او و یې ویل که دا کار و نه کړې؛ نو الله تعالی به دې پر عذاب کړي. ما ته یې وویل: یو من خواړه پاخه کړه او بیا د عبدالمطلب ټبر ته بلنه ورکړه، چې راکړ شوې دنده تر سره کړم او پر هغه ورځ څلوېښت کسان راغلل، چې پکې ابوطالب، حمزه، عباس او ابولهب هم وو؛ نو همدا چې خلک راغلل، رسول الله راته وویل: خواړه راوړه، رسول الله یو څه را اوچت کړل، چې زما په آند یوه بوټۍ غوښه وه او بیا یې هغه دوه ټوټې کړه او پر دسترخوان یې کېښود او و یې ویل: د الله تعالی په نامه یې و خورئ او خلکو هم ښه په مړه گېډه وخوړل؛ خو پر الله تعالی قسم چې څه هم لږ نه شول، حال دا، دا خواړه یې یوه ته هم بسیا نه وو بیا مې د الله تعالی د رسول د حکم له مخې اوبه ورکړې، چې ټول یې ماړه کړل؛ نو همدا چې رسول الله مبارک غوښتل خبره رامنځ ته کړي؛ نو ابولهب ترې مخکې شو او و یې ویل:

کوربه ښه جادو کړی و او خلک پاڅېدل او ولاړل او رسول الله و نه شو کړای خپله خبره وکړي. ددې ورځې په سبا پاک نبي ما ته وویل: دا سړی مې د خبرې په مخ کې خنډ شو او خبرې ته يې پرېنښووم او را ته يې وويل: سبا بيا ډوډۍ وکړه. ډوډۍ مو وکړه او څه چې په تېره مېلسمتيا کې تېر شوي ول، دلته هم تېر شول؛ ټولو ښه په مړه ګېډه وخوړل او ماړه شول، چې دا مهال رسول الله وويل: د عبدالمطلب پرګې! په عربو کې داسې څوک نه وينم، چې خپل ټبر ته به يې زما هومره ښه وياړ راوړی وي؛ ما تاسې ته د دنيا او اخرت ښېګڼه راوړې او الله تعالى دنده راکړې، چې بلنه درکړم؛ نو په تاسې کې څوک چمتو دی، چې په دې چارو کې زما مرستيال او ملاتړ شي؟ زه سره له دې، چې تر ټولو کوچنی وم، و مې ويل: زه چمتو يم، چې ملاتړ مو شم؛ نو دا مهال رسول الله خپل لاس زما په ورمېږ کې کېښود او و يې ويل: ((دا په تاسې کې زما وصي، خليفه او رور دی؛ نو خبرې ته غوږ شئ او لاروي ترې وکړئ.)) دا مهال خلک په ملنډو پاڅېدل او ولاړل او ابوطالب ته يې وويل: حکم يې درکړ، چې له کوچني علي لاروي وکړې.

بيا وايي: دا روايت ابن اسحاق، ابن جرير، ابن ابي حاتم، ابن مردويه، ابونعيم او بيهقي په دلائل کې راوړی دی.

ليکوال: دا روايت د ابن جرير طبري د تاريخ د دويم ټوک په ۶۲ مخ او متقي هم په لږ اختلاف په کنزالعمال کې راوړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۲ مخ) د حضرت علي له خولې وايي: رسول الله وويل: ((د عبدالمطلب پرګې! ما درته د دنيا او اخرت ښېګڼه راوړې او الله تعالى مې حکم راکړی، چې بلنه درکړم؛ نو که په تاسې کې هر يو په دې لار کې زما مرستيال او ملاتړ شو؛ نو په تاسې کې به زما وزير، وصي او ځايناستی وي.)) ټول چوپ ول، چې ما وويل: رسول الله! زه به دې ملاتړ او مرستيال شم. دا مهال د الله تعالى نبي، له ورمېږه ونيوم، و يې ويل: ((دا زما رور، وصي او خليفه دی؛ نو خبرې ته يې غوږ شئ او لاروي ترې وکړئ.)) (له ابن جرير څخه نقل)

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۵ مخ) له دې عبارت سره راوړی: ((غواړې خو شحاله دې کړم؟ ته زما رور او وزير يې، پوروونه به مې ادا کوې، پر کړيو ژمنو به مې وفا کوې او پر خلکو به مې غاړه خلاصوې، که چا زما په ژوندون درسره مينه وکړه؛ نو په خپل مرګ به مړ وي او که چا تر ما روسته، سره له دې چې تا و نه ګوري؛ خو مينه درسره وکړي؛ نو الله تعالى به يې مؤمن له دې دنيا بوځي او څوک چې درسره دښمني کوي؛ نو د جاهليت پر مرګ به مړ شوی وي.)) (له طبراني له ابن عمر څخه نقل)

(اصابه: لومړی ټوک، څلورم قسم، ۲۱۷ مخ) خطیب د مولف په کتاب کې د قاسم بن خلیفه له لارې راوړي، چې وايي: یحیی تیمي له اسماعیل بن ابراهیم له مطین بن خالد له انس بن مالک څخه روایت کړی، چې و یې ویل: موږ به چې څه د الله تعالی له استازي پوښتل؛ نو هغه به د علي، سلمان یا ثابت بن معاذ (رضي الله عنهم) درک راکاوه؛ ځکه دا د رسول الله په اصحابو کې تر ټولو پوه وو؛ نو همدا چې د (اذا جاء نصرالله و الفتح) آیت راغی؛ نو د الله تعالی نبي د حضرت علي په اړه وویل: ((علي زما رور، وزیر، په اهلبیتو کې زما خلیفه او زما تر ټولو غوره پاتې دی.))

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱٦۳ مخ) وايي: له حضرت اسماء بنت عمیس څخه روایت دی، چې و یې ویل: ما د الله تعالی له رسوله واورېدل، چې و یې ویل: ((خدایه! هماغه وایم، چې رور مې موسی ویل: خدایه له اهله مې وزیر راوټاکې؛ رور مې علي زما وزیر وټاکې، هغه مې ملاتړ او په چارو کې زما شریک کړې، چې ډېره تسبیح دې ووایم او شکر دې وباسم، چې ته زموږ له حاله ښه خبر یې.)) (د احمد له مناقب څخه اخستل شوی دی)

(سیوطي؛ درالمنثور) د (قال رب اشرح لی صدري)آیت تر تفسیر لاندې د "طه" د سورت په پیل کې وايي: سلفي د طیوریات په کتاب کې له ابي جعفر محمد بن علي څخه روایت کړی، چې وايي: چې کله د (واجعل لی وزیراً من اهلی هارون اخی ا شدد به ازری) آیت راغی؛ نو رسول الله پر غونډۍ ولاړ و او الله تعالی ته یې وویل: ((اللهم ا شدد ازری باخی علی))؛ یعنې خدایه! پر رور مې علي ملا کلکه کړې؛ نو الله تعالی یې هم دعا قبوله کړه.

(شبلنجي؛ نورالابصار) او فخر رازي په تفسیر کبیر کې د مائدې د سورت د (انما و لیکم الله و رسوله) د آیت په تفسیر کې راوړي دي: (البته خبره د شبلنجي ده) له حضرت ابي ذر غفاري روایت دی، چې وايي: د الله تعالی له استازي سره مو د ماسپښین لمونځ کاوه، چې یو سوالگر راننووت؛ خو چا ورته څه هم ور نه کړل؛ نو دا مهال سوالگر اسمان ته لاس پورته او و یې ویل: خدایه شاهد وسه، چې ستا د استازي په جومات کې چا څه هم را نه کړل. دا مهال حضرت علي لمونځ کاوه او رکوع ته ته او په خپل لاس یې گوتې ته ا شاره وکړه. سوالگر نږدې راغی او گوته یې د علي له گوتې راوایسته. دا پېښه د رسول الله سترگو ته مخامخ وشوه او بیا یې سترگې اسمان ته کړې او و یې ویل: ((رور مې موسی وغوښتل رور یې هارون وزیر کړې او و یې ویل: پالونکیه! سینه مې پراخه او چار مې اسان کړې، له ژبې مې غوټه لرې کړې، چې پر خبره مې پوه شي او په اهل کې مې یو زما وزیر کړې؛ هارون رور مې زما وزیر کړې، ملا مې پرې غښتلې کړه او په چارو کې یې زما شریک کړې او بیا یې په اړه قرآن ورته راولېږه، چې: ((سنشد عضدک باخیک و نجعل لکما سلطاناً فلا یصلون

الیکما_؛ ډېر ژر به دې مې په روړ غښتلی کړو او داسې ځواک به درکړم، چې د دښمن لاس در و نه رسي))؛ نو خدایه! ټترمې هم پراخ، چار مې اسان او په اهل کې مې یو وزیر کړه؛ په علي مې ملا غښتلې کړه.)) حضرت ابوذر وایي: د الله تعالی د رسول دعا پای ته نه وه رسېدلې، چې حضرت جبراییل امین (ع) راغی او وحې یې راوړه: ((انما ولیکم الله و رسوله والذین آمنوا الذین یقیمون الصلوة ویوتون الزکاة و هم راکعون)) (ابو اسحاق احمد ثعلبي له تفسیره)

## رسول الله (ص): علي له ما او زه له علي څخه یم

(صحیح بخاري) له براء بن عازب څخه په خپل سند روایتوي: پاک نبي د ذي القعده په میاشت کې عمرې ته ولاړ؛ خو خلکو ښار ته ننووتو ته پرېنښود، چې د الله تعالی رسول په مکه کې د درې ورځو د پاتې کېدو غوښتنه وکړه او بیا یې داسې ولیکل: ((دا هغه تړون دی، چې محمد د الله تعالی رسول د مکې له خلکو سره وکړ))؛ خو د مکې خلکو ورسره و نه منله او ورته یې وویل: "محمدرسول الله" مه لیکه؛ ځکه که پیغمبر مو منلې؛ نو ولې به مو درسره دومره جګړې کولې او اوس به مو د الله تعالی د کور زیارت ته پرېښي وې او باید ولیکې: "محمد بن عبدالله". رسول الله وویل: ((زه هم محمد د عبدالله زوی او هم پېغمبر یم او علي ته یې وویل: هغه لیکنه پاکه کړه!)) علي وویل: پر الله تعالی، چې هېڅکله به مو پر نوم کرښه را نه کاږم. پاک نبي په خپله تړون راواخست او داسې یې ولیکل: ((دا هغه ژمنه ده، چې محمد بن عبدالله کړې، چې په پوښ کې له وسلې پرته هېڅ ډول وسله مکې ته دننه نه کړي او همدسې ژمنه کوي، چې که چا پرې په مکه کې ایمان راووړ؛ نو له ځان سره یې مدینې ته بو نه ځي او همداراز که یارانو یې غوښتل په مکه کې پاتې شي؛ نو محمد یې له ځان سره بېرته ستنېدو ته اړ نه کړي.)) ددې تړون تر لاسلیک روسته مکې ته ولاړل او همداچې درې ورځې پای ته ورسېدې؛ نو علي ته راغلل او ورته یې وویل: ملګري ته دې ووایه، چې له ښاره ووځي! رسول الله له مکې ووت او د حضرت حمزه سید الشهداء لور هم ورپسې ورووته او چغې یې کړې: کاکا جانه! کاکا جانه!

علي په غېږ کې راوخسته او بي بي فاطمې ته یې وویل: د تره لور دې له ځان سره سمبال کړه. فاطمې بي بي هم هغه له ځان سره سپره کړه. د نجلۍ پر سر جعفر او زید له علي سره شخړه وکړه. علي وویل: زه یې د روزنې لپاره وړ یم؛ ځکه د تره لور مې ده. زید وویل: هغه زما وریره ده. جعفر وویل: زما د تره لور هم ده او پردې سربېره، ترور یې زما کورودانه ده؛ خو رسول الله مبارک د جعفرپه ګټه حکم وکړ او و یې ویل: ((ترور د مور په څېر وي.)) او علي

ته يې وويل: ((ته له ما او زه له تا څخه يم.)) جعفر ته يې وويل: ((ته په خلق و خوی کې زما په څېر يې)) او زيد ته يې وويل: ((ته زموږ رور او مولا يې.))
ليکوال: دا روايت بخاري په همدې سند په همدې مضمون د بداء الخلق د کتاب د عمرة قضا په باب کې راوړی او بيهقي هم د خپل سنن د اتم ټوک په ٥ مخ کې له براء نقل کړی، نسائي د خصايص په ٥١ مخ کې له براء او احمد بن حنبل د مسند د لومړي ټوک په ٩٨ مخ کې له هاني بن هاني له علي څخه، په عبارت کې په لږ اختلاف سره راخستی او حاکم د مستدرک الصحيحين د درېيم ټوک په ١٢٠ مخ کې له هاني بن هاني او طحاوي د مشکل الاثار د څلورم ټوک په ١٧٣ مخ کې له هاني بن هبيرة له علي او خطيب بغدادي د خپل تاريخ د څلورم ټوک په ١٤٠ مخ کې له هاني بن هبيره له علي څخه نقل کړی دی.
(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ٢٩٧ مخ) په خپل سند د عمران بن حصين د خولې وينا را اخلي، وايي: رسول الله، حضرت علي د يو لښکر مشر کړ. علي له لښکر سره ووت، چې يوه وينځه يې لاس ته راغله، چې وا يې خسته او دا خبره د رسول الله مبارک پر څينو اصحابو ښه و نه لګېده او هم ژمني شول، چې رسول الله يې وليد؛ نو هرومرو به ورته له علي سر ټکوي. په مسلمانانو کې دود و، چې له هر سفره به راستنېدل؛ نو تر هر څه له مخه به د رسول الله مبارک کتو ته تلل او روسته به خپلو کورونو ته تلل؛ نو همدا چې لښکر راستون شو؛ نو رسول الله مبارک ته ورغلل، چې په هغو څلور کسانو کې يو پاڅېد او و يې ويل: رسول الله! علي ته څه نه وياست، چې داسې او هغسې يې وکړل. رسول الله يې خبرې ته پام و نه کړ، چې دويم يې پاڅېد او هماغه خبره يې وکړه، چې د الله تعالی رسول ترې مخ واړو، چې درېيمی يې پاڅېد او پر ګيلو شو؛ نو دا مهال د رسول الله په څېره کې غوسه څرګنده شوه، و يې ويل: ((له علي څه غواړئ! له علي څه غواړئ! علي له ما او زه له علي څخه يم. علي تر ما روسته د هر مؤمن ولي دی.))
ليکوال: دا روايت احمد بن حنبل په مسند (څلورم ټوک، ٤٣٧ مخ)، حاکم په مستدرک الصحيحين (درېيم ټوک، ١١٠ مخ)، ابوداوود طيالسي په خپل مسند (درېيم ټوک، ١١١ مخ)، ابونعيم په حلية (شپږم ټوک، ٢٩٤ مخ)، متقي په کنزالعمال ( شپږم ټوک، ٣٩٩ مخ) له ا بن جرير_ هغه دا روايت صحيح ګڼلی _ او له ابن ابي شيبه (د شپږم ټوک په ١٥٤ مخ کې) له دوو لنډو لارو له ابن ابي شيبه او همداراز نسائي د خصايص په ٢٣ مخ کې راخستی دی.
(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ٢٩٩ مخ) په خپل سند له براء بن عازب څخه روايت کړی: د الله تعالی استازي وويل: ((علي له ما او زه له علي څخه يم.))
ليکوال: دا روايت نسائي هم د خصايص په ١٩ مخ کې راوړی دی.

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۲۹۹ مخ) په خپل سند له حبشي بن جنادة روايت کړی، وايي: رسول الله وويل: ((علي له ما او زه له علي ځنې يم زما دندې يا بايد زه تر سره کړم او يا علي او بل څوک نه.))
ليکوال: دا روايت ابن ماجه هم د خپل صحيح په ۱۲ مخ، احمد بن حنبل د مسند د څلورم ټوک په ۱٦٤ مخ کې له پينځو لارو نقل کړی دی. خصايص هم له دوو لارو؛ يو په نولسم او بل په شلم مخ کې راختستی او محب طبري هم د رياض النضره د دويم ټوک په ۱۷٤ مخ کې له حافظ سلفي نقل کړی دی.
(امام احمد حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۰۸ مخ) په خپل سند له هاني بن هاني له حضرت علي څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: زه، زيد او جعفر د الله تعالی له استازي سره وو، چې زيد ته يې وويل: ((ته زموږ ازاد شوی يې.)) زيد وشرمېد. ما ته يې وويل: ((ته له ما او زه له تا يم.)) زه تر زيد روسته وشرمېدم.
ليکوال: دا حديث بيهقي د سنن د لسم ټوک په ۲۲٦ مخ او نسائي د خصايص په ۵۱ مخ کې په عبارت کې په لږ اختلاف نقل کړی دی.
(امام احمد حنبل؛ مسند: پينځم ټوک، ۳۵٦ مخ) په خپل سند د بريده وينا را اخلي، وايي: رسول الله مبارک دوه ډلې د يمن پر لور ولېږلې، چې د يوې ډلې مشر يې علي او د بلې يې حضرت خالد بن وليد کړ او و يې ويل: ((که يو ځای شوئ؛ نو د دواړو ډلو مشر به علي وي او که يو ځای نه شوئ؛ نو هر يو د خپلې ډلې مشر ياست.)) بريده وايي: د يمن له بني زيد ټبر سره پر جګړه شو او ماتې مو ورکړه، چې ډېر مو پکې اسيران کړل. په اسيرانو کې علي يوه ښځه د ځان لپاره ځانګړې کړه. بريده وايي: دا خبره حضرت خالد بن وليد په يوه ليک کې رسول الله ته وليکله او ما ته يې راکړه، چې رسول الله ته يې ورسوم؛ نو چې کله د الله تعالی استازي ته را و رسېدم؛ نو ليک مې ورکړ، چې په لوستو يې د رسول الله د څېرې رنګ واوخوت، چې ما وويل: د الله تعالی رسوله! زه ستاسې په پناه کې يم او حکم مو راکړ، چې له خپل مشره لاروي وکړم؛ نو ما هم ترې لاروي وکړه او د هغه ليک مو درته راوړ؛ رسول الله وويل: ((پام مو وسه، چې هېڅکله په علي پسې بد و نه وياست او پوه شئ، چې علي له ما او زه له علي يم او هغه تر ما روسته د هر مؤمن ولي دی؛ هغه له او زه له هغه يم.))
ليکوال: دا حديث هيثمي هم په مجمع (نهم ټوک: ۱۲۷مخ) کې راوړی، وايي: احمد او بزار په لنډه نقل کړی او نسائي هم په ټکيو کې په لږ اختلاف د خصايص په ۲۳ مخ کې راوړی او پکې راغلي: خالد هر څه رسول الله ته وليکل او ما ته يې هم حکم وکړ، چې رسول الله ته له علي سر وټکاوهه؛ نو ما هم ليک رسول الله ته ورکړ او په علي پسې مې خوله راوسپړله؛ نو

ناځاپه پوه شوم، چې د رسول الله څېره له غوسې سره اوښتې او و يې ويل: ((پام! پام! بريده! علي خپل دښمن مه ګڼه، چې علي زما او زه د علي يم او تر ما روسته ستاسې ولي دی.))
هيثمي يو ځل بيا د نهم ټوک په ۱۲۸ مخ کې دا روايت راوړی، چې پکې راغلي: رسول الله مبارک غوسه ووت او و يې ويل: ((ولې خلک په علي پسې خبرې کوي؛ څوک چې په علي پسې بدې ردې کوي؛ نو په ما پسې به يې کړې وي؛ څوک چې له علي بېل شي؛ نو له ما به بېل شوی وي؛ علي له ما او زه له علي يم؛ علي زما له خټې او زه د ابراهيم له خټې جوړ شوی يم، زه تر ابراهيمه افضل يم (تر دې چې وايي) بريده! خبر نه يې، چې په غنيمت کې د علي حق تر يوې وينځې ډېر دی؟ او خبر نه يې چې علي تر ما روسته ستاسې ولي دی.)) ما وويل: رسول الله! لاس مو راکړئ، چې له سره درسره بيعت وکړم او تر هغه ترې نه وم، بېل شوی، چې مې په اسلام کې ورسره بيا بيعت نه وکړی. (اوسط طبراني)
(د امام احمد حنبل مسند: لومړی ټوک، ۳۳۰ مخ) په خپل سند د عمرو بن ميمون وينا راخستې، وايي: زه له حضرت ابن عباس سره ناست وم، چې نهه تنه راغلل، و يې ويل: ا بن عباسه! يا له موږ سره ګوښه شه او يا دې خپل کور خالي کړه، چې در شو. ا بن عباس : زه درځم. وايي: په دې ورځو کې لا حضرت ابن عباس ړوند شوی نه و او پر خبرو اترو شول؛ خو پوه نه شوو، چې څه وايي؛ خو ناځاپه مې وليدل، چې حضرت ابن عباس خپلې جامې څنډي، را روان دی، وايي: تون لعنت دې پر هغوی وي، چې په هغه پسې سپکې سپورې وايي، چې لس ځانګړنې لري (لس ځانګړنې يې وشمېرلې، چې دلته راورسېد) بيا يې پلانی مکې ته ولېږه، چې د توبې سورت ورته ووايي او علي يې ورپسې ورولېږه، چې سورت ترې واخلي او و يې ويل: ((دا سورت به يا زه په خپله او يا هغه چې له ما څخه وي، خلکو ته اوروي.))
ليکوال: دا روايت نسائي د خصايص په ۸ مخ کې، محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۲۰۶ مخ کې راوړی او ويلي يې دي: احمد او حافظ ابوالقاسم دمشقي په موافقات او اربعين طوال کې راوړی او ويلي يې دي: نسائي يې ځينې يادې کړي او همداراز هيثمي په مجمع (نهم ټوک، ۱۱۹ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي: احمد او طبراني په کبير او اوسط کې په لنډه راوړی دی.
(خصايص نسائي: ۱۹ مخ) په خپل سند له عمرو بن حصين څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: رسول الله وويل: ((علي له ما او زه له علي يم او علي تر ما روسته د هر مؤمن ولي دی.))

(خصایص نسائي: ۳٦ مخ) په خپل سند د محمد بن اسامه بن زید (رض) د پلار وینا راختي، چې رسول الله وویل: ((علي! ته زما زوم او د زامنو پلار یې؛ ته له ما او زه له تا یم.))
(خصایص نسائي: ۱۹ مخ) په خپل سند له هبیرة بن مریم، هاني بن هاني له علي روایت کړی: همداچې له مکې راووتو؛ نو د حمزه لور راپسې چغې کړې: کاکا جانه! کاکا جانه! هغه مې راواخسته او کوروداني ته مې وویل، چې د تره لور دې سمباله کړه او فاطمې هم له ځان سره سپره کړه. زید او جعفر یې د روزنې پر سر راسره شخړه وکړه. ما وویل: ما راوستې او د تره لور مې هم ده. جعفر وویل: زما هم د تره لور ده او ترور یې زما ښځه ده. زید وویل: هغه زما وریره ده. رسول الله هغه خپلې ترور ته ورکړه او و یې ویل: ((ترور د مور په څېر وي.)) او ما ته یې وویل: ((ته ما ته داسې یې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ زه له تا یم.)) جعفر ته یې وویل: ((ته په خلق و خوی کې زما په څېر یې.)) او زید ته یې وویل: ((ته زموږ رور او مولا یې.))
(د ابن جریر طبري تاریخ: دویم ټوک، ۱۹۷ مخ) په خپل سند له ابي رافع له پلار له نیکه نقل کړی: علي، چې د مشرکینو بېرغچیان ووژل؛ نو رسول الله، چې د قریشو د مشرکینو ډله ولیده؛ نو علي ته یې وویل: ((برید پرې وکړه.)) علي برید وکړ او خواره یې کړل او عمرو بن عبد الله جمحي یې وواژه. بیا رسول الله د مشرکانو بله ډله ولیده او ورته یې وویل: برید پرې وکړه. علي هم پرې برید وکړ او خواره یې کړل او شیبه بن مالک یې وواژه. حضرت جبراییل امین وویل: رسول الله! دا دی مواساة. رسول الله وویل: ((هغه له ما او زه له هغه یم.)) حضرت جبراییل وویل: او زه ستاسې د دواړو یم. د حدیث راوي وایي: ټولو واورېدل، چې اورېدل کېدل: ((لا سیف الا ذوالفقار و لا فتی الا علی.))
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۲ مخ) او (علی بن سلطان؛ مرقاه: پینځم ټوک، ٥٦٨ مخ) دواړو په شرح کې له ابي رافع څخه روایت کړی چې وایي: علي، چې د احد د مشرکانو بېرغچیان ووژل؛ نو حضرت جبراییل وویل: دا مواساة حقیقي مواساة دي. رسول الله وویل: ((اخر هغه له ما او زه له هغه یم.)) جبراییل: او زه ستاسې د دواړو یم. (مناقب احمد)
دا روایت هیثمي په مجمع (شپږم ټوک، ۱۱٤ مخ) کې له طبراني او متقي هم په کنزالعمال (شپږم ټوک، ٤۰۰ مخ) کې له طبراني نقل کړی دی.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۰۲ مخ) وایي: ابوسعید د شرف النبوه په کتاب کې راوړي، چې رسول الله علي ته وویل: ((درې داسې ځیزونه درکړل شوي، چې هیچا ته هم نه دي ورکړل شوي؛ لومړی زما په څېر خسر، چې زه ستا په څېر خسر نه لرم؛ دویم داچې داسې

کورودانه يې درکړې، چې ما ته هاغسې نه ده راکړ شوې؛ دریيم دا چې د حسن او حسین په څېر زامن، چې ما ته يې هاغسې نه دي راکړي؛ خو تاسې ټول له ما او زه له تاسې یم.))
(کنوزالحقایق مناوي: ۳۷ مخ) داسې عبارت راوړی: ((علی له ما او زه له هغه یم او علي تر ما روسته د ټولو مؤمنانو ولي دی.)) (طبراني)
(کنزالعمال: دریيم ټوک، ۱۲۳ مخ) د علي له خولې وایي: زید بن حارثه، چې له مکې راته؛ نو د حمزه سیدالشهداء لور يې هم له ځان سره راوسته. جعفر بن ابیطالب وویل: زه به يې له ځان سره کور ته بوځم او پالنه به يې کوم؛ ځکه زما د تره لور او ترور يې زما کډه ده ا ترور خو د مور په څېر وي. علي وویل: زه ورته وړ یم؛ ځکه د تره لور مې ده او ښځه مې هم د الله تعالی د رسول لور ده او د الله تعالی د نبي لور تر ټولو وړ ده او دا خبره پر لوړ غږ کوم، چې رسول الله يې له وتو مخکې واوري. زید وویل: زه وړ یم؛ ځکه ما له مکې راوستې او وریره مې هم ده. دا مهال پاک نبي له کوره راووت او و يې ویل: ((په تاسې څه شوي دي؟))
علي وویل: هغه مې د تره لور ده او زه يې پالنې ته وړ یم او د رسول الله لور ما ته ناسته ده او د رسول الله لور تر ټولو غوره او وړ ده او دا ماشومه هم باید د تره له لور سره ووسي. جعفر وویل: هغه باید له ماسره ووسي، چې هم يې د تره لور او هم يې ترور ما ته ناسته ده. زید وویل: د سفر زحمت يې ما گاللی او وریره مې هم ده. پاک نبي وویل: ((ډېر ژر به بې له دې حکمه په تاسې کې ورمندون-قضاوت وکړم.)) علي وایي: همدا چې و يې ویل: ((بې له دې))؛ نو وېره مې زړه ته راغله، چې هرومرو به آیت راغلی وي، چې موږ پر لوړ غږ خبرې کړې دي. بیا د الله تعالی رسول وویل: ((زید بن حارثه! ته هم زموږ او هم د نجلۍ مولا يې.)) زید وایي: رسول الله! خوښ شوم. جعفر ته يې وویل: ((ته په خلق و خوی کې زما په څېر يې او له هغې شجرې پیدا شوی يې، چې زه ترې پیدا شوی یم.)) جعفر وویل: رسول الله! زه هم خوښ شوم. بیا يې وویل: ((علي! ته مې غوره کړای شوی او هم امین يې؛ ته له ما او زه له تا یم.)) ورته مې وویل: زه هم خوښ شوم! د الله تعالی رسول بیا وویل: ((خوښ به شم، چې لور مې له جعفر کره ولاړه او پالنه يې وشي، چې له ترور سره يې وي؛ ځکه ترور هم د مور په څېر وي.)) ټولو وویل: رسول الله! ټول تسلیم شوو. (له عدني، بزار او ابن جریر څخه نقل)
لیکوال: دا روایت طحاوي هم په مشکل الاثار (څلورم ټوک، ۱۷٤ مخ) کې په ټکیو کې په لږ اختلاف راوړی او په ۱۷۵ مخ کې يې هم له دوو لارو په عبارت کې په لږ اختلاف نقل کړی دی. نسائي هم د خصایص په ۲۰ مخ کې راوړی او ویلي يې دي: د الله تعالی رسول وویل: ((علي ته زما غوره کړای شوی او امین يې.))

# د علي وينه او غوښه د رسول الله ده

(خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: دويم ټوک، ٢٠٤ مخ) په خپل سند له ابي العباس څخه نقل کړی، وايي: له رسول الله کره وو، چې پر کينه پنډۍ يې خپل زوی ابراهيم او پر ښۍ يې امام حسين کېنولی و اويوه موچې له ده او بله له هغه اخلي، چې دا مهال حضرت جبراييل وحې راوړه او د وحې حالت، چې د الله تعالی له استازي ولاړ؛ نو و يې ويل: جبراييل را ته وويـل: الله تعالی دې درباندې سلام وايي او وايي: موږ دا دوه ماشومان درته نه پرېږدو او يو بايد لـه بله ځار کړې. تر دې خبرې روسته د الله تعالی نبي ابراهيم ته وکتل او پـه ژړا شو او بيـا يـې چې حسين ته وکتل؛ نو بيا هم په ژړا شو او و يې ويل: د ابراهيم مور يوه وينځه ده، چـې کـه مړ شو؛ نو يوازې زه به خپه شم؛ خو که حسين مړ شو؛ نو هم به يې مور او هم به يې پلار خپه شي، چې زما له وينې او غوښې دي او هم به مې لور او هم به مې د تره زوی او هم به زه پـه خپله خپه شم؛ زه خپل غم زغملی شم؛ خو د هغوی نه؛ نو ايثار (سرښندنه) کوم؛ نو جبراييله! ابراهيم را څخه واخله .)) (د حديث تر پايه)

(ذخايرالعقبی: ٩٢ مخ) د انس بن مالک وينا را اخلي، وايي: يـوه ورځ د اللـه تعـالی نبـي پـر ممبر ډېره وينا وکړه او بيا يې وپوښتل: علي بن ابيطالب چېرې دی؟ علي له ځايه پاڅېـد او و يې ويل: دلته يم! د الله تعالی نبي خپلې سينې ته رانږدې کړ او تندی يې ورته ښکل کړ او پر جيګ غږ يې وويل: ((مسلمانانو! دا زما د دوو سبطو؛ حسن او حسين پلار دی، چې د جنت د ځوانانو دوه ښاغلي دي.))

(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١١١ مخ) وايي: د حضرت ابن عباس وينا ده، چـې د اللـه تعـالی رسول حضرت ام سلمې بي بي ته وويل: ((د علي بن ابيطالب وينه او غوښه زما ده؛ هغه ما ته داسې دی؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبرۍ.)) (طبراني)

(ليکوال: متقي په کنزالعمال (شپږم ټوک، ١٥٤ مخ) کې د ام سلمې پر ځـای ام سـليم راوړې او بيا يې ويـلي: دا روايـت عقـيلي لـه حضرـت ا بن عبـاس څخـه نقـل کـړی او منـاوي هـم (کنوزالحقايق: ١٦١مخ) په لنډه له طبراني نقل کړی دی .

(مستدرک الصحيحين: دويم ټوک، ۱۲۰ مخ) په خپل سند د حضرت عبدالرحمان بن عوف وينا را اخلي، وايي: رسول الله مکه سوبه کړه او طايف ته ستون شو او اته که اوه ورځې يې کلابند کړ او بيا راستون شو، چې په يو ځای کې يې وويل: ((خلکو! زه درنه تلونکی يم او سپارښتنه کوم، چې له عترت سره مې ښه چلن وکړئ او موږ تاسې به د کوثر د حوض تر غاړې وينو. قسم پر هغه الله تعالی، چې ساه مې د هغه په لاس کې ده؛ يا دا چې لمونځ به کوئ او زکوة به ورکوئ او يا دا چې له خپل اړخ به يو سړی درواستوم (او يا داسې يې وويل: هغه سړی چې زما د ځان په څېر دی) او هغه بايد له دښمن سره جګړه وکړي او ذرار يې اسيران کړي.)) راوي وايي: خلکو ګومان کاوه، چې مراد يې ا بوبکر يا عمر (رضی الله عنهما) دی؛ نو په همدې وخت کې د الله تعالی نبي د علي لاس ونيو او و يې ويل: ((او هغه دا دی.)) بيا وايي: ددې حديث سند صحيح دی.
ليکوال: متقي په کنزالعمال (شپږم ټوک، ٤۰٥ مخ) او ابن حجر د صواعق په ۷٥ مخ کې له ابن ابي شيبه نقل کړی دی. هيثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۳٤ مخ کې له ابويعلي او په ۱٦۳ مخ کې له بزار څخه نقل کړی دی.
(زمخشري؛ کشاف) د حجرات د سورت د (يا ايها الذين آمنوا ان جائکم فاسق بنباً فتبينوا)) آيت په تفسير کې وايي: رسول الله وليد بن عقبه د عثمان مېرنی رور ولېږه (تر دې چې وايي): ، چې په بني المصطلق کې، چې دوستي يې ورسره وه، څېړنه وکړي؛ نو همدا چې وليد يې سيمې ته ورنږدې شو؛ نو هغوی يې مخې ته راغلل او ګومان يې وکړ، چې جګړې ته راغلی او وليد هم له هماغه ځايه ستون شو او رسول الله ته يې وويل: بني المصطلق مرتد شوي دي او زکات يې را نه کړ. رسول الله غوسه شو او غوښتل يې جګړه ورسره وکړي، چې هغوی د رسول الله مبارک له هوډه خبر شو او و يې ويل: له رسول الله او غوسې يې پناه غواړو او دا خبره، چې د رسول الله مبارک غوږونو ته ورسېده؛ نو په اړه يې شکمن شو او پيغام يې ورولېږه، چې له ارتداده لاس واخلئ؛ ګنې د خپل ځان په څېر يو سړی درلېږم، چې و مو ځيې او ذرار مو اسيران کړي او بيا يې د علي پر اوږه لاس کېښود.
(خصايص نسائي: ۱۹مخ) په خپل سند له ابی روايتوي چې ويلي يې دي: د الله تعالی نبي وويل: ((بني وليعه دې له خپلو کارونو لاس واخلي؛ ګنې د خپل ځان په څېر سړی ورلېږم، چې زما حکم ټکی په ټکی پلي کوي او هغوی به ووژني او ذرار به يې اسيران کړي.)) دا مهال حضرت عمر زما په ملابند لاس کېښود او بې واکه يې وويل: څوک ښيئ؟ ما وويل:

مطلب یې ستا ملګری او ته یې. حضرت عمر بیا وپوښتل: رښتیا ووایه څوک ښیي؟ ما وویل: خاصف النعل ښیئ او دا مهال علي خپلې پڼې یې ګنډلې.
دې ته ورته روایت محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک، ۱٦٤ مخ) کې له زید بن نفیع څخه نقل کړی او ویلي یې دي، چې احمد په مناقب کې نقل کړی دی.
(هیثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۱۱۰ مخ) وایي: د حضرت جابر بن عبدالله وینا ده، چې وایي: رسول الله، ولید بن عقبه، بني ولیعه ته ولېږه (تر دې چې وایي): رسول الله وویل: یا دا چې بني ولیعه دې له خپلو چارو لاس واخلي او یا داچې د خپل ځان په څېر سړی به ورولېږم، چې ورسره جګړه وکړي او ذرار یې اسیران کړي او هغه دادی؛ لاس یې د علي پر اوږه کېښود. (د حدیث تر پایه) (طبراني)
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۰ مخ) وایي: له عمرو بن عاص څخه روایت دی، چې وایي: له ذات السلاسل جګړې، چې راستون شوم؛ نو له ځان سره مې وویل: تر ما به څوک پر رسول الله نه وي ګران؛ نو ومې پوښته: پر تاسې څوک تر ټولو ډېر ګران دی؟ (په کنزالعمال کې یې یو لږ نومومونه راوړي چې) عمرو عاص له رسول الله پوښتي: علي دربانـدې څومره ګران دی؟ رسول الله مبارک خپلو یارانو ته مخ کړ او و یې ویل: دې سړي ته ګورئ، چې زما د ځان په اړه پوښتنه کوي. (ابن النجار)
(ابن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ٤٦٤ مخ) وایي: معمر له ابن طاووس له پلار له مطلب بن عبدالله بن حنطب څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: رسول الله مبارک د ثقیف د ټبر خلکو ته وویل: ((یا دا چې اسلام به راوړئ او یا دا چې د ځان په څېر سړی به درولېږم، چې ورمېږونه مو ووهي، ذرار مو اسیران او شتمنۍ مو غنیمت کړي .)) حضرت عمر وویل: پر الله تعالی قسم، چې د هغې ورځې هومره مې هېڅکله د لښکر د قومندانۍ هیله نه درلوده؛ نو ټټر مې ببر کړ، چې کېدای شي ووایي چې هغه سړی دادی؛ خو پام مې شو، چې علي یې له لاسه ونیو او و یې ویل: هغه سړی دادی.
لیکوال: دا روایت محب طبري هم په ریاض النضره (دویم ټوک، ۱٦٤مخ) کې داسې راوړی: رسول الله وویل: له خپل اهله یو سړی او که د ځان په څېر سړی او د روایت په پای کې راغلي، چې دوه ځلې یې وویل: هغه دادی! هغه سړی دادی. بیا محب طبري وایي: دا روایت عبدالرزاق په جامع او ابوعمرو بن سمان نقل کړی. په دې اړه نور روایتونه هم شته، چې له انصافه به لرې نه وي، چې لنډه کتنه ورته وکړو.
ړومبی هغه روایت دی، چې حاکم په مستدرک الصحیحین (درېیم ټوک، ۱۲٦مخ) کې د حضرت ابن عباس د خولې وینا راخستې، چې ویلي یې دي: رسول الله مبارک د حجة

الوداع په خطبه کې وویل: ((ډېر ژر به له عمالقه سره وجنګېږم.)) جبراییل وویل: ووایه یا زه په خپله او یا علي. او د الله تعالی رسول هماغسې وویل.
دویم هغه روایت دی، چې محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک، ١٦٤ مخ) کې له حضرت انس بن مالک له خولې نقل کړی، چې رسول الله وویل: ((داسې پېغمبر به نه وي، چې په امت کې یې څوک په شان او ورته نه وي او زما په امت کې زما په څېر علي دی.)) ((قلعی))
درېیم هغه روایت دی، چې مناوي د فیض القدیر د څلورم ټوک په ٣٥٦ مخ کې او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ١٥٣ مخ کې راوړی: ((علي مې ډډ او جعفر مې څانګه ده.)) بیا دواړه کتابونو ویلي: دا خبره طبراني او ضیاء د عبدالله بن جابر له خولې کړې ده. )

## رسول الله (ص): د چاچې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی

(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ٢٩٨ مخ) په خپل سند له شعبه له سلمة بن کهیل څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: ما له ابي الطفیل څخه اورېدلي، چې له ابي سریحه_ او یا زید بن ارقم _ څخه یې روایتاوه، چې رسول الله وویل: ((د چاچې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی.)) همدا روایت شعبه له میمون ابي عبدالله له حضرت زید بن ارقم له رسول الله څخه هم نقل کړی دی.
لیکوال: علي بن سلطان هم په مرقاة (پینځم ټوک، ٥٦٨ مخ) په شرح کې له جامع څخه نقل کړي، چې ترمذي، نسائي او ضیاء له حضرت زید بن ارقم څخه روایت کړی، چې رسول الله وویل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي یې مولا دی.))
(صحیح ابن ماجه: باب فضایل اصحاب نبي، ١٢ مخ) په خپل سند د براء بن عازب د خولې وینا راخستې، چې ویلي یې دي: له رسول الله سره د حج له سفره راستانه شوو او په لار کې یې حکم وکړ، چې په جمعه لمونځ کوو او بیا یې علي له لاسه ونیو او و یې ویل: ((آیا زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه یم؟ وویل شول: هو همدسې ده!. و یې ویل: آیا زه پر ټولو مؤمنانو پر هغوی وړ نه یم؟ وویل شول: هو!. بیا یې وویل: ((نو پوه شئ دا د هر هغه چا ولي دی، چې زه یې ولي یم؛ خدایه! د دوستانو یې دوست او د ښمنانو یې دښمن وسه.))
لیکوال: دا روایت احمد بن حنبل په خپل مسند (څلورم ټوک، ٢٨١ مخ) کې داسې راوړی دی: حضرت براء وویل: له رسول الله سره په سفر کې وو، چې کله د خم په ډنډ کې راټول شوو؛ نو ټول تم شوو او غږ شو: الصلاة جامعة او مراد یې دا و، چې ټول باید را ټول شو، بیا

يې د الله تعالی نبي ته د ونو تر سيوري لاندې ځای جوړ کړ، د ماسپښين تـر لمانځـه روسـته يې علي له لاسه ونيو او و يې ويل: ((آيا خبر نه ياست، چې زه له مؤمنانو پر هغوی وړ يم؟)) وويل شول: هو! بيا يې وويل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی؛ خدايه! د دوستانو يې دوست او د ښمنانو يې دښمن وسه.)) حضرت براء وايي: تر دې پېښـې روسـته حضرت عمر، حضرت علي وليد او ورته يې وويل: د ابوطالب زويه! مبارک دې شه، چې د تل لپاره د هر مؤمن او مؤمنې مولا شوې. بيا عبدالرحمن ـ؛ يعنې احمد بن حنبل ـ وايي: دا حديث موږ له هبه له براء بن عازب څخه نقل کړی دی.

دا روايت متقي هم په کنزالعمال (شپږم ټوک، ۳۹۷ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي: ابن ابي شيبه نقل کړی دی. محب طبري هم پـه ريـاض النضرـه (دويـم ټـوک، ۱٦۹ مـخ) کـې ورتـه رواړی او ويلي يې دي: ابن السمان نقل کړی او همداراز محب طبري هم د احمد حنبـل پـه څېر روايت راوړی دی او ويلي يې دي: احمد په مسـند کـې راوړی؛ خـو لـه (د دښـمن يـې دښمن وسه) تر غونډلې روسته يې زيات کړي: ((ملا تړ شې د هغه چې د علي ملاتـړ وي او د دوست يې دوست وسه.)) شعبه وايي: ياد مې نه دي، چې داسـې يـې وويـل او کـه و يـې ويل: ((د دښمن يې دښمن وسه.))

(صحيح ابن ماجه: باب فضايل اصحاب الرسول، ۱۲ مخ) په خپل سند لـه ا بن سـابط ـ چـې هماغه عبدالرحمان دی ـ له حضرت سعد بن ابي وقاص څخه روايت کړی، چې ويـلي يـې دي: معاويه بن ابوسفيان حج ته راغلی و، چې سعد يې کتو ته ورغی، چـې د حضـرت عـلي خبره را منځ ته شوه، چې په دې ترڅ کې معاويه بن ابوسفيان عـلي تـه کنځلـې وکـړې، چـې سعد په دې کار غوسه شواو و يې ويل: په هغه پسې کنځلې کوې، چې رسول الله يـې پـه اړه ويلي دي: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.)) او بيا مې ترې واورېدل، چې و يې ويل: ((ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته؛ خو بې له پېغمـبرۍ)) او د خيـبر پـه جګړه کې يې وويل: ((نن به د جګړې د مشرۍ بېرغ هغه ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی يې پرې ګران دی.))

ليکوال: دا روايت نسائي هم د خصايص په ۱٤ مخ کې په ټکيو کې په لږ اخـتلاف راوړی او د سند تر راوړو روسته يې له عبدالرحمان بن سابط له سعد څخه ويـلي: ناسـت وم، چـې پـه علي پسې يې سپکې سپورې وکړې. ما وويل: له رسول الله مې د علي درې داسې ځـانګړنې واورېدې، چې که يوه يې هم زما وه؛ نو پر ځمکه له هر تېرايستونکي به را ته ښـه وه؛ ړومبـی دا چې ((ته ما ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبرۍ)) دويم داچې وا مې ورېدل: د الله تعالی نبي وويل: ((سبا به د جګړې د مشرۍ بېرغ هغه ته ورکړم، چـې اللـه

تعالی او استازی یې پرې ګران دی.)) دربیم دا چې رسول الله وویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.))

(مستدرک الصحيحين: دریم ټوک، ۱۰۹ مخ) په خپل سند له ابي الطُفيل له حضرت زيد بن ارقم څخه نقل کړی، چې ويلي يې دي: رسول الله له حجة الوداع څخه راستنېده؛ نو "خم غدير" ته، چې راورسېد؛ نو حکم یې وکړ، چې د ونو تر سیورې لاندې ورته د ناستې ځای جوړ کړي او بيا يې وويل: ((ګواکې تلو ته يې بللی يم او ما هم منلې ده؛ زه په تاسې کې دوه ستر يادګارونه پرېږدم، چې يو تربله ستر دي؛ د الله تعالی کتاب او زما عترت؛ نو ګورم، چې څنګه چلن به ورسره کوئ؛ ځکه هغوی يو له بله نه بېلېدونکي دي، چې د کوثر د حوض تر غاړې مې وويني؛ الله تعالی زما مولا او زه د هر مؤمن مولا يم.)) او بيا يې علي له لاسه ونيو او و يې ويل: ((د چا چې زه ولي يم؛ نو دا يې ولي دی؛ خدايه ! مل شې د هغه چې د علي ملتيا کوي او ملا ما ته کړې د هغه چې ملاتړ يې نه کوي او د علي د دښمن دښمن وسه.))

حاکم وايي: دا حديث د صحت لپاره ټول هغه شرايط لري، چې مسلم او بخاري يې په رسميت پېژني؛ خو بيا هم دواړو نه دی نقل کړی. بيا وايي: ددې حديث د صحت شاهد د سلمة بن کهيل له ابي الطفيل د خولې حديث دی، چې په خپله د بخاري او مسلم د صحت په شرايطو برابر حديث دی او بيا يې د حديث د سند تر ذکر روسته حديث نقل کړی، چې سلمة بن کهيل له پلاره له ابي الطفيل له ابن واثله له حضرت زيد بن ارقم څخه روايت کړی، چې اورېدلي يې دي، چې ويل يې: رسول الله د مکې او مدينې په منځ کې په هغه ځای کې تم شو، چې سترې سترې ونې پکې وې او بيا يې ورته تر ونو لاندې جارو کړای شو، رسول الله تر ماښامه هلته پاتې شو او بيا يې خطبه وويله. د الله تعالی تر ستاينې او نصيحتونو روسته يې وويل: ((خلکو! په تاسې کې مې دوه څيزونه پرېښوول؛ نو که لاروي مو ترې وکړه؛ نو بې لارې به نشئ؛ هغه د الله تعالی کتاب او زما عترت او اهلبيت دي. آيا خبر ياست، چې زه پر هر مؤمن تر هغه ور يم (او درې ځل يې دا جمله تکرار کړه) د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.))

ليکوال: دا روايت يې د دربيم ټوک په ۵۲۳ مخ کې هم له بلې لارې له حضرت زيد بن ارقم څخه نقل کړی او ويلي يې دي: موږ له رسول الله سره له مکې ووتو، چې د "خم غدير" سيمې ته ورسېدو او هلته يې حکم وکړ، چې تر ونو لاندې جارو کړئ. هغه ورځ خورا ګرمه وه، چې داسې ګرمي مې لا ما په ژوند کې نه وه ليدلې. رسول الله د الله تعالی تر ستاينې روسته وويل: ((پيغمبران د تېر پېغمبر د عمر په نيمه ژوند کوي او نږدې دی، چې د الله تعالی بلنې ته ټېر ووهم؛ په تاسې کې داسې څه پرېږدم، چې که لاروي مو ترې وکړه؛ نو تر

ابده به بې لارې نشئ؛ د الله تعالى کتاب)) او بيا پاڅېد او علي يې يې لاسه ونيو، و يې ويـل: ((خلکو! څوک پر تاسې په واک کې وړ دی؟)) وويل شول: الله تعالى او رسول يـې. رسـول الله: ((د چاچې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی.)) (بيا وايي) دا حديث صحيح السند دی.
متقي هم په کنزالعمال (لومړي ټوک، ٤٨ مخ) حاکم ته ورته حديث نقل کـړی او ويـلي يـې دي: طبراني په کبير کې له ابي الطفيل له حضرت زيد بن ارقم څخه روايت کړی دی.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١١٦ مخ) په خپل سند له خثيمة بن عبـدالرحمان څخـه روايت کړی، چې ويلي يې دي: ما له سعد بن مالک _ هغه وخت، چې يو چا وويل: داچـې له علي دې سرغړونه کړې؛ نو په تاپسې خبرې کوي _ څخه واورېدل، چې و يې ويل: پر الله تعالى قسم، چې په سرغړونه کې مې فکر شو، چې پر غلطه وم او علي پر سمه و؛ ځکه عـلي ته درې ځيزه ورکړل شوي، چې که يو يې هم ما ته راکړل شوی و؛ نو په دنيا کې به تـر ټولـو نعمتونو راته غوره و؛ ړومبی داچې رسول الله په "خـم غـدير" کـې د اللـه تعـالى تـر سـتاينې روسته وويل: ((آيا پوهېږئ، چې زه پر مؤمنـانو وړ يـم؟)) وويـل شول: هـو! بيـا رسـول اللـه وويل: ((خدايه! د چـاچې زه مـولا وم؛ عـلي يـې مـولا دی؛ د عـلي د دوسـتانو دوسـت او د دښمنانو يې دښمن وسه.)) دويم داچې د خيبر د جګړې پر ورځ د علي سـترګې خوږېـدې، چې رسول الله يې راوغوښت او هغه وويل: سترګې مې درد کوي. رسول الله مبـارک يـې پـه سترګو کې خپلې توکانې وموږلې او دعا يې ورته وکړه او چې ژوندی و؛ نو سترګو يې خوږ و نه کړ او خيبر يې هم سوبه کړ. درېيم دا چې رسول الله خپل تره او نور له جوماتـه بهـر کـړل؛ نو عباس وويل: موږ چې دې ترونه او خپلوان يو؛ نو له جوماتـه مـو باسـې او عـلي تـه پکـې ځای ورکوې؟ رسول الله وويل: ((ما نه پخپله خوښه تاسـې ايسـتي ياسـت او نـه مـې پخپلـه خوښه علي ته پخپل جومات کې ځای ورکړی؛ بلکې د اللـه تعـالى حکـم و، چـې پـلي مـې کړ.))
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ٣٧١ مخ) په خپل سند له رفاعة بن اياس ضبی لـه پـلاره له نيکه روايت کړی، چې ويلي يې دي: د جمل په جګړه کې له علي سره وو، چـې عـلي پـه طلحة بن عبيدالله پسې يو کس ولېږه، چې ما ووينـې؛ نـو چـې طلحـه راغـی، حضرـت عـلي وويل: پر الله تعالى دې قسم، چې د الله تعالى له رسوله دې وا نه ورېدل، چې و يې ويل: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی؛ د دوست يې دوست او دښمن يې دښمن وسه.)) و يې ويل: هو اورېدلي مې دي. علي وويل: ؛ نو ولې راسره جګړه کوې؟ و يې ويـل: د رسـول الله دا خبره مې هېره کړې وه. دا خبره يې وکړه او ولاړ.

ليکوال: دا روايت متقي هم په کنزاالعمال (شپږم ټوک، ۸۳ مخ) کې په لږ اختلاف نقل کړی او ويلي يې دي، چې له ابن عساکر مې نقل کړی دی

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۱۰ مخ) و ايي: دا حديث، چې له بريده اسلمي نقلوم، د بخاري او مسلم د شرطونو پر بنسټ معتبر دی او بيا يې سند حضرت ا بن عباس او بريده اسلمي ته رسوي او وايي: له حضرت علي سره يمن ته جهاد ته تللي وو (ترديې چې وايي) رسول الله ته راغلم او په علي پسې مې خوله راوسپړله، چې ناڅاپه د رسول الله څېره له غوسې واوختوته او و يې ويل: ((بريده! آيا زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه يم؟)) ورته مې وويل: هو! را ته يې وويل: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی)) (د حديث تر پايه).

ليکوال: دا حديث احمد بن حنبل هم د مسند په پينځم ټوک، ۳۴۷ مخ، متقي هم په لنډه په کنزالعمال (شپږم ټوک، ۱۵٤ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي، چې احمد بن حنبل، ا بن حبان، سمويه، حاکم، او سعيد بن منصور له حضرت ابن عباس له ا بن بريده روايت کړی. متقي هم د دويم ځل لپاره د شپږم ټوک په ۳۹۷مخ او همداراز نسائي په خصايص (۲۲ مخ) کې له حضرت بريده له دوو لارو نقل کړی دی. ابن حجر هم په صواعق کې (۲٦ مخ) کې له حضرت ابن عباس له بريده له دوو لارو نقل کړی او تر نقلولو مخکې يې ويلي: دا روايت ذهبي صحيح ګڼلی او همداراز علي بن سلطان د مرقاة د پينځم ټوک په ۵٦۸ مخ کې راوړی او ويلي يې دي: ذهبي له بريده نقل کړی او صحيح يې ګڼلی دی.

(مستدرک الصحيحين: دويم ټوک، ۱۲۹ مخ) په خپل سند له ابي عوانه له اعمش له سعد بن عبيده له عبدالله بن بريده اسلمي روايت کړی، چې ويلي يې دي: له پلار سره مې روان وم، چې يوه ډله مو مخې ته راغله، چې په علي پسې يې بدې ردې ويلې، چې پلار مې وويل: ما هم ستاسې په څېر په علي پسې سپکې سپورې کولې او زړه مې ترې خوړ؛ په يو سفر کې له حضرت خالد بن وليد سره وو، خورا غنيمت مو لاس ته راوړ، علي هم له غنيمت په خمس کې يوه وينځه واخسته؛ نو داچې خالد بن وليد له علي سره دښمني درلوده؛ نو ما ته يې وويل: دا ښه فرصت دی، چې ته ګټه ترې پورته کولای شې؛ ځکه خالد هم خبر و، چې زما او د علي اوبه په يوه وياله کې نه ځي؛ نو راته يې وويل: ژر رسول الله ته ځان ورسوه او له علي ورته سر وټکاوه. زه هم چې مدينې ته راغلم؛ نو هر څه مې رسول الله ته وويل: عادت مې و، چې د خبرو پر مهال به مې تل سرښکته و؛ نو چې سر مې راپورته کړ؛ نو و مې ليدل، چې د رسول الله رنګ له غوسې سور اوختی او راته يې وويل: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو

علي يې ولي او مشر دی.)) دا خبره مې، چې له رسول الله واورېده؛ نو علي ته مې په زړه کې کينه له منځه ولاړه.

ددې حديث تر نقلولو روسته حاکم وايي: دا روايت د مسلم او بخاري د اعتبار معيارونه لري؛ خو په دې عبارت يې نه دی نقل کړی او بيا وايي: په دې باب د ابي عوانه له اعمش له سعد بن عبيده د حديث په پرتله بل صحيح حديث نشته او بيا يې همدا حديث له بلې لارې له اعمش له سعد بن عبيده له بريده نقل کړی دی.

ابونعيم په حلية (څلورم ټوک، ۲۳ مخ) کې له بريده نقل کړی: ((دچاچې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی.)) متقي هم په کنزالعمال (شپږم ټوک، ۱۵۲ مخ) کې داسې راوړي: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی)) او ويلي يې دي: احمد او نسائي له براء او بيا هم احمد له بريده او ترمذي، نسائي او ضياء له زيد بن ارقم څخه روايت کړی. احمد بن حنبل هم په مسند (پينځم ټوک، ۳۵۸ او ۳۶۱ مخونو) کې په لنډه له بريده نقل کړی دی. محب طبري په رياض النضره (دويم ټوک، ۱۷۲ مخ)کې له بريده نقل کړی او ويلي يې دي: ابوحاتم نقل کړی او مناوي هم د فيض القدير د شپږم ټوک په ۲۱۸ مخ کې راوړی او يلې يې دي: احمد، نسائي او حاکم له بريده نقل کړی او په شرح کې يې ويلي دي: هيثمي په بل ځای کې وايي: ددې روايت رجال ډاډمن دي او په بل ځای کې يې ويلي: ددې حديث رجال صحيح دي. (مناوي)

سيوطي په درالمنثور کې د احزاب د سورت (النبی اولی بالمؤمنين من انفسهم) د آيت په تفسير کې له ابي شيبه، احمد او نسائي له بريده روايت کړی، چې ويلي يې دي: له علي سره يمن ته جهاد ته ولاړو او د هغه جفا له امله، چې علي راسره کړې وه؛ نو په زړه کې مې ورته کينه درلوده او چې د الله تعالی استازي ته راغلو؛ نو د علي گيله مې ورته وکړه. و مې ليدل، چې رسول الله له غوسې سور اوختی، راته يې وويل: ((بريده! آيا پر مؤمنانو وړ نه يم؟)) ورته مې وويل: هو! راته يې وويل: ((د چاچې زه مولا يم؛ علي يې هم مولا دی.))

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: څلورم ټوک، ۳۷۲ مخ) په خپل سند له ميمون بن عبدالله روايت کړی، چې ويلي يې دي: حضرت زيد بن ارقم راته خبرې کولې او ما ورته غوږ نيولی و: يوه ورځ په يوه بيديا کې له رسول الله سره وو، چې نوم يې ((خم)) و، چې حکم يې وکړ: ټول د لمانځه لپاره راټول شئ؛ ډېره گرمه ورځ وه، تر لمانځه روسته يې خطبه وويله او بيا يې وويل: ((آيا نه پوهېږئ، چې تر هر مؤمن پر هغوی وړيم؟)) ټولو وويل: هو!. بيا يې وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی؛ خدايه د دښمنانو يې دښمن او د دوستانو يې دوست وسه.))

ليکوال: دا روايت يې د مسند څلورم ټوک په ۳۷۲ مخ کې له ميمون بن عبدالله څخه په نورو ټکيو نقل کړی، چې ويلي يې دي: له زيد بن ارقم سره وو، چې د فسطاط د سيمې يو سړي حديث وپوښته، چې زيد وويل: د الله تعالی استازي وويل: ((آيا زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه يم؟)) وويل شول: هو! بيا يې وويل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) بيا وايي: دا حديث طبراني او احمد يوازې له زيد څخه نقل کړی، چې بزار هم نقل کړی دی.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰٤ مخ) له عمر او ذی مرو زيد بن ارقم څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: رسول الله د "خم غدير" پر ورځ خطبه وويله او بيا يې وويل: ((د چاچې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی. خدايه د دښمنانو يې دښمن او د دوستانو يې دوست وسه او مرسته د هغه وکړې، چې د علي مرسته کوي.)) بيا وايي: دا حديث احمد او طبراني يوازې له زيدڅخه نقل کړی او بزار هم نقل کړی دی.
ليکوال: متقي هم په کنزالعمال (شپږم ټوک، ۱٥٤ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي: طبراني له عمروذی مروزي بن ارقم دواړو څخه نقل کړی دی.
(اما احمد بن حنبل؛ مسند: څلورم ټوک، ۳٦۸ مخ) په خپل سند له عطيه عوفي څخه روايت کړی، چې ويلي دي: زيد بن ارقم ته مې وويل: خسر مې راته ستا له خولې د "خم غدير" په اړه حديث نقل کړی؛ خو خوشحاله به شم، چې پخپله يې ستا له خولې واورم، چې زيد وويل: تاسې د عراق داسې او هغسې ياست. ما وويل: له ما مه ووېرېږه. بيا زيد وويل: هو موږ په "جحفه" کې وو، چې د الله تعالی نبي له خپلې کېږدۍ راووت او حال دا، علي يې له متې نيولی و، و يې ويل: ((ايها الناس! آيا خبر نه ياست، چې زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ يم؟)) خلکو وويل: ولې نه خبر وو. بيا يې وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو تر دې روسته يې علي ولي دی. خدايه د دښمنانو يې دښمن او د دوستانو يې دوست وسه.)) راته يې وويل: دا هغه څه وو، چې په خپله مې اورېدلي ول.
ليکوال: دا روايت متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۹۰ مخ کې راوړی او ويلي يې دي: له عطيه عوفي له زيد بن ارقم څخه روايت دی، چې په "جحفه" کې د "خم غدير" په سيمه کې د الله تعالی رسول علي له متې ونيو او بيا يې وويل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې ولي دی.)) (د ابن جرير خبره ده)
(امام احمد حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱٥۲ مخ) په خپل سند له حضرت علي روايتوي، چې رسول الله د "خم غدير" پر ورځ وويل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.))
هيثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ۱۰۷ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي: احمد نقل کړی او ويلي يې دي، چې ټول رجال يې ډاډمن دي.

(د امام احمد حنبل مسند: لومړی ټوک، ۳۳۰ مخ) په خپل سند له عمرو بن میمون څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: له ابن عباس سره ناست وم، چې یوه نهه کسیزه ډله راننوته او و یې ویل: ابن عباسه! یا له موږ سره ولاړ شه او یا دې کور خالي کړه، چې درشو. حضرت ابن عباس وویل: زه درځم. دا هغه وخت و، چې حضرت ا بن عباس لا ړوند شوی نه و. وایي: هغوی ولاړل او پر خبرو شول؛ خو موږ پوه نه شو، چې څه یې ویل، چې ناڅاپه مو پام شو، چې حضرت ابن عباس خپلې جامې څنډي او روان دی او وایي: تون لعنت دې پر هغوی وي، چې په هغه چا پسې بد رد وایي، چې الله تعالی پر لسو ځانګړنو پسوللی و او بیا یې یوه یوه وشمېرله تر دې چې و یې ویل: رسول الله وویل: ((د چاچې زه مولا یم؛ نو علي یې مولا دی.)) (د حدیث تر پایه)

دا روایت نسائي هم د خصایص په ۸ مخ، محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ۲۰۳ مخ او د ذخایر په ۸٦ مخ کې یې راوړی او په ذخایر کې یې ویلي: دا ټول روایت احمد، حافظ او ابوالقاسم دمشقي د موافقات او اربعین طوال په کتاب کې راوړی او همداراز په ذخایر کې یې ویلي: نسائي یې هم یوه برخه راخستې ده.

هیثمي په مجمع (نهم ټوک، ۱۱۹ مخ) کې نقل کړي او ویلي یې دي: احمد او طبراني د کبیر او اوسط په کتابونو کې راوړی دی.

(د امام احمد حنبل مسند: پینځم ټوک، ۳٦٥ مخ) په خپل سند له سعید بن مسیب بن وهب څخه روایت کړی، چې علي د رسول الله پینځه که شپږ اصحابو ته قسم ورکړ او هغوی هم شهادت ورکړ، چې د الله تعالی استازي ویلي ول: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي یې مولا دی.))

لیکوال: دا روایت نسائي د خصایص په ۲۲ مخ، هیثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۰٤ مخ کې راوړی او ویلي یې دي، چې احمد هم نقل کړی او ټول رجال یې سم دي.

(د امام احمد حنبل مسند: لومړی ټوک، ۱۱۸ مخ) په خپل سند له ابي اسحاق له سعید بن وهب او زید بن یثیع څخه روایت کړی، چې ویلي یې دي: علي په رحبه (کوفه) کې خلکو ته قسم ورکړ، چې هغه څه وایي، چې په "خم غدیر" کې یې د الله تعالی له استازي اورېدلي ول. دا مهال د سعید له اړخه شپږ کسان او د زید له اړخه هم شپږ کسان پاڅېدل او شهادت یې ورکړ، چې رسول الله د "خم غدیر" پر ورځ د علي په اړه وویل: ((ایا الله تعالی پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه دی؟)) ټولو وویل: ولې نه همدسې ده. رسول الله وویل: ((خدایه! شاهد وسه د چاچې ته مولا یې؛ نو علي یې مولا دی. خدایه د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.))

ليکوال: دا روايت هيثمي د مجمع الزوايد د نهم ټوک په ۱۰۷ مخ کې راوړی او پکې راغلي: د سعيد له اړخه شپږ تنه او د زيد له پلوه اوه تنه پاڅېدل او ليېنه-شاهدي يې ورکړه اوبيا وايي: دا روايت عبدالله او بزار پوره نقل کړی دی.

دا روايت نسائي هم د خصايص په ۲۲ او ٤۰ مخونو کې او احمد بن حنبل روسته تردې چې له ابي اسحاق له سعيد بن وهب او له زيد بن يثيع څخه نقل کړی، وايي: دې حديث ته ورته يو بل حديث له ابي اسحاق له عمروذی مر څخه روايت شوی؛ خو په دومره توپير، چې په پای کې يې راغلي دي: ((خدايه مرسته وکړې د هغوی چې د علي مرسته کوي.)) بيا يې دريم حديث له ابي طفيل له زيد بن ارقم څخه روايت کړی، چې د پورتني حديث په څېر دی.

(د امام احمد حنبل مسند: لومړی ټوک، ۱۱۹ مخ) په خپل سند له عبدالرحمان بن ابي ليلي روايت کړی، چې ويلي يې دي: له علي سره په رحبه (کوفه) کې وم، چې خلکو ته يې قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په "خم غدير" کې يې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.)) عبدالرحمان وايي: هغه دولس تنه پاڅېدل، چې د بدر په جګړه کې يې ګډون کړی و او داسې يې راته څېرې يادې دي؛ لکه همدا اوس مې، چې سترګو ته مخامخ وي او ټولو وويل: په "خم غدير" کې مو د الله تعالی له استازي واورېدل: ((آيا پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه يم؟ آيا زما مېرمنې د هغوی ميندې نه دي؟)) ټولو وويل: هو همداراز ده! بيا يې وويل: ((اوس چې داسې ده؛ نو د چاچې زه ولي وم؛ نو علي يې ولي دی؛ خدايه! د دښمنانو يې دښمن او د دوستانو يې دوست وسه.))

ليکوال: دا روايت خطيب بغدادي هم د خپل تاريخ د څلوارلسم ټوک په ۲۳٦ مخ او هيثمي هم په مجمع کې راوړی او ويلي يې دي: ابويعلي نقل کړی او رجال يې ډاډمن دي او عبدالله بن احمد هم نقل کړی دی.

متقي هم د کنزاالعمال د شپږم ټوک په ٤۰۷مخ کې نقل کړی او ويلي يې دي: ابويعلي، ابن جرير، سعيد بن منصور نقل کړی. ابن اثيرجرزي په د اسدالغابه د څلورم ټوک په ۲۸ مخ کې او طحاوي هم د مشکل آثار د دويم ټوک په ۳۰۸ مخ کې نقل کړی دی.

(د امام احمد حنبل مسند: لومړی ټوک، ۸۸ مخ) په خپل سند له زياد بن زياد څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: وا مې ورېدل، چې علي بن ابيطالب خلکو ته قسم ورکوي، چې هغه کسان دې له ځايه پاڅي، چې د "خم غدير" پر ورځ يې له رسول الله اورېدلي: ((د چا چې زه مولا يم؛ علي يې مولا دی.)) دا مهال دولس تنه بدري پاڅېدل.

ليکوال: دا روايت محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۱۷۰ مخ کې او هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۶ مخ کې راوړی او هيثمي ويلي: احمد يې راويان ډاډمن ګڼلي دي.

(د امام احمد حنبل مسند: لومړی ټوک، ۸٤ مخ) په خپل سند له زاذن ابن عمر څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: په رحبه (کوفه) کې وم، چې علي خلکو ته يې قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په "خم غدير" کې يې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.)) دا مهال درې‌لس تنه پاڅېدل او ګواهي يې ورکړه، چې د الله تعالی له استازي يې اورېدلي: ((د چا چې زه مولا يم نو علي يې هم مولا دی.))

ليکوال: دا روايت متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤۰۷ مخ کې راوړی او ويلي يې دي: احمد بن حنبل په مسند او ابن ابي عاصم په خپل سنن کې نقل کړی دی.

(د امام احمد حنبل مسند: پينځم ټوک، ۳۰۷ مخ) په خپل سند له زيد بن ارقم څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: علي خلکو ته قسم ورکړ او و يې ويل: هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په "خم غدير" کې يې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((خدايه ! د چاچې زه مولا يم؛ علي يې هم مولا دی؛ خدايه د وستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه)) دا مهال شپاړس تنه پاڅېدل او ليېنه يې ورکړه.

ليکوال: دا روايت محب طبري د رياض النضره د شپږم ټوک په ۱۷۰ مخ او هيثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ۱۰٦ مخ)کې راوړی او په پای کې يې هيثمي ويلي دي: راوي وايي: زه له هغوی وم، چې دا شهادت مې پټ کړ او ړوند شوم او بيا يې ويلي: طبراني د کبير او اوسط په دوو کتابونو کې د شهادت د پټولو او د علي له ښېرو پرته نقل کړی او بيا يې ويلي: د اوسط روايان ټول ډاډمن دي.

(مسندا مام احمد حنبل: څلورم ټوک، ۳۷۰ مخ) په خپل سند له ابي الطفيل څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: علي په رحبه کې خلکو ته وويل: هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په "خم غدير" کې يې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.)) دا مهال دېرش تنه پاڅېدل او ليېنه يې ورکړه. ا بونعيم ويلي: يوه ډله پاڅېده او ليېنه يې ورکړه، چې د الله تعالی استازي حال دا، علي له لاسه نيولی و، وويل: ((آيا پوهېږئ، چې زه پر مؤمنانو پر هغوی وړ يم؟)) خلکو وويل: همداراز ده رسول الله! بيا يې رسول الله وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی؛ خدايه! د دښمنانو يې دښمن او دوستانو يې دوست وسه .)) وايي: په زړه کې مې اړنګ-شک و او راووتم، چې حضرت

زید بن ارقم مې مخې ته راغی او ورته مې وویل: علي داسې خبره وکړه. زید راته وویـل: لـه دې خبرې ځوک سترګې نشي پټولای؛ دا خبره ما پخپله د الله تعالی له رسوله اورېدلې ده.
لیکوال: دا روایت نسائي د خصایص په څلورم مخ کې له ابي الطفیل له عامر بن واثله له دوو لارو نقل کړی دی، محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په۱٦۹ مخ کې نقـل کـړی او په نقل کې یې راغلي: خلک پاڅېدل او لیېنه یې ورکړه او پـه پـای کـې یـې راغـلي: ا بونعیم وویل: ما له فطر څخه چې ددې روایـت راوي و، وپوښـتل: د هغـه د مړینـې او ددې خـبرې ترمنځ څومره واټن و. و یې ویل: سل ورځې. بیا وایي: ابوحاتم دا حدیث نقل کړی او ویـلي یې دي: د ابو نعیم مراد د علي مرګ و.
(مسندا امام احمد بن حنبل: پینځم ټوک، ٤۱۹ مخ) په خپل سند لـه ریـاح بن حـارث څخـه روایت کړی، چې ویلي یې دي: په رحبه کې یوه ډله علي ته راغله او ورته یې وویل: السـلام علیکم یا مولانا! علي وویل: زه څنګه ستاسې مولا یم حال دا، عرب یاست؟ ورته یې وویـل: موږ د الله تعالی له استازي واورېدل، چې د "خم غدیر" پر ورځ یې وویـل: ((د چـا چـې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی.)) ریاح وایي: همداچې دا ډله له عـلي بېلـه شوه؛ نـو زه ورپسـې ولاړم او پوښتنه مې ترې وکړه: څوک یاست؟ و یې ویل: موږ انصار یو.
ددې حدیث تر نقلولو روسته په لږ اختلاف له بلې لارې همدا حدیث نقل کړی دی. هیثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ۱۰۳ مخ) کې راوړی او ویلي یې دي: احمد او طـبراني نقـل کـړی دی: د الله تعالی له استازي مو واورېدل چې ویل یې: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یـې مـولا دی؛ خدایه د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.)) اوس ابو ایوب له موږ سره دی. بیا ابو ایوب خپله پګړۍ لـه خپـل تنـدي اوچ ته کـړه او و یـې ویـل: مـا لـه رسـول اللـه اورېدلي، چې و یې ویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مـولا دی؛ خدایـه د دوسـتانو یـې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.)) بیا وایي: ددې روایت ټول راویان ډاډمن دي.
(د امام احمد بن حنبل مسند: پینځم ټوک، ۳۵۰ مخ) پـه خپـل سـند لـه ا بن بریـده لـه پـلاره روایتوي، چې ویلي یې دي: رسول الله جګړې ته ولېږلو او علي یې زموږ مشر کـړ؛ نـو چـې راستانه شو، راته یې وویل : ((له مشر سره مو سفر او ناسته پاسته څنګه وه؟)) زما نـه یـادېږي، چې ما شکایت وکړ او که بل چا. زما تل دا عادت و، چې سترګې به مې لاندې وې؛ خو چې سترګې مې راپورته کړې؛ نو و مې لیدل، چې د الله تعالی د نبي څېره له غوسې سره شوې او وایي: ((د چاچې زه مولا یم؛ علي یې ولي دی.))

ليکوال: دا روايت نسائي د خصايص په ۲۱ مخ، متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۹۸ مخ کې راوړی او متقي په پای کې راوړي : دا مې چې واورېدل؛ نو په زړه کې علي ته کينه مې له منځه ولاړه او تر دې روسته مې هېڅکله ورپسې بدرد و نه ويل.
دا روايت هيثمي په مجمع (نهم ټوک، ۱۰۸ مخ) کې راوړی او په پای کې يې ويلي چې و يې ويل: تر دې روسته به دې د علي په اړه خپه نه کړم.
بيا هيثمي وايي: دا روايت بزار هم نقل کړی او ټول رجال يې ډاډمن دي.
(فخر رازي؛ کبير تفسير) د مائدې د سورت د (يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليک من ربک) آيت تر تفسير لاندې ليکي: لسم ـ؛ يعنې د آيت په نزول کې لسمه وجه ـ د علي په فضليت کې راغلې او تر راتلو روسته يې رسول الله علي له لاسه ونيو او و يې ويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی؛ خدايه د دوستانو يې دوست او د دښمنانو يې دښمن وسه.)) بيا حضرت عمر، حضرت علي ته وويل: مبارک دې شه چې زما، د هر مؤمن او مؤمنې مولا شوې. بيا وايي: دا خبره ـ دا چې دا آيت د علي په فضيلت کې راغلی دی ـ مې له حضرت ابن عباس، براء بن عازب او محمد بن علي نقل کړې ده.
(ابي نعيم؛ حلية الاليا‌ء: پينځم ټوک، ۲۶ مخ) په خپل سند له عميرة بن سعد څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: علي پر ممبر ناست و، چې د رسول الله اصحابو ته، چې ابوسعيد، ابوهريره، انس بن مالک (رضی الله عنهم) او نهه تنه نور ول، قسم ورکړ، چې آيا تاسې د الله تعالی له رسوله نه دي اورېدلي چې و يې ويل: ((د چاچې مولا وم؛ علي يې ولي دی.)) ټول پاځېدل او و يې ويل: له رسول الله مو دا خبره اورېدلې ده؛ خو په دوی کې يو کس پا نه څېد، چې علي وويل: څه فکر دې وکړ، چې پا نه څېدې؟ ورته يې وويل: اميرالمؤمنيه! زوړ شوی يم او راڅخه هير شوي دي. علي وويل: خدايه! که دروغ وايي؛ نو پر نه رغېدونکي رنځ يې خسي کړې. د هغه سړي د دوو سترګو په منځ کې يوه غوټه راووته، چې پګړی به هم نه شوه پټولای.
ليکوال: دا کيسه هيثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۸ مخ کې راوړې او ويلي يې دي: طبراني د اوسط او صغير په دوو کتابونو کې راوړې او متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۴۰۳ مخ کې راو ړې اوويلي يې دي: طبراني په اوسط کې راوړې ده.
(حلية الاولياء: پينځم ټوک) د عمرو بن عبدالعزير د تاريخ په پای کې په خپل سند له يزيد بن عمر بن مورق څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: په شام کې وم، چې عمر بن عبدالعزيز خلکو ته تنخوا ورکوله، چې زه هم ورغلم او راته يې وويل: له کوم ټبر يې؟ ورته مې ويل: قريش! و يې ويل: په قريشو کې له کوم ټبر يې؟ و مې ويل: بني هاشم! پوښتنه يې

وکړه: په بني هاشمو کې د کومې پرګې يې؟ چوپ پاتې شوم او ځواب مې ور نه کړ، چې بيا يې پوښتنه وکړه: په بني هاشمو کې د کومې پرګې يې؟ ورته مې وويل: د مولا علي له پرګې؟ پوښتنه يې وکړه: علي څوک دی؟ بيا چوپ شوم. بيا يې زما په سينه لاس کېښود او راته يې وويل: پر الله تعالی چې زه هم د علي مينوال يم.

بيا وايي: ځينو راته نقل کړی، چې د الله تعالی له استازي يې اورېدلي: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي يې ولي دی.)) بيا يې ويل: مزاحمه دې سړی ته دې څومره ورکړې؟ و يې ويل: سل که دوه سوه درهمه. عمر وويل: دې سړي ته پنځوس ديناره ورکړه. ابي داوود وايي: شپېته ديناره ورکړه، چې د علي مينوال دی. بيا يې وويل: خپلې سيمې ته ستون شه اوچې څومره مې ستا په څېر کسانو ته ورکړي، همله به يې درلېږم.

ليکوال: دا روايت ابن اثير هم د اسدالغابه د پينځم ټوک په ۳۸۳ مخ کې په لږ اختلاف نقل کړی دی.

(د بغداد تاريخ: اووم ټوک، ۳۷۷ مخ) خطيب په خپل سند له انس څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: له رسول الله مې واورېدل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی؛ خدايه د دوستانو يې دوست او د دښمنانو يې دښمن وسه.))

(د بغداد تاريخ: اتم ټوک، ۲۹۰ مخ) خطيب په خپل سند له حضرت ابي هريرة څخه روايتوي، وايي: څوک چې د ذي الحجه پر اتلسمه روژه شي؛ نو د شپېتو روژو ثواب به ورکړ شي؛ ځکه د "خم غدير" ورځ ده او پر دې ورځ رسول الله علي له لاسه ونيو او خلکو ته يې وويل: ((آيا زه د مؤمنانو ولي نه وم؟)) خلکو وويل: هو رسول الله! ته زموږ ولي يې. بيا يې وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی.)) بيا حضرت عمر بن خطاب راغی او علي ته يې وويل: بخ بخ لک يا بن ابيطالب چې زما او د هر مسلمان مولا شوې، چې بيا د (اليوم اکملت لکم دينکم) آيت راغی. (د حديث تر پايه)

(د بغداد تاريخ: دولسم ټوک، ۳۴۳ مخ) په خپل سند له فضل بن ربيع له پلار يې له منصور او هغه هم له خپل پلار له خپل نيکه له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې رسول الله وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی.))

(خصايص نسائي: ۲۱ مخ) په خپل سند له ابي الطفيل له زيد بن ارقم څخه روايت کړی، چې و يې ويل: رسول الله چې له حجةالوداع څخه راستون شو؛ نو په "خم غدير" کې تم شو او حکم يې وکړ، چې ترنو لاندې ځمکه جارو کړئ او بيا يې وويل: ((ګواکې بلل شويم او ما هم منلې ده؛ زه په تاسې کې دوه ستر ګران بيه څيزونه پرېږدم، چې يو يې تر بله ستر دی؛ د الله تعالی کتاب او عترت مې اهلبيت؛ نو ګورم، چې تر ما روسته به ورسره څرنګه

چلن کوئ او هغوی دواړه زما ځایناستي دي چې دواړه یو له بله نه بېلېږي، چې د قیامت پر ورځ مې د کوثر د حوض تر غاړې وویني؛ الله تعالی زما مولا او زه د هر ولي مؤمن یم)) او بیا یې علي له لاسه ونیو او و یې ویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی؛ خدایه د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.)) ما یزید ته وویل: آیا دا هر څه دې په خپله له رسول الله اورېدلي دي؟ و یې ویل: په هغه دوحات (ونو) کې به داسې څوک نه ول، چې په سترګو به یې نه وي لیدلي او په غوږونو به یې دا خبره نه وي اورېدلې.

لیکوال: دا روایت متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۹۰ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: ابن جریر نقل کړی او دې ورته یو بل روایت یې له عطیه عوفي له ابي سعید خدري نقل کړی دی.

(خصایص نسائي: ۲۲ مخ) په خپل سند له سعد څخه روایت کړی، چې وایي: رسول الله وویل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی.))

(خصایص نسائي: ۲۵ مخ) په خپل سند له سعد څخه روایتوي، چې رسول الله علي له لاسه ونیو، خطبه یې وویله او بیا یې وویل: ((آیا خبر نه وئ، چې زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ یم؟)) ټولو ورته ووویل: هو خبر وو. بیا رسول الله وویل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی؛ خدایه د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.))

لیکوال: دا روایت هیثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ۱۰۷ مخ) کې په لنډه راوړی او ویلي یې دي: بزار رانقل کړی او ټول رجال یې ډاډمن دي.

(خصایص نسائي: ۲۵ مخ) په خپل سند له سعد څخه روایت کړی، چې له رسول الله سره د مدینې پر لار وو؛ نو چې کله د ”خم غدیر“ سیمې ته راورسېد؛ خلک یې ودرول او حکم یې وکړ، چې مخکې تللي راستانه او شاته پاتېو ته په تمه شئ او همداچې ټول راټول شول، د الله تعالی نبي وویل: ((خلکو! ستاسې ولي او د واک خاوند څوک دی؟)) خلکو وویل: الله تعالی او رسول یې! الله تعالی او رسول یې! الله تعالی او رسول یې! بیا رسول الله علي له لاسه ونیو او په جیګ غږ یې وویل: ((د چا چې الله تعالی او رسول یې ولي وي؛ نو علي یې مولا دی؛ خدایه د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.))

(خصایص نسائي: ۲۲ مخ) په خپل سند له عمرو بن سعد څخه روایت کړی: په رحبه (کوفه) کې وم، چې علي خلکو ته قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځایه پاڅي، چې په ”خم غدیر“ کې یې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((د چا چې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی.)) دا مهال شپږ تنه پاڅېدل او لیبنه یې ورکړه.

(خصایص نسائي: ۲۳ مخ) په خپل سند له شریک له ابي اسحاق له زید بن یثیع څخه روایت کړی، چې وایي: په رحبه (کوفه) کې وم، چې علي خلکو ته قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځایه پاڅي، چې په "خم غدیر" کې یې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((د چا چې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی.)) دا مهال د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم شپږ تنه اصحاب پاڅېدل او لیېنه یې ورکړه، چې د الله تعالی له استازي یې اورېدلي: ((د چاچې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی.)) شریک وایي: ما ابي اسحاق ته وویل: آیا له براء بن عازب څخه دې اورېدلي، چې داسې خبره یې له رسول الله نقل کړې ده؟ و یې ویل: هو.

(خصایص نسائي: ۲۶ مخ) په خپل سند له عمروذی مر څخه روایت کړی، چې وایي: په رحبه (کوفه) کې وم، چې علي د رسول الله مبارک اصحابو ته قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځایه پاڅي، چې په "خم غدیر" کې یې د الله تعالی له استازي اورېدلي: ((د چاچې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی.)) دا مهال دیارلس کسان پاڅېدل او لیېنه یې ورکړه، چې د الله تعالی له استازي یې اورېدلي: ((د چاچې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی؛ خدایه د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه او خدایه مرسته وکړې د هغه چې د علي مرسته کوي))

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۶۹ مخ) وایي: او له هغه ــ؛ یعنې له ریاح ــ روایت شوی چې ویلي یې دي: یوه ورځ علي په یوه ډله کې ناست و، چې یو سړی، چې معلومېده له سفره راغلی، وویل: السلام علیک یا مولای! علي وویل: څوک یې؟ و یې ویل: ابو ایوب انصاري یم. علي وویل: ځای ورکړئ. اصحابو ځای ورکړ او ابو ایوب کېناست او و یې ویل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: ((د چا چې زه مولا یم؛ علي یې مولا دی.)) محب طبري وایي : دا روایت بغوي په خپل معجم کې راوړی دی.

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۲۹ مخ) وایي: ابن السمان له حضرت عمر څخه روایت کړی، چې وایي: رسول الله وویل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی)) او په ۱۷۰ مخ کې یې له عمر څخه روایت کړی، چې وایي: علي د هغه مولا دی، چې رسول الله یې مولا و. بیا وایي: له سالم څخه روایت دی، چې یو سړي حضرت عمر ته وویل: ته ولې له علي سره داسې په درناوي چلن کوې، چې د الله تعالی د نبي له یوه صحابي سره یې نه کوې؟ ورته یې وویل: ځکه هغه مې مولا دی.

دا روایت ابن حجر هم د صواعق په ۲۶ مخ کې راوړی او ویلي یې دي، چې دارقطني هم نقل کړی دی.

(ابن حجر؛ صواعق محرقه: ۲۵ مخ) وايي: طبراني او نورو په خپل صحيح سند روايت کړی، چې د الله تعالی استازي په "خم غدير" کې تر ونو لاندې وويل: ((خلکو! پالونکي خبر کړی يم، چې پېغمبران د تېر پېغمبر په نيمه عمر کوي او ګواکې ما ته ژر بلنه راکړه شي او زه يې ومنم، زه مسئول يم او تاسې هم مسئول ياست او ټوو پوښتل کېږي؛ نو ستاسې نظر څه دی؟)) وويل شول: موږ ليېنه ورکوو، چې خپله دنده دې ښه او بشپړه تر سره کړه؛ خپل کوښښ دې وکړ او د ټولو ښېګڼه غواړی وې، الله تعالی دې خېر درکړي. رسول الله وويل: ((آيا شهادت نه ورکوئ، چې بې له خدايه بل معبود نشته، محمد د الله تعالی بنده او استازی يې دی، جنت يې حق، اور يې حق، تر مړينې روسته قيامت حق، قيامت راتلونکی او هېڅ شک پکې نشته، ټول خلک به د قيامت پر ورځ له قبرونو راپاڅي؟)) ټولو وويل: ولې نه! شهادت مو ورکاوه او ورکوو به يې. رسول الله مبارک وويل: ((خلکو! الله تعالی زما مولا او زه د مؤمنانو ولي يم او زه پر مؤمنانو پر هغوی وړ يم او د واک خاوند يې هم يم؛ نو د هر چا چې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی؛ خدايه د دوستانو يې دوست او د دښمنانو يې دښمن وسه. خلکو! زه درنه مخکې ځم، موږ او تاسې به د قيامت پر ورځ د حوض کوثر تر غاړې وينو، چې له بصرې تر صنعا (شام او يمن) پلن او پکې د اسمان د ستوريو هومره د نقرې جامونه دي او هلته مو چې سره وليدل؛ نو دوو څيزونو پوښتنه به درڅخه کوم؛ نو پام مو وسه، چې څرنګه چلن ورسره کوئ، چې "اکبر ثقل" يې د الله تعالی کتاب دی، چې له يوه اړخه د الله تعالی په لاس کې او له بل اړخه ستاسې په لاس کې دی؛ نو منګولې پرې ولګوئ، چې بې لارې نشئ او بل يې "عترت" او زما "اهلبيت" دي او ځيرن باخبر ښتن مې خبر راکړی، چې دوی به تر هغه يو له بله بېل نشي، چې د حوض کوثر تر غاړې درسره ووينې.))

(کنزالعمال: لومړی ټوک، ٤٨ مخ) په دې عبارت راوړی دی: ((داسې پېغمبر نه دی راغلی، چې د پخواني پېغمبر په نيمه به يې ژوند نه وي کړی او نږدې ده، چې ما ته هم بلنه راکړه شي او زه يې هم ومنم، ستاسې نظر څه دی او او زما په اړه څه وياست؟)) وويل شول: تا د ټولو ښېګڼه غوښته. رسول الله وويل: مګر داسې نه وه، چې شهادت مو ورکړی و، چې بې له خدايه بل الله تعالی نشته او محمديې بنده او استازی دی او شهادت مو ورکړی، چې جنت، دوزخ او له مړينې روسته ژوند حق دی؟)) ټولو وويل: ولې نه شهادت ورکوو. رسول الله وويل: ((زه هم درسره شهادت ورکوم؛ پوه شئ، چې زه به درنه مخکې حوض کوثر ته ولاړ شم او تاسې به هم راپسې راشئ، چې بر يې له صنعا (يمن) تر بصرا ( شام) پورې دی او د اسمان د ستوريو هومره جامونه پکې دي؛ نو ګورم، چې تر ما روسته له "ثقلين" سره څرنګه چلن کوئ؟)) وپوښتل شو: ثقلين څه دي؟ رسول الله وويل: ((يو يې د الله تعالی کتاب دی،

چې یو اړخ یې له الله تعالی او بل اړخ یې له تاسې سره دی؛ نو منګولې پرې ولګوئ، چې بې لارې نشئ او دویم یې عترت زما اهلبیت دي او ځیرن باخبر ښتن مې خبر راکړی، چې هغوی دوه یو له بله نه بېلېدونکي دي، چې د کوثر د حوض تر غاړې مې ووینې او ما لـه خدایه هغوی ته همداراز غوښتي؛ نو ترې مخکې نشئ، چې ورک به شئ او کوښښ مه کوئ، چې څه ورزده کړئ؛ ځکه هغوی تر ټولو پوه دي؛ نو د هر چاچې زه ولي او د واک خاوند وم؛ علي یې ولي او د واک خاوند دی؛ نو خدایه! د دوستانو یې دوست او دښمنانو یې دښمن وسه.))

متقي بیا وایي: دا روایت طبراني په کبیر کې له ابي الطفیل له حضرت زید بن ارقم او هیثمي هم په مجمع (نهم ټوک، ۱٦۳مخ) کې په لږ اختلاف له حضرت زید بن ارقم څخه په لږ اختلاف داسې نقل کړی: رسول الله په "جحفه" کې واړوله او بیا یې د الله تعالی تر ستاینې روسته خلکو ته وویل: ((داسې پېغمبر نه پېژنم، چې الخ بیا وایي: له دې هم په یوه لنډ روایت کې راغلي، چې د سپینو زرو د جامونو پر ځای په کې د سرو زرو جامونه راغلي دي، بیا وایي: روایت دی، چې کله د الله تعالی نبي له حجة الوداع راستون شو؛ نو په "خم غدیر" کې تم شو او حکم یې وکړ، چې تر ونو لاندې سیوری جارو کړئ او بیا پاڅېد او خلکو تـه یې وویل: ((ګواکې بلل شوی یم او ما هم و منله)) (او په پای کې وایي) ما یزید ته وویل: آیا دا حدیث دې په خپله له رسول الله اورېدلی دی؟ را ته یې وویل: تر هغو ونو لاندې به داسې څوک نه و، چې د الله تعالی د رسول غږ به یې په خپلو دوو غوږونو نه وي اورېدلی او په سترګو به یې نه وي لیدلای.

(کنزالعمال: لومړی ټوک، ٤۸ مخ) په دې عبارت راوړی: ((لطیف او خبیر ښتن خبر راکړی، چې پېغمبران د تېر پېغمبر د عمر په نیمایي ژوند کوي او نږدې ده، چې و بلل شم او زه هم بلنه ومنم او زه تاسې او خپل ځان مسئول ګنم؛ نو اوس مې د دندې په اړه څه ویاست؟)) وویل شول: شهادت ورکوو، چې خپل رسالت دې ښه ترسره کړ او کوښښ او جهاد دې وکړ او د ټولو ښېګڼه دې وغوښته. بیا رسول الله وویل: ((آیا شهادت ورکوئ، چې بې له خدایه بل الله تعالی نشته او محمد د الله تعالی بنده او استازی دی، جنت حق دی، اور حق دی، مرګ حق دی او تر مړینې روسته راژوندي کېدل حق دي، قیامت راتلونکی دی او اړنګ پکې نشته او الله تعالی به ټول خلک له قبرونو راژوندي کوي؟ خلکو! الله تعالی زما مولا او زه د ټولو مؤمنانو مولا یم او تر هغوی وړ او واک یې لرم؛ نو د چاچې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی؛ نو خدایه د دوستانو یې دوست او د ښمنانو یې دښمن و سه. خلکو زه درنه مخکې تلونکی یم او تاسې به راسره د هغه حوض تر غاړې وویئ، چې بر یې له بصرا

(شام) تر صنعا (یمن) پورې او د اسمان د ستوریو هومره د سپینو زرو جامونه پکې دي او هلته مو چې راسره ولیدل؛ نو زه به درنه د ثقلینو پوښتنه کوم؛ نو گورم، چې څرنگه چلن ورسره کوئ، چې یو یې "اکبر ثقل"؛ د الله تعالی کتاب دی، چې یو اړخ یې له الله تعالی سره او بل یې له تاسې سره دی؛ نو منگولې پرې ولگولئ، چې بېلارې نشئ او نور دربانديې واکمن نشي او بل یې زما عترت اهلبیت دي، چې لطیف او خبیر الله تعالی مې خبر راکړی، چې دوی به هېڅکله یو له بله بېل نشي، چې د حوض کوثر تر غاړې راسره وویني.))
بیا کنزالعمال وایي: دا روایت حکیم ترمذي په نوادر الاصول او طبراني په کبیر کې له ابي الطفیل له حذیفه بن اسید څخه نقل کړی دی.
لیکوال: دا روایت هیثمي په مجمع (نهم ټوک، ١٦٤ مخ) کې راوړی او په پیل کې یې ویلي دي: له حذیفه بن اسید څخه روایت دی، چې کله د الله تعالی نبي له حجة الوداع څخه راستون شو؛ نو خپل اصحاب یې له تلو وژغورل او بیا یې حکم وکړ، چې تر ونو لاندې سیوری له خاشاکو او خسو پاک کړئ او هلته یې لمونځ وکړ او بیا پاڅېد او خلکو ته یې وویل: ((لطیف او خبیر الله تعالی مې خبر کړی یم، چې (د حدیث تر پایه)
او بیا یې وویل: دا حدیث طبراني نقل کړی او کنزالعمال هم د دویم ځل لپاره د درېیم ټوک په ٦١ مخ کې نقل کړی او یې ویلي: له ابي الطفیل عامر بن واثله له حذیفه بن اسیدغفاري څخه د هیثمي په څېر حدیث نقل کړی دی.
همداراز ابن اثیر په اسدالغابه (درېیم ټوک، ٩٢ مخ) کې راوړی او ویلي یې دي: له ابي الطفیل عامر بن واثله له حذیفه بن اسید غفاري او عامر بن لیلي بن ضمرة روایت دی، چې ویلي یې دي: : رسول الله، چې له حجة الوداع راستون شو، د "خم غدیر" پر ورځ یې وویل: ایها الناس! لطیف او خبیر الله تعالی مې خبر راکړی. (د حدیث تر پایه)
همداراز ابن حجر په اصابة (څلورم ټوک، ٦١ مخ) کې په لنډه نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ١٥٣ مخ) وایي: ((علي بن ابیطالب د هغه مولا دی، چې زه یې مولا وم.))
دا روایت محمالي هم په امالي کې له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی دی.
لیکوال: دا روایت مناوي هم په فیض القدیر (څلورم ټوک، ٣٥٨ مخ) او کنوزالحقایق (٩٢ مخ) او علي بن سلطان هم د مرقات پینځم ټوک په ٥٦٨ مخ کې راوړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ١٥٤ مخ) په دې عبارت نقل کړی: ((یوه شئ! الله تعالی زما ولي او زه د هر ولي مؤمن یم او د چاچې ولي وم؛ نو علي یې مولا دی.)) بیا متقي وایي: دا روایت

ابونعیم د فضایل الصحابه په کتاب کې له حضرت زید بن ارقم له براء بن عازب څخه نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵٤ مخ) داسې عبارت راوړی دی: ((خدایه! د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی؛ خدایه د دوستانو يې دوست او د ښمنانو يې دښمن وسه او مرسته وکړې د هر هغه چاچې د علي مرسته کوي.)) متقي وايي: طبراني له حبشي بن جناده نقل کړی دی.
لیکوال: دا روایت هیثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۰٦ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: د "خم غدیر" پر ورځ مې د الله تعالی له رسوله واورېدل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی.)) (د حدیث تر پایه) هیثمي وايي: دا روایت طبراني نقل کړی او ټول رجال یې ډاډمن دي.
لیکوال: محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ۱٦۹ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: مخلص ذهبي نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵٤ مخ) داسې عبارت راوړی دی: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی، خدایه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.))
متقي وايي: دا روایت طبراني له ابي عمرو له ا بن ابي شیبه له حضرت ابي هریرة او د الله تعالی د رسول له دولس نورو اصحابو نقل کړی او احمد بن حنبل، طبراني، سعیدبن منصور له ابي ایوب او له نورو اصحابو کرامو نقل کړی، حاکم له حضرت علي او حضرت طلحه نقل کړی او احمد بن حنبل، طبراني، سعیدبن منصور له علي او ډېر شو نورو اصحابو نقل کړی او ابونعیم د فضائل الصحابه په کتاب کې له سعد او خطیب له انس څخه نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۰ مخ) وايي: له میمون بن عبدالله روایت دی: له زیدبن ارقم سره وو، چې یو سړي د علي په اړه پوښتنه وکړه. زید وویل: له رسول الله سره د مکې او مدینې تر منځ په سفر کې وو، چې په "خم غدیر" نومې ځای کې تم شو، بیا د جمې د لمانځه لپاره اذان وشو، خلک راټول شول او رسول الله د الله تعالی تر ستاینې روسته وویل: ((خلکو! آیا زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه یم او د واک خاوند يې نه یم؟)) وویل شول: هو همداسې ده او موږ شهادت ورکوو، چې ته د هر مؤمن واک او اختیار لرې او تر هغوی وړ یې . بیا رسول الله مبارک وویل: ((پوه شئ! د چاچې زه مولا وم دایې مو لا دی.)) دا مهال يې علي له لاسه ونیو او خلکو ته يې وښود.
بیا يې وویل: ((خدایه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.)) (بیا وايي: دا خبره د ابن جریر طبري ده)

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۷ مخ) له عبدالرحمان بن ابي ليلى روايت کړی، چې وايي: حضرت علي خطبه وويله او بيا يې خلکو ته وويل: ستاسې دې پر اسلام قسم وي او هغه کسان دې پاڅي، چې د "خم غدير" پر ورځ يې له رسول الله اورېدلي و ي: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی، خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه او مرسته وکړې د هغه چې د علي مرسته کوي او مرسته و نه کړې د هغه چې د علي له مرستې ځان ژغوري)) دا مهال لس او څو تنه نور پاڅېدل او شهادت يې ورکړ؛ خو هغوی چې پا نه څېدل او شهادت يې ور نه کړ؛ نو تر مړينې مخکې يا ړانده شول او يا د برگي پر ناروغۍ اخته شو. (خطيب ددې کسانو نوم ذکر راوړی دی)

(کنزالعمال: شپږ م ټوک، ۳۹۷ مخ) له حضرت علي روايتوي او وايي: رسول الله وويل: ((آيا پر مؤمنانو تر هغوی وړ نه يم؟))وويل شول: هو همداراز ده. بيا پاک نبي وويل: ((د چاچې زه ولي يم؛ هغه يې ولي دی)) (له ابن عاصم څخه روايت شوی دی))

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۸ مخ) له جابر بن سمرة روايتوي، چې ويلي يې دي: په "جحفه" کې په "خم غدير" کې وو، چې و موليدل رسول الله علي له لاسه نيولی، وايي: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی)) (روايت له ابن ابي شيبه شوی دی))

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۸ مخ) له حضرت جابر بن عبدالله روايتوي: په جحفه کې په "خم غدير" کې له رسول الله سره وو، چې د جهينيه، مزينة او د غفار د ټبر ډېر خلک راټول شوي وو، چې رسول الله مبارک له خپلې کېږدۍ راووت او په خپل لاس يې درې ځل اشاره وکړه او بيا يې علي له لاسه ونيو او و يې ويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) (بزار)

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۹ مخ) له جرير بجلي روايتوي او وايي: د حج په موسم کې له رسول الله سره وو، هغه د حجة الوداع سفر و، چې "خم غدير" ته راورسېدو، چې د جمې د لمانځه لپاره غږ وشو، ټول لمونځ ته راټول شول؛ مهاجر او انصار ټول سره راټول شوي ول، رسول الله زموږ د ټولو په منځ کې ولاړ و او و يې ويل: ((خلکو! پر څه شهادت ورکوئ؟)) وويل: پردې چې بې له خدايه بل الله تعالى معبود نشته!. بيا يې وپوښتل: ((نور پر څه شهادت ورکوئ)) وويل شول: داچې محمد د الله تعالى بنده او استازی دی!. بيا يې وپوښتل: ((ولي مو څوک دی؟)) وويل شول: الله تعالى او استازی يې! بيا يې وپوښتل: (ولي مو څوک دی؟)) او بيا يې دواړه لاسونه ښه وهل او علي يې له لاسونو ونيو او په جيگ غږ يې وويل: ((د چاچې الله تعالى او استازی يې مولا دی؛ نو دا يې هم مولا دی، خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.)) (د حديث تر پايه) (طبراني)

ليکوال: دا روايت متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱٥٤ مخ کې په لنډه او هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۰٦ مخ کې په لږ اختلاف نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۹ مخ) وايي: حضرت علي وايي: رسول الله په "خم غدير" کې تر ونې لاندې کېږدئ ووهله او بيا له کېږدئ راووت او علي يې له لاسه ونيو او و يې ويل: ((خلکو! آيا شهادت مو نه ورکاوه، چې پالونکی څښتن مو معبود دی؟)) وويل شول: هو شهادت ورکوو. بيا يې وپوښتل: ((آيا شهادت مو نه ورکاوه، چې ستاسې د واک خاوند الله تعالی او استازی يې دی؟ او داچې پيغمبر مو مولا دی؟)) وويل شول: هو شهادت ورکوو. بيا رسول الله وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی او په تاسې کې دوه گرانبيه څيزونه پرېږدم، چې که منگولې مو پرې ولگولې؛ نو هېڅکله به بېلارې نشئ؛ يو د الله تعالی کتاب دی، چې يو اړخ يې له الله تعالی او بل يې له تاسې سره دی او دويم يې زما اهلبيت دي.))

(ابن جرير، ابن ابي عاصم او محاملي په امالي کې راوړی او محاملي صحيح گڼلی دی)

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۳ مخ) له عمير بن سعد څخه روايت کړی، چې وايي: علي په رحبه (کوفه) کې خلکو ته چې زه هم پکې وم، قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په ״خم غدير״ کې يې د الله تعالی له استازي اورېدلي وي: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) بيا اتلس تنه پاڅېدل او شهادت يې ورکړ، چې دا خبره مو د الله تعالی له استازي اورېدلې ده. (طبراني په اوسط کې راوړی دی)

ليکوال: هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۸ مخ کې نقل کړی او ويلي يې دي، چې سند يې صحيح دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۳مخ) حضرت زيد بن ارقم: حضرت علي په کوفه کې خلکو ته قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په ״خم غدير״ کې يې د الله تعالی له استازی اورېدلی وي: ((ايا خبر نه ياست چې زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ او د واک خاوند يې يم او د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) بيا دولس تنو پر دې خبره شهادت ورکړ.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۳ مخ) ابي اسحاق له عمرو ذی مرو له سعيدبن وهب له زيد بن يثيع: وا مو ورېدل، چې علي په کوفه کې خلکو ته قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي، چې په ״خم غدير״ کې يې د الله تعالی له استازي اورېدلې وي: ((زه پر مؤمنانو تر هغوی وړ او د واک خاوند يې يم، د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی خدايه د

دوستانو يې دوست او دښمانو يې دښمن وسه او مرسته د هغه و نه کړې، چې د علي مرسته نه کوي)) بيا ديارلس تنو شهادت ورکړ، چې دا خبره يې د الله تعالی له استازي اورېدلې ده.
(ابن بزار، ابن جرير او خلعي په خلعيات کې راوړی او هيثمي وايي: ددې حديث ټول رجال ډاډمن دي)
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٥ مخ) سعد: د الله تعالی له استازي مې د علي درې ځانګړنې واورېدې، چې که يوه يې هم زما وه؛ نو په دنيا کې به تر هر څه راته ښه وه؛ لومړی: رسول الله علي ته وويل: ((داسې راته يې؛ لکه هارون، چې موسی ته و؛ خو بې له پېغمبری)) دويم: ورته يې وويل: ((سبا به د د جګړې د مشری بېرغ هغه ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی يې پرې ګران دی او هغه هم پر الله تعالی او استازي يې ګران دی؛ هغه چې هېڅکله له جګړې نه تښتي.)) درېيم: ((د چا چې زه مولا يم؛ علي يې ولي دی.)) (متقي وايي: دا روايت ابن جرير طبري نقل کړی دی)
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٦مخ) علي وايي: د "خم غدير" پر ورځ يې رسول الله له لاسه ونيو او خلکو ته يې وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) (د حديث تر پايه) بيا وايي: (راهويه او اين جرير نقل کړی دی)
(اصابه: لومړی ټوک، لومړی قسم، ۳۱۹ مخ) وايي: ابن عقده د موالات په کتاب کې له حبة بن جوين روايتوي، چې وايي: د "خم غدير" ورځ وه، چې رسول الله حکم وکړ: جارچييان دې غږ کړي (الصلاة جامعة) ابن جوين تر هغه حديث روسته د (من کنت مولاه فعلی مولاه) روايت داسې نقلوي، چې د علي لاس يې پورته او دومره يې پورته کړ، چې ما يې تخرګونه وليدل او زه پر هغه ورځ مشرک وم.
ليکوال: دا روايت ابن اثير جرزي هم په اسدالغابه (لومړي ټوک، ۳٦۷ مخ) کې راوړی او ويلي يې دي: له يعقوب بن يوسف (تردې چې وايي) له حبة بن جوين عرني بجلي روايت شوی، چې و يې ويل: د "خم غدير" پر ورځ د الله تعالی رسول د جماعت د لمانځه حکم وکړ او دا وخت لا نيمه ورځ تېره شوې وه. د الله تعالی تر ستاينې روسته يې وويل: ((خلکو! خبر ياست، تر تاسې ډېر زه ستاسې واک لرم؟)) خلکو وويل: هو خبر يو. بيا رسول الله وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی، خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.)) او بيا يې د علي لاس دومره پورته کړ، چې ما يې تخرګونه وليدل او زه پر دې ورځ مشرک وم.
(اصابه: درېيم ټوک، لومړی قسم، ۲۹ مخ) ابن عقده د موالات په کتاب کې د عمرو بن يعلي مره له لارې له پلار له نيکه روايت کړی، چې ويلي يې دي: علي، چې کوفې ته راغی؛ نو

خلکو ته يې قسم ورکړ، هغه کسان دې له خپل ځايه پاځي، چې په "خم غدير" کې يې د الله تعالی له نبي اورېدلي وي: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) بيا لس او يو څو نور کسان پاځېدل او شهادت يې ورکړ، چې پکې زيد که يزيد بن شراجيل انصاري هم پاځېد او شهادت يې ورکړ.

ليکوال: دا روايت ابن اثير جرزي هم د اسد الغابه د پينځم ټوک په شپږم مخ کې راوړی او ويلي يې دي: ابوموسی را ته خبر راکړی (همداراز يې راويان شمېرلي، چې رارسېدلی) ابوالعباس ابن عقده (تردې چې وايي) له عمرو بن عبدالله بن مره له پلار له نيکه روايت دی، چې وايي: د الله تعالی له رسول مې واورېدل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی. خدايه د دوستانو يې دوست او د دښمانو يې دښمن وسه)) او بيا چې کله علي کوفې ته راغی؛ نو خلکو ته يې قسم ورکړ، چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاځي، چې په "خم غدير" کې يې له رسول الله اورېدلي وي: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) بيا لس او يو څو نور تنه پاځېدل او شهادت يې ورکړ، چې پکې د الله تعالی د استازي صحابي ابو ايوب ( هغه چې په مدينه کې يې رسول الله ته په خپل کور کې ځای ورکړ) او بل ناجية بن عمرو خزاعي هم و. (د جرزي د وينا له مخې) چې د اسدالغابه دويم ټوک همدا روايت نقل کړی دی.

(اصابه: څلورم ټوک، لومړی برخه ۱٦۹ مخ) وايي: ابن عقده هم _ د عمرو بن عبدالله بن يعلي بن مره له پلار له نيکه څخه _ روايت کړی، چې وايي: چې کله علي کوفې ته راغی؛ نو خلکو ته يې قسم ورکړ، چې اولس تنو شهادت ورکړ، چې حضرت عامربن ليلي غفاري هم پکې و.

ليکوال: دا روايت يې د شپږم ټوک په ۲۲۳ مخ کې هم نقل کړی او ا بن اثير جرزي د اسدالغابه د دربيم ټوک په ۹۳ مخ کې راوړی او بيا وايي: د (من کنت مولاه فعلی مولاه) تر غونډلې روسته يې ويلي وو: ((د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.))

(اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ١٤ مخ) وايي: ابن عقده د موالات په کتاب کې د موسی بن اکتل بن عمير نميري له لارې روايتوي، چې وايي: تره مې عامر بن عمير مورږ ته د "خم غدير" حديث نقل کړی دی.

(اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ١٤٣ مخ) وايي: ابوالعباس بن عقده د ((جمع طرق)) په کتاب کې د (من کنت مولاه فعلی مولاه) حديث د ابراهيم بن محمد، چې زما په آند ابن ابي يحيی په سند دی، له جعفر بن محمد له پلاره او ايمن بن عبدالله بن يا ليل څخه نقل کړی،

چې وايي: د الله تعالی له رسول مې واورېدل، چې ويل يې: د چا چې زه مولا وم الخ او بيا يې وويل: دا روايت ابوموسی استدراک کړی دی.
ليکوال: ابن اثير د اسدالغابه د درېيم ټوک په ۲۷٤ مخ کې ويلي: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی .))
(اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ۱٦۹ مخ) وايي: ابن عقده د موالات په کتاب کې د (من کنت مولاه فعلی مولاه) په راويانو کې د حضرت عبدالرحمن بن عبدرب انصاري نوم هم راوړی او بيا يې حديث د حضرت اصبغ بن نباته له لارې داسې نقل کړی دی: علي، چې په رحبه کې خلکو ته قسم ورکړ، چې يوازې هغه کسان دې پاڅي، چې پخپله يې د "خم غدير" پر ورځ د رسول الله وينا اورېدلي وي، چې لس او يو څو نور تنه پاڅېدل، چې پکې ابو ايوب، ابو زينب او عبدالرحمن بن عبدرب انصاري (رضی الله عنهم) هم وو او و يې ويل: شهادت ورکوو، چې رسول الله د "خم غدير" پر ورځ وويل: ((الله تعالی زما ولي دی، زه د مؤمنانو ولي يم او د هر چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې ولي دی.))
ليکوال: دا روايت يې د اووم ټوک د لومړي قسم په ۷۸ مخ کې هم راوړی او پکې راغلي: شهادت ورکوو، چې د "خم غدير" پر ورځ حال دا، رسول الله علي له لاسه نيولی و، وويل: ((شهادت نه ورکوئ، چې ما د الله تعالی رسالت تر سره کړ؟)) وويل شول: هو شهادت ورکوو. رسول الله وويل: ((د چاچې زه مولا وم؛ علي يې مولا دی.))
دا روايت ابن اثير جرزي د اسدالغابه د پينځم ټوک په ۲۰۵ مخ کې راوړی او دا زياتوالی هم پکې راغلی: ((خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه او مرسته وکړې د هغه چې د علي مرسته کوي او مرسته و نه کړې د هغه چې د علي مرسته نه کوي.)) دا روايت طحاوي هم د مشکل الاثار د دويم ټوک په ۳۰۷ مخ کې او د (و انصر من نصره و اخذل من خذله) غونډله يې هم راوړې ده.
(اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ۱۲۸ مخ) له ا بو العباس بن عقده (د موالات د کتاب خاوند)څخه روايتوي: سعد بن طالب ابو غيلان راته وويل: ابواسحاق را ته وويل: يوې ډلې، چې نومونه يې نشم اخستی راته روايت کړی، چې حضرت علي په رحبه کې خلکو ته قسم ورکړ، چې هغوی دې له خپل ځايه پاڅي، چې په "خم غدير" کې يې له رسول الله اورېدلي: ((د چاچې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی.)) چې يوه ډله پاڅېده او شهادت يې ورکړ، چې حضرت عبدالرحمن بن مدلج هم پکې و.
همدا مانا ابن شاهين له ابن عقده نقل او ابو موسی استدراک کړی دی.

ليکوال: ابن اثير جرزي هم د اسدالغابه د درېيم ټوک په ۳۲۱ مخ کې راوړی، چې پکې راغلي: شهادت يې ورکړ، چې دا خبره يې د الله تعالی له نبي اورېدلې او هغوی چې پردې شهادت پرده واچوله او شهادت يې ور نه کړ؛ نو تر مړينې مخکې ړانده شول او يا په کوم آفت ککړ شول.
(اصابه: اووم ټوک، لومړی قسم، ۱۵٦ مخ) وايي: ابوالعباس بن عقده د موالاة په کتاب کې د ابا قدامه انصاري نوم اخستی ـ ابوالعباس په خپل کې د غدير د حديث د نقلولو لارې شمېرلې دي ـ اود محمد کثير له فطر له ابي الطفيل له لارې روايت کړی چې وايي: موږ له علي سره وو چې خلکو ته يې قسم ورکړ چې هغوی دې پاڅي چې د ''خم غدير'' په کيسه کې وو چې اتلس کسان پاڅېدل او شهادت يې ورکړ چې په کې ابو قدامه انصاري هم و.
بيا اصابه وايي: دا روايت ابو موسی استدراک کړی دی.
ليکوال: ابن اثير جرزي هم د اسدالغابه د پينځم ټوک په ۲۷٦ مخ کې راوړی او د سند تر راوړو روسته يې ويلي دي: ابي الطفيل: موږ له علي سره وو چې خلکو ته يې قسم ورکړ چې هغه کسان دې له خپل ځايه پاڅي چې د ''خم غدير'' په پېښه کې وو چې بيا اوولس کسان پاڅېدل ابوقدامه انصاري هم پکې و، شهادت يې ورکړ، چې له رسول الله سره له حجة الوداع څخه راستنېده او ماسپيښين و، چې رسول الله مو وليد او حکم يې وکړ، چې د ونو ښاخونه سره وتړئ او بيا يې پرې ځادرونه هوار کړل او بيا جارچيانو د لمانځه غږ کړ، ټولو لمونځ وکړ او بيا رسول الله د الله تعالی تر ستاينې روسته وويل: ((خلکو! خبر ياست، چې الله تعالی زما مولا او زه د مؤمنانو مولا يم او پر مؤمنانو تر هغوی وړ او واک يې زما په لاس کې دی؟)) (دا خبره يې څو ځلې وکړه او هر ځل ورته خلکو) وويل: هو خبر يو.
بيا حال دا، ستا لاسونه يې په خپلو لاسونو کې وو، وويل: ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی، خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه .)) او دا دعا يې درې ځلې وکړه.
(اسدالغابه: لومړی ټوک، ۳۰۸ مخ) وايي: ابو احمد عسکري په خپل سند له عمارة بن يزيد له عبدالله بن علاء له زهري (تردې چې وايي) څخه روايت کړی، چې وايي: له اباجنيدة جندع بن عمرو بن مازن څخه مې واورېدل، چې د الله تعالی له استازي يې اورېدلي دي: ((کور دې د هغه وسوځي، چې په لوی لاس په ما پورې دروغ تړي.)) او همداراز مې تر ې واورېدل: ـ او که داسې نه وي؛ نو الله تعالی دې زما دواړه غوږونه کاڼه کړي ـ له حجة الوداع څخه د راستنېدو پر مهال، چې په ''خم غدير'' کې يې خطبه وويله او حال دا، علي يې له لاسه نيولی و، وويل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو دا يې ولي دی، خدايه! د دوستانو يې

دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.)) عبدالله وايي: ما زهري ته وويل: دا حديث په شام کې چا ته مه وايه؛ ځکه هلته د اوبو څښکلو په څېر علي ته کنځلې کوي. په ځواب کې يې راته وويل: پر الله تعالى، چې د علي په فضيلت کې دومره حديثونه لرم، چېکه مې وويل؛ نو و به مې وژني.

(اسدالغابه: دريم ټوک، ۳۰۷ مخ) په خپل سند له اصبغ بن نباته روايتوي، چې وايي: علي په کوفه کې خلکو ته قسم ورکړ، چې په تاسې کې دې يوازې هغه کسان له خپل ځايه پاڅي، چې په "خم غدير" کې يې په خپله له رسول الله اورېدلي وي: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی.)) بيا لس او يو څو نور تنه، چې پکې ابوايوب انصاري، ابوعمرة بن محصن، ابوزينب، سهل بن حنيف، خزيمه بن ثابت، عبدالله بن ثابت انصاري، حبشي- بن جناده سلولی، عبيده بن عازب انصاري، نعمان بن عجلان انصاري، ثابت بن وديعه انصاري، ابوفضاله انصاري او عبدالرحمن بن عبدرب (رضی الله عنهم) پاڅېدل او شهادت يې ورکړ، چې موږ د الله تعالى له استازي واورېدل، چې ويل يې: ((عزوجل څښتن زما ولي او زه د مؤمنانو ولي يم او پوه شئ! زه چې د هر چا ولي وم؛ نو علي يې مولا دی؛ نو خدايه! د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه او د هغه ملاتړ شې، چې د علي ملاتړ وي.))

(ابن قتيبة؛ الامامه و السياسه: ۹۳ مخ) له همدان څخه د برد په نامه يو سړی معاويه بن ابوسفيان ته راغی او وا يې ورېدل، چې (عمرو) حضرت علي ته کنځلې کوي، چې ورته يې وويل: زما سپين ږيرو د الله تعالى له استازي اورېدلي چې ((د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی.)) نو آيا دا حديث صحيح دی که باطل؟ عمرو وويل: حق دی او زه به تردې درته ډېر ووايم او هغه داچې د رسول الله په اصحابو کې د حضرت علي هومره يو هم فضيلت نه لري.

(طحاوي؛ مشکل ا لاثار: دويم ټوک، ۳۰۷ مخ) په خپل سند له محمد بن عمر بن علي له پلار حضرت علي روايتوي، چې وايي: رسول الله په "خم غدير" کې له خپلې کېږدۍ راووت او زه يې له لاسه ونيوم او و يې ويل: ((خلکو! آيا تاسې نه وئ، چې ويل مو چې پالونکی مو الله دی؟)) وويل شول: هو موږ وو. رسول الله: ((آيا هغه خلک نه وئ، چې ويل به مو چې واک مو د الله تعالى او د الله تعالى د استازي په لاس کې دی او دا چې الله تعالى او استازی يې ستاسې مولا دی؟)) خلکو وويل: هو همداراز ده. رسول الله: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی او زه په تاسې کې دوه گرانبيه څيزونه پرېږدم؛ که منگولې مو پرې ولگولې؛ نو تر ما روسته به هېڅکله بې لارې نشئ، چې يو يې د الله تعالى کتاب او بل يې زما اهلبيت دي.))

(مناوي؛ فيض القدير: شپږم ټوک، ۲۱۸ مخ) د غدير حديث يې له ديلمي په دې ټکيو راوړی: (د چاچې زه پیغمبر وم؛ نو علي يې ولي دی) او وايي: نو ځکه حضرت ابابکر ـ د دارقطني د وينا له مخې ـ وويل: علي د رسول الله عترت دی.
ليکوال: دا روايت مناوي هم د کنوزالحقايق په ١٤٧ مخ کې په دې عبارت راوړی: (د چاچې زه ولي وم؛ نو علي يې ولي دی.) او په پای کې وايي: ديلمي ويلي دي.
(هيثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۱۷ مخ) حضرت عمار ياسر: حضرت علي بن ابيطالب د مستحب لمانځه پر رکوع و، چې سوالگر يې مخې ته ودرېد او حضرت علي خپله په لاس گوته سوالگر ته ورکړه. رسول الله چې راغی؛ نو سوالگر ورته کيسه وکړه، چې بيا دا آيت راغی: (انما وليکم الله و رسوله والذين آمنوا الذين يقيمون الصلاة و يوتون الزکاة و هم راکعون) رسول الله آيت ووايه او بيا يې وويل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي يې مولا دی. خدايه! د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.)) (طبراني)
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰۵ مخ) حضرت زيد بن ارقم: د الله تعالی نبي حکم وکړ، چې تر ونو لاندې ځای جارو او ابپاشي کړئ او بيا يې موږ ته خطبه وويله او په الله تعالی قسم، چې تر قيامته پورې د هر څه ورڅندوينه يې راته وکړه او بيا يې وويل: ((خلکو! څوک دی، چې ستاسې واک يې په لاس کې دی؟)) خلکو وويل: الله تعالی او استازی يې! رسول الله: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو دا يې مولا دی.)) او بيا يې علي له لاسه ونيو او ټولو ته يې وښود او بيا يې وويل: ((خدايه! د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه!)) (وايي) دا روايت طبراني او بزار تر دې هم بشپړ نقل کړی دی.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰۵ مخ) وايي: له داود بن يزيد اودي له پلاره روايت کړی، چې وايي: حضرت ابوهريرة، چې جومات ته راننووت؛ نو خلک ترې راتاو شول، چې دا مهال يو ځوان پاڅېداو و يې ويل: پر الله تعالی مو قسم، چې آيا د الله تعالی له رسوله دې اورېدلي چې: ((د چا چې زه مولا يم؛ علي يې مولا دی. خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.))؟ حضرت ابوهريره وويل: شهادت ورکوم، چې د الله تعالی له استازي مې اورېدلي: ((د چا چې زه مولا يم؛ علي يې مولا دی. خدايه د دوستانو يې دوست او دښمنانو يې دښمن وسه.)) (وايي): دا روايت ابويعلي او ورته يو بل روايت بزار او طبراني په اوسط کې نقل کړی دی.
هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ١٠٦ مخ کې وايي: حضرت انس بن حويرث وايي: رسول الله وايي: ((د چا چې زه مولا يم؛ علي يې مولا دی.)) (وايي): دا روايت طبراني نقل کړی او رجال يې ډاډمن دي.

(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰۷ مخ) حمید بن عمارة: له خپل پلاره مې واورېدل، چې ویل یې: د الله تعالی له استازي مې اورېدلي: ((د چا چې زه مولا یم؛ علي یې مولا دی. خدایه د دوستانو یې دوست او دښمنانو یې دښمن وسه.)) (دا خبره یې په داسې حال کوله، چې علي یې له لاسه نیولی و. (بزار)
(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰۸ مخ) حضرت ابن عباس: د الله تعالی رسول وویل: ((د چا چې زه مولا یم؛ علي یې مولا دی.)) (طبراني)

## د یارانو مبارکي

(د امام احمد بن حنبل مسند: څلورم ټوک، ۲۸۱ مخ) په خپل سند له حضرت براء بن عازب څخه روایتوي، چې وایي: په یوه سفر کې له رسول الله سره وو، چې په "خم غدیر" کې تم شو (حدیث ته هماغسې ادامه ورکوي؛ لکه څنګه چې په صحیح ابن ماجه کې راغلی) بیا یې علي له لاسه ونیو او رسول الله وویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی، خدایه د دښمنانو یې دښمن او د دوستانو یې دوست وسه.)) حضرت براء بن عازب وایي: حضرت عمر، چې حضرت علي ولید؛ نو ورته یې وویل: د ابوطالب زویه مبارک دې شه، چې د تل لپاره د مؤمن او مؤمنې مولا شوې.
(فخر رازي په کبیر تفسیر کې) د مائدې د سورت د (یا ایها الرسول بلغ ما انزل الیک من ربک) آیت په تفسیر کې وایي: ددې آیت لسمه وجه او شان نزول دادی، چې د علي په فضیلت کې نازل شوی او تر نازلېدو روسته یې د الله تعالی نبي د علي لاس ونیو او و یې ویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی، خدایه د دښمنانو یې دښمن او د دوستانو یې دوست وسه.)) چې بیا عمر راغی او علي ته یې وویل: مبارک دې شه، چې د تل لپاره د هر مؤمن او مؤمنې ولي شوې.
(خطیب بغدادي؛ د بغداد تاریخ: شپږم ټوک، ۲۹۰ مخ) په خپل سند له حضرت ا بوهریره روایتوي، چې وایي: څوک چې د ذي الحجه په اتلسمه روژه شي؛ نو د شپږ میا شتو د روژو ثواب به ورته لیکل کېږي؛ ځکه د "خم غدیر" ورځ ده، چې پر هغه ورځ رسول الله علي له لاسه ونیو او و یې ویل: ((آیا د مؤمنانواو تر هغوی وړ نه یم؟)) وویل شول: هو یې! بیا یې وویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی.)) تر دې روسته حضرت عمر بن خطاب راغی او و یې ویل: بخ بخ لک یابن ابیطالب چې د تل لپاره زما او د هر مسلمان مولا شوې. بیا الله تعالی دا آیت راولېږه: (الیوم اکملت لکم دینکم)

(فیض القدیر: شپږم ټوک، ۲۱۷ مخ) په شرح کې یې وایي: چې کله حضرت ا بوبکر او حضرت عمر د رسول الله له خولې واورېدل، چې علي ته وايي: من کنت مولاه فعلي مولاه)؛ نو راغلل او علي ته یې وویل: د ابوطالب زویه! د تل لپاره د هر مؤمن او مؤمنې ولي شوې.
لیکوال: دا روایت ابن حجر هم د صواعق په ۲٦ مخ کې راوړی او هغه روایت دی، چې په اصل کې دارقطني له سعد بن ابي وقاص نقل کړی دی.
( محب طبري؛ ذخائر العقبی: ٦٨ مخ) وایي: عمر وایي: یو څو بیدیاني عربان په جنګ ورته راغلل، چې حضرت عمر، حضرت علي ته وویل: اباالحسنه! په دوی کې ورمندون-قضاوت وکړه. علي هم په هغوی دوو کې ورمندون وکړ. په هغوی کې یو نیوکه وکړه او و یې ویل: دا به په موږ کې ورمندون کوي. حضرت عمر له ځایه پاڅېد او هغه یې له ګرېوانه راونیو او ورته یې وویل: هغه پېژنې، چې څوک دی؟ دا زما او د هر مؤمن مولا دی او د چا چې هغه مولا نه وي؛ نو مؤمن نه دی. وایي: دا روایت ابن سلمان په موافقات کې راوړی دی.
لیکوال: دا روایت ابن حجر هم د صواعق په ۱۰۷ مخ کې له دارقطني روایت کړی دی.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۰ مخ) وایي: حضرت عمر (هغه سړي ته چې شخړه یې ورسره راغلې وه) وویل: په موږ کې به هغه سړی ـ علي ته یې اشاره وکړه ـ ورمندون کوي. سړي وویل: هغه سړی به په موږ کې ورمندون کوي؟! حضرت عمر له ځایه ورپاڅېد او له ګرېوانه یې راونیو او ورته یې وویل: خبریې، چې څوک بیې؟ دا زما او د هر مسلمان مولا دی. وایي: ابن سمان نقل کړی دی.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۰ مخ) سالم وایي: یو سړي حضرت عمر ته وویل: ته له علي سره داسې په درناوي چلن کوې، چې د رسول الله له یو صحابي سره یې هم نه کوې. عمر وویل: ځکه هغه زما مولا دی.
لیکوال: دا روایت ابن حجر هم د صواعق په ۲٦ مخ کې نقل کړی دی.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۰ مخ) حضرت عمر: علي د هغه مولا دی، چې رسول الله یې مولا و. (ابن السمان)

## د "خم غدير" پر ورځ

## رسول الله د علي پر سر پګړۍ کېښووه

(ابي داوود طيالسي؛ مسند: لومړی ټوک، ۲۳ مخ) په خپل سند د حضرت علي له خولې وايي: د "خم غدير" پر ورځ رسول الله راته پګړۍ پر سر کړه، چې شا ته راځنګېده (بيا وايي): الله تعالی د بدر او حنين پر ورځ په هغه پرښتې زما مرسته وکړه، چې د "خم غدير" د پګړۍ په څېر پګړۍ يې درلوده.
دا روايت بيهقي هم د سنن په ۱٤ مخ کې او بن حجر د اصابه د څلورم ټوک، لومړي قسم په ٤۱ مخ کې راوړی، چې پکې راغلي: توره پګړۍ وه پر وليو مې راځنګېده. بيا وايي: دا بغوي روايت کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٦۰ مخ) علي وايي: رسول الله راته د "خم غدير" پر ورځ پر سر پګړۍ کېښووه، چې شا ته هم ځنګېده؛ (وايي چې په يو بل نقل کې راغلي) پر دواړو وليو مې راوځنګېده او بيا يې وويل: د بدراو حنين پر ورځ مې الله تعالی په هغو پرښتو مرسته وکړه، چې زما د "خم غدير" د ورځې پګړۍ يې پر سر وې او بيا وايي: پګړۍ د کفر او ايمان ترمنځ واټن ده (په بل نقل کې راغلي) د مسلمان او کافر ترمنځ واټن ده (د حديث تر پايه) بيا وايي: دا روايت ابن ابي شيبه، ابو داوود طيالسي، ابن منيع او بيهقي نقل کړی دی.
(ابن اثير جرزي؛ اسد الغابه: درېيم ټوک، ۱۱٤مخ) په خپل سند له عبدالاعلی ا بن عدی روايتوي، چې وايي: د "خم غدير" پر ورځ رسول الله علي راوغوښت او پر سر يې ورته پګړۍ کېښووه او پر شا يې هم راوځنګېده او بيا يې وويل: تل داسې پګړۍ تړئ، چې پګړۍ د اسلام ښکارندوی ده او د مسلمان او کافر ترمنځ بريد دی.
ليکوال: دا روايت محب طبري هم د رياض النضره د دويم ټوک په۲۱۷ مخ کې راوړی دی.

## د ( يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليک من ربک ) آيت د "خم غدير" پر ورځ راغلی دی

(واحدي؛ اسباب النزول: ۱٥۰ مخ) وايي: ابو سعيد بن محمد بن علي صفار وويل چې حسن بن احمد مخلدي وويل: موږ ته محمد بن حمدون بن خالد وويل: موږ ته محمد بن ا براهيم خلوتي وويل: ما ته حسن بن حماد بن سجاده وويل: علي بن عابس له اعمش له ابي حجاب

له عطیه له ابي سعید خدري روایت کړی، چې د (یا ایهاالرسول بلغ ما انزل الیک من ر بک) آیت د "خم غدیر" پر ورځ د علي بن ابیطالب رضی الله عنه په اړه نازل شوی دی.
(فخر رازي په کبیر تفسیر کې) د مائدې د سورت د (یا ایها الرسول بلغ ما انزل الیک من ربک) د آیت په تفسیر کې وایي: لسم ـ؛ یعنې له هغو وجهو لسم، چې مفسرین یې ددې آیت د نزول په اړه بیانوي ـ دادی، چې د علي بي ابیطالب په فضیلت کې راغلی دی او همداچې نازل شو؛ نو رسول الله هغه له لاسه ونیو او و یې ویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی، خدایه د دوستانو یې دوست او دښمنانو یې دښمن وسه.)) او تر دې روسته، چې حضرت عمر، حضرت علي ولید؛ نو ورته یې وویل: د ابوطالب زویه! مبارک دې شه، چې زما او د هر مؤمن او مؤمنې ولي شوې. (فخر رازي وایي) دا خبره د حضرت ابن عباس، براء بن عازب او محمد بن علي ده.

## د (الیوم اکملت لکم دینکم) آیت د "خم غدیر" پر ورځ نازل شوی دی

سیوطي په درالمنثور کې د مائدې د سورت د (الیوم اکملت لکم دینکم) تر آیت لاندې لیکي: ابن مردویه او ابن عساکر دواړو له ابي سعید خدري نقل کړی، چې ویلي یې دي: چې کله رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم علي نصب کړ او د ولایت نعره یې ووهله؛ نو جبراییل راغی او د (الیوم اکملت لکم دینکم) آیت یې راوړ.
سیوطي په درالمنثور کې د مائدې د سورت د (الیوم اکملت لکم دینکم) تر آیت لاندې لیکي: ابن مردویه، خطیب او ابن عساکر له حضرت ابي هریره روایت کړی، چې د "خم غدیر" ورځ؛ یعنې د ذي الحجې اتلسم شو؛ نو پاک نبي وویل: ((د چا چې زه مولا یم؛ نو علي یې مولا دی.)) بیا الله تعالی دا آیت راولېږه: (الیوم اکملت لکم دینکم)
(خطیب بغدادي؛ د بغداد تاریخ: شپږم ټوک، ۲۹۰ مخ) په خپل سند له حضرت ابي هریره کړی، چې وایي: څوک چې د ذي الحجې په اتلسم روژه شي؛ نو د شپېتو روژو ثواب ورته لیکل کېږي، چې دا ورځ د "خم غدیر" ورځ ده، چې پر هغه ورځ رسول الله، علي له لاسه ونیو او و یې ویل: ((آیا زه د مؤمنینو مولا نه وم؟)) وویل شول: هو تاسې د مؤمنانو ولي یاست! بیا یې وویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ نو علي یې ولي دی.)) بیا حضرت عمر بن خطاب وویل: بخ بخ لک یابن ابیطالب! مبارک دې شه چې زما او د هر مسلمان مولا شوې.

بیا سبحان څښتن د (الیوم اکملت دینکم) آیت راولېږه. (د حدیث تر پایه) او دې حدیث ته ورته یو بل روایت هم خطیب له بلې لارې نقل کړی دی.

## حارث بن نعمان پر الهي عذاب ککړ شو؛ ځکه د "خم غدیر" پر ورځ یې د الله تعالی د رسول پر کار خوښ نه شو

( شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۱ مخ) وایي: امام ابواسحاق ثعلبي په خپل تفسیر کې نقل کړی، چې یو سړي له سفیان بن عینیه وپوښتل: د (سئل سائل بعذاب واقع) آیت د چا په اړه راغلی دی؟ سفیان وویل: له ما دې داسې څه وپوښتل، چې تر اوسه لا چا نه وه پوښتلې پلار مې له جعفر بن محمد له خپلو پلرونو نقل کړي، چې د "خم غدیر" ورځ شوه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم جارچیانو ته حکم وکړ، چې د لمانځع غبر وکړئ او چې ټول راټول شول؛ نو رسول الله علي له لاسه ونیو او و یې ویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې ولي دی.)) چې دا خبره په چټکه په ټولو ښارونو کې خپره شوه او حارث بن نعمان هم ترې خبر شو، پر اوښ سپور د الله تعالی رسول ته راغی له اوښه راکوز شو او و یې ویل: محمده! د الله تعالی له اړخه دې حکم راکړ، چې شهادت ورکړو، چې بې له خدایه بل الله تعالی نشته او داچې ته پېغمبر یې؛ موږ هم درسره ومنله. حکم دې وکړ، چې پینځه وخ ته لمونځ وکړو؛ و مو منله. حکم دې وکړ، چې زکات ورکړئ؛ و مو منله. حکم دې وکړ، چې د رمضان په میاشت کې روژه ونیسئ؛ و مو نیوله. حکم دې وکړ چې حج وکړ؛ و مو کړ؛ خو ته په دې ټولو راضي نه شوې او د خپل د تره زوی لاس دې پورته کړ، چې هغه تر موږ غوره کړی او بیا دې وویل: ((د چا چې زه مولا وم؛ علي یې مولا دی.))؛ نو آیا دا خبره د الله تعالی ده او که له ځانه دې کړی ده؟ د الله تعالی نبي وویل: قسم پر الله تعالی چې بې له هغه بل الله تعالی نشته، چې دا خبره بې له خدایه د بل چا خبره نده. دا مهال حارث شا کړه، چې ستون شي او و یې ویل: خدایه! که محمد رښتیا وایي؛ نو پر ما کاڼي راووروه او یا مې پر سخت عذاب ککړ کړه. تر اوسه لا پر خپل اوښ نه و سپور شوی، چې له اسمانه پرې تېږه راگوزاره شوه او ځای پر ځای یې مړ کړ او ورپسې سملاسي دا آیت راغی: (سئل سائل بعذاب واقع للکافرین لیس له دافع من الله ذی المعارج)
لیکوال: دا روایت مناوي هم د فیض القدیر د شپږم ټوک په ۲۱۷ مخ کې نقل کړی؛ خو د هغه په نقل کې سفیان د جعفر بن محمد نوم نه دی راوړی.

## رسول الله (ص): تر ما روسته علي ولي دی

دا حدیث د صحیح ترمذي په دویم ټوک، ۵۸ باب، ۲۹۷مخ؛ احمد بن حنبل د مسند د
څلورم ټوک په ۴۳۷ مخ؛ حاکم د مستدرک د دریم ټوک په ۱۱۰ مخ؛ ابوداوود طیالسي-د
مسند د دریم ټوک په ۱۱۱ مخ؛ ابونعیم د د حلیة د شپږم ټوک په۲۹٤ مخ؛ متقي د کنزالعمال
د شپږم ټوک په ۳۹۹ مخ او نسائي د خصایص په ۲۳ مخ کې او نورو ډېرو د یمن د جګړې
په کیسه کې نقل کړی دی.
(ابوداود طیالسي؛ مسند: ۱۱ټوک، ۳٦۰ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس څخه
روایتوي، چې پاک نبي علي ته وویل: ((ته تر ما روسته د هر مؤمن ولي یې.))
(اسدالغابه: پینځم ټوک، ۹٤ مخ) د وهب بن حمزه په ژباړه کې وایي: د هغه حدیث یوسف
بن صهیب له رکین بن وهب بن حمزه داسې نقل کړی دی: له مدینې تر مکې له علي سره په
سفر کې وم، چې په لار کې مې ترې یوه مکروه ولیده او ورته مې وویل: رسول الله مې چې
ولید؛ نو خبره به دې ورته وکړم او چې رسول الله مې ولید؛ نو کیسه مې ورته وکړه، چې راته
یې وویل: ((دا خبره مه کوه؛ ځکه هغه تر ما روسته د هر مؤمن ولي دی.))
دا روایت مناوي هم د فیض القدیر په ۳۵۷ مخ، هیثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۹ مخ، ابن
حجر د اصابه د شپږم ټوک، لومړي قسم، ۳۲۵ مخ او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۵
مخ راوړی دی.

## آیت: (انما ولیکم الله و رسوله)

(فخر رازي؛ کبیر تفسیر) د مائدې په سورت کې د (انما ولیکم الله ورسوله) تر آیت لاندې
لیکي: له حضرت ابي ذر څخه روایت دی: د ماسپښین لمونځ مې له رسول الله سره وکړ،
چې یو سوالګر جومات ته راننووت او سوال یې وکړ؛ خو چا څه ور نه کړ (ددې حدیث
نوره برخه په تېرو برخو کې تېر شو) دا روایت ابواسحاق احمد ثعلبي هم په خپل تفسیر کې
راوړ دی.
(تفسیر ابن جریر طبري: شپږم ټوک، ۱۸٦ مخ) په خپل سند له عتبة بن حکیم او همداراز په
هماغه مخ کې بیا له غالب بن عبیدالله له مجاهد او سیوطي هم د (انما ولیکم الله ورسوله) تر
آیت لاندې او د وینا له مخې یې عبدالرزاق، عبد بن حمید، ابن جریر، ابوالشیخ او ابن

مرودویه هر یو له بېل بېل صحابي او واحدي د اسباب النزول په ۱٤۸ مخ له ابي صالح له حضرت ابن عباس او فخر رازي له عبدالله بن سلام او کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۱۹ مخ او همداراز د اووم ټوک په ۳۰۵مخ کې د (انما ولیکم الله ورسوله) په باب روایتونه نقل کړي، چې دا آیت د حضرت علي په فضیلت کې راغلی دی، چې موږ یې یوازې د کنزالعمال د اووم ټوک، ۳۰۵ مخ روایت راخستی، چې پکې راغلي: ابي رافع وایي: رسول الله ته ورغلم، چې د وحې په حالت کې و؛ نو ناڅاپه مې پام شو، چې یو مار د کوټې په ګوټ کې روان دی؛ ګومان مې وکړ، چې که یې مړ کړم؛ نو رسول الله به له خوبه راویښ شي او که مړ یې نه کړم؛ نو کېدای شي رسول الله وچیچي؛ اړ شوم، چې د پاک نبي د ژغورولو لپاره د مار او د رسول الله په منځ کې سملم او پر همدې مهال رسول الله پاڅېد، چې د (انما ولیکم الله و رسوله والذین آمنوا الذین یقیمون الصلوة و یوتون الزکاة و هم راکعون) آیت راغی او بیا یې وویل: الحمدلله. بیا یې سترګې پر ما ولګېدې، چې په څنګ کې یې پروت یم؛ نو پوښتنه یې وکړه: ولې دلته پروت یې؟ ورته مې وویل: ددې مار له امله. راته یې وویل: پاڅه او مار ووژنه. ما هم مار وواژه. بیا یې له لاسه ونیوم او راته یې وویل: ابا رافع! ډېر ژر به داسې خلک پېداشي، چې له علي سره به جګړه وکړي؛ نو د الله تعالی حق دی، چې له هغوی سره جهاد وشي او که چا د جهاد وسه نه درلوده؛ نو په ژبه دې ورسره مبارزه وکړي او که دومره وسه یې هم نه درلوده؛ نو په زړه دې ورسره جهاد وکړي، چې بې له دې بله دنده نشته.

همداراز طبراني په اوسط، سیوطي په درالمنثور، ابن مردویه له حضرت عمار یاسر او ذخایر العقبی (۸۸او ۱۰۲ مخونو) کې له عبدالله سلام، واحدي په اسباب النزول، ا بوالفرج ا بن الجوزي، ریاض النضره (دویم ټوک، ۲۷۷ مخ) او د هغه د وینا له مخې، واحدي او ا بوالفرج او فضائلي هم په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.

(ابن حجر؛ تهذیب التهذیب: یوولسم ټوک، ٤۳۹ مخ) ابراهیم بن زیاد سبلان وایي: عباد بن عباد راته روایت وکړ، چې له یونس بن خباب سره وم او ورته مې وویل: د قبر د عذاب په اړه راته روایت وکړه، چې راته یې وویل: په دې کې یو لږ خبرې دي، چې ناصبیانو او د علي دښمنانو پټې کړې دي. پوښتنه مې وکړه: هغه کومه خبره ده؟ داچې په قبر کې له هر چا پوښتنه کیږي، چې ولي دې څوک و؟؛ نو که ځواب دې ورکړ: علي!؛ نو خلاصون به دې موندلای وي.

# د رسول الله (ص) خليفه

(هيثمي؛ مجمع: اتم ټوک، ۳۱٤ مخ) عبدالله بن مسعود: رسول الله راته د خپلو خبرو په ترڅ کې وويل: اجل مې رانږدې شوی دی. ورته مې وويل: رسول الله! آيا ابوبکر خپل خليفه کوئ؟ رسول الله راڅخه مخ واړو؛ نو پوه شوم، چې زما خبره يې خوښه نه شوه؛ نو ورته مې وويل: عمر څنګه؟ بيا يې مخ واړو؛ پوه شوم، چې بيا يې هم زما خبره خوښه نه شوه، چې بيا مې ترې پوښتنه وکړه: رسوالله ولې علي خپل ځايناستی نه کوئ؟ را ته يې وويل: ((قسم پر الله تعالی! خليفه مو هماغه دی او که بيعت مو ورسره وکړ، لاروي مو ترې وکړه؛ نو ټول به جنتيان شئ.))

(مناوي؛ کنوزالحقايق: ١٤٥ مخ) رسول الله وويل: ((ووژنئ، هغه چې د خلافت پر سر له علي سره جګړه کوي که هر څوک وي.)) مناوي دا حديث ديلمي ته نسبت ورکړی دی.

(خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخي: لومړی ټوک، ۱۳۵ مخ) په خپل سند له عبدالله بن احمد بن حنبل څخه روايت کړی، چې وايي: له پلار سره مې وم، چې څو تنه ورته راغلل او د ابوبکر، عمر، عثمان او علي (رضی الله عنهم) د خلافت په اړه يې اوږدې خبرې وکړې، چې په پای کې مې پلار وويل: ډېرې خبرې مو وکړې! هغوی درېو د خلافت له لارې عزت لاس ته راوړ او علي چې خليفه شو؛ نو خلافت ته يې عزت ورکړ.

# د رسول الله (ص) خلفا دولس تنه دي

(صحيح بخاري د احکام په کتاب کې) په خپل سند له جابر بن سمره روايتوي چې وايي: له رسول الله مې واورېدل: ((تر ما روسته خلفاء دولس دي.)) او يوه بله خبره يې هم وکړه، چې وا مې نه ورېده، چې له پلاره مې پوښتنه وکړه، چې راته يې وويل: ((هغوی ټول قريش دي.))

البته د ((بني هاشم)) ټکی هم راغلی او قندوزي حنفي د ينابيع په ۷۷ باب کې نقل کړی او همدا حديث احمد بن حنبل د خپل مسند د پينځم ټوک په ۹۰ او ۹۲ مخونو کې هم راخستی دی.

(صحيح مسلم د امارة په کتاب کې) په دوو سندونو له له حضرت جابر بن سمره روايت کړی، چې وايي: له پلار سره رسول الله ته ورغلو، چې رسول الله وويل: ((ددې امر _؛ يعنې اسلام _کار به پای ته و نه رسي او ثمر به ور نه کړي، چې دولس خلفاء خپلې دندې سر ته

ورسوي.)) بیا یې په کلاره یو خبره وکړه، چې ما وا نه ورېده؛ نو پلار مې وپوښت: څه یې وویل؟ و یې ویل: ((ټول قریش دي.))

مسلم بیا په هماغه کتاب کې په دویم سند کې راوړي، چې دا کیسه پر هغه شپه وه، چې پر ورځ یې اسلمي سړی سنگسار شوی و او رسول الله وویل: ((د الله تعالی دین به تر قیامته پر پښو ولاړ وي، چې دولس خلفاء د خلکو چارواکي شي.))

دا حدیث احمدبن حنبل هم د خپل مسند د پینځم ټوک په ۸۹، ۹۲، ۹٤، ۹۹، ۱۰۸ مخونو کې راوړی دی او ورته یې یو بل روایت ترمذي د خپل صحیح د دویم ټوک په ۳۵ مخ او ابن حجر د صواعق په ۱۱۳ مخ کې راوړی دی.

(مستدرک الصحیحین: څلورم ټوک، ۵۰۱ مخ) په خپل سند له مسروق روایتوي، چې وایي: یوه شپه له عبدالله سره ناست وو او قرآن یې رازده کاوه، چې یو سړي پوښتنه وکړه: اباعبدالرحمانه! آیا له رسول الله مو پوښتنه کړې، چې تر هغه روسته به یې څو ځایناستي خلافت کوي؟ عبدالله وویل: له هغه چې عراق ته راغلی یم، داسې پوښتنه لا چا له ما نه وه کړې؛ هو! له رسول الله مو پوښتنه کړې او راته یې وویل: ((دولس کسان؛ د بني اسراییلو د نقباوو هومره.))

دا روایت احمد بن حنبل هم د مسند د لومړي ټوک په ۳۸۹ مخ کې له یوې لارې او په ٤۰٦ مخ کې له بلې لارې نقل کړی دی او هیثمي هم د مجمع پینځم ټوک په ۱۹۰ مخ کې راوړی او د هغه د وینا له مخې ابویعلي نقل کړی دی.

متقي هم د کنزالعمال د درېیم ټوک په ۲۰۵ مخ کې راوړی او د هغه د وینا له مخې ا بن عدی، ابن عساکر او ابن مسعود نقل کړی او د شپږم ټوک په ۲۰۱ مخ کې یې هم نقل کړی او طبراني ته یې نسبت ورکړی. مناوي هم د فیض القدیر د دویم ټوک په ٤۵۸ مخ کې راوړی او ویلي یې دي: ابن عدی، ابن عساکر په تاریخ کې له حضرت عبدالله بن مسعود څخه روایت کړی دی.

(کنزالعمال: دویم ټوک، ۲۰۱ مخ) په دې ټکیو راوړی دی: ((دا امت دولس خلفاء لري، چې که څوک یې ملا تړي نه شو؛ نو تاوان به ور و نه رسي؛ ټول قریش دي.))

دا حدیث هیثمي هم د پینځم ټوک په ۱۹۱ مخ کې په دې ټکیو راوړی دی: ((که څوک وسره دښمني وکړي؛ نو زیان به ور و نه رسوي.)) راوي وایي: ناڅاپه مې پام شو، شا ته مې حضرت عمر بن الخطاب او یوه ډله ولاړه ده، چې د رسول الله خبرو ته یې غوږ ایښی دی او هغوی ټولو د سمره د خبرو پخلی وکړ، چې رسول الله همداسې ویلي وو.

## د رسول الله (ص) وصي

(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۳ مخ) سلمان: رسول الله ته مې وویل: رسول الله! هر پېغمبر وصي درلود؛ نو ستا وصي څوک دی؟؛ خو رسول الله راته څه و نه ویل چې تر یوې شېبې روسته یې راته غږ وکړ او ما هم په چټکه ځان رورساوه او راته یې وویل: ((را ته ووایه، چې د موسی وصي څوک و؟)) ورته مې وویل: یوشع بن نون. پوښتنه یې وکړه: ((ولې)) ورته مې وویل: ځکه په بني اسراییلو کې تر ټولو پوه و. رسول الله وویل: ((زما وصي، د سر ساتونکی، غوره پاتې شوی؛ علي دی، چې پر وعدو به مې وفا کوي او پورونه به مې ورکوي.))

ابن حجر هم د تهذیب التهذیب د دریم ټوک په۱۰۶ مخ، متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵٤ مخ، محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ۱۷۸مخ کې او همداراز دې مضمون ته نږدې نور روایتونه هم نقل کړي دي.

بیا همدا هیثمي د هماغه ټوک په ۱٦۵ مخ کې له علي بن علي هلالي له پلاره یې روایت کړی، چې وایي: رسول الله ناروغ و، چې د هماغه رنځ له کبله هم ومړ، چې موږ ورغلو او و مو لیدل، چې لور یې فاطمه بي بي په چغو چغو ژاړي، چې رسول الله وویل: لورې! فاطمې! ولې ژاړې؟ ورته یې وویل: له دې وېرېږم، چې له تاسې روسته به ځان ته پاتې شم. رسول الله وویل: ((لورې! خبره نه یې چې الله تعالی ځمکې ته نظر وکړ_په خپله پوهېږي چې څنګه و_ او په ټولو خلایقو کې یې ستا پلار د رسالت لپاره وټاکه او یو ځل بیا یې نظر وکړ_ چې په خپله پوهېږي چې څنګه و _ او ستا مېړه یې وټاکه او ما ته یې وحې وکړه، چې تا ورنکاح کړم. فاطمې موږ هغه اهلبیت یو، چې الله تعالی راته اووه ځانګړنې راکړي، چې نه یې تر موږ مخکې او نه به یې تر موږ روسته چا ته ورکړي؛ لومړی دا چې زه یې د پېغمبرانو خاتم او د ټولو پېغمبرانو ښاغلی کړم او زه چې د پېغمبرانو خاتم یم؛ نو زما وصي یې تر ټولو غوره وصي کړ او هغه ستا مېړه دی او دریم داچې سیدالشهداء یې زموږ له کورنۍ کړ او هغه ستا د پلار او ستا د مېړه تره حمزه بن عبدالمطلب دی څلورم داچې د جنت طوطي یې زموږ له کورنۍ کړ او هغه ستا د تره زوی او ستا د مېړه رور دی. پینځم او شپږم دا چې ددې امت دوه سبطه؛ حسن او حسین چې د جنت د ځوانانو ښاغلي دي او قسم پر هغه الله تعالی، چې زه یې مبعوث کړی یم، چې پلار یې تر هغوی دوو غوره دی اووم دا چې ددې امت مهدي له موږ څني دی او هغه مهال، چې په دنیا کې ګډوډي شوه، مشران به پر کشرانو رحم نه کوي، چور او لوټ به وي او کشران به د مشران درناوی نه کوي، له هر اړخه به فتنې راولاړې شي؛ نو پر دې مهال به الله تعالی ستا له ځوځاته یو راپاڅوي او دنیا به له عدله ډکه کړي او په

اخرالزمان کې به داسې قیام وکړي؛ لکه ما چې په اول الزمان کې کړی و. فاطمې!زړه مه خوره او مه ژاړه چې الله تعالی تر ما پر تا ډېر روف دی او هغه پوهېږي، چې ته زما د زړه په کوم ځای کې یې؛ نو ځکه یې ور واده کړې یې، چې په اهلبیتو کې ترټولو شریف په حسب او نسب کې ترټولو ښاغلی او پر رعیت تر ټولو عادل او په ورمند کې یې تر ټولو سترګې خلاصې دي او ته به راسره په یو ځای کېدو کې ړومبۍ یې. (د حدیث تر پایه)

دا حدیث طبراني په خپلو دوو کتابونو اوسط او کبیر کې او محب طبري هم د ذخایر په ۱۳۵ مخ کې راوړی او د هغه د وینا له مخې حافظ ابوالعلاء همداني او د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۳ مخ کې یې نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۲ مخ) له علي روایتوي، چې د خپلوانو په مېلمستیا کې رسول الله وویل: ((د عبدالمطلب زامنو! د دنیا او اخرت ښېګنه مې درته راوړې ده او پالونکي مې حکم راکړی، چې بلنه درکړم؛ نو که په دې لار کې هر یو زما ملاتړ شوئ؛ نو خپل وصي او خلیفه به یې کړم؛ نو اوس څوک دی، چې په دې لار کې زما ملاتړ شي؟)) ټولو ترې مخ واړو، چې ما وویل: یا نبی الله! زه به مو ملاتړ شم، بیا رسول الله زه له ورمېږه ونیوم او ټولو ته یې وویل: ((دا زما رور، وصي او په تاسې کې زما خلیفه دی؛ نو لاروي ترې وکړئ، چې څه درته وایي.))

او همدراز همدې لیکوال د هماغه ټوک په ۳۹۷ مخ کې یو بل روایت نقل کړی او ا بن ابي حاتم، ابي حاتم، ابن مردویه، ابونعیم او بیهقي ته یې نسبت ورکړی او همدراز د هماغه کتاب د اتم ټوک په ۲۱۵ مخ کې له ابن ابي حاتم، ابن مردویه، ابونعیم او بیهقي نقل کړی، چې پکې راغلي: یوه ورځ علي موږ ته خطبه ویله، چې په دې ترځ کې یو سړی پاځېد او پوښتنه یې وکړه: امیرالمؤمنینه! اهل جماعت، اهل فرقه، اهل سنت او اهل بدعت څوک دي؟ ورته یې وویل: حیران یم، چې ولې دې اوس دا پوښتنه وکړه؛ نو غوږ شه او ځان پوه کړه؛ البته تر ما روسته له نورو هم دا پوښتنه کولې شي .

او بیا یې حدیث ته دوام ورکړ، چې دلته راورسېد او و یې ویل: خلکو ته د علي خبرو خوند ورکړ او له هر اړخه د آفرین! آفرین! غږونه راپورته شول. بیا حضرت عمار پاځېد او و یې ویل: ایهاالناس که لاروي ترې وکړئ؛ نو د پیغمبر له کړنلارې به مو پوټی هم کاږه نه کړي او څنګه به مو د رسول الله له کړنلارې کاږه کړي، چې رسول الله ورته د علم منایا، وصایا او افصل الخطاب وعده کړې؛ لکه څنګه چې حضرت موسی حضرت هارون ته سپارلې وه او په اړه یې ویلي وو: ((ته ما ته داسې یې؛ لکه موسی چې هارون ته و؛ خو تر ما روسته بل پیغمبر نه راځي)) او دا هغه فضیلت و، چې څښتن تعالی ځانګړی کړی و.

(کنوزالحقایق: ٤٢ مخ) رسول الله: ((زه د پیغمبرانو خاتم او ته د اوصیاو خاتم یې.)) دا روایت دیلمي او ورته نږدې یو بل روایت خطیب بغدادي هم په د بغداد تاریخ (لسم ټوک، ٣٥٦ مخ) کې له انس بن مالک له ابوبکر څخه په خپل سند راوړی، چې ویلي یې دي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: په پل صراط د علي له جواز پرته څوک نشي تېرېدای.
او همدارا ز کنوز الحقایق په ١٢١ مخ کې دا روایت له نورو ټکیو سره او ریاض النضره د دویم ټوک په ١٧٨ مخ کې هم راوړی دی.
(حلیة الاولیا: لومړی ټوک، ٦٣ مخ) په خپل سند رواړي، چې حضرت انس بن مالک وایي: رسول الله راته وویل: د اودس اوبه راوړه او تر اوداسه روسته پاڅېد، چې لمونځ وکړي، چې ما ته یې وویل: ((انسه! هغه سړی، چې تر ټولو ړومبی پردې وره راننوت؛ نو امیرمؤمنان، د مسلمانانو مشر او د اوصایو خاتم دی.)) انس وایي: په زړه کې مې وویل: خدایه څومره به ښه وي، چې که له انصارو وي او دا هیله مې تل په زړه کې وه؛ نو ناڅاپه مې ولیدل، چې علي راننووت. رسول الله پوښتنه وکړه: څوک راغی؟ ورته مې وویل: علي. رسول الله خوشحاله شو، علي یې په غېږ کې ونیو، خپلې د مخ خولې یې د علي پر مخ او د علي د مخ خولې یې پر خپل مخ وچې کړې، چې علي وویل: رسول الله! داسې چلن راسره کوئ، چې پخوا مو نه و کړی؟! رسول الله وویل: ((ولې به یې نه کوم، چې ته داسې کس یې، چې زما دندې به تر سره کوې او زما غږ به غوږونو ته رسوې او تر ما روسته رامنځ ته کېدونکي اړپېچونه-اختلافات به هواروې.))
(د بغداد تاریخ: دولسم ټوک، ٣٠٥ مخ) په خپل سند له ابي سعید عقیصا روایتوي چې وایي: له حضرت علي سره له انبار څخه د کوفې پر لور د فرات په کڅ کې روان وو، چې علي خپله لار د دښتې پر لور کږه کړه، خلک هم ورپسې ولاړل او ځینو هم د فرات پر کڅ مخکې ولاړل؛ خو زه په علي پسې ولاړم، چې دښتې ته ورسېدو (په یو بل نقل کې د کربلا نوم راغلی) چې ورته وویل شو: وېرېږو، چې تنده مو هلاک نه کړي. علي وویل: الله تعالی به مو ډېر ژر په اوبو ماړه کړي. په هغه نږدو کې د یو راهب دیر و. علي چې یو ځای ته راورسېد؛ نو حکم یې وکړ، چې دا ځای وکنئ او زه هم له هغو کسانو ځنې وم، چې د ساه په کنلو کې مې ونډه واخسته، ډېره ځمکه مو وکنله، چې په ساه کې له ګټ سره مخ شو، چې علي وویل: ګټ راپورته کړئ؛ خو موږ و نشو کړای بیا په خپله راکوز شو او له موږ سره مرستیال شو، ګټ مو اوچت کړ او و مو لیدل چې تر ګټ لاندې د سړو اوبو یخه چینه ده، اوبه مو وڅښلې او ټولو پرې ځان موړ کړ، لښکر حرکت وکړ او تقریباً یو میل مسافه یې ووهله، چې بیا تږي شو، ځینو وویل: کاشکې ستانه شو او له هماغې چینې اوبه وڅښو، چې ځینې او زه د هماغې

چينې پر لور ستانه شو؛ خو چې څومره مو چينه ولټوله، و مو نه مونده؛ نو دير تـه ولاړو او لـه راهب مو پوښتنه وکړه: دلته هغه چينه څه شوه؟ و يې ويل: کومه چينه؟ پـه دې شاوخوا کـې مو چينه وکنله، اوبه مـو تـرې وڅښـکلې؛ خـو اوس يـې چـې څـومره هـم لټـوو، نـه يـې شو موندلای. په دې شاوخوا کې يوه چينه ده، چې بې له پيغمبر او يا ځايناستي يې هېڅوک نشي کنلای.

## د رسول الله (ص) وارث

(متقي؛ کنزالعمال: څلورم ټوک، ۵۵ مخ) علي وايي: هغه مهال چـې رسـول اللـه نـاروغ و؛ نـو ورغلم، و مې ليدل، چې يو سړی يې سر ته ناست دی او دا سړی دومره ښکلی و، چې مـا لا تر اوسه دومره ښکلی سړی نه و ليدلی؛ نو د ننووتو اجازه مې وغوښته، چې راتـه يـې وويـل: خپل تره زوی ته دې رانږدې شه، چې ته تر ما هغه ته ډېر وړ يې. هغه له خپل ځايه پاځېد او زه د هغه پر ځای کېناستم بيا هغه سړی د يوې شپې لپاره چوپ ناسـت و او بيـا ولاړ او چـې کله رسول الله راپاڅېد؛ نو پوښتنه يې وکړه: هغه سړی څه شو، چې په غېږ کـې مـې ورتـه سر ايښی و؟ ما ورته ټوله تېره کيسه وکړه، چې رسول الله راته وويل: ((پوهېږې هغـه څـوک و؟)) ورته مې وويل: نه! راته يې وويل: ((هغه جبراييل و او ددې لپاره يې راسره خبرې کولې چـې درد مې کم شي.))
دا حديث محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۲۱۹ مخ کې راوړی او د هغه وينا له مخې ابوعمر محمد بغوي نقل کړی او محب طبري په هماغه مخ کې يو بل روايـت لـه ا بن عباس څخه نقل کړی، چې ويلي يې دي: په مخ کې يې د علي خبره شوه، و يې ويل: د هغه چا په اړه خبرې کوئ، چې د جبراييل د ښنو غږ به يې د خپل کور پر بام اورېده.

## رسول الله (ص): په تاسې کې دوه گرانبيه څيزونه پرېږدم

(صحيح مسلم) د فضائل الصحابه په کتاب کې په باب فضايل علي کې په خپل سند له يزيد بن حيان څخه روايتوي چې وايي: زه او حصين بن سبرة او عمر بن مسلم د زيد بن ارقم ليدو ته ولاړو، چې حصين وويل: زيده! تا له خپل عمره ډېـر خيـر ليـدلی؛ ځکـه رسـول اللـه دې ليدلی، ورسره جگړو ته تللی، حديثونـه دې تـرې اورېـدلي او پـه کلونـو کلونـو دې ورپسـې لمونځونه کړي دي؛ نو له دې ټول خېره يو حـديث مـوږ تـه ووايـه، چـې لـه رسـول اللـه دې

اورېدلی وي؛ نو راته يې وويل: و راره! پر الله تعالی قسم، چې زوړ شوی يم او تګ مې رانږدې دی؛ خو ما يو لړ هغه احاديث هېر کړي، چې له رسول الله مې اورېدلي وو؛ نو کوم حديثونه، چې درته وايم، تاسې يې په ځير ياد کړئ اونوره پوښتنه به نه کوئ او بيا يې وويل: يوه ورځ رسول الله د مکې او مدينې په منځ کې په خم نومې سيمه کې موږ ته خطبه وويله او د الله تعالی تر ستاينې او ډېرو نصيحتونو روسته يې وويل: ((ايها الناس! زه بشر-يم او کېدای شي ډېر ژر پرښته زما روح اخستو ته راشي او زه يې هم بلنه ومنم او زه تر ځان روسته په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم، چې لومړی يې د الله تعالی کتاب دی چې ټول ښيون-ښيون او رڼا ده؛ نو د الله تعالی پر کتاب منګولې ولګوئ _ او ډېر يې خلک د الله تعالی کتاب ته راوهڅول _ او بل يې زما اهلبيت دي، زه مې د اهلبيتو په اړه الله تعالی دريادوم.))

حصين: پوښتنه وشوه: اهلبيت څوک دي؟ آيا د رسول الله مېرمنې هم په اهلبيتو کې دي؟ و يې ويل: مېرمنې يې د کور خلک دي؛ خو اهلبيت نه دي؛ اهلبيت هغوی دي، چې تر رسول الله روسته ورته صدقه حرامه ده؛ پوښتنه يې وکړه: نو اهلبيت څوک دي؟ و يې ويل: آل علي، آل عقيل، آل جعفر او آل عباس. پوښتنه ترې وشوه: آيا صدقه ټولو ته حرامه ده. و يې ويل: هو!

دا روايت مسلم هم په ځينو سندونو له زيد بن ارقم څخه نقل کړی، چې په تېرو شويو برخو کې يې ځينو سندونو ته اشاره هم وشوه. احمد بن حنبل هم د خپل مسند د څلورم ټوک په ٣٦٦ مخ، بيهقي د سنن د دويم ټوک په ١٤٨ مخ او همداراز د اووم ټوک په ٣٠ مخ کې په لږ اختلاف نقل کړی.

دارمي هم د خپل سنن د دويم ټوک په ٤٣١ مخ کې او متقي د کنزالعمال د لومړي ټوک په ٤٥ مخ کې راوړی او د هغه د وينا له مخې عبدبن حميد په خپل مسند کې له حضرت زيد بن ارقم څخه او د اووم ټوک په ١٠٢ مخ کې يې له دوو لارو او طحاوي هم په مشکل الاثار (دريم ټوک، ٣٦٨ مخ) کې راوړی دی.

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ٣٠٨ مخ) په خپل سند له ابي سعيد له اعمش له حبيب بن ابي ثابت له زيد بن ارقم څخه روايت کړی، چې وايي: رسول الله وويل: ((زه په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم او ځم او تر هغه مو چې پرې منګولې ولګولې؛ نو بې لارې به نشئ، چې يو تر بله ستر دي، چې لومړی يې د الله تعالی کتاب دی، چې هغه رسی ده، چې يوه خوا يې له الله تعالی او بله خوا يې درسره ده او بل يې زما عترت؛ يعنې اهلبيت دي او دا

دواړه ان د سترګو د یو رپ هومره هم یو له بله نه بېلېږي، چې د حوض کوثر تر غاړې ما ووینې؛ نو ښه چلن ورسره وکړئ او ګورم چې څرنګه چلن ورسره کوئ.))
دا روایت ابن اثیر جرزي د اسدالغابه د دویم ټوک په ۱۲ مخ کې او سیوطي په درالمنثور کې د شوری د سورت تر مودت آیت لاندې راوړی او ویلي یې دي: انباري هم د المصاحف په کتاب کې راوړی دی.
(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۳۰۸ مخ) حضرت جابر بن عبدالله: د عرفې پر ورځ حال دا، رسول الله پر قصوی اوښ سپور و، موږ ته یې داسې خطبه وویله: ((یا ایها الناس! په تاسې کې دوه ګرانبیه څیزونه پرېږدم او تر هغه چې پرې منګولې ولګوئ؛ نو بېلارې به نشئ؛ د الله تعالی کتاب او عترت مې اهلبیت.)) ترمذي بیا وایي: په دې اړه له حضرت ابي ذر، زید بن ارقم، حذیفة بن اسید او ابي سعید (رضی الله عنهم) نور روایتونه هم نقل شوي او پورتنی روایت متقي د کنزالعمال د لومړي ټوک په ٤٨ مخ کې راوړی او ابي شیبه او خطیب (درالمتفق او المفترق) ته یې نسبت ورکړی دی.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۰۹ او ۱٤۸ مخونه. نسائي؛ خصایص: ۲۱ مخ. امام احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ۱۷ مخ له حضرت ابي سعید خدري نقل کړی. فخر رازي په خپل تفسیر کې د (واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا)) (آل عمران) تر آیت لاندې، هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱٦۳ مخ. ابن سعد؛ طبقات: دویم ټوک، دویم قسم، ۲ مخ. امام احمد حنبل د خپل مسند د درېیم ټوک په ۱٤ مخ او همداراز د پینځم ټوک په ۱۸۱ مخ. مناوي؛ فیض القدیر: درېیم ټوک، ۱٤ مخ کې راوړی او د هغه د وینا له مخې مناوي، ابویعلي او حافظ عبدالعزیز اخضر هم راوړی دی او سمهودي ویلي، چې په دې اړه تر دوو سوو ډېر اصحاب نقلونه لري. ابن حجر؛ صواعق: ۱۳٦ مخ هم په دې خبره منښته کړې ده.
(صواعق المحرقه: ۷۵ مه) وایي: په روایت کې دي، چې په هغه ناروغۍ کې چې رسول الله یې له امله مړ هم شو؛ له خلکو سره یې لمونځ وکړ او و یې ویل: ((خلکو! نږدې دی، چې ساه راڅخه واخلي او زه دا خبره په دې حال؛ ځکه درته کوم، چې هېڅ عذر درته پاتې نشي- او ټول یې واورئ، چې زه په تاسې کې د الله تعالی کتاب او اهلبیت مې ځایناستي کوم او په تاسې کې یې پرېږدم)) او بیا یې حضرت علي له لاسه ونیو او لاس یې ورته جیګ کړ او و یې ویل: ((دا علي له قرآن او قرآن له علي سره دی او هېڅکله به یو له بله بېل نشي- چې د حوض کوثر تر غاړې ما ووینې.))
(ثعلبي؛ قصص الانبیاء: ۱٤ مخ) وایي: رقاش له حضرت انس بن مالک څخه روایت کړی، چې وایي: رسول الله د سهار لمونځ له موږ سره و کړ؛ نو همداچې لمونځ یې پای ته ورسو؛

نو ډلې ته يې مخ کړ او و يې ويل: ((مسلمانانو! څوک چې لمر له لاسه ورکړي؛ نو بايد د سپوږمۍ له رڼا ګټه واخلي او که سپوږمۍ هم له لاسه ورکړي؛ نو بايد د "زهره" له رڼا ګټه واخلي او که هغه يې هم له لاسه ورکړ؛ نو بايد له دوو ستورو؛ فرقدين څخه ګټه واخلي.))
خلکو وويل: رسول الله! له لمر، سپوږمۍ، زهره او فرقدين څخه مو مراد څه دی؟ و يې ويل: ((لمر زه، سپوږمۍ علي، زهره فاطمه او فرقدين حسن او حسين دي او دوی تل د الله تعالی له کتاب سره دي او ترې نه بېلېږي، چې ما د حوض کوثر تر غاړې وويني.))

## د رسول الله (ص) اهلبيت د حضرت نوح (ع) د بېړۍ په څېر دي

(مستدرک الصحيحين: دويم ټوک، ۳۴۳ مخ) په خپل سند د حنش کناني لـه خـولې وايـي: حضرت اباذر غفاري مې وليد، حال دا، د کعبې ور يې نيـولی و او پـه جيـګ غـږ يـې ويـل: ((خلکو! څوک مې چې پېژني؛ نو پېژني مې او که څوک مې نه پېژني؛ نو پوه دې شي، چې زه ابي ذر يم او د الله تعالی له استازي مې اورېدلي: ((زما د اهلبيتو مثال د نوح د بېړۍ په څېر دی، که څوک پکې سواره شول؛ نو خلاصون به يې مونـدلای وي او کـه چا تـرې سرغړونـه وکړه؛ نو غرق به وي.))

دا روايت يې د درېيم ټوک په ۱۵۰ مخ کې هم له بلې لارې راوړی؛ متقي هم د کنـزالعمال د شپږم ټوک په ۲۱٦ مخ. هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱٤۸ مخ. علي بن سلطان د مرقاة د پيـنځم ټوک په ٦۱۰ مخ کې. حلية الاولياء د څلورم ټوک په ۳۰٦ مخ کې له سعيد بن جبير څخه او محب طبري د ذخاير په ۲۰ مخ کې او د هغه وينا له مخې ملا هم په خپله سيره کې او بزار له حضرت ابن عباس او ابن زبير څخه نقل کړی دی.

خطيب بغدادي (دولسم ټوک، ۱۹ مخ) له حضرت انس بن مالک او سيوطي په درمنثور کې تر (و اذقلنا ادخلوا هذه القرية فکلوا منها حيث شئتم رغداً و ادخلوا الباب سجداً و قولوا حطة نغفرلکم خطاياکم) (سوره بقره) لاندې له ابن ابي شيبه له علي بن ابيطالب څخه روايت کړی چې وايي: ((موږ په دې امت کې د نوح بېړۍ او "باب حطه" يو.))

همدې مضمون ته نږدې يو بل روايت هم کنزالعمال د لومړي ټوک په ۲۵۰ مخ کې لـه عبـاد بن عبدالله اسدي او شپږم ټوک په ۲۱٦ مخ کې له طبراني له ابي ذر څخـه نقـل کـړی دی او همداراز هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱٦۸ مخ کې لـه حضـرت ابي سـعيد خـدري روايـت نقل کړی، چې په پای کې يې راغلي دي: ((لکه څنګه چې که بنـي اسراييـل بـاب خطـه تـه ورننووتي وو؛ نو ښښل شوي به وو (نغفرلکم خطاياکم)؛ نو همداراز که څوک زما په امت کې هم پر اهلبيتو منګولې ولګوي؛ نو و به ښښل شي.))

ذخاير العقبی هم په ۲۰ مخ کې دې مضمون ته ورته يـو بـل روايـت لـه عـلي نقـل کـړی او همداراز کنوزالحقايق په ۱۳۲ مخ کې او فيض القدير (درېيم ټـوک، ۳۵٦ مـخ) او منـاوي پـه فيض القدير کې د حديث تر نقلولو روسته ويلي: ((يعني لکه څنګـه چـې اللـه تعـالی بـا ب خطه د بني اسراييلو لپاره د ښښنې وسيله ګرځولې وه؛ نو که څوک ورته پـه تواضـع او سـجده

ورننووتي واى؛ نو بښل شوي به واى؛ نو په دې امت کې که څوک له علي سره مينه وکړي او کړلار يې خپله کړي او پر لارښوونه يې ولاړ شي؛ نو جنتي او له اوره به خلاص شي.

## اهلبيت د امت امامان دي

(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ١٤٩ مخ) په خپل سند د حضرت ا بن عباس لـه خـولې وايي: رسول الله وايي: ((ستوري ځمکمېشتي لـه ډوبېـدو ژغـوري؛ زمـا اهلبيـت هـم د امـت امامان دي؛ نو که په عربو کې هر ټبر له اهلبيتو سره شخړه وکړه؛ نو په اړپېچ ککـړ شوی او د ابليس گوند دی.))

دا روايت ابن حجر هم د صواعق په ١٤٠مخ کې راوړی او صحيح يې گڼلی دی.

(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ٤٥٨ مخ) په خپل سـند د محمـد بن منکـدر د پـلار لـه خولې وايي: يوه شپه رسول الله له کوره ووت او د ماسخوتن لمونځ يې هم وځنډاوه، خلـک ورته په تمه ول، چې جومات ته به راشي او لمونځ به وکړي، جومات، چې تـه راننـووت؛ نـو پوښتنه يې وکړه: څه ته په تمه ياست؟ و مو ويل: لمونځ ته په تمه وو. و يې ويل: ((چې کلـه لمونځ ته هم په تمه ياست؛ نو د لمونځ په حال ياست.)) (؛ يعنې د لمونځ ثواب درتـه ليکـل کېږي) بيا يې وويل: ((دا هغه لمونځ دی، چې مخکې يو امت هم نه دی پر ځای کړی.)) بيا يې سر اسمان ته کړ او و يې ويل: ستوري اسمانمېشتو ته امان دی او چې تپـه تيـاره شي؛ نـو اسمانوالو ته وعده ورکړ شوې، چې عذاب به راورسي.)) تردې چـې وايـي: ((اهلبيـت مـې د امت امامان دي او چې کله ځمکه ترې خالي شوه؛ نو امت ته وعده ورکړ شوې، چې عذاب به راشي .))

دا روايت کنزالعمال د شپږم ټوک په ١١٦ مخ کې او همداراز د اووم ټوک په ٢١٧ مخ کې او صواعق المحرقه (١١١ مخ) او د مجمع الزوايد د نهم ټوک په ١٧٤ مخ کې او مناوي د فـيض القدير د شپږم ټوک په ٢٩٧ مخ کې او ذخاير العقبی په ١٧ مخ کې او علي بن سلطان د مرقاة د پينځم ټوک په ٧١٠ مخ کې نقل کړی دی.

## د قیامت پر ورځ بې د رسول الله (ص) له سبب او نسبه ټول سبب او نسبونه

## پرې کېږي

(مستدرک الصحیحین: دریېم ټوک، ۱۵۸ مخ) په خپل سند لـه مسـور بن مخرمخ روایـت کړی، چې ویلي یې دي: حسن بن علي مې پر لور مرکه وکړه؛ نو پیغام مـې ورواسـتاوه، چـې ماځښوتن به سر ووینو. مسور چې حسن ولید؛ نو د الله تعالی تر ستاینې روسته یې وویل: پـر الله تعالی قسم، چې ستاسې له خپښۍ او زومتوب به راتـه یـو زوم هـم ښـه نـه وي او داچـې رسول الله وویل: ((فاطمه مې د وجود ټوټه ده؛ نو څه یې چې خپه کوي؛ ما هم خپه کوي او څه یې چې خوشحالوي؛ ما هم خوشحالوي او د قیامت پر ورځ ټول نسبونه پرې کېږي؛ مگر زما سبب، نسب او زومولي.)) او ستا ښځه د فاطمې لور ده، که لور درکړم؛ نو مېرمن دې درنه خپه کېږي.

حلیة الاولیاء د اووم ټوک په ۳۱٤ مخ کې همدې مضمون ته ورته یو بل روایت نقل کـړی او هیثمي د مجمع د اتم ټوک په ۲۱٦ مخ کې له حضرت ابن عباس څخـه روایـت کـړی، چـې ویلي یې دي: چې کله د رسول الله د ترور صفیه زوی ومړ؛ نو ورته یې وژړل او په چغو شوه، چې رسول الله ورته راغی او ورته یې وویل: ترور جانې ولې دومره ژاړې؟ و یـې ویـل: زوی مې مړ شوی دی. رسول الله وویل: ((په چا چـې د اولاد د مړینـې غـم راشي او صـبر جامـه کړي؛ نو الله تعالی ورته په جنت کې ماڼۍ ورکوي.)) نو صفیه غلې شوه او ولاړه، چې په لار کې له حضرت عمر بن خطاب سره مخ شوه، چې حضرت عمر ورته پېغور ورکړ او ورته یـې وویل چې: غږ مې ستا واورېد، چې ژړل دې او له رسول الله سره خپلوۍ درته هېڅ گټه و نـه کړه، چې صفیه بیا په ژړا شوه او رسول الله یې غږ واورېد؛ نو داچې ترور پرې ډېره گرانه وه او ډېر درناوی یې کاوه؛ نو بې ځنډه یې ځان راورساوه او ورته یې وویـل: تـرور جـانې تـر هغـه زیږي روسته چې مې دربانديې وکړ؛ بیا هم ژاړې؟! و یې ویل: دا ځل مې ژړا د زوی د ویر نه ده؛ بلکې د عمر بن خطاب د پېغور له امله ده. رسول الله غوسه وویـل: بـلالـه! ټـول خلـک راټول کړه. خلک راټول شول او رسول الله پر ممبر کېناست او و یې ویل: ((دا په خلکو څـه شوي، چې گومان کوي، چې له ماسره د چا خپلوي گټه نه لري؟ په قیامت کې به هـر نسـب اوسبب پرې شي، پرته زما له نسب او سببه، چې زما نسب او سبب پـه دنیـا او اخرت کـې نـه پرې کېږي.))

دا روایت ابن حجر هم د صواعق په ۱۳۸ مخ او محب طبري د ذخایر په ٦ مخ کې ر اوړی دی؛ خو دومره خبره ده، چې صواعق د حضرت عمر پر نوم ټینګار نه دی کړی او په دې اړه هیثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۷٤ مخ کې دوه روایتونه ر انقل کړي دي او همداراز فیض القدیر (پینځم ټوک: ۲۰ او ۳۵ مخونه) کنزالعمال (لومړی ټوک: ۹۸ مخ) او د اووم ټوک په ٤۲ مخ کې او ابن حجر د صواعق په ۱۳۸ مخ کې په دې اړه راوایتونه نقل کړي دي.

# د اهلبیتو په باب نازل شوي آیتونه

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۷۲ مخ) په خپل سند له د علي بن الحسین لـه خـولې هغه خطبه نقل کړې، چې په کربلا کې يې د خپل پلار امام حسین تر شهیدېدو روسته خلکو ته وویل او پکې یې د اهلبیتو فضایل شمېرلي، چې وايي: ((زه له هغه اهلبیتو یم، چې مینه یې الله تعالی پر ټولو مسلمانانو فرض کـړې ده او خپـل اسـتازي تـه یـې حکـم کـړی: ((قـل لا اسئلکم علیه اجراً الا المودة فی القربی و من یقترف حسنة نزدله فیها حسنا))؛ یعنې:

دا خبره صواعق محرقه په ۱۰۱ مخ او زمخشري پـه کشـاف کـې د (و مـن یقـترف) تـر آیـت لاتدې نقل کړی دی او سیوطي په در منثور کې تر همدې آیت لاندې نقل کړی دی.

(کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲۵۱ مـخ) او سـیوطي پـه درمنثـور کـې د (الـذین آمنـوا و تطمـئن قلوبهم بذکرالله الا بذکر الله تطمئن القلوب) آیت تر تفسیر لاندې نقل کړي، چې دا آیت د هغوی په اړه دی، چې الله تعالی، رسول اهلبیت یې په رښتیا خوښ وي او مینه ورسره کوي او له مؤمنینو سره په شتون او نه شتون کې مینه وکړي.

سیوطي په درالمنثور کې د (ص) د سورت په (و ان الیاس لمـن المرسـلین) تـر آیـت لانـدې وايي: ابن ابي حاتم، طبراني او ابن مردویه د حضرت ابن عباس له خولې وايي: د (سلام علی آل یاسین) په آیت کې له آل یاسین څخه مراد موږ یو.

صواعق محرکه په ۸۹ مخ کې وايي: فخر رازي وایـي: اهلبیـت لـه رسـول للـه سره پـه پینځـو څیزونو کې شریک دي؛ ړومبی: په سلام کې مسلمانان د شواروز په لمونځونو کې پر پېغمبر سلام وايي (السلام علیک ایها النبی) او همداراز پـه قـرآن کـې راغـلي دي: (سـلام عـلی آل یاسین) دویم: د لمونځ په درود کې، چې پرې درود ویل کېږي. درېیم: په طهارت کې، چـې الله تعالی خپل استازي ته طاهر ویلی دی او ویلي (طه) یې دي: (یطهرکم تطیرا) څلـورم: د صدقې په حرمت کې، پینځم په مینه کې (قل لا اسئالکم علیه اجرا الا المودة فی القربی)

(ابن حجر؛ صواعق: ۹۰ مخ) وايي: د اهلبیتو په فضیلت کې پینځم آیت (واعتصموا بحبل الله جمیعا ولا تفرقوا) دی، چې ثعلبي یې په تفسیر کې نقل کړي، چې ((حبل الله)) اهلبیت دي، چې دا خبره شبلنجي هم د نورالابصار په ۱۰۱ مخ کې کړې ده.

صواعق په ۹۲ مخ کې وايي: د اهلبیتو په اړه شپږم آیت: (ام یحسدون الناس عـلی مـا آتیـتهم الله من فضله) دی، چې ابوالحسن مغازلي له امام محمد باقر نقلوي: پر الله تعالی قسم، چـې په دې آیت کې (ناس) موږ یو، چې دښمنان راسره د الله تعالی په راکړه کـې کینـه کـوي. دا مانا شبلنجي هم په نورالابصار کې راوړې او وايي: له ((ناس)) څخه مراد اهلبیت دي.

سیوطي په درالمنثور کې تـر (ان اللـه اصـطفی آدم و نوحـاً و آل ا براهیم و آل عمـران عـلی العالمین) آیت لاندې له له ابن جریر، ابن منذر او ا بن ابي حـاتم د حضـرت ا بن عبـاس لـه خولې وایي: په دې آیت کې آل محمد هم شامل دي.

## په روایتونو کې د اهلبیتو فضایلو ته لنډه کتنه

(صواعق محرقه: ۱۳مـخ) لـه احمـد بن حنبـل، محـاملي، مخلـص، دهنـي او نـورو د بي بي عایشې له خولې وایي: رسول الله وویل: حضرت جبراییل وویل: ما د ځمکې لر او بر لانـدې باندې کړل؛ خو د محمد په څېر سړی مې و نه موند او بیا مـې لانـدې بانـدې کـړل او د بنـي هاشمو په څېر شریف ټبر مې و نه موند.
دا روایت مناوي هم په فیض القدیر (څلورم ټوک: ٤۹۹ مخ) کې راوړی او د حاکم دکنـی و الالقاب کتاب او د ابن عساکر تاریخ ته یې نسبت ورکړی دی.
(ثعلبي؛ قصص الانبیاء: ١٤ مخ) وایي: پینځم باب د ځمکې د ښکلا او سینګار پـه اړه دی او همدااراز شمېري، چې د پېغمبرانو لړۍ ته رارسي، چې د ځمکې تر ټولو ښـکلې ښـکلا داده، چې الله تعالی دا لړۍ په څلورو پېغمبرانو سینګار کړه: ا براهیم خلیـل، مـوسی کلـیم، عیسی-وجیه او محمد حبیب او د ځمکې پینځمه ښکلا آل محمد دي، چې دا دي: عـلي، فاطمـه، حسن او حسین.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۱۸ مخ) په دې عبارت یو روایت نقـل کـړی، چـې مـوږ اهلبیـت د فضایلو په یو داسې مقام یو، چې څوک هم له موږ سره د پرتله کېدو وړ ندي.
(اصابه: لومړی ټوک: لومړی قسم، ١٤٤ مخ) د ابوالشیخ له تفسیره د قیس بن براء لـه عبدالله بن بدر له پلار څخه روایت دی، چې رسول الله وویل: ((که څوک غواړي عمر یې اوږد شي او له هغه روزۍ خیر وویني، چې الله تعالی ور په برخه کړې؛ نو زما له اهلبیتو سره دې نېکـي وکړي، که څوک ترې زما ځایناستی نشـو؛ نـو عمـر به یـې لنـډ وي او د قیامـت پـر ورځ به تورمخی راسره ګوري.))
دا روایت متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۲۱٦ مخ کې نقل کړی دی.
(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱٦۳ مخ) له ابن عمر څخه روایت کړی، چې وایي: د ځلکدن په روستیو شېبو کې، رسول الله دا خبره وکړه: تر دې روسته ستاسې او د اهلبیتو ځان یم. بیـا یـې دا روایت طبراني ته نسبت ورکړی؛ ابن حجر هم د صـواعق پـه ۹۰ او ۱۳٦ مخونـو کـې نقـل کړی دی.

(فيض القدير: دربيم ټوک، ٤٩٧ مخ او نهم ټوک: ۵۵۳ مخ) په دې اړه روايت نقل کړی، چې له اهلبيتو سره د امت د چلن په اړه رسول الله وړاندوينه کړې وه؛ ذخاير العقبی هم په ۱۸ مخ کې د اهلبيتو په اړه د رسول الله د سپارښتنو روايت له عبدالعزيز څخه نقل کړی دی. محب طبري يې تر نقلولو روسته وايي: ابوسعيد او ملا هم نقل کړی دی؛ ابن حجر هم د صواعق په ۹۰ مخ کې او شبلنجي د نورالابصار په ۱۰۳ مخ کې نقل کړی دی.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١٦٨ مخ) له ابي سعيد خدري روايتوي، چې رسول الله وويل: ((الله تعالی (ج) درې حرمتونه لري، چې که چا يې يو هم وساته؛ نو الله تعالی به يې دين او دنيا وساتي او که چا و نه ساتل؛ نو الله تعالی به يې يو څه هم و نه ساتي او ضمانت به يې ونه کړي؛ لومبی د اسلام حرمت، دويم زما حرمت او دريم زما د حرم حرمت.))
دا روايت ابن حجر هم د صواعق په ۹۰ مخ کې راوړی او طبراني او ابوالشيخ ته يې نسبت ورکړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٢١٦ مخ) رسول الله وويل: ((که چا زما له اهلبيتو سره ښه وکړل؛ نو زه به ورسره د قيامت پر ورځ ښه وکړم.))
دا روايت مناوي هم د فيض القدير د شپږم ټوک په ۱۷۲ مخ کې او حبابي په تاريخ طالبين کې راوړی او تر نقلولو روسته يې وايي: ((څومره بخ تور دي، هغوی چې د رسول الله د اهلبيتو خپگان له منځه يوسي او يا يې خبره ومني او يا يې کومه هيله پوره کړي او هغه حکايتونه له شمېره وتلي دي، چې په دې مانا دلالت کوي او که څوک غواړي ځان نور هم پوه کړي، د بارزي توثيق عی الايمان کتاب او د ابن جوزي کتابونه بايد ولولي.))
دا روايت له بلې لارې داسې نقل شوی دی: ((که څوک زما له اهلبيتوسره ښه وکړي او هغه يې جبران نه کړای شي؛ نو زه به يې په خپله د قيامت پر ورځ جبران کړم.))
د محب طبري (ذخاير: ۱۹ مخ) د وينا له مخې دا حديث ابوسعد او ملا هم نقل کړی دی.
(کنزالعمال: اتم ټوک، ۱۵۱ مخ او شپږم ټوک: ۲۱۷ مخ) داسې نقل کړی دی: ((زه به د قيامت پر ورځ د څلور ډلو شفاعت کوم: ۱ـ چا چې زما د ځوځات درناوی وکړ. ۲ـ چا چې زما د ځوځات کومه اړتيا پوره کړه. ۳ـچاېې چې د پرېشانۍ پر مهال د ژوند لپاره گام پورته کړ. ٤ـ څوک چې په ژبه او زړه ورسره مينه کوي.))
دا روايت محب طبري هم د ذخاير په ۱۸ مخ کې راوړی او همدې روايت ته ورته يو بل روايت هم ابن حجر د صواعق په ۱۵۰ مخ کې نقل کړی دی.

(کنزالعمال: اووم ټوک، ۲۱٤ مخ) او مناوي د فيض القدير د څلورم ټوک په ۱۷٦ مخ کې:
((د قيامت پر ورځ پينځه شفيعان دي: ۱ـ قرآن. ۲ـ رحم. ۳ـ امانت. ٤ـ ستاسې پېغمبر. ۵ـ د پېغمبر اهلبيت.))

(ذخاير العقبی: ۱۸ مخ) او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۲۱۷ مخ کې او ملا په خپله سيره کې روايت نقل کړی، چې رسول الله خپلې د شهادت ګوتې يو ځای او جوختې کړې او و يې ويل: ((زما اهلبيت او دوستان به يې داسې يو ځای سره جنت ته ننوځي.))

(ابن حجر؛ صواعق: ۹۵ مخ) او (احمد؛ مناقب) راوړي، چې رسول الله وويل: ((بني هاشمو! قسم پر هغه الله تعالی، چې زه يې مبعوث کړی يم، چې د قيامت پر ورځ به شفاعت له تاسې پيلوم.))

(ذخاير العقبی: ۱٦ مخ) له عبدالعزيز او په خپل سند له رسول الله نقلوي چې وايي: ((زه او اهلبيت مې په جنت کې د ونې په څېر يو، چې ښاخونو مو پر ځمکه دي؛ نو که چا پرې منګولې ولګولې؛ نو الله تعالی ته به يې لار موندلې وي.)) همدا ليکوال په ١٤ مخ کې وايي: له زيد بن اسلم له پلار يې له عمر بن خطاب څخه روايت دی، چې زبير بن عوام وويل: زړه دې غواړي حسن بن علي ووينې؟ زبير پلمه رواړه. حضرت عمر وويل: مګر خبر نه يې چې د بني هاشمو پوښتنه کول (عيادت) دينې فريضه ده او زيارت يې نفل او شرعي مستحب دی.

سيوطي هم په درالمنثور کې د (قل لا اسئالکم عليه اجرا) آيت تر تفسير لاندې له بخاري نقل کړي، چې وايي: حضرت ابوبکر به ويل: د رسول الله لپاره پر اهلبيتو يې پام وکړئ.))

## له اهلبيتو سره مينه

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۳۰۸ مخ) له حضرت ا بن عباس څخه او (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱٤۹ مخ) او ا بونعيم د حلية د درېيم ټوک په ۲۱۱ مخ، خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ۱۵۹ مخ، ابن اثيرجرزي د اسدالغابه د دويم ټوک په ۱۲ مخ او سيوطي په درالمنثور کې د (قل لا اسئالکم) تر آيت لاندې راوړي، چې رسول الله وويل: ((له الله تعالی سره يې د نعمتونو له امله مينه وکړئ، له ماسره د الله تعالی له امله او له اهلبيتو سره مې زما له امله مينه وکړئ.)) او د وينا له مخې يې ترمذي، طبراني، حاکم او بيهقي راوړی دی.

(د بغداد تاریخ: دویم ټوک، ١٤٦ مخ) وایي: رسول الله وایي: ((زما شفاعت د هغوی لپاره دی، چې له اهلبیتو سره مې مینه کوي.))
سیوطي په درمنثور کې د مودت تر آیت لاندې او د هغه د وینا له مخې احمد، ترمذي، نسایي، حاکم، محب طبري (ذخایر: ٩ مخ)، طبراني، او خطیب بغدادي د ابي الضحی له لارې د حضرت ابن عباس له لارې او همداراز له ابي الضحی له مسروق له عایشې بي بي روایتونه نقل کړي، چې حضرت عباس رسول الله ته ګیله وکړه، خلک، چې موږ بني هاشم له لرېویني؛ نو یو له بل سره پسپسکي کوي او چې ورنږدې شو؛ نو چوپ شي او لنډه دا چې ستا نبوت او رسالت ددې لامل ګرځېدلی، چې خلک راسره په زړونو کې کینه واخلي. رسول الله دومره خپه شو، چې پر تندي یې خولې راماتې شوې او و یې ویل: ((پر الله تعالی قسم، چې د هغوی په زړه کې به ایمان نه وي او خیر به و نه ویني چې درسره مینه ونه کړي.))
په یو بل نقل کې راغلي: ((پر الله تعالی چې ایمان به ونه لري، چې راسره تر ځانه، له اهلبیتو سره تر خپلو اهلبیتو، له عترت سره تر خپل عترت او له ځوځات سره مې تر خپلې ځوځاته ډېره مینه ونه کړي.))
دا روایت هیثمي هم د مجمع د لومړي ټوک په ٨٨ مخ کې راوړی او د هغه وینا له مخې، طبراني هم په کبیر او هم اوسط او همداراز شبلنجي د نورالابصار په ١٠٣ مخ کې راوړی او د هغه د وینا له مخې، دیلمي، طبراني، ابوالشیخ په نورالابصار (١٠٣ مخ) او د هغه د وینا له مخې دیلمي، طبراني، ابوالشیخ، ابن حبان او بیهقي هم نقل کړی دی.
(کنزالعمال: دویم ټوک، ٥٦ مخ): ((پینځه څیزه دي، چې که چا ته روزي شول؛ نو په آخرت کې به د عمل د نه کولو لپاره هېڅ پلمه نه لري: ١_صالحه کورودانه. ٢_نېک اولاد. ٣_ښه خوی. ٤_ په وطن کې معیشت. ٥_ له اهلبیتو سره مینه.))
دا روایت مناوي هم د فیض القدیر د درېیم ټوک په٤٥٩ مخ کې نقل کړی او د وینا له مخې یې دیلمي هم په الفردوس کې نقل کړی دی.
(کنزالعمال: اووم ټوک، ٢١٢ مخ) د قیامت پر ورځ به د الله تعالی بنده ګام پورته نه کړي؛ خوداچې د څلورو څیزونو پوښتنه ترې نه وي شوې: ١_ عمر چې څنګه دې تېر کړ. ٢_ بدن چې په کوم کار دې واچاوه. ٣_مال، چې له کومه دې راوړی او په کوم ځای کې دې لګولی دی. ٤_ د اهلبیتو مینه.
دا روایت طبراني له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی او هیثمي د مجمع د لسم ټوک په ٣٤٦ مخ کې نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۷۸ مخ): خپل اولاد مو پر درې ځیزونو ادب کړئ: ۱_له پیغمبر سره مینه. ۲_له اهلبیتو سره مینه. ۳_د قرآن قرائت، چې د قرآن د حاملانو ناسته پاسته به د الله تعالی تر سیوري لاندې له انبیاوو او اصفیاوو سره وي؛ پر هغه ورځ، چې یو سیوری به هم نه وي. بیا متقي وايي: دا حدیث ابونصر عبدالکریم شیرازي د فواید په کتاب کې او دیلمي په فردوس کې له ابن النجار څخه، مناوي د فیض القدیر د لومړي ټوک په ۲۲۵ مخ کې او ا بن حجر د صواعق په ۱۰۳ مخ کې نقل کړی دی.

زمخشري په کشاف کې د شوری سورت د مودت آیت تر تفسیر لاندې د رسول الله وینا راخستې، چې وايي: شهید دی څوک چې د آل محمد په مینه ومري. پوه شئ! پر آل محمد مین مړ به ښښل شوی له دنیا تللی وي. پوه شئ! پر آل محمد مین مړ به تائب له دنیا تللی وي. پوه شئ! پر آل محمد مین مړ به مؤمن او په بشپړ ایمان له دنیا تللی وي. پوه شئ! پر آل محمد مین مړ ته به ملک الموت د جنت وعده وکړي او بیا انکر او منکر. پوه شئ! پر آل محمد مین مړ به د ناوې په څېر په درناوي جنت ته بیول کېږي. پوه شئ! پر آل محمد د مین د مړي له قبره به د جنت په لور دوه سیوري جوړ شي. پوه شئ! پر آل محمد د مین د مړي قبر به د د پرښتو زیات وي. پوه شئ! پر آل محمد مین مړ به پر سنت او جماعت له دنیا تللی وي. پوه شئ! د قیامت پر ورځ به یې له آل محمد سره د کینه کښ پر تندي لیکلي وي: د الله تعالی له رحمته نهیلی او پوه شئ! له آل محمد سره کینه کښ کافر له دنیا تللی او ان د جنت بوی به هم حس نه کړي.

(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۷۲ مخ او لسم ټوک: ۲۸۲ مخ) (کنوزالحقایق: ۵ مخ) (ذخایر العقبی: ۸۱ مخ) (شبلنجي؛ نورالابصار: ۱۰۳ مخ) روایتونه نقل کړي، چې د ټولو نچوړ دادی: د الله تعالی نبي وویل: هېڅکله زما له اهلبیتو مه غافلېږئ، چې که څوک زما د اهلبیتو په مینه له الله تعالی سره ملاقات وکړي؛ نو په شفاعت به یې جنتي کړي او پر الله تعالی چې زموږ د حق له پېژندو پرته یو عمل هم ګټه نه لري او څوک چې موږ د دنیا لپاره غواړي؛ نو هېڅ یې هم نه دي کړي او که چا د الله تعالی له امله راسره مینه وکړه؛ نو ددې دوو ګوتو (د شهادت دوه ګوتې یې یو ځای کړې) په څېر به یو ځای جنت ته ننوځو او پر پل صراط به یې پښه نه ښوییږي، چې له اهلبیتو سره یې مینه ډېره وي او له مؤمن پرته له اهلبیتو سره څوک مینه نه کوي او له منافق پرته څوک له اهلبیتو سره دښمني نه کوي او له آل محمد سره یوه ورځ مینه تر یوه کال عبادت غوره ده.

## له اهلبیتو سره دښمني او کړول يې

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۵۰ مخ) له حضرت ابي سعید خدري روايتوي، چې رسول الله وايي: ((قسم پر هغه الله تعالی، چې ژوند مې يې په لاس کې دی، چاچې له موږ اهلبیتو سره دښمني کړې؛ نو الله تعالی به يې په اورکې کړي.)) بیا وايي: دا حديث د مسلم په شرطونو صحیح دی او ابن حجر هم د صواعق په ۱۴۳ مخ کې راوړی او سیوطي په درالمنثور کې د شوری د سورت د مودت د آیت تر تفسیر لاندې نقل کړی او احمد، ابن حبان او حاکم ته يې نسبت ورکړی دی.

(د بغداد تاریخ: درېیم ټوک، ۱۲۲ مخ) د حضرت ابن عباس له خولې له رسول الله روايتوي، چې وايي: که عابد زر کاله په رکن او مقام کې د الله تعالی عبادت وکړي او بیا يې د ډېر عبادت له امله هډوکي ورژېړي او له اهلبیتو سره په دښمنۍ مړ شوی وي؛ نو الله تعالی به يې پړمخه دوزخ ته ورگوزار کړي.

سیوطي په درمنثور کې د مودت تر آیت لاندې، محب طبري د ذخایر په ۱۸ مخ کې او د هغه د وینا له مخې احمد په مناقب او مناوي د کنوزالحقایق په ۱۳٤ مخ کې او د هغه د وینا له مخې دیلمي راوړي، چې رسول الله وویل: ((له موږ سره دښمن به د اور په کوړو کې د الله تعالی له رحمته لرې کړای شي.))

(هیثمي؛ مجمع: څلورم ټوک، ۲۷۸ مخ) له معاويه بن خديج څخه روايتوي چې وايي: معاويه زه حسن بن علي ته ولېږلم، چې پر لور یا خور يې یزید ته مرکه وکړم؛ ورغلم او کیسه مې ورته وکړه، چې راته يې وویل: په دې اړه لونې یا خویندې پوښتو او زه هم په خپله خپلې لور ته ورغلم او د یزید د مرکې خبره مې ورته وکړه، چې لور مې راته وویل: پر الله تعالی چې دا ناشونی چار دی؛ خو دا چې ملگری دې ـ معاويه ـ په موږ کې هغه کار وکړي، چې فرعون په بني اسراییلو کې وکړ؛ خپل زامن يې ووژل او لونې يې ژوندۍ ښخې کړی. ما حسن ته وویل: زه دې د اور ټوټې ته لېږلې وم، چې زموږ امیرالمؤمنین ته يې فرعون ووایه. معاويه! له موږ سره له دښمنۍ لاس واخله، چې رسول الله وویل: څوک چې له موږ سره دښمني او کینه کوي؛ نو د قیامت پر ورځ به په کوړو د حوض کوثر له غاړې لرې کړای شي.

دا روایت يې د نهم ټوک په ۱۷۲ مخ کې هم نقل کړی دی.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۹۱ مخ) او د هغه د وینا له مخې، دیلمي له ابي هريرة او زمخشري په کشاف کې د شوری د سورت د مودت د آیت تر تفسیر لاندې او شبلنجي د نورالابصار په ۱۰۰ مخ کې او محب طبري د ذخایر په ۲۰ مخ کې او صواعق المحرقه په ۱۴۳ مخ کې

روایتونه نقل کړي، چې روستی یې داسې دی، چې که څوک موږ اهلبیتو ته کنځلې وکړي؛ نو مرتد به وي او څوک یې چې وکړوي؛ نو الله تعالی به پرې نه لورېږي او الله تعالی جنت پر داسې کسانو حرام کړی دی او پینځه کسان دي چې ټولو مستجاب الدعوة انبیاء پرې لعنت وایي: ۱_څوک چې د الله تعالی په کتاب کې لاس وهنه وکړي او لږ یا ډېر یې کړي. ۲_څوک چې د الله تعالی له قضا و قدر څخه منکر شي. ۳_څوک چې د الله تعالی حرام حلال وګڼي. ٤_څوک چې زما د عترت حرمت و نه ساتي. ٥_څوک چې سنت پرېږدي.
(فیض القدیر: لومړی ټوک، ٥١٥ مخ) او (کنوز الحقایق: ١٣٤ مخ) او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٢١٧ مخ او همداراز د لومړي ټوک په ٦٧ مخ کې روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي: ((د الله تعالی غضبونه خورا ډېر شول، چې یهودو وویل: عزیر د الله تعالی زوی دی او چې عیسویانو وویل: عیسی د الله تعالی زوی دی او ډېر ژر به هله ډېر شي چې څوک له ما څخه د چا وینه تو یې کړي.))

## علي صدیق اکبر دی

(خصایص نسائي: ۳ مخ) له عمرو بن عباد بن عبدالله او ا بن جریر طبري دخپل تاریخ د دویم ټوک په ٥٦ مخ کې او محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ١٥٥ مخ کې او د هغه د وینا له مخې قلعي او خلعي یو روایت او اصابه د اووم ټوک د لومړي قسم په ١٦٧ مخ کې د اسحاق بن بشر اسدي له خالد بن حارث له عوف له حسن له ابي لیلي غفاریه بل روایت نقل کړی، چې و یې ویل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: ((ډېر ژر به تر ما روسته فتنه راولاړه شي او چې فتنه شوه؛ نو علي بن ابیطالب ته پناه یوسئ او ترې لاس وانخلئ، چې هغه تر ټولو ړومبی تن و، چې ایمان یې راوړ او په قیامت کې به تر ټولو ړومبی تن وي، چې راسره روغبړ کوي؛ هغه صدیق اکبر، ددې امت فاروق او ددین یعسوب دی؛ لکه څنګه چې د دنیا مال د منافقینو یعسوب او پناه یې دی.))
دا روایت ابن عبدالبر هم د استیعاب د دویم ټوک په ٦٥٧ مخ کې، ا بن اثیر جرزي د اسدالغابه د پینځم ټوک په ٢٨٧ مخ، ریاض النضره د دویم ټوک په ١٥٥ مخ کې، هیثمي د مجمع د نهم ټوک په ١٠٢ مخ کې او د هغه د وینا له مخې طبراني، بزار، او همداراز مناوي د فیض القدیر د څلورم ټوک په ٣٥٨ مخ کې، متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ١٥٦ مخ کې او د هغه د وینا له مخې طبراني، له ابي ذر او سلمان او بیهقي او ا بن عدی له حذیفه او همداراز کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤٠٥ مخ کې له سلیمان بن عبدالله له معاذة عدویه او

ذهبي د ميزان الاعتدال د لومړي ټوک په ٤١٧ مخ کې او رياض النضره د دويم ټوک په ١٥٧ مخ او د هغه د وينا له مخې ابن قتيبه د معارف په کتاب کې، کنزالعمال د شپږم ټوک پـه ٤٠٢ مخ کې، په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې د روستي روايت روستى برخه مو راوړې ده، چې رسول الله وويل: ((په حشر کې، چې خلک علي د جنت پر يوه اوښ ووينې؛ نو وايي به: دا يا مقربه پرښته ده يا کوم مرسل نبي دى يا د عرش حامل، چې د دوى په ځواب کې د عرش له باطنه غږ کړي: دا صديق اکبر علي بن ابيطالب دى.
او د شپږم ټوک په ١٥٢ مخ کې وايي: صديقين درې کسان دي: حزقين؛ د آل فرعون مؤمن. حبيب نجار د آل ياسين خاوند او علي بن ابيطالب.
دا روايت سيوطي د يس سورت په تفسير کې او بخاري په خپل تاريخ کې او مناوي د فيض القدير د څلورم ټوک په ٢٣٧ مخ کې او ابن حجر د صواعق په ٧٤ مخ کې همدې مضمون تـه نږدې يو بل روايت ابوداوود، ابونعيم، ابن عساکر، ديلمي له ابي ليلي او فخـر رازي پـه خپـل تفسير کې د مؤمن سورت د (وقال رجل مؤمن من آل فرعون يکـتم ايمانـه) آيـت تـر تفسـير لاندې او فيض القدير د څلورم ټوک په ٢٣٨ مخ کې او محب طبري د ذخاير په ٥٦ مخ کـې او رياض النضره د دويم ټوک په ١٥٣ مخ کې نقل کړى دى.

## علي تر ټولو غوره بشر دى

(د بغداد تاريخ: اووم ټوک، ٤٧١ مخ) په خپل سند له جابر څخه روايتوي، چې وايـي: د اللـه تعالى استازي وويل: علي تر ټولو غوره بشر دى او څوک چې شک پکې کوي؛ نو کافر دى او د درېيم ټوک په ١٩٢ مخ کې وايي: څوک چې و نه وايي: په خلکو کې علي تر ټولو غوره بشر دى؛ نو کافر شوى دى. دا روايت ابن حجر عسقلاني هم د تهذيب التهذيب د نهم ټوک په ٤١٩ مخ کې راوړى دى.
(کنوز الحقايق: ٩٢ مخ)، (رياض النضره: دويم ټوک، ٢٢٠ مخ)، (محب طـبري؛ ذخـاير: ٩٦ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٣٩٨ مخ)، (د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ٣٩١ مـخ)، (هيثمـي؛ مجمع: نهم ټوک، ١١٦ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې موږ د مجمع روايت راخستى، چې ابن مسعود وايي: رسول الله ته مې د قرآن اويا سورتونه وويل او حفظ مې کـړل او پـاتې مې له خيرالناس علي بن ابيطالب سره وويل.
(هيثمي د هماغه ټوک په ١٥٨ مخ) له ربعي بن حراش څخه روايت کړى، چـې عبداللـه بن عباس له معاويه څخه د ننووتو اجازه وغوښته حال دا، د ټبر مشران ورسره ناسـت ول او سـعد

بن ابي وقاص يې ښي لور ته ناست و؛ نو همداچې معاويه بن ابوسفيان وليدل، چې عبدالله را روان دی؛ نو سعد ته يې وويل: پر الله تعالی چې داسې مسئلې به ورته رامخې تـه کـړم، چـې پکې يې بند کړم. سعد وويل: د حضرت ابن عباس په څېر په ځواب کې بند نه پـاتې کېـږي؛ نو همداچې عبدالله بن عباس کېناست؛ نو معاويه ترې د ځينو پوښتنه وکړه، چې هيثمـي يـې نومونه هم راوړي دي، تردې چې په پای کې يـې وپوښـتل: د عـلي بن ابيطالـب پـه اړه څـه وايې؟ و يې ويل: . . . . غوره تن و، چې ايمان يې راووړ، ځان ساتی و، د هر ځان ساتي سـيد او ښاغلی و، د سبطينو پلار و، چې د هغه بېلګه مې و نه ليده او نه به يـې تـر قيامـته وګـوري، چې څوک يې وکنځي، د الله تعالی او خلکو لعنت دې ورباندې وي.

## يوازې علي او لارويان يې نېکمرغه دي

(تفسير سيوطي) د بينه د سورت د (ان الذين آمنوا و عملوا الصـالحات اولئـک خـير البريـة) آيت تر تفسير لاندې وويل: ابن عساکر له جابر بن عبدالله روايت کړی، چې لـه رسـول اللـه سره وو او علي رانئووت، چې رسول الله وويل: ((قسم پر هغه الله تعالی، چې ژوند مې يې په لاس کې دی، چې دا او لارويان يې يوازې دي او د قيامت پر ورځ يوازې همدوی نېکمرغه دي.))؛ نو ځکه چې رسول الله به علي وليد؛ نو ويل به يې: "خيرالبرية" هغه دی.
(کنوزالحقايق: ۹۲ او ۸۲ مخ) او (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳۱ مخ) او صواعق المحرقه پـه ۹۶ مخ کې په دې باب روايتونه نقل کړي، چې د صواعق المحرقه په روايت کې رسـول اللـه وايي: ((علي! الله تعالی ته، ستا ځوځات، اولاد، کورنۍ، لارويان او د لارويانو دوستان ښښـلي دي.))

## له حضرت علي لاروي له خدايه لاروي ده

(مستدرک الصحيحين: دريېم ټوک، ۱۲۱ مخ) په خپل سند له حضرت ابي ذر روايتوي، چې وايي: رسول الله وويل: چا چې له ما لاروي وکړه؛ نو له خدايه يې لاروي کړې او چا چې لـه ما سرغړونه وکړه؛ نو له خدايه يې سرغړونه کړې او چا چې له علي لاروي وکړه؛ نو له مـا يـې لاروي کړې او چا چې له علي سرغړونه وکـړه؛ نـو لـه مـا يـې سرغړونـه کـړې ده. (حـاکم دا رويات صحيح السند ګڼلی دی)

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱٦۷ مخ)، (مناوي؛ کنوزالحقايق: ٦٤ مخ) او محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۱۷۲ مخ کې په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې روستی روايت محب طبري له حضرت عمار ياسر او له حضرت ابي ايوب څخه روايت کړی، چې دواړه وايي: رسول الله وايي: ((پر مسلمانانو د علي حق پر اولاد د پلار حق دی.))

## علي حجة الله، سيدالاصحاب او سيد العرب دی

(کنوز الحقايق: ٤۳ مخ)، (د بغداد تاريخ: دويم ټوک، ۸۵ مخ) او (رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۳ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي: رسول الله، چې علي وليد؛ نو ورته يې وويل: (دا چې را روان دی، په قيامت کې پر امت زما حجت دی.))

(د بغداد تاريخ: شپږم ټوک، ٤۳۷ مخ) په خپل سند له هارون الرشيد څخه روايت کړی، چې وايي: يوه ورځ له علي بن ابيطالب سره وم، چې د علي بن ابيطالب خبره رامنځ ته شوه، چې مهدي وويل: پلار مې له نيکه او هغه هم له پلاره له حضرت ابن عباس څخه روايت کړی، چې و يې ويل: له رسول الله اصحاب راتاو ول، چې علي راننووت، چې رسول الله وويل: ته د دوی عبقری يې او بيا يې په خپله د مهدي مانا وکړه؛ يعنې ته يې مشر يې او زما د اصحابو سيد يې.

(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱۲٤ مخ) په خپل سند له سعيد بن جبير له عايشې بي بي روايتوي، چې وايي: رسول الله وايي: زه د آدم د اولادې ښاغلی او علي د عر بو ښاغلی دی.

حاکم د يو بل روايت تر نقلولو روسته وايي: دا حديث يو بل شاهد لري او هغه د جابر حديث دی، چې وايي: رسول الله وايي: وياست چې د عربو ښاغلی راشي. عايشې بي بي وويل: رسول الله! مګر تاسې په خپله د عربو ښاغلی نه ياست؟ رسول الله وويل: زه د آدم د اولاد ښاغلی او علي د عربو ښاغلی دی.

(حلية‌الاولياء: لومړی ټوک، ٦۳ مخ)، (محب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۱۷۷ مخ) او د هغه د وينا له مخې فضائلي او خجنه ی او (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۷ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳۱ مخ)، (حلية اولالياء: پينځم ټوک، ۳۸ مخ)، (د بغداد تاريخ: يوولسم ټوک، ۸۹ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۷ مخ او د شپږم ټوک په ٤۰۰ مخ) او هيثمي د مجمع د نهم د ټوک په ۱۱٦ مخ کې او صواعق په ۷۳ مخ کې په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې ((رسول الله علي ته سيد العرب ووايه.))

## علي سیدالمسلمین، امیرالمؤمنین، امام المتقین، قائدالغر المحجلین، فاروق الامة و یعسوب الدین دی

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۳۷ مخ) په خپل سند له عبدالله بن اسعد بن زراره لـه پلار څخه روایتوي، چې رسول الله وویل:
((د علي په اړه ما ته درې عنوانه وحـې شوې؛ لومبـی: هغـه د مسـلمانانو سـاغلی، دویـم: د متقیانو امام او درېیم: قائدغرالمحجلین دی))
(متقي؛ کنزالعمال: درېیم ټوک، ۱۳۷ مخ) او د هغه د وینا له مخې باوردي، ا بن قـانع، بزار، حاکم او ابونعیم له اسعد بن زراره (اصابه: څلورم ټوک، لـومړی قسـم، ۳۳ مـخ) لـه سـعد بن زراره، ابن اثیر په اسدالغابه (لومړی ټوک، ٦٩ مخ او همداراز درېیم ټوک، ۱۱٦ مخ)، (محب طبري؛ ریاض النضره: دویـم ټـوک، ۱۷۷ مـخ)، (هیثمـي؛ مجمـع: نهـم ټـوک، ۱۲۱ مـخ) لـه عبدالله بن حکیم او (ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۷ مخ له حضرت علي کرم الله وجهـه او (حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ٦٦ مخ) له شعبي او د لومړي ټوک په ٦۳ مخ کې یې له انـس؛ د بغداد تاریخ: دیارلسم ټوک، ۱۲۲ مخ او د یوولسم ټـوک پـه ۱۱۲ مـخ کـې لـه حضـرت ا بن عباس؛ (ابن حجر؛ اصابه: اووم ټوک، لومړی قسم، ۱٦۷ مخ) له ابو احمد او ابن منده او نورو د اسحاق بن بشر اسـدي لـه خالـد بن حـارث، لـه عـوف لـه حسـن لـه ابي لـیلي غفاریـه او (استیعاب: دویم ټوک، ٦۵۷ مخ) او سد الغابه: پینځم ټـوک، ۲۸۷ مـخ او هیثمـي د مجمـع د نهم ټوک په ۱۰۲ مخ کې له ابي ذر، سلمان او مناوي د فیض القدیر د څلورم ټـوک پـه ۳۵۸ مخ کې او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک، ۱۵٦ مخ ک او ریاض النضره د دویـم ټـوک پـه ۱۵۵ مخ کې او کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۹٤ مخ کې له ابي مسعر څخه په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي:
ابي مسعر وویل: د علي مخې ته سره او سپین زر ایښي ول، چې ورننووتم، و یـې ویـل: زه د مؤمنینو یعسوب یم او دا د منافقینو یعسوب دی، مؤمنین ما ته پناه راوړي او منافقان دې ته.
(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ٦٤ مخ) پـه خپـل سـند لـه حضـرت ا بن عبـاس لـه رسـول اللـه روایتوي، چې وایي: د (یا ایها الذین آمنوا) آیت په سر کې علي دی.))
ابن حجر هم د صواعق په ۷٦ مخ کې او شبلنجي د نور لابصار پـه ۷۳ مـخ کـې او هیثمـي د مجمع په د نهم ټوک په ۱۱۲ مخ کې او محب طبري د ریاض النضره د دویم ټـوک پـه ۲۰۷ مخ کې او متقي د کنزالعمال د درېیم ټوک په ۳۱۹ مخ کې او مستدرک الصحیحین د درېیم

ټوک په ۱۲۹ مخ کې په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې روستی په خپل سند له جابر څخه راخستی، چې وايي:
((رسول الله علي له متو نيولی و او پر لوړ غږ يې وويل: ((هذا امير البررة؛ قاتل الفجرة، منصور من نصره، مخذول من خذله .))
(خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ۳۷۷ مخ) دا هم راوړي، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: ((انا مدينة العلم و علی بابها فمن اراد البيت فليات الباب.))؛ يعنې زه د علم ښار او علي يې ور دی؛ نو که څوک کور ته ننوځي؛ نو له وره دې ننوځي.))
حلية الاولياء په خپل سند له انس بن مالک څخه روايتوي، چې وايي: رسول الله ولېږلم، چې ابابرزه حاضر کړم او چې ورسره راغلم؛ نو ورته يې مخ کړ، و يې ويل: ابا برزه! رب العالمين راسره د علي بن ابيطالب په اړه ژمنه کړې، چې بايد ابلاغ يې کړم؛ هغه د ښيون مخکښ، د ايمان منار، زما د اولياوو امام او زما د لارويانو ولي دی.))

## علي تل له حق او حق تل له علي سره دی

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۲۹۸ مخ) د رسول الله د خولې وينا راخلي چې وايي: ((رحم الله عليا _ الله تعالی دې علي وبښي او بيا يې وويل: خدايه! تل علي او حق سره يو ځای کړي؛ دواړه يې يو د بل معرفي کوونکي کړي دي.))
حاکم هم دا روايت د مستدرک الصحيحين د درېيم ټوک په ۱۲٤ مخ کې راوړی او وايي: دا حديث د مسلم پر شرطونو صحيح دی.
(فخر رازي؛ کبير تفسير) د بسم الله تر تفسير لاندې ليکي: علي بن ابيطالب به په لمانځه کې يې "بسم الله " پر لوړ غږ ويله او په متواتره توګه جوت شوي، چې که هر چا په دين کې له علي بن ابيطالب څخه لاروي وکړه؛ نو د الله تعالی پر لار به تللی وي او دليل يې د رسول الله خبره ده، چې په دعا کې يې وويل: ((خدايه! حق د علي پر مدار وچورلوې.))
بيا فخر رازي تر شپېته مخونو روسته وايي: او چا چې په دين کې علي خپل لارښود کړ؛ نو هم يې په دين او هم يې په ځان کې پر عروة الوثقی منګولې لګولې دي.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۱۹ مخ) په خپل سند د عبدالرحمان له لور عمرة روايتوي، چې وايي: علي، چې د جمل جګړې د اور د مړ کولو لپاره تـه؛ نو ام المؤمنين ام سلمې بي بي ته ورغی، چې الله تعالی پاماني ورسره وکړي . ام سلمه وويل: الله تعالی دې مل شه، پر الله تعالی چې پر حقه يې او حق درسره دی که د رسول الله حکم دی، چې په

کور کې کېنم که نه درسره تلم؛ خو پر الله تعالی قسم، چې له خپل ځانه راباندې ګران زوی مې درسره لېږم.
حاکم ددې حدیث تر نقلولو روسته وایي: د مسلم او بخاري پر شرایطو سمبال صحیح حدیث دی.
(د بغداد تاریخ: څوارلسم ټوک، ۳۱۱ مخ) په خپل سندد ابي ذر له مولا ابي ثا بت څخه روایتوي، چې وایي: له ام سلمې بي بي کره ولاړم او و مې لیدل، چې ژاړي او د علي نوم اخلي او وایي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: علي له حق او حق له علي سره دی او د سترګو د رپ هومره هم یو له بله نه بېلېږي، چې راسره د حوض کوثر تر غاړې ووینې.
(هیثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۲۳۵ مخ) وایي: له محمد بن ا براهیم تیمي څخه روایت دی، چې وایي: پلاني ـ؛ یعنې معاویه بن ابوسفیان ـ د حج لپاره مدینې ته راغی او خلک یې سلام ته ورغلل؛ نو سعد راننووت او سلام یې واچاوه؛ معاویه بن ابوسفیان وویل: زه په حقه او علي پر باطله دی ـ سعد ورته څه و نه ویل. معاویه وویل: ولې خبرې نه کوې؟ و یې ویل: فتنه راولاړه شوې او ټول عالم یې نیولې او زما اوښ ته وایې اخ اخ ـیعنې سمله ـ زما اوښ هم لا پروت دی، چې فضا روښانه شي. سړي ـ معاویه ـ وویل: ما د الله تعالی ټول کتاب لوستی او په یو ځای کې مې هم اخ اخ و نه لید. سعد وویل: زما د خبرې پخلی د رسول الله وینا کوي، چې وایي: علي له حق سره دی او یا حق له علي سره دی؛ هر کار چې کوي. سړي وپوښت: آیا بل چا هم دا حدیث له رسول الله اورېدلی دی؟ و یې ویل: هو! دا خبره یې د ام سلمې په کور کې کړې ده. معاویه وویل: ولاړ شئ او ام سلمه راوړئ. ام سلمه یې راوړه، چې معاویه وپوښتله، چې ددې خبرې په اړه څه وایي؟ بي بي وویل: دا خبره رسول الله زما په کور کې کړې وه. معاویه سعد ته وویل: تر اوسه لا دومره راته پړ نه وې. سعد وویل: د څه پړه؟ معاویه: دا خبره دې د الله تعالی له استازي اورېدلې او علي دې ځان ته پرېښی دی اوکه ما اورېدلې وه؛ نو د عمر تر پایه به مې د علي خدمت او مرییتوب کاوه او له دې خبرې د معاویه مطلب دا و، چې سعد د صفین په جګړه کې علي ځانته پرېښی و
(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳٤ مخ) وایي: له ام سلمې بي بي روایت دی، چې تل به یې ویل: علي تل له حق سره و او چا چې ترې لاروي کړې؛ نو د حق لاروي یې کړې او چا چې پرېښی؛ نو حق یې پرېښی.))
او همداراز د اووم ټوک په ۲۳٤ مخ کې وایي: له ابي سعید ـ؛ یعنې خدري ـ روایت دی، چې وایي: د مهاجرو او انصارو له یوې ډلې سره د رسول الله د کور په مخ کې ول، چې علي بن ابیطالب تېر شو، چې رسول الله څو ځل وویل: ((دا له حق سره او حق له هغه سره دی.))

دا روایت ابویعلي او مناوي د کنوزالحقایق په ٦٥ مخ کې او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۷ مخ کې راوړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۷ مخ) رسول الله وویل: ((ډېر ژر به په خلکو کې درز پیدا شي، چې دا سړی ـ علي ـ او اصحاب یې پر حقه دي)) دا روایت طبراني له کعب بن عجره روایت کړی دی.
(کنزالعمال: درېیم ټوک، ۱۵۸ مخ) له ابي مجلز څخه روایت کړی، چې وایي: حضرت عمر خلک وپوښتل: تر ما روسته به څوک خلیفه کوئ؟ یو سړي وویل: زبیر بن عوام. و یې ویل: که داسې مو وکړل؛ نو بدخویه او کنجوس به مو خلیفه کړی وي. یو بل سړي د یو بل سړي نوم واخست او حضرت عمر د هغه نیمګړتیاوې هم وویلې، تردې چې یو سړي وویل: علي به خپل خلیفه کړو. پر الله تعالی، چې و به یې نه کړئ او که خلیفه مو کړ؛ که څه ستاسې خوښه نه وي؛ نو حق ته به مو راواړوي.
بخاري د ادب المفرده د کتاب د من احب کتمان السر په باب کې په خپل سند له محمد بن عبدالله بن عبدالرحمان بن عبدالقاري له پلار له عمر بن خطاب څخه د همدې روایت مضمون ته نږدې یو بل حدیث نقل کړی دی.

## علي له قرآن او قرآن له علي سره دی

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۲٤ مخ) په خپل سند له ابي سعید تیمي له ابي ثا بت د ابي ذر له مولا روایتوي، چې وایي: د جمل په جګړه کې د علي په لښکر کې وم، چې په مخالفینو کې مې عایشه بي بي ولیده، چې زړه ته مې شک ولوېد، چې د ماسپښین د لمانځه وخت شو او تر پایه له علي سره د دښمن پر وژلو بوخت وم؛ نو چې کله جګړه پای ته ورسېده، په مدینه کې ام سلمې بي بي ته ولاړم او ورته مې وویل: پر الله تعالی چې د اوبو او خوړو غوښتو ته راغلی نه یم؛ زه د ابي ذر مولا یم او کیسه مې هم داسې ده، چې و یې پېژندم؛ نو شاباس یې راته ووایه او یې ویل: زړونه چېرې الوځي؟ ورته مې وویل: هر چېرې، چې ولاړ شي الله تعالی یې ماسپښین بېرته راستنوي. راته یې وویل: شاباس! ما له رسول الله واورېدل: علي له قرآن سره او قرآن له علي سره دی او یو له بله به بېل نشي، چې د حوض کوثر تر غاړې ما وویني.
حاکم ددې حدیث تر نقلولو روسته وایي: سند یې صحیح دی او ابوسعید هماغه عقیصا دی، چې ډاډمن او امین انسان و.

دا روایت مناوي هم د فیض القدیر د څلورم ټوک په ۳۵۶ مخ کې او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۳ مخ کې نقل کړی دی. هیثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ۱۳۴ مخ کې او ابن حجر د صواعق په ۷۶ مخ کې او شبلنجي د نورالابصار په ۷۵ مخ کې دې روایت ته ورته روایتونه نقل کړي دي.

## علي ته کتل او یاد یې عبادت دی

(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۱٤۱ مخ) له حضرت ابي سعید خدري له عمران بن حصین (هغه دا حدیث صحیح ګڼلی) او په هماغه ټوک کې یې له عبدالله بن مسعود او ابونعیم په حلیة الاولیاء (پینځم ټوک: ۵۸ مخ) او هیثمي په مجمع (نهم ټوک، ۱۱۹ مخ) او محب طبري په ریاض النضره (دویم ټوک، ۲۱۹ مخ) او د هغه د وینا له مخې ابوالحسن حربي او امیري او (حلیة الاولیاء: دویم ټوک، ۱۸۲ مخ) له عروة له عایشې بي بي او (د بغداد تاریخ: دویم ټوک، ۵۱ مخ) له ابي هریرة، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۲ مخ) او مناوي په فیض القدیر (شپږم ټوک، ۲۹۹ مخ) ټولو د رسول الله وینا راوړې، چې وایي: ((د علي څېرې ته کتل عبادت دی)) مناوي ددې حدیث تر نقلولو روسته له زمخشري له ا بن الاعرابي نقلوي، چې وایي: بهر به چې راووت_؛ یعنې علي _؛ نو خلکوبه ویل: لا اله الا الله؛ دا ځوان څومره د مخ رڼا لري! څومره پوه دی! څومره حلیم دی! څومره مېړنی دی! دا ځوان څومره بختور دی، څوک یې چې ګوري، بې واکه وایي: لا اله الا الله!!!؟

(محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۱۹ مخ) له حضرت معاذه غفاریه روایتوي، چې وایي: له رسول الله سره مې خورا الفت درلود _ یعنې تل به یې کور ته ورتلم او په سفرونو کې به مې د ټپیانو خدمت او درمل کاوه. یوه ورځ له عایشې بي بي کره ولاړم او و مې لیدل، چې علي یې له کوره راوځي، چې پشي شا یې رسول الله عایشې بي بي ته وویل: عایشې! دا سړی تر ټولو پر ما ګران دی، حق یې وپېژنه او درناوی یې کوه؛ نو همدا ول، چې کله د علي او عایشې بي بي تر منځ د جمل جګړه پای ته ورسېده؛ نو زه مدینې ته راغلم او له عایشې بي بي کره ولاړم او ورته مې وویل: ام المومنین! د علي په اړه د رسول الله له سپارښتنو دې نن له علي سره زړه ښنګه دی؟ راته یې وویل: زړه به مې ښنګه وي، زموږ کور ته به چې راغی او پلار به مې هم په کور کې و؛ نو په لیدو به یې نه ستړی کېده؛ نو پوښتل مې: پلار جانه! ولې علي ته دومره ګورې؟ راته یې ویل: لورې له رسول الله مې اورېدلي: ((علي ته کتل عبادت دی.))

(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۱۹ مخ) له حضرت عايشې بي بي او همداراز په بيا يې په ۲۱۹ مخ کې يې له جابر او ۲۲۰ مخ کې يې د علي کرم الله وجهه له يـو زوی پـه دې اړه روايتونـه نقل کړي دي.
(فيض القدير: درېيم ټوک، ۵٦۵ مخ) وايي: د علي ذکـر او يـاد يـې عبـادت دی. دا روايـت ديلمي د الفردوس په کتاب کې عايشې بي بي او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۲ مخ کې همدا نسب ورکړی، (مناوي؛ کنوزالحقايق: ۷۳ مـخ) لـه خليلي او (صـواعق محرقـه: ۷٤ مخ) له ديلمي له عايشې بي بي په همدې مضمون روايتونه نقل کړي دي.

## الله تعالی له علي سره خواله وکړه

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۳۰۰ مخ) په خپل سند د حضرت جـابر بن عبداللـه لـه خـولې راخلي، چې د طائف پر ورځ رسول الله له عـلي سره ګوښـه شو، چـې د دواړو خوالـه اوږده شوه، چې خلکـو وويـل: څـومره يـې خـبرې اوږدې شوې؟ رسـول اللـه وويـل: ((مـا ورسره خصوصي خبره نه درلوده؛ الله تعالی ورسره خواله درلوده.))
دا روايت متقي هم د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۹ مخ کې نقل کړی دی.
خطيب بغدادي هم په خپـل تـاريخ (اووم ټـوک، ٤۰۲ مـخ)، ا بن اثـير جـرزي پـه اسـدالغابه (څلورم ټوک، ۲۷ مخ)، کنزالعمال (شپږم ټوک، ۳۹۹ مخ) له جندب بن ناجيه اويا ناجيـة بن جندب روايتونه نقل کړي، چې په روستي کې يې نيوکه کوونکی حضرت ا بوبکر و، چـې و يې ويل: رسول لله! له کله مو تر اوسه له علي سره خواله کوئ؟ رسـول اللـه وويـل: زه نـه وم، چې ورسره مې پټې خبرې کولې؛ بلکې الله تعالی تعالی و.))

## د رسول الله (ص) په دعا لمر علي ته راستون شو

فخر رازي په کبير تفسير کې د کوثر د سورت تر تفسير لاندې ليکي: الله تعالی يو ځل لمر د حضرت سليماعليه السلام لپاره راوګرځاوه او يو ځل يې رسول الله ته، چې سر يې د علي پـر زنګانه ايښې ويده او لمونځ ترې قضا شوی و او درېيم ځل ته يې علي ته راوګرځاوه، چـې د مازيګر لمونځ پر خپل وخت وکړای شي.
(ثعلبي؛ قصص الانبياء: ۳٤۰ مخ) وايي: احمد بن عبدالله بن حامد اصفهاني په خپل سند لـه عروة بن عبدالله روايتوي، چې وايي: د حضرت علي بن ابيطالب له لـور فـاطمې کـره ولاړم،

چې په هغه وخت کې بوډۍ شوې وه؛ خو بیا یې یوه غاړکۍ او دوه ډ بل وښي پر لاس درلودل، چې ومې پوښتل: دا څه دي؟ را ته یې وویل: مکروه دي، چې ښځه د سړي په څېر وي! دا مې اغوستي، چې له سړیو سره توپیر شم. بیا یې راته وویل: حضرت اسماء بنت عمیس خثعمي راته ویلي: علي له رسول الله سره و، چې پر رسول الله د وحې حالت راغی، علي یې سر پر زنګانه کېښود او څادر یې پرې واچاوه او همداراز وو، چې لمر کوز شو او یا یې وویل: لمر پر کوزېدو و، چې رسول الله په سد کې شو؛ پوښتنه یې وکړه: آیا لمونځ دې کړی؟ و یې ویل: نه! رسول الله وویل: خدایه لمر ورته راستون کړې؛ لمر راستون شو، چې د جومات تر نیمایي راورسېد.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۷۷ مخ) علي کرم الله وجهه وایي: په هغه ورځو کې، چې په خېبر کې وو؛ نو یوه شپه رسول الله د مشرکانو د وژلو له امله پوره شپه ویده نشو، چې د مازیګر تر لمانځه روسته یې سر زما په غېږ کې کېښود او ویده شو، چې لمر پرېوت او را ویښ شو؛ نو ورته مې وویل: رسول الله! د مازیګر لمونځ مې نه دی کړی؛ ځکه نه مې غوښتل راویښ مو کړم؛ د الله تعالی نبي خپل لاسونه اسمان ته کړل او و یې ویل: خدایه! لمر ورته راستون کړه! و مې لیدل چې لمر تر مازیګره راستون شو، چاپېریال روښانه او رڼا شوه؛ پاڅېدم او اودس مې وکړ او زما تر لمانځه روسته لمر کېناست.

(ریاض النضره: شپږم ټوک، ۲۹۷ مخ)، (مشکل ا الاثار: دویم ټوک، ۸ مخ) او (صواعق المحرقه: ۷۶ مخ) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې صواعق د خپل روایت تر نقلولو روسته وایي: دا روایت طحاوي او قاضي په شفاء کې او شیخ الاسلام ابوزرعة او نورو صحیح ګڼلی.

فخر رازي په کبیر تفسیر کې د (ام حسب ان اصحاب الکهف و الرقیم کانوا من آیاتنا عجبا) آیت تر تفسیر لاندې لیکي: له علي کرم الله وجهه څخه روایت دی، چې یو یار یې غلا کړې او حضرت علي ته یې راوست، و یې پوښت: غلا دې کړې ده؟ و یې ویل: هو! حضرت علي ترې لاس غوڅ کړ. سړی راووت، چې په لار کې یې سلمان پارسي او یو بل صحابي ولید، چې سړي وپوښتل: چا درځنې لاس غوڅ کړی دی؟ و یې ویل: امیرالمؤمنین، د دین یعسوب، د رسول استازي او د بتول مېړه. وویل شول: هغه دې لاس غوڅ کړی او ته یې ستایې؟! و یې ویل: ولې به یې نه ستایم، چې په حقه یې زما لاس غوڅ کړی او له اوره یې ژغورلی یم. سلمان ټولې اورېدلې خبرې علي ته ورسولې. حضرت علي حکم وکړ: هغه سړی ورته راولئ او سړی یې، چې راوست، حضرت علي ورته خپل لاس پر لاس کېښود او پرې شوی لاس یې ورته بیا په لاس پورې وتاړه او دعا یې ورته وکړه، چې دا مهال له اسمانه

غبږ راغی، چې رومال له لاسه لرې کړئ. رومال يې، چې لرې کړ؛ نو په حيرانتيا مو وليدل، چې د الله تعالی په امر د سړي لاس بېرته روغ رمټ دی.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۲۲ مخ) د حضرت ابي ذر غفاري د خولې وينا ده: زه رسول الله په علي پسې ولېږلم؛ نو کور ته يې چې ورسېدم او هر څومره غږونه مې، چې وکړل، ځواب يې رانه کړ او بېرته رسول الله ته راستون شوم، چې رسول الله راته وويل: ور شه ورته غږ کړه، په خپل کور کې دی؛ راغلم او بيا مې ورته غږونه وکړل؛ خو ځواب يې رانه کړ؛ نو کور ته مې سر وښکاره کړ؛ نو و مې ليدل، چې مېچنه په خپله چورلي او وړه ترې راتو يېږي، خوشحاله بهر راووت او دواړه رسول الله ته ولاړو، رسول الله ما او ما هغه ته کتل، چې و يې پوښتل: ابوذره! څه درباندې شوي؟ ورته مې وويل: ډېره هېښنده پېښه مې وليده؛ و مې ليدل، چې پخپله د علي مېچنه چورلي او وړه کوي او هلته څوک نه وو، چې مېچنه وکړي!!! رسول الله وويل: ابوذره! الله تعالی تعالی گرځنده پرښتې لري، چې دنده لري له آل محمد سره مرسته وکړه.
دا حديث ملا هم په خپله سيره او ابن حجر د صواعق په ۱۰۵ مخ کې راوړی دی.
(ذخاير العقبی: ٤٥ مخ) وايي: حضرت ابي سعيد وايي: علي راته وويل: يوه ورځ مې فاطمې ته وويل: د خوړو لپاره څه لرې؟ و يې ويل: نه قسم پر هغه الله تعالی، چې زما پلار يې په حقه مبعوث کړی؛ دوه ورځې دي، چې ته په کور کې نه يې او په دې دوو ورځو کې موږ څه هم نه دي خوړلي او که څه په کور کې وو؛ نو ته به مې له ځان او زامنو مخکې کړی وې. علي پوښتنه وکړه: نو ولې دې را ته و نه ويل، چې خواړه مې درته راوړي وای؟ و يې ويل: له خدايه وشرمېدم، چې له مېړه مې داسې څه وغواړم، چې پوره کولای يې نشي- علي پر الله تعالی له توکل سره له کوره راووت او دينار يې پور واخست، چې په لار کې حضرت مقداد مخې ته ورغی، چې په گرمه ورځ کې تر سوځنده لمر لاندې ولاړ دی، چې علي وپوښت: مقداده! کومې اړتيا په دې تکنده لمر کې درېدو ته اړ کړی يې؟ مقداد وويل: ا با الحسنه! پر خپل حال مې پرېږده او مه پوښته. علي وويل: روا نه دي، چې خپله ستونزه له ما پټه کړې. مقداد وويل: قسم پر هغه الله تعالی، چې محمد يې خپل استازی کړ، چې د کوړمې-بال بچ د لوږې چغې مې اورېدای نه شوې؛ نو ځکه له کوره بې له کومې موخې راووتم. ددې خبرو په اورېدو د علي سترگې له اوښکو ډکې شوې، چې ټوله ږيره يې په اوښکو لمده شوه او و يې ويل: قسم پر هماغه الله تعالی، چې تا پرې قسم وخوړ، چې د راوتو موخه مو يوه ده؛ ما دينار پور اخستی او تا له ځانه مخکې کوم او دينار يې مقداد ته ورکړ او په خپله رسول الله ته ورغی او د ماسپښين، مازيگر او ماښام لمونځ يې په جومات

کې وکړ؛ د ماسخوتن تر لمانځه روسته رسول الله له محرابه راپاڅېد او د علي په مخ کې تېر شو او پر پښه یې ورته اشاره وکړه، چې په ما پسې راځه؛ علي او رسول الله د جومات په خوله کې یو ځای شول. رسول الله پوښته وکړه: اباالحسنه! پـه کـور کـې خـواړه لـرې، چـې د شپې خواړه راکړې؟ علي سرښکته کړ او له شرمه یې غږ ونشو کړای؛ ځکه خبر و، چې کـور یـې پرېښی و. علي وویل: حباً و تکریماً (ښه راغلاست او الله تعالی مو راولـه)ګواکې اللـه تعـالی خپل استازي ته وحې کړې وه، چې د نن شپې خواړه دې له خپلو اهلبیتو سره یـو ځـای وي؛ رسول الله علي له لاسه ونیو او سره روان شول، چې د فاطمې بي بي کور ته راورسېدل، چې بي بي پر لمانځه ولاړه وه او شاته یـې یـو غـټ دېـګ ولیـد، چـې تـپ تـرې اوچتېږي؛ نـو همداچې بي بي د خپل پلار غږ ولید؛ نو د خپل لمانځه له ځایـه راووتـه؛ سـلام یـې واچـاوه؛ فاطمه پر پاک نبي خورا ګرانه وه؛ پاک نبي یې د سلام ځواب ورکړ او پـر سر یـې ورتـه لاس راکاږه او پوښتنه یې وکړه: څنګه یې؟ زه نن شپه ستاسې مېلمه یم، الله تعالی دې وبښـه، چې بښلې یې هم یې؛ نو بیا فاطمې دېګی راواخست او د پـاک نبـي مـخ تـه یـې کېښـود، د علـي سترګې، چې پر دېګ او د خوړو بوی یې پر سپېږمو ولګېـد؛ نـو پـر حسرت یـې بي بي تـه وکتل. بي بي وویل: په کتو کې دې ځانګړې مانا ده؛ سبحان الله! له ما خو به داسې کوم کـار نه وي شوی، چې تاسې مې غوسه کړې یاست؟ علي وویل: آیاد دروغو لـه قسـمه بلـه سـتره ګناه هم شته؟ سهار دې قسم و نه خوړ، چې په کور کې څه نه لرو؟ بي بي اسمان ته وکتل او و یې ویل: الله تعالی مې پر ځمکه او اسمانونو کې له هر څه خبر دی، چې مـا لـه حق پرتـه هېڅ هم نه وو ویلي. علي وویل: نو دا خواړه دې له کومـه کـړل، چـې داسـې خـواړه مـې نـه لیدلي، نه مې خوړلي او نه مې بوی کړي وو؟ رسول الله خپل لا س یې پر اوږو ورکېښـود او و یې خوځاوه، و یې ویل: علي! دا د یو دینار اجر او ثواب دی او دا خو یوازې دنیوي ثواب دی او د الله تعالی له لوري دی او الله تعالی چې چا ته وغواړي روزي ورکوي؛ بیا رسول الله پر ژړا شو او و یې ویل: قسم پر هغه الله تعالی، چې هغه به مو له نړۍ بونځي، چې دا [ کلـما دخل علیها زکریا المحراب وجد عندها رزقاًقال یا مریم انی لک هذا) زکریا به چـې د مـریم محراب ته راننووت؛ نو ورسره به یې رزق مونده؛ نو پوښتنه به یې کوله: مریم! له کومـه درتـه راغلي؟ ] آیت درباندې تطبیق شوی نه وي.

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۲۲ مخ) له علي بن زاذان څخه روایت دی، چې وایي: علي یو حدیث نقل کړ او یو سړي دروغ وباله، چې علي وویل: آیا خوښ یې، چې که ما رښتیا ویلي وو؛ نو ښېرې درته وکړم؟ سړي وویل: هو. علي ورته ښېرې وکړې او سړی لا راستون شوی نه و، چې ړوند شو.

دا حديث ملا په خپله سيره کې، احمد په مناقب، هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۱۶، طبراني په اوسط او ابن حجر د صواعق په ۷۷ مخ کې نقل کړی دی.
(ابن حجر؛ اصابه: پينځم ټوک، دريم قسم، ۲۸۷ مخ) د قيس بن تميم طائي گيلاني ا شبج د حال په شرح کې ليکي: د جندي د کتاب تاريخ يمن کې مې ولوستل، چې قيس بن تميم په ۵۱۷ هجري کال کې له رسول الله او علي حديثونه نقلول او ابو الخير طالقاني، محمود بن صالح، علي طرازي، محمود بن عبيدالله او صاعد مرزي يې حديثونه واورېدل، له هغو يې وويل: زه له ٤٥۰ ښاريانو سره، له ښاره بهر ووتو (گواکې د مسلمانانو پر خلاف له مشرکينوسره د يو ځای کولو لپاره وو) او په لار کې ورک شو او نه پوهېدو، چې کوم خوا ولاړ شو، چې همدا مهال يو سړی راغی او پر موږ يې يرغل وکړ او څو يرغله يې رابانديې وکړل او په هر يرغل کې يې په سلونو کسان راکې ووژل، چې ۸۳ کسان پاتې شو؛ نو د ناچارۍ له مخې مو ترې امان وغوښت؛ امان يې راکړ؛ بيا روسته معلوم شو، چې هغه علي بن ابيطالب و؛ موږ ټول يې رسول الله ته راوستو؛ نو موږ چې راورسېدو؛ نو پاک نبي د بدر د جگړې د غنيمت پر ويشلو بوخت و. رسول الله زه علي ته وروښلم او د څه مودې لپاره د مريي په حېث د علي په چوپړ کې وم او د کورنۍ د ليدو لپاره مې د ستنېدو اجازه وغوښته؛ اجازه يې راکړه؛ ولاړم او چې کله راستون شوم، حضرت عثمان وژل شوی و او زه بيا هم د علي په چوپړ کې وم؛ يوه ورځ د کار پر مهال څاروي پر لغته ووهلم او سر يې راته مات کړ، علي راته لاس پر سر کېښود او و يې ويل: ای اشبج: ؛ يعنې سر ماتيه! الله تعالی دې عمر ډېر کړه او دعا يې قبوله شوه او ۵۱۷ هجري کال دی او ژوندی يم.

## د قرآن د دوو آيتونو د راتگ شان

(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱٤۳ مخ) له ربيعه بن ناجد او احمد بن حنبل د مسند د لومړي ټوک په ۱۶۰ مخ کې، نسائي د خصايص په ۲۷ مخ کې او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۸ مخ کې، ابونعيم د فضايل الصحابه په ۳۵۵ مخ کې او د هغه د وينا له مخې ابويعلي، دورقي، ابن ابي عاصم، ابن شاهين، ابن جوزي او هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۳۳ مخ کې له عبدالله له بزار له ابويعلي او ابن حجر په صواعق (۷٤ مخ) کې او شبلنجي د نورالابصار په ۷۲ مخ کې روايتونه راوړي، چې رسول الله د قريشو په ستره ډله کې علي ته وويل: ((ستا مثال د عيسی بن مريم په څېر دی، چې دوه ډلې يې له امله هلاکې شوې؛ يوې ډلې ورسره مينه درلوده او بلې ډلې ورسره دښمني کوله تردې چې پر مور يې ورته تور

ولګاوه، قريشو، چې دا خبره واورېده؛ نو ګڼه ګونه شوه، چې خپل د تره زوی يې لـه عيسى-بن مريم سره تشبيه کړ؛ نو همدا مهال وو، چې د (ولما ضرب بن مـريم مـثلا اذا قومـک منـه يصدون؛ يعنې چې کله د عيسى بن مريـم مثال راوړل شي؛ نو ته‌بر دې مخالفت کـوي ] آيـت راغی.

دويم آيت د (فی بيوت اذن الله ان ترفع) آيت دی، چې سـيوطي پـه درالمنثـور کـې لـه ا بن مردويه او بريده روايت کړی، دا آيت، چې راغی؛ نو يو سړی پاڅېـد او و يـې ويـل: دا کـوم بيوت دي؟ و يې ويل: د انبياوو بيوت. بيا حضرت ابوبکر پاڅېد او و يې پوښتل: د فاطمې او علي بېت هم پکې دی؟ و يې ويل: هو په هغوی کې او تر ټولو افضل او د لـوړ مقـام خاونـد دی.

## د حضرت علي او فاطمة الزهرا واده

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټـوک، ۱۵۹ مـخ) لـه ابي يزيـد مـدني روايـتوي، چـې وايـي: حضرت اسماء بنت عميس راته وويل: د رسول الله د لور فاطمې د واده پـر شپه وم، کارونـه مې چې پای ته ورسول، رسول الله رانـنووت، و يې ويل: ام ايمن رور علي ته مـې غـږ کـړه. و يې ويل: هغه دې رور دی او لور دې هم ورکړې ده؟ و يې ويل: هـو همداسـې ده. بيـا عـلي راغی او رسول الله ورته پر مخ اوبه پخنک کړې او دعا يې ورته وکړه او بيا يې وويل: فاطمې ته غږ کړئ، چې راشي، فاطمه يې چې راوسته؛ نو له شرمـه يـې پښـه وښـو يېـده. رسـول اللـه وويل: په کلاره، چې ته مې په اهلبيتو کې تر ټولو راباندې ګران ته واده کـړې يـې او بيـا يـې اوبه د فاطمې پر مخ هم پخنک کړې او ولاړ، چې ناڅاپه يې يو سـيوری وليـد، چـې پوښـتنه يې وکړه: دا څوک دی؟ ما وويل: زه يم اسماء بنت عميس. پوښتنه يې وکړه: د رسـول اللـه د لور د واده شپې ته راغلې يې؟ ورته مې وويل: هو! بيا يې راته د خير دعا وکړه.

دا روايت هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۲۱۰ مخ کې، رياض النضره د دويم ټـوک پـه ۱۸۱ مخ کې، احمد په مناقب او محب طبري د ذخاير العقبی په ۲۹ مخ کې هم راوړی دی.

(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۲۰۷ مخ) له حضرت ابن عباس څخه روايتوي، چـې پـر فـاطمې بي بي د مشرانو د مارکو خبرې وې او داچې رسول الله يوه مرکه هم و نه منله بيا وايي: رسول الله پاڅېد او د ښځو غونډې ته ورغی، و يې ويل: خپله لور مې د تره زوی ته ورکړې او زه به يې په خپله د مېړه کور ته بوځم؛ نو تاسې چې هر څه کوئ؛ و يې کړئ؛ ښځې ټولې پاڅېدې او پر فاطمې يې عطر ووهل، نوې جامې يې ورواغوستې او پر خپلو ګاڼو يې سينګار کړه بيـا

رسول الله فاطمې ته راغی؛ نو چې کله ښځو رسول الله ولید؛ نو بې لـه حضرت اسـماء بنـت عمیس نورې ټولې پاڅېدې او ولاړې. پاک نبي پوښتنه وکړه: څوک يې؟ ځـه پـه خپـل کـار پسې. ورته یې وویل: زه هماغه یم، چې د لور ساتونکې دې وه، نجونې د واده پر شپه یـوې خپلوانې ښځې ته اړتیا لري، چې که کوم کار یې درلـود، چـې ورتـه یـې وکـړي. رسـول اللـه وویل: نو زه هم له خدایه غواړم تا او ستا ټوله نبیره دې له رټل شوي شیطانه وسـاتي. بیـا یـې فاطمې ته غږ کړ او فاطمه، چې راغله او و یې لیدل، چې علي له رسول اللـه سره ناسـت دی؛ نو پر ژړا شوه؛ نو د الله تعالی استازی ووېرېد، چې کېدای شي د لور ژړا یې د علي د بېـوزلۍ له امله وي؛ نو ورته یې وویل: ولې ژاړې؟ ما ستا په حق کې هېڅ ډول لنډون-کوتـاهي نـه ده کړې او ته مې په خپله کورنۍ کې تر ټولو غوره او راباندې گران ته واده کـړې یـې، قسـم پـر هغه الله تعالی، چې ژوند یې په لاس کې دی؛ ته مې د دنیا سعید او د اخرت صـالح تـه واده کړې یې. فاطمه ددې ټکیو په اورېدو ارامه او غلې شوه. بیا یې حضرت اسماء بنت عمیس ته لوښی ورکړ، چې اوبه راوړي، اوبه یې، چې راوړې؛ نو رسول الله لږې اوبه پخپله خولـه کـې غړغړه کړې او بیا یې په اوبو کې واچولې اوبیا یې هم پـر خپـل بدن او هـم د عـلي او هـم د فاطمې پر مخ او بدن پخنک کړې، و یې ویل: هملته ودرېږئ! و یې ویل: خدایه هغه له ما او زه له هغه ځنې یم او لکه څنگه چې دې له ما رجس او چټلي لرې کړه او پاک دې کـړم؛ نـو هغوی هم پاک کړه او دواړو ته یې وویل: پاڅئ او خپل کور ته مو ولاړ شئ، الله تعـالی مـو یو ځای لره، زړونه مو بریالي او نیتونه مو صالح وسـه او بیـا پاڅېـد او پـه دواړو پسـې یـې ور وتاړه او ولاړ. حضرت اسماء بنت عمیس وایي: ما رسول الله تر خپلو سترگو لاندې نیولی و، چې تر خپله کوره یې دوی دوو ته دعاگانې کولې اوپه خپلو دعاگانو کې یې بې له دوی نور څوک یاد نه کړل.

(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۲۰۶ مـخ) د عایشـې بي بي او حفصـې بي بي لـه لارې حضرت ابوبکر او حضرت عمر ته پر فاطمې د مرکې او د رسول الله له اړخه د منفي ځواب تر نقلولـو او پر فاطمې د علي د مرکې تر منلو روسته وایي: رسول الله وايي: هرومرو دا کار وکـړه. ورتـه یې وویل: زه بې له حطمي زغرې هېڅ هم نه لرم. ورته یې وویل: څه چې لرې، راټول یې کړه او ما ته یې راوړه. علي څـوارلس اوقیـه ـ چـې هـر اوقیـه څلوېښـت درهمـه دي؛ یعنـې ۴۸۰ درهمه ـ راوړل او رسول الله پر دې راضي شو او بیا یې له هغو پیسو درې موټې راواخستل او ام ایمن ته یې ورکړل او ورته یې وویل: پر یو موټي یې عطر او پر نورو یې د ښځې د کـور د اړتیا سامان واخله. ام ایمن د سامان تر اخستو روسته ټول په یوه کوټه کې راټول کـړل. رسـول الله علي ته وویل: کورنۍ ته دې څه مه وایه، چې زه پخپله راشم او چې راغـی، و یـې لیـدل،

چې د فاطمې پر مخ اوس هم پرونې دی او علي د کور په گوټ کې ناست دی او ام ایمن په یو بل گوټ کې ناسته ده، چې ام ایمن ته یې وویل: یو لوښی اوبه راوړه. (د حدیث تر پایه) (ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۸۰ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۱۳ مخ)، (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۲۰۹ مخ)، (ابن حجر؛ صواعق: ۸٤ مخ)، (محب طبري؛ ذخایر: ۲۷ مخ)، (د بغداد تاریخ: پینځم ټوک، ۷ مخ) او ذخایر العقبی په ۲۹ مخ کې په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.

## د الله تعالی نبي بې د علي له وره د نورو ټولو اصحابو کرامو ورونه وتړل

درالمنثور د نجم د سورت د (و ما ینطق عن الهوی _ او هغه د هوی او هوس له مخې خبرې نه کوي) آیت تر تفسیر لاندې له ابن مردویه، ابي الحمراء او حبة عرني روایتوي، چې وایي: رسول الله حکم وکړ، چې د علي له وره پرته د نورو ټولو اصحابو د خونو هغه ورونه وتړئ، چې جومات ته به خلاصېدل، چې دا خبره پر مهاجرو بده ولگېده. د حدیث راوي حبه عرني وایي: لکه همدا اوس، چې حمزة بن عبدالمطلب وینم، چې سور رومال یې پر سر اچولی و او په ژړا وایي: آیا خپل تره، ابوبکر، عمر او عباس بهر باسې او خپل د تره زوی ته په جومات کې ځای ورکوې؟ یو بل هلته و، چې و یې ویل: هغه په هر ځای کې د خپل تره د زوی د مقام د لوړولو په هڅه کې وي، رسول الله، چې دا خبرې واورېدې؛ نو حکم یې وکړ، چې د جماعت لمانځه لپاره ټول راټول کړئ، خلک، چې راټول شول، پر ممبر کېناست او د الله تعالی په اړه یې داسې خطبه وویله، چې تر اوسه یې لا نه وه ویلې او بیا یې وویل: خلکو ما نه ستاسې د خونو ور تړلی او نه مې د هغه خلاص کړی او تاسې مې بهر کړي نه یاست او هغه مې نه دی رادننه کړی؛ بلکې الله تعالی دا کار کړی دی او بیا یې دا آیت وواېه: (و النجم اذا هوی ما ضل صاحبکم و ما غوی و ما ینطق عن الهوی ان هو الا وحی یوحی.)

(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۳۰۱ مخ) له حضرت ابن عباس څخه؛ (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۲۵ مخ) په خپل سند له زید بن ارقم څخه (احمد حنبل؛ مسند: څلورم ټوک، ۳٦۹ مخ)، (نسائي: خصایص: ۱۳ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۲ مخ) او (مستدرک الصحیحن: درېیم ټوک: ۱۲۵ مخ) له حضرت ابي هریرة له حضرت عمر بن خطاب څخه په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې حضرت عمر بن خطاب وایي: علي بن ابیطالب درې ځانگړنې لري، چې که یوه یې هم ما درلوده؛ نو په دنیا کې به تر

هر څه راته ښه وو. پوښتنه ترې وشوه: هغه کومې دي؟ و يې ويل: له فاطمې سره واده، په جومات کې يې مېشتېدل او د خيبر د ورځې د جګړې د مشرۍ بېرغ.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۱٦ مخ) په خپل سند له خيثمه بن عبدالرحمان روايتوي، چې وايي: له سعد بن مالک مې واورېدل، چې يې واورېدل، چې علي درپسې خبرې کولې او ويل يې: سعد له ما سرغړونه کړې ده. په ځواب کې يې وويل: هو له هغه د سرغړونې فکر مې ماغزو ته راغی او پر الله تعالی، چې فکر مې غلط و او حق له هغه سره و؛ علي بن ابيطالب درې ځانګړې لري، چې که مې درلودې؛ نو په دنيا کې به تر هر څه راته غوره وو: ۱_ د "خم غدير" کيسه. ۲_د خيبر د سوبې کيسه. ۳_ د نورو اصحابو دخونو د ورونو تړل او د علي پرانستل.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۷۵ مخ)، (هيثمي؛ مجمع الزوايد: نهم ټوک، ۱۱٤ مخ)، (عسقلاني؛ فتح الباري: اتم ټوک، ۱۵ مخ)، (احمد حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۳۳۰ مخ)، (احمد حنبل؛ مسند: دويم ټوک، ۲٦ مخ)، (حلية الاولياء: څلورم ټوک، ۱۵۳ مخ)، (د بغداد تاريخ: اووم ټوک، ۲۰۵ مخ) (نسائي؛ خصايص: ۱۳ مخ)، (کنزالعمال: درېيم ټوک، ۱۵۵ مخ او همداراز شپږم ټوک، ٤۰۸ مخ)، (ميزان الاعتدال: دويم ټوک، ۱۹٤ مخ)، (مجمع الزوايد: نهم ټوک، ۱۱۵ مخ) له علي کرم الله وجهه او د (هماغه ټوک په ۱۵ مخ کې يې علاء بن عرار او له جابر بن سمرة) او فتح الباري؛ اتم ټوک، ۱٤ او ۱۵ مخونو کې په دې اړه روايتونه نقل کړي دي.

## د هر پيغمبر ځوځات له ځانه وي؛ خو د حضرت محمد (ص) ځوځات له علي دی

(د بغداد تاريخ: لومړی ټوک، ۳۱٦ مخ) په خپل سند له منصور عباسي له عبدالله بن عباس روايتوي، چې وايي: زه او پلار مې عباس بن عبدالمطلب له پيغمبر سره ناست وو، چې علي بن ابيطالب راننووت او سلام يې واچاوه؛ رسول الله يې د سلام ځواب په خوشحالۍ او ورين تندي ورکړ، ورپاڅېد او ورسره يې سترې مه شي وکړل او د دوو سترګو په منځ کې يې موچې کړ او خپل ښي لور ته يې کېناوه. عباس وويل: رسول الله! دا درباندې ډېر ګران دی؟ رسول الله وويل: ((د رسول الله کاکا! پر الله تعالی چې تر ما پر الله تعالی ډېر ګران دی! الله

تعالی د هر پیغمبر صلب په خپل صلب کې ایښې وي او زما د ځوځات صلب یې په علي کې ایښې دی.))
دا عبارت محب طبري هم د ریاض النضره د دویم ټوک په ۱٦۸ مخ کې راوړی او ا بوالخیر حاکمي ته یې نسبت ورکړی دی او د دویم ټوک په ۲۱۳ مخ کې یې هم راوړی او ابي الخیر قزویني ته یې نسبت ورکړی، ابن حجر هم د صواعق په ۹۳ مخ کې نقل کړی او ابي الخیر حاکمي او صاحب (کنوز المطالب فی بنی ابیطالب) ته یې نسبت ورکړی او ویلي یې دي: دویمي ـ؛ یعنې د کنوزالمطالب د کتاب خاوند ـدا زیاتونه هم راوړی، چې قیامت شي؛ نو هر چا ته به د مور په نوم غږ کېږي، چې بې پته نشي؛ ځکه کېدای شي پلار یې هغه نه وي، چې خلک یې پرې پېژني ـخو داچې ـ علي بن ابیطالب او ځوځات یې ـ چې د پلارونو نومونه به یې اخستل کېږي؛ ځکه زوکړه یې له حلالې بسترې او سمه ده.
(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۷۲ مخ) هم پورتنی عبارت له جابر بن عبدالله څخه او د کنزالعمال خاوند د شپږم ټوک په ۱۵۲ مخ کې او مناوي د فیض القدیر د دویم ټوک په ۲۲۳ مخ کې او ابن حجر د صواعق په ۷٤ مخ کې له جابر او خطیب له حضرت ابن عباس څخه نقل کړی دی.

## پر الله تعالی او استازي يې علي او پر علي هم الله تعالی او استازی يې

## گران دي

صحيح بخاري د جهاد د کتاب د (ما قيل فی لواء النبي) په باب کې له سلمة بن اکوع او هماغه د بدء الخلق د کتاب د مناقب علي او غزوه خيبر په باب کې او مسلم د خپل صحيح د فضايل الصحابه د کتاب د فضايل علي په باب او بيهقي د سنن د شپږم ټوک په ۳۶۲ مخ کې او ابونعيم د حلية د لومړي ټوک په ۲۶ مخ کې د خيبر د جگړې د کيسې په ترڅ کې روايتوي، چې رسول الله وايي: ((ډېر ژر ـ يا سبا ـ به د جگړې د مشرۍ بېرغ داسې چا ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی يې پرې گران او پر الله تعالی او استازي يې هم گران دی.)) صحيح بخاري د جهاد د کتاب د ((يو تن د مسلمانولو د فضيلت)) په باب کې په خپل سند له سهل بن سعد روايت کړی، چې وايي: رسول الله پورتنۍ خبره وکړه او چې سبا شو او د علي سترگو ته يې تر شفا ورکولو وروسته د جگړې د مشرۍ بېرغ ورکړ. علي وپوښتل: آيا دومره وژنه وکړم، چې ټول زموږ په څېر مسلمانان شي؟ و يې ويل: ((مخکې ولاړ شه، چې کلا ته يې ورننوځې او بيا يې اسلام ته راوبله او د اسلام واجبات شرح کړه، چې که الله تعالی په تا څوک ښيون کړي؛ نو تر ټولو نعمتونو به درته غوره وي.))

دا روايت مسلم هم د خپل صحيح د فضايل علي په باب کې، احمد بن حنبل د مسند د پينځم ټوک په ۳۲۲ مخ کې، نسائي د خصايص په ٦ مخ کې او علي بن سلطان د مرقاة د پينځم ټوک په ۵٦٦ مخ کې راوړی دی.

(صحيح مسلم؛ فضايل الصحابه: فضايل علي) په خپل سند له حضرت ابي هريرة روايتوي، چې وايي: د خيبر د جگړې پر ورځ رسول الله وويل: ((دا بېرغ به ډېر ژر داسې چا ته ورکړم، چې الله تعالی او استازی يې پرې گران دی او هغه هم پر الله تعالی او استازي يې گران دی.)) حضرت عمر بن خطاب وويل: هېڅکله مې د هغې ورځې په څېر د جگړې د مشرۍ هېله نه وه کړې؛ نو په تمه وم، چې کېدای شي رسول الله راته غږ کړي، چې علي بن ابيطالب ته يې غږ کړ او د جگړې د مشرۍ بېرغ يې ورکړ او ورته يې وويل: ((پر مخ ولاړ شه او له پر مختگ پرته بله موخه مه لره او راستون نشې، چې کلا الله تعالی ستا په لاس سوبه کړي.)) علي مخکې ولاړ او پرته له دې، چې مخ راواړوي؛ چغې يې کړی: رسول الله! د څه لپاره وژنه وکړم؟ رسول الله وويل: ((وژنه وکړه، چې شهادت ورکړي، چې بې له خدايه بل معبود

نشته او محمد يې استازی دی او چې دا گواهي يې ورکړه؛ نو ځان او مال يې پر تا حرام دي او په زړونو کې يې چې څه وي؛ حساب يې پر الله تعالی دی.))
دا روايت (احمد بن حنبل؛ مسند: دويم ټوک، ٣٨٤مخ)، (ابوداودطيالسي؛ مسند: لسم ټوک، ٣٢٠ مخ)، (ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، لومړی قسم: ٨٠ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: پينځم ټوک: ٢٨٥ مخ او همداراز د شپږم ټوک، ٣٩٣ مخ)، نسائي د خصايص په ٦ مخ کې له څلور لارو او خطيب بغدادي د خپل تاريخ د اتم ټوک په ٥ مخ کې نقل کړی دی.
(ابن ماجه؛ صحيح: باب فضايل الصحابه: ١٢ مخ) په خپل سند له عبدالرحمن بن ابي ليلی روايتوي، چې وايي: پلار مې ابوليلي تل د علي په چوپړ کې و او ليدل به يې، چې علي به د اوړي جامې په ژمي او د ژمي جامې به يې په اوړي کې اغوستې؛ نو ما او يوې ډلې مې پلار ته وويل: بده به نه وي، چې و يې پوښتې، چې ولې داسې کوي؟ علي وويل: د خيبر په جگړه، چې رسول الله په ما پسې يو څوک راوليږه؛ نو سترگې مې خوږېدې؛ نو ورته مې وويل: هېڅ نه وينم؛ نو توکانې يې راته په سترگو کې وموږلې او راته يې وويل: پالونيکه! له گرمۍ او سړو يې وساتې او د رسول الله د دعا له امله دي، چې ساړه او گرمي راباندې اغېز نه کوي. د سترگو تر شفا او دعا روسته يې راته وويل: يو داسې سړی جگړې ته ليږم، چې الله تعالی او استازی يې پرې گران دی او هغه هم پر الله تعالی او استازي يې گران دی او هېڅکله له جگړې نه تښتي.
دا روايت احمد بن حنبل د خپل مسند د لومړي ټوک په ٩٩ او ١٢٣ مخونو کې او نسائي د خصايص په پينځم مخ کې په لږ اختلاف او له دې اختلاف سره يې راوړی، چې رسول الله د حضرت ابوبکر په مشرۍ لښکر ولېږ؛ خو پر شا شو او بيا يې حضرت عمر مشر کړ، چې هغه هم پر شاشو او بيا يې وويل: ډېر ژر به د جگړې د مشرۍ بيرغ يو داسې.... (د حديث تر پايه)
او همداراز (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١٢٤ او ١٢٣ مخونه)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ٤٣٧ مخ) په خپل سند له عبدالله بن بريده اسلمي او د هماغه ټوک په ٣٨ مخ کې يې له جابر بن عبدالله او (احمد بن حنبل؛ مسند: پينځم ټوک، ٣٥٨ مخ) او (متقي؛ کنزالعمال: پينځم ټوک، ٢٨٤ مخ) په دې اړه راوايتونه نقل کړي، چې موږ به هغه نچوړ راواخلو، چې په تېرو روايتونو کې نه وو راغلي: رسول الله لومړی د جگړې مشري حضرت ابوبکر ته ورکړه او بيا يې حضرت عمر ته ورکړه؛ خو دا دواړه پر شا شول، چې رسول الله وويل: ډېر ژر به د جگړې د مشرۍ بيرغ داسې يو تن ته ورکړم چې.... بيا علي ووت او مرحب يې مخې ته د مړانې چغې وهلې او علي هم د مېړنتوب چغې وهلې، چې مرحب يې پر سر وواهه او سر يې

ورنیم کړ او تر اوسه لا د اسلام د لښکر روستي کسان د مرحب مړي ته نه وو رارسېدلي، چې د اسلام د لښکر ړومبي سرتېري پر کلا ورننوتي ول.
(خصایص نسائي: ٤، ٨ او ٣٢ مخونه)، (کنزالعمال: پینځم ټوک، ٢٨٥ او ٢٨٣ مخونه او د شپږم ټوک ٣٥٩ مخ) له حضرت عمر بن خطاب او (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١٢٣، ١٧٣ او ١٢٤ مخونه) له دوو لارو؛ یو له عمران بن حصین او بل له حضرت ا بن عباس له لارې، (عسقلاني؛ تهذیب التهذیب: اووم ټوک، ٣٣٧ مخ له سعدبن ابي وقاص، ابوهریرة، سهل بن سعد، بریده، ابوسعید، ابن عمر، عمران بن حصین او له سلمة بن اکوع (رضی الله عنهم) څخه په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.
(ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: درېیم ټوک، ٣٤ مخ او د پینځم ټوک، ٢٣١ مخ) له ضحاک انصاري روایتوي، چې وایي: رسول الله، چې خیبر ته ته؛ نو علي یې د لښکر مشر کړ او ورته یې ویلي ول: ((د خیبر هر یهودي، چې له کلا بهر راووت او خپل باغ ته ورننووت؛ نو ځان یې په امان کې دی)) علي هم د رسول الله دا حکم پر لوړ غږ خپلو سرتېرو ته اعلان کړ، چې رسول الله، حضرت جبراییل (ع) په خندا ولید، چې پوښتنه یې ترې وکړه: ولې خاندې؟ و یې ویل: علي راباندې ډېر گران دی. رسول الله علي ته وویل: اوس جبراییل هم وایي، چې علي راباندې گران دی. علي وویل: اوس زما کار تردې رارسېدلی، چې پر جبراییل هم گران یم. رسول الله وویل: ته پر هغه چا گران یې، چې تر جبراییل غوره دی؟ پوښته یې وکړه: څوک؟ و یې ویل: الله تعالی.
(ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: څلورم ټوک، ٢٣٠ مخ) (له حسن بصري، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٦ مخ) له عبدالله قشیري له انس بن مالک دا مضمون روایت کړی، چې و یې ویل: د رسول الله خادم وم، چې یوه ورځ مې واورېدل : خدایه جنتي خواړه راکړه. و مې لیدل، چې سور شوی چرگ ورته راغی او بیا رسول الله وویل: ((خدایه داسې کس ددې چرگ خوړو ته راوړې، چې پر تا گران وي او ته او استازی دې هم پرې گران وي او پر پیغمبردې هم گران وي.)) انس وایي: د رسول الله له خونې، چې راووتم؛ نو و مې لیدل، چې علي د وره تر شا ولاړ او د ننوتو اجازه غواړي؛ ما اجازه ورنه کړه او د الله تعالی د استازي خونې ته راستون شوم او و مې لیدل، چې رسول الله بیا هماغه دعا کوي؛ بیا بهر راووتم، چې گورم علي د ننوتو اجازه غواړي او بیا مې هم اجازه ورنه کړه او راننوتم او بیا مې واورېدل، چې رسول الله بیا هم هماغه دعا کوي او پر گومان مې، چې دا کار درې ځل تکرار شو، چې علي بې اجازې راننووت، چې رسول الله وویل: علي! ولې دې ناوخته کړ؟ و یې ویل: راتلم؛ خو انس د ننوتو اجازه نه راکوله. رسول الله وویل: انسه! ولې دې د علي مخه ونیوه؟ ورته

مې وویل: زړه مې غوښتل خپل خپلوان مې راننوځي. رسول الله وویل: ((بده نه ده، چې څوک له خپلوانو سره مینه وکړي؛ خو په دې شرط، چې له امله یې له نورو سره دښمني ونه کړي.))
(خطیب بغدادي؛ د بغداد تاریخ: لومړی ټوک، ۲۵۹ مخ) په خپل سند د حضرت ا بن عباس د خولې وینا رااخلي، چې وايي: رسول الله وویل: پر هغه شپه یې، چې معراج ته بوتلم؛ نو و مې لیدل، چې د جنت پر وره یې لیکلي وو: ((لا اله الا الله محمد رسول الله علی حب الله والحسن و الحسین صفوة الله و فاطمه خیرة الله علی باغضهم لعنة الله))؛ یعنې بې له خدایه بل معبود نشته، محمد یې استازی، علي د الله تعالی محبوب، حسن، حسین او فاطمه د الله تعالی غوره دي او د دوی پر دښمنانو دې لعنت وي.
(خطیب بغدادي؛ د بغداد تاریخ: اتم ټوک، ٤٠١ مخ) په خپل سند له ابي عبدالله جدلي له ام سلمه بي بي روایتوي، چې وايي: عبدالله! ستاسې پر ممبرونو رسول الله ته کنځلې کېږي او تاسې چوپ یاست؟ عبدالله وویل: سبحان الله! هېڅکله هم داسې نه دي! ام سلمې بي بي وویل: مگر ستاسې پر ممبرونو علي او مینوالو ته یې کنځا نه کېږي؟ و یې ویل: هو همداسې ده. ام سلمې بي بي وویل: زه شهادت ورکوم، چې علي د الله تعالی پر استازي گران و (نو کنځل مو پېغمبر ته هم دي)

## رسول الله (ص) وايي: د الله تعالی حکم دی، چې له علي، سلمان، ابي ذر او مقداد سره مینه وکړم

(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۲۹۹ مخ) په خپل سند له حضرت ابي بریده له پلاره یې روایتوي، چې وايي: رسول الله وویل: ((الله تعالی راته حکم کړی، چې له څلور کسانو سره مینه وکړم او خبر یې راکړی، چې پر الله تعالی هم گران دي.)) خلکو پوښتنه وکړه: رسول الله! نومونه یې واخلئ، چې و یې پېژنو! رسول الله وویل: ((علي له هغوی دی!علي له هغوی دی! علي له هغوی دی! او سلمان، ابوذر او مقداد، چې پر الله تعالی گران دي او حکم یې راکړی، چې زه هم ورسره مینه وکړم.))
دا روایت (ابن ماجه؛ صحیح ابن ماجه: باب فضایل اصحاب رسول الله: ١٤ مخ)، (حاکم؛ مستدرک: درېیم ټوک، ۱۳۰ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: پینځم ټوک، ۳۵۱ مخ)، (ا بونعیم؛ حلیة: لومړی ټوک، ۱۹۰ مخ)، (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۵۵ مخ)، (ا بن حجر؛ تهذیب

التهذيب: لسم ټوک، ۲۸٦مخ) او ا بن عبدالبر؛ استيعاب: لومړی ټوک، ۲۸۰ مخ او دويم ټوک، ۵۵۷ مخ کې هم راوړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۲۸، ٤۲۹ او د درېيم ټوک ۱۵٤ مخونه ) د حضرت ابن عباس او د حضرت علي د خولې وينا راخلي، چې د دواړو نچوړ دادی: حضرت جبراييل رسول الله ته وويل: محمده! پر الله تعالی دې درې اصحاب ګران دي؛ نو ته هم ورسره مينه وکړه؛ علي، ابوذر، مقداد او په بل روايت کې دي، چې: جنت زما د درې اصحابو د ليدو لېوال دی. دا مهال د اصحابو ډله رامخکې شوه، چې رسول الله يې نوم واخلي، چې حضرت محمد پکې د سلمان نوم هم واخست.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۷ مخ) له حضرت انس بن مالک همدا مضمون نقل کړی؛ خو په دومره زياتوالي، چې انس وايي: حضرت ابوبکر ته مې وويل: کېدای شي ته هم يو له هغو درېو ځنې ووسې؛ نو ولاړ شه او پوښتنه وکړه؛ خو پوښتنه يې ونه کړه او بيا مې حضرت عمر ته وويل، چې هغه هم پوښتنه ونه کړه، چې علي ته مې وويل، چې راته يې وويل: زه به يې پوښتنه وکړم، چې که زه هم پکې وم؛ نو د الله تعالی شکرونه به پر ځای کړم او که نه وم؛ نو بيا به هم د الله تعالی شکر ادا کړم او چې پوښتنه يې وکړه؛ نو دالله تعالی استازي وويل: ((ته هم له هغوی ځنې يې! ته هم له هغوی ځنې يې او عمار ياسر چې ډېر ژر به ووژل شي او له ستر اجر به برخمن شي او سلمان دی، چې له موږ اهلبيتو ځنې دی او هغه دې خپل ملګری کړه.))

## حضرت علي څومره د الله تعالی پر استازي ګران و؟

(صحيح ترمذي: دويم ټوک: ۳۱۹ مخ) له بريده له پلاره او د هماغه ټوک په هماغه مخ کې له جميع بن عمير تيمي څخه په دې باب دوه روايتونه نقل کړي، چې په دويمې کې جميع وايي: له ترور سره مې له عايشې بي بي کره ولاړم، چې ترور مې بي بي وپوښتله، چې په خلکو کې څوک تر ټولو ډېر د الله تعالی پر استازي ګران و؟ و يې ويل: فاطمه. پوښتنه يې وکړه: په سړيو کې پرې څوک تر ټولو ګران و؟ و يې ويل: د فاطمې مېړه؛ څکه تر کومه، چې زه خبره يم؛ تر ټولو ډېر لمونځونه يې کول او روژې يې نيوې.
دا روايت حاکم هم د مستدرک الصحيحين د درېيم ټوک په ۱۵۷ مخ کې، خطيب د خپل تاريخ د يوولسم ټوک په ٤۳۰ مخ کې، ابن عبدالبر د استيعاب د دويم ټوک په ۷۵۱ مخ کې،

متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤٠٠ مخ کې او محب طبري د ذخاير پـه ۳۵مـخ کـې هـم راوړی دی.
(حاکم؛ مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٥٤ مخ) له خپـل سـند لـه جميـع بن عمـير لـه عايشې بي بي او نسائي په خصايص کې په همدې سند او امام احمد بن حنبل د خپل مسـند د څلورم ټوک په ۲۵۷ مخ کې په خپل سند له نعمان بن بشير څخه پـه دې اړه روايتونـه نقـل کړي، چې په روستي کې يې نعمان وايي: حضرت ابوبکر له رسول الله څخه د ننوتو اجـازه وغوښته، چې د عايشې بي بي غږ يې واورېد، چې له رسول الله سره خوله وهي او چغې وهي او وايي: ما ته ښه معلوم دي، چې زما تر پلاره علي درباندې ډېر گران دی؛ نو حضرت ابوبکر د ننوتو اجازه وغوښته او همداچې راننووت؛ نو د بي بي عايشې د وهلو په تکل کـې شو او ښه يې ورټله؛ څو ځلې مې درته ويلي، چې د رسول الله په مخ کې مـه درېـږه او غـږ دې مـه پورته کوه.
دا روايت نسائي هم د خصايص په ۲۸ مخ کې لـه دې زيـاتوالي سره راوړی، چـې لاس يـې پورته کړ، چې عايشه ووهي؛ خو رسول الله يې مخه ونيوه او حضرت ابوبکر غوسه لـه کـوره ووت.
هيثمي هم دا روايت د مجمع د نهم ټوک په ١٢٦ مخ کې راوړی او بزار ته يې نسبت ورکړی او رجال يې صحيح گڼلي دي.
(اسدالغابه: پينځم ټوک، ٥٤٧ مخ) په خپل سـند لـه حضرت معـاذه غفاريـه روايـ ټوي، چـې وايي: زه د رسول الله انيس وم او تل به ورسره جگړو ته تلم، چې د ټپيانو درملنه وکړم؛ نو يوه ورځ رسول الله ته ورغلم، چې د عايشې بي بي پـه کـور کـې و، چـې و مـې ليـدل عـلي بهـر راوځي او رسول الله عايشې بي بي ته وايي: ((عايشې! دا سړی راباندې ترټولو گران دی، حق يې وپېژنه او درناوی يې کوه.))
دا روايت ابن حجر هم د اصابه د اتم ټوک په ١٨٣ مخ کې، محب طبري د ريـاض النضرـه د دويم ټوک په ١٦١ مخ کې راوړی او خجندي ته يې نسبت ورکړی او زيـاتوي، چـې معـاذه وويل: دا خبره مې په ذهن کې وه، چې عايشې بي بي د جمل د جگړې جنجال جوړ کړ؛ نـو چې کله مدينې ته راستنه شوه؛ نو ورغلم او ورته مې وويل: ام المؤمنين! نن دې زړه لـه عـلي سره څنگه دی، سره له هغو سپارښتنو، چې رسول الله درته په اړه يې کړې وه؟ و يې ويل: زړه به مې څنگه وي، چې زما کور ته به راغی او پلار به مې هم په کور کې و؛ نو پلار به مې ورته په کتو نه ستړی کېده، چې يوه ورځ مې خپل پلار ته وويل: څـومره عـلي تـه گـورئ؟ و يـې ويل: ځکه د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې ((د علي مخ ته کتل عبادت دی.))

(اسدالغابه: پينځم ټوک، ۳۱٤ مخ) په خپل سند له ابي هاشم روايتوي، چې مور او پلار دواړه يې د رسول الله ازاد شوي ول: زما مور د رسول الله وينځه وه چې وايي: يوه ورځ رسول الله له جوماته د علي او فاطمې کور ته راغی؛ نو و يې ليدل، چې دواړه ويده دي او لمر راختلی دی؛ نو سر ته ورته ودرېد او پر خپل خيبري څادر يې د لمر مخه ونيوه او تر څو شېبو روسته يې وويل: پاڅئ ای تر ټولو راباندې ګرانو.
زمخشري په کشاف کې د بقرې د سورت د (الا الذين هدی الله و ما کان الله ليضيع ايمانکم ان الله بالناس لروف الرحيم) آيت تر تفسير لاندې او کنزالعمال د شپږم ټوک په ۸٤ مخ کې، رياض النضره د دويم ټوک په ۱٦۱ مخ کې له دوو لارو له عايشې بي بي او د هماغه ټوک په ۱٦۲ مخ کې له معاوية بن ثعلبه، چې له ابوذر يې پوښتلي وو، په دې اړه روايتونه نقل کړي دي.
(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱۳۰ مخ) له يحيی بن سعيد له انس بن مالک او (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۲۵ مخ) د سور کړي چرګ کيسه راوړې، چې مخکې هم وشوه؛ خو دلته ويل شوي، چې سور شوی چرګ ام ايمن ډالی رالېږلی و او همداراز پکې راغلي، چې انس وايي: هر ورځ به يو انصاري ځوان د رسول الله خدمت کاوه، چې پر هغه ورځ زما وار و او له هغه دوو روايتونو په يوه کې راغلي، چې د رسول الله تر دعا روسته ړومبی حضرت ابوبکر راغی او د ننوتو اجازه يې وغوښته؛ خو رسول الله اجازه ونه کړه، بيا حضرت عمر راغی، چې هغه ته يې هم اجازه ونه کړه او دريم حضرت علي و، چې اجازه يې ورکړه.
(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱۳۱ مخ) په دوو سندونو له ثابت بناني روايتوي، چې حضرت انس بن مالک ناروغ شوی و او محمد بن حجاج او يو ډله نور يې پوښتنې ته راغلي ول، چې هر چا غورې کولې، چې د علي خبره رامنځ ته شوه او محمد بن حجاج په علي پسې خوله راوسپړله او سپکې سپورې يې پيل کړې، چې انس وويل: دا څوک دی؟ ما کېنوئ. انس يې کېناوه او بيا يې وويل: د حجاج زويه! وينم، چې په علي پسې دې خوله راسپړلې ده. قسم پر هغه الله تعالی، چې محمد يې پر حقه مبعوث کړی. يوه ورځ مې د رسول الله خدمت کاوه؛ ځکه هر ورځ به يو انصاري مريی د رسول الله خدمت کاوه، چې پر هغه ورځ زما وار و، چې ام ايمن چرګ راوړ، چې رسول الله ازاده کړې وه، چې ماهم د رسول الله مخې ته کېښود. پوښتنه يې وکړه: ام ايمن دا څه دي؟ و يې ويل: چرګ دی او تاسې ته مې کباب کړی دی. رسول الله دعا وکړه: خدايه تر ټولو ګران بنده دې راورسوه، چې دا چرګ راسره وخوري؛ نو همدا چې د رسول الله دعا پای ته ورسېده، ور يې وټکاوه. و

يې ويل: وگوره، چې څوک دي؟ ولاړم، چې وگورم، چې تر تمبو شا څوک ولاړ دی او په زړه کې يې ويل، چې الله تعالی دې وکړي زما کوم خپلوان وي؛ خو ومې وليدل، چې علي دی؛ خو بيا مې هم اجازه ور نه کړه، چې دا کار درې ځل تکرار شو، چې رسول الله وويل: ور خلاص کړه، چې راننوځي. دا يوازې ته نه يې، چې خپلوان دې دربانديې گران دي، هغه له انصارو ځنې نه دی. هغه مې رادننه کړ. و يې ويل: انسه! هغه چرگ ورته راوړه. را مې ووړ او دواړه يو ځای وخوړ. محمد بن حجاج په حيرانتيا پوښتنه وکړه: آيا تا دا هر څه په خپلو سترگو ليدلي دي؟ انس وويل: هو او ژمنه يې راسره وکړه، چې ژوندی يې د علي سپکه به و نه وايې او داسې څوک مې نه دی ليدلی، چې په علي پسې به يې بد ويلي وي او څېره به يې بدرنگه شوې نه وي.

دا مضمون حلية الاولياء د شپږم ټوک په ۳۳۹ مخ کې له اسحاق به عبدالله بن ابي طلحه، د بغداد تاريخ د درېيم ټوک په ۱۷۱ مخ کې له ابي الهندي له انس، اسدالغابه د څلورم ټوک په ۳۰ مخ کې له ا براهيم له انس، کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤۰٦ مخ کې له دوو لارو، ذخايرالعقبی په ٦۱ مخ کې، رياض النضره د دويم ټوک په ۱٦۱ مخ کې له سفينه او هم هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۲٦ مخ کې له درېو لارو نقل کړی دی.

## له علي سره مينه له الله تعالی او استازي سره يې مينه ده

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۲۷ مخ) له حضرت ا بن عباس (خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ٤۰ مخ) له پينځو لارو له حضرت ابن عباس څخه (محب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۱٦٦ مخ) (علي بن سلطان؛ مرقات: پينځم ټوک، ۵۷۳ مخ) (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۳۰ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې په روستي کې يې له حضرت عثمان بن عوف څخه روايت دی، چې وايي: يو سړي سلمان ته وويل: علي دربانديې څومره گران دی! ورته يې وويل: د الله تعالی له استازي مې اورېدلي: له علي سره مينه له ما سره مينه ده او له علي سره دښمني له ما سره دښمني ده.)) او د هماغه ټوک په ۱٤۲ مخ کې يې له حيان اسدي روايت دی، چې له علي مې واورېدل: رسول الله راته وويل: ((امت به تر ما روسته درسره دښمني کوي او چې ته ژوندی يې زما پر دين به يې او زما پر سنت به وژل کېږې او څوک چې درسره مينه کوي؛ نو راسره يې کړې ده او څوک چې درسره دښمني کوي؛ نو راسره يې کړې ده او ډېر ژر به دا په دې رنگينه شي؛ يعنې ږيره به دې د سر پر وينو رنگينه شي.))

دا روایت (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۷ مخ) کې هم راوړی او دارقطني د افراد په کتاب کې یې حاکم او خطیب ته نسبت ورکړی دی.
(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ٦٦ مخ) په خپل سند له حضرت ابي برزه روایتوي چې وایي: رسول الله وویل: الله تعالی راته وویل: ته بایدراسره ژمنه وکړې. ورته یې وویل: کومه ژمنه؟ و یې ویل: واوره. و یې ویل: وایه چې غوږ مې دی. خطاب راغی: علي د ښیون بیرغ او زما او د اولیاوو امام دی، د هغه رڼا ده، چې زما لاروي کوي، هغه ټکی دی، چې یو متقي هم ترې بېلتون نه لري؛ نو څوک چې ورسره مینه وکړي؛ نو له ماسره به یې کړې وي او چا چې ورسره دښمني وکړه؛ نو راسره به یې کړې وي او پر علي ددې مقام زېری وکړه. علي ته راغلم او زېری مې پرې وکړ، چې و یې ویل: رسول الله! زه د الله تعالی بنده او د قدرت په واک کې یې یم؛ نو که پر عذاب مې کړي؛ نو زما د گناه له امله به وي او د مقام زېری، چې تا یې راکړ، د الله تعالی پېرزو او لورنه ښيي؛ بیا یې حجابونه زما له سترگو پورته کړل او کوم کړاوونه یې، چې علي ته ځانگړي کړي ول، د یو صحابي لپاره مې هم نه وو؛ نو و مې ویل: پالونکیه! د رور مې مل شه! را ته یې وویل: دا هر څه ورته تقدیر شوي دي او هغه به پردې ککړ شي او خلک هم به پرې و ازمېیل شي.
(د بغداد تاریخ: دیارلسم ټوک، ۳۲ مخ) حضرت له عبدالله بن مسعود (اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳۸۳ مخ) له ابوالجحاف داود بن ابي عوف له معاویة بن ثعلبة الجماني او همدا سند ابن حجر د اصابه د شپږم ټوک د لومړي قسم په ۲۰۵ مخ کې او کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱٥٤ مخ کې په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي: رسول الله وویل: ((ټولو هغوی ته د علي بن ابیطالب پر ولایت وصیت کوم، چې زما پر نبوت ایمان لري، چې که چا ورسره مینه وکړه؛ نو له ما سره یې کړې او چا چې راسره مینه وکړه؛ نو له الله تعالی سره یې مینه کړې ده او که چا ورسره دښمني وکړه؛ نو له ماسره یې دښمني کړې او له ما سره دښمني له الله تعالی سره دښمني ده.))
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۷، ۱۵۸، ۳۹۱، ۳۹۹ مخونه او همداراز د اووم ټوک ۱٤۰مخ)، (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۲۹، ۱۳۱ او ۱۳۳ مخونه)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۱٤، ۱٦٦، ۲۰۹، ۱۳۳ مخ) او خصایص نسائي په ۲۸ مخ کې په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې له علي سره پر دښمنی او دوستی‌سربېره پکې دا هم راغلي، چې یوازې مؤمن له علي سره مینه کوي او یوازې منافق ورسره دښمني کوي.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۱٦ مخ) له حوشرة بن محمد بصري روایتوي، چې وایي: یزید بن هارون واسطي مې تر وژل کېدو څلور شپې روسته په خوب کې ولید؛ نو پوښتنه مې ترې

وکړه، چې څه یې درسره وکړل؟ راته یې وویل: حسنات مې قبول او ګناهونه مې وبښل شو او دګناهونو ناوړه اغېزې مې هم له منځه ولاړې (بیا دوام ورکوي تر دې چې وایي: ) د انکیر او منکر کیسه څنګه وه؟ و یې ویل: هو! قسم پر هغه الله تعالی، چې بې له هغه بل معبود نشته؛ زه یې کېنولم او د پالونکي په اړه یې له ما پوښتنه وکړه (بیا همداسې وایي، تردې چې وایي: ) یو له هغوی دوو ځنې وپوښتلم: خپل احادیث دې له حریز بن عثمان روایت کړي؟ ورته مې وویل: هو هغه موثق سړی و او احادیث یې د ډاډ وړ وو. و یې ویل: سمه ده، چې ډاډمن و؛ خو له علي سره یې دښمني کوله؛ نو د الله تعالی دښمن هم و.

(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۲۹ مخ) حضرت ابو رافع وایي: رسول الله د علي په مشرۍ یو لښکر یمن ته ولېږ او د اسلم د ټبر عمرو شاس هم پکې و؛ نو چې له جګړې راستون شو؛ نو په علي پسې یې خوله راوسپړله. رسول الله ورپسې یو کس ولېږه، چې را یې ولئ، چې راغی؛ نو رسول الله وویل: په علي پسې بد مه وایه. آیا په دې سفر کې دې تري بد لیدلي، چې داسې دې ورپسې خوله راسپړلې. عمرو وویل: نه. رسول الله وویل: نو دا د څه خبرې دي؟ و یې ویل: له علي سره دښمني مې په خپل واک کې نه ده. د الله تعالی استازی سخت غوسه شو او یې ویل: ((چا چې له علي سره دښمني وکړه؛ نو له ما سره یې کړې ده او چا چې له ما سره دښمني وکړه؛ نو له الله تعالی سره یې کړې ده.))

## د حضرت علي د دوستانو ثواب او دښمنانو عذاب

(مستدرک الصحیحین: دریېم ټوک، ۱۲۸ مخ) په خپل سند د حضرت زید بن ارقم د خولې وینا را اخلي، وایي: رسول الله د ایمان په اړه وینا کوله او و یې ویل: ((څوک چې غواړي ژوند او مړینه یې زما د ژوند او مړینې په څېر وي او په هغه جنت کې راسره مېشت شي، چې الله تعالی یې وعده راکړې؛ نو له علي بن ابیطالب سره دې مینه وکړي؛ ځکه هغه به مو هېڅکله بې لارې نه کړي.))

دا روایت حاکم صحیح ګڼلی او ابو نعیم د حلیة د څلورم ټوک په **۳۴۹** مخ له دوو لارو او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۵ مخ کې او هیثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۰۸ مخ کې هم نقل کړی دی.

(مستدرک الصحیحین: دریېم ټوک، ۱۲۸ مخ) په خپل سند د حضرت عمار یاسر د خولې وینا را اخلي، وایي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې علي ته یې وویل: ((علي!

ځومره بختور دی هغه چې درسره مينه کوي او ستا په اړه رښتيا ووايي او هغه دې پر خپل حال وژاړي، چې درسره دښمني کوي او ستا په اړه دروغ وواييي.))
دا روايت خطيب بغدادي د د بغداد تاريخ د نهم ټوک په ۷۱ مخ کې له دوو لارو او هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۳۲ مخ کې، محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۲۱۵ مخ او د ذخاير په ۹۲ مخ کې يې هم راوړی دی.
(حلية الاولياء: لومړی ټوک، ۸٦ مخ) په خپل سند له زيدبن وهب له حذيفه او هماغه په ۸٦ مخ کې په خپل سند له حضرت ابن عباس څخه او همداراز کنزالعمال د شپږم ټوک په ۲۱۷ مخ کې په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې په دواړو روايتونو کې راغلي: رسول الله وويل: ((که څوک غواړي زما په څېر ژوند ولري او زما په څېر ومري او د پالونکي په راکړ شوي جنت کې مېشت شي؛ نو تر ما روسته بايد له علي او دوستانو سره يې مينه وکړي او تر ما روسته د امامانو لاروي وکړي، چې ټول زما عترت دي؛ ځکه هغوی زما له خټې جوړ شوي او ځانګړې پوهه يې رزوي شوې ده او زما په امت کې دې هغه پر خپل حال وژاړي، چې فضائل يې دورغ وګڼي او زما لورنه پرې پرېکړي او داسې خلک به الله تعالی زما له شفاعته برخمن نه کړي.))
(اصابه: درېيم ټوک، لومړی قسم، ۲۰ مخ او شپږم ټوک، ۳۳۵ مخ)، (کنوز الحقايق: ۱۰۱ مخ)، (رياض النضره: دويم ټوک، ۲۱۵ مخ)، (اسدالغابه: دويم ټوک، ۱۰۱ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۱ او ۱۲۱ مخونه)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱٥٤ او ۱٥۸مخونه)، (د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ۱۰۲ مخ) او ذخاير العقبی په ۹۲ مخ کې په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې موږ د لنډيز لپاره يوازې د د بغداد تاريخ روايت راخستی، چې وايي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې علي ته يې وويل: ((علي! مينوالو ته دې همدومره بس، چې په ځلکدن کې حسرت، په قبر کې وحشت او د قيامت پر ورځ ډار نه لري.))

## د علي دوستي هغه حسنه ده، چې سيئات سوځوي

(کنوزالحقايق: ٦۲ مخ) حضرت ديلمي د الله تعالی له نبي روايتوي، چې وايي: ((د علي مينه هغه حسنه ده، چې درلودل يې يوه ګناه هم تاوان نه دررسوي.))
(کنوزالحقايق: ٦۲ او ٦۳ مخونه) بيا له ديلمي روايتوي، چې رسول الله وايي: د علي دوستي ګناهونه سوځوي؛ لکه څنګه چې اور خس سوځوي.))

(رياض النضره: دويم ټوک، ۳۱۵ مخ)، (كنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۸ مخ)، (د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ۱۹٤ مخ او دريم ټوک، ۱٦۱ مخ) په دې اړه روايتونه راوړي، چې په روستي کې يې راغلي: د الله تعالى له استازي پوښتنه وشوه: آيا له پل صراط او اور له تېرېدو لپاره جواز ــ پل ــ شته؟ و يې ويل: ((د علي بن ابيطالب دوستي او مينه.))

## بوټي او ونې هم له حضرت علي سره مينه کوي

(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۱۵ مخ) له حضرت انس بن مالک روايت توي، چې وايي: حضرت علي بن ابيطالب حضرت بلال ته يو درهم ورکړ، چې خربوزه پرې واخلي. حضرت بلال وايي: خربوزه مې واخسته او چې علي ماته کړه؛ نو ترخه وه. علي وويل: بلاله دا خربوزه خپل خاوند ته يوسه او درهم ترې راواخله؛ د الله تعالى استازي ما ته وويل: الله تعالى ستا مينه پر بشر، ونه، مېوو او دانو لازمه کړې؛ نو چا چې دې لاروي وکړه؛ نو سپېڅلی او پاک شو او چاچې دې لاروي ونه کړه؛ نو تريخ او ناپاکه شوه او زما په گومان دا له هغو خر بوزو ده، چې ستا مينه يې نه ده منلې.
محب طبري دا روايت ملا ته نسبت ورکړی دی.
(د بغداد تاريخ: دريم ټوک، ۲۸۹مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس روايت توي، چې و يې ويل: په ډله کې د کعبې سيوري ته ناست وو او رسول الله راته وينا کوله، چې ناڅاپه په رکن يماني کې يو څيز راروان و، چې رسول الله پرې توکاڼې تو کړې. و يې ويل: الله تعالى دې لعنت کړه ــ او يا يې وويل: الله تعالى دې خوار کړه ــ علي بن ابيطالب پوښتنه وکړه: رسول الله دا څه دي؟ و يې ويل: مگر نه يې پېژنې؟ و يې ويل: الله تعالى او استازی يې ښه پوهېږي. و يې ويل: دا ابليس دی. علي له ځايه پاڅېد او د تندي له وېښتانو يې راونيو او وېښتان يې ترې راوايستل او و يې ويل: رسول الله اجازه راکړئ، چې و يې وژنم. رسول الله وويل: مگر له ياده دې وتلي، چې تر قيامته يې عمر غوښتی دی. علي پرېښود او ابليس په يوه گوټ کې ودرېد او و يې ويل: علي! ما درسره څه کړي دي؟ پر الله تعالى قسم، چې ستا په دښمنانو کې داسې څوک نه وينم، چې له پلار سره به يې زه په څاڅکي کې شريک نه يم. علي! د قرآن داآيت مه هېروه: (و شاركهم فى الاموال والاولاد) چې ما ته يې اجازه راکړې، چې د خپلو لارويانو په مال او اولاد کې يې شريک شم.
بيا خطيب د خپل تاريخ د دريم ټوک په ۲۹۰ مخ کې له عبدالله روايت توي، چې د علي د خولې وينارا اخلي او وايي: يوه ورځ مې رسول الله وليد، چې د خپل په څېر پر يوه ستر څيز

سپور دی او پر هغه لعنت وايي او د صفا له لوري راروان دی؛ نو پوښتنه مې وکـړه: دا څـوک دی؟ و يې ويل: دا رټل شوی شېطان دی. ورته مې وويل: د الله تعالی دښمنه! پر الله تعـالی، چې وبه دې وژنم، چې امت دې له شره خلاص شي. و يې ويل: مگر د نېکۍ سزا بدي ده؟ و مې ويل: د الله تعالی دښـمنه ستا سزا څه ده. و يې ويل: پر الله تعالی قسم ستا پر دښـمنانو کې داسې څوک نه وينم، چې د مور په زيلانځ-رحم کې يې له پلار سره شريک نه يم.
خطيب بيا وايي: دا روايت ابوالحسين اشناني له اسحاق بن محمد نخعي؛ يعنې اسحاق احمر همداراز راوړی دی.

## له علي سره هر ډول چلن له رسول الله (ص) سره چلن دی

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۲۱ مخ) په خپل سند له عبدالله جدلي روايـ توي، چې وايي: ځوان وم، چې حج ته ولاړم او په مدينه کې له يوې ډلې سره مـخ شوم، چې پـر مـخ روانه وه، چې زه هم ورسره روان شوم چې د ام سلمې بي بي کور ته ورننوتل او ما پـه خپلـه واورېدل، چې و يې ويل: شبث بن ربعي! چې له ډلې يو بې عقلـه او بې اد به سـړي ځـواب ورکړ: هو مورې!بي بي وويل: پر خپلو ممبرونو رسول الله ته کنځلې کوئ؟ و يې ويـل: مـوږ دومره بې ادبه نه يو. بي بي وويل: علي ته هم کنځلې کوئ؟ شبث ربعي وويـل: هـو هغـه تـه کله نا کله څه نا څه وايو، چې د دنيا چارې مې تېرې شي. بي بي وويـل: مـا داللـه تعالی لـه استازي واورېدل، چې و يې ويل: ((چا چې علي ته کنځلې وکړې؛ نو ما ته يې کړې دي.))
دا روايت متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤۰۱مخ کې راوړی او ابن ابي شيبه ته يې نسبت ورکړی دی.
(مستدرک الصحيحين: لومړی ټوک، ۱۲۱ مخ)، (مسند احمد بن حنبـل: شپږم ټـوک، **۳۲۳** مخ)، (خصايص نسائي: ۲٤ مخ)، (ذخاير العقبی: ٦٦ مـخ) او (ريـاض النضرـه: دويـم ټـوک، ۱٦٦ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې په روستي کې يې راغلي دي: حضرت ابن عباس چې کله ړوند شو او د قريشو د يوې غونډې په مخ کې يې، چې تېراوه، چې پکـې علـي بن ابيطالب ته کنځل کېده؛ نو له ورسره کس يې پوښتنه وکړه: دوی څه وايي: ورتـه يـې وويـل: علي بن ابيطالب ته يې کنځلې کولې. حضرت ابن عبـاس وويـل: مـا ورسـتون کـړه؛ نـو چـې ورستون يې کړ، پر لوړ غږ يې وويل: په تاسې کې کوم يو الله تعالی ته کنځل کولې؟ ټولو په حيرانتيا وويل: سبحان الله! مشرک دی هغه، چې الله تعالی ته کنځلې وکړي. بيا يې وويل: په تاسې کې کوم يو رسول الله ته کنځل وکړل؟ بيا وويل: سبحان الله! رسول الله ته کنځـل خـو

کفر دی. بیا یې وویل: په تاسې کې کوم یې علي تـه کنځلـې کـولې؟ وویـل شول: مـوږ وو.
حضرت ابن عباس وویل: واورئ او سر خلاص کړئ، چې الله تعالی مـې گـواه دی، چـې د الله تعالی له استازي مې اورېدلي ول، چې ویل یې: ((چا چې علي ته کنځلې وکړې؛ نو ما ته یې کړې ده او چا چې ما ته کنځل وکړه؛ نو الله تعالی ته یې کړې ده او چا چې الله تعالی تـه کنځلې وکړې؛ نو پړمخه به په اور کې ورگوزار کړای شي.)) دا خبره چې حضرت ابن عباس وکړه؛ ستون شو او خپل ورسره کس ته یې وویل: خلکو زما د خـبرو تـر اورېـدو روسـته څـه وویل؟ورته یې وویل: څه یې و نه ویل. حضرت ابن عباس وویل: د څېرو رنگ یـې څرنگـه شو؟ هغه یې په ځواب کې دا شعر ووایه:
نظروا الیک یاعین محمرة نظر التیوس الی شفار الجازر
دا شعر د حضرت ابن عباس خوښ شو او ورته یې وویل: نور هم ووایه چې هغه وویل:
جزر الحواجب ناکسی اذقانهم نظر الذلیل الی الغزیز القاهر
حضرت ابن عباس وویل: مور وپلار مې درځار بیا هم ووایه. هغه وویل: د ویلو لپاره نور څه نه لرم.
(هیثمي: مجمع: نهم ټوک، ۱۲۹ ټوک)، (متقي؛ کنـزالعمال: شپږم ټـوک، ٤۰۵ مـخ) او (ا بن حجر؛ صواعق: ۱۱۷ مخ) چې په روستي کې راغلي، چې بارزي لـه منصـور څخـه روایـ توي، چې وایي: په شام کې مې یو سړی ولید، چې څېره یې د خوک په څېر وه؛ نو پوښتنه مې ترې وکړه_ زوی یې هم ورسره و_ولې داسې شوی یې؟ و یې ویل: ما د ورځې څلور زره ځل پـر علي لعنت وایه، چې یوه شپه مې رسول الله له حسن بن علي سره په خوب کـې ولیـد_ خپـل اوږد خوب یې ووایه، تردې چې دلته راورسېد_حسن زما له لاسه رسـول اللـه تـه گیلـه وکـړه، چې رسول الله راباندې لعنت ووایه او پر مخ یې توکانې راتو کړې، چې څېره مـې د خـوک شوه، چې نورو ته عبرت شم.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۲۲مخ) په خپل سند له حضرت عمرو بن شاس، چـې د حدیبیې له اصحابو څنې دی روایتوي، چې وایي: له علي سره یمن تـه ولاړو، چـې پـه دې سفر کې له علي دومره خپه شوم، چې د هغـه کینـه مـې پـه زړه کـې واچولـه؛ نـو همـدا چـې راستون شوم؛ نو په جومات کې مې له علي گیلـه وکـړه او دا خـبره ولاړه ډنـډوره شوه، چـې رسول الله ته هم ورسېده؛ نو بله ورځ، چې جومات ته راغلم؛ نو و مې لیدل، چې رسـول اللـه په جومات کې له یوې ډلې اصحابانو سره دی؛ نو زه یې چې ولیدم، ډېر ترخه یې راوکتل او همداراز یې راته کتل، چې کېناستم، راته یې وویل: عمرو! پر الله تعالی، چـې و دې کـړولم.

ورته مې وويل: پناه غواړم و دې کړوم. راته یې وویل: هو کړولی دې یم؛ ځکه څوک چې علي کړوي؛ نو ما هم کړوي.
حاکم ددې روایت تر نقلولو روسته وايي، چې سند یې صحیح دی.
دا روایت (احمد بن حنبل؛ مسند: دریم ټوک، ٤٨٣)، (ابن اثیر؛ اسدالغابه: څلورم ټوک، ١١٣ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ٣٠٤ مخ) او د هغه د وینا له مخې بخاري، ابن منده او ابن عبدالبر د استیعاب د دویم ټوک په ٤٤٢ مخ کې، متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ١٥٢ مخ کې، د څلورم ټوک په ٤٠٠ مخ کې، هیثمي د مجمع د نهم ټوک په ١٢٩ مخ کې او محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ١٦٥ مخ کې هم نقل کړی دی.
(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ١٢١ مخ) په خپل سند له عبیدالله بن ابي ملیکه له پلاره روایتوي، چې وايي: یو شامي سړي د حضرت ابن عباس په مخ کې علي ته کنځل وکړل. حضرت ابن عباس پر ټبره وایشت او ورته یې وویل: د الله تعالی دښمنه! رسول الله دې خپه کړ (ان الذين يوذون الله ورسوله لعنهم الله فى الدنيا والاخرة و اعدلهم عذاباً مهينا؛ هغوی چې الله تعالی او استازی یې کړوي؛ نو الله تعالی یې په دنیا او اخرت کې لعنتوي او خوارونکی عذاب یې ورته چمتو کړی دی) او که رسول الله ژوندی و او علي ته یې ستا کنځلې ویلای وای؛ نو ډېر به خپه شوی و.
(هیثمي: مجمع: نهم ټوک، ١٢٩ ټوک)، (ابن حجر؛ صواعق: ٧٣ مخ)، (شبلنجي؛ نورالابصار: ٧٢ مخ)، (فیض القدیر: شپږم ټوک، ١٨ مخ) او (مرقاة المفاتيح: پینځم ټوک، ٥٧٣ مخ) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي: یو سړي د حضرت عمر بن خطاب په مخ کې علي ته کنځلې وکړې، چې حضرت عمر وویل: ددې قبر خاوند پېژنې؟ دا محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب دی؛ نو هېڅکله د علي نوم په بده مه اخله، چې ددې قبر خاوند پرې خپه کېږي.
(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ١٢٣ مخ) په خپل سند له معاوية بن ثعلبه له حضرت ابي ذر روایتوي، چې وايي: رسول الله وویل: ((که له علي څوک لرې شو؛ نو له الله تعالی به لرې شوې وي او څوک چې له تا بېل شي؛ نو له ما به بېل شوی وي.))
دا روایت، چې حاکم یې سند صحیح ګڼلی؛ (ذهبي؛ میزان الاعتدال: لومړی ټوک، ٣٢٣ مخ) هم صحیح ګڼلی او (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١٣٥ مخ)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ١٦٧ مخ) هم نقل کړی او (کنزالعمال: دویم ټوک، ١٥٢ مخ) او (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١٢٨ مخ) دې مضمون ته نږدې نور روایتونه هم نقل کړي دي.

# د حضرت علي پوهه

فخر رازي په کبير تفسير کې د آل عمران د سورت د (ان الله اصطفی آدم و نوحاً و آل ابراهيم و آل عمران على العالمين) تر آيت لاندې له علي روايتوي چې وايي: رسول الله راته د علم زر ورونه رازده کړل، چې ما له هر بابه زر نور بابونه استنباط کړل.
(استيعاب: دويم ټوک، ٤٦٣ مخ) وايي: معاويه بن ابوسفيان ته به چې کومه مسله راپېښه شوه؛ نوعلي ته به يې ليکل او ترې به يې مرسته غوښته؛ نو کله يې چې واوېدل، چې علي يې وواژه؛ نو و يې ويل: فقه او علم د علي له مړينې سره مړه شول. رور يې عتبه وويل: پام چې د شام خلک دې دا خبره وا نه وري. معاويه وويل: پرېږ ده مې.
(استيعاب: دويم ټوک، ٤٦٢مخ) په خپل سند له عبدالله بن عباس روايتوي چې وايي: که علم لس برخې فرض کړو؛ نو پر الله تعالی قسم، چې نهه برخې يې په علي کې دي او علي د هغو لس برخو په هغه برخه کې هم له خلکو سره شريک دی.
دا روايت ابن اثير د اسدالغابه د څلورم ټوک په ۲۲ مخ کې هم راوړی دی.
(استيعاب: دويم ټوک، ٤٦٢ مخ) په خپل سند له سعيد بن مسيب روايتوي چې وايي: بې له علي چا هم په ژوند کې و نه ويل: (سلوني؛ څه چې غواړئ؛ نو له ما يې وپوښتئ).
دا روايت ابن اثير هم د اسدالغابه د څلورم ټوک په ۲۲ مخ کې، ابن حجر د صواعق په ۷٦ مخ کې، محب طبري د رياض النضره د دويم ټوک په ۱۹۸ مخ کې، احمد په مناقب کې، بغوي په معجم او ابو عمرو هم نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٥ مخ) له حضرت ابن عباس روايتوي، چې وايي: علي خلکو ته وينا کوله، چې و يې ويل: ايهاالناس! دا څه رټلې خبرې دي، چې ستاسې په اړه زما غوږونو ته رارسي؟ پر الله تعالی چې ډېر ژر به طلحه او زبير ووژل شي او بصره به سوبه شي او ډېر ژر به د کوفې له اړخه شپږ زره پينځه سوه او شپېته او يا يې وويل: پينځه زره شپږسوه او پنځوس مرستيال سرتېري ستاسې مرستې ته راشي. ما له ځان سره وويل: دا امام د خبرې د جنګي سياست لپاره دي؛ ځکه په جګړه کې دوکه روا ده؛ خو سره له دې د کوفيانو استقبال ته ولاړم؛ نو پوښتنه مې وکړه، چې شمېر مو څومره دی او هومره يې راته وويل، چې امام وړاندوينه کړې وه. بيا مې له ځان سره وويل: دا له هغه اسرارو دي، چې رسول الله ورته ويلي وو؛ ځکه رسول الله ورته د پوهې زر با به ورکړي ول، چې له هر باب يې زر نور بابونه خلاصېدل.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٥ مخ) له ابي المتعمر مسلم بن اوس او همداراز له جارية بن قدامه سعدي روايتوي، چې دواړه وايي: له علي سره وو، چې د خپلو ويناوو په ترڅ کې يې خلکو ته وويل: مخکې له دې چې له لاسه مې ورکړئ؛ نو و مې وپوښتئ او داسې څه به نه وي، چې زه به يې ځواب ونه لرم؛ خو داسې څه، چې له عرش مافوق وي.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ١٥٣ مخ)، (د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ١٥٨ مخ)، (فخر رازي په خپل تفسير کې د ((و اما بنعمة ربک فحدث)) تر آيت لاندې)، (حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦٥ مخ او همداراز د اووم ټوک په ٣٤ مخ کې)، (ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ١٠١ مخ)، (رياض النضره: دويم ټوک، ٢٢١ مخ)، (کنزالعمال: اتم ټوک، ٢١٥ مخ)، (ابن حجر؛ تهذيب التهذيب: اووم ټوک، ٣٣٨ مخ) او (د بغداد تاريخ: شپږم ټوک، ٣٧٩ مخ) د اميرالمؤمنين علي بن ابيطالب د علم په اړه روايتونه نقل کړي، چې په روستي کې يې خپلې سينې ته په اشارې کميل ته وويل: دلته خورا پوهه ده؛ خو څومره بده ده، چې څوک نشته، چې ددې علومو حامل شي او ور و يې لېږدوم. ګواکې د استعداد خاوندان شته؛ خو امين نه دي.
(کنزالعمال: لومړی ټوک، ١٠٣ مخ) له اصبغ بن نباته روايتوي، چې وايي: له حضرت علي بن ابيطالب سره ناست وو، چې يو يهودی راغی او و يې ويل: اميرالمؤمنينه! الله تعالی له کله و؟ نو همداچې موږ ترې دا خبره واورېده؛ نو سم مو وواهه او نږدې ول، ومري؛ خو علي وويل: خوشې يې کړئ او بيا يې وويل: يهودي وروه! چې څه درته وايم، ښه يې واوره او په زړه کې يې وساته؛ ځکه له هغه کتابه ځواب درکوم، چې الله تعالی پر موسی نازل کړ او که تا خپل اسماني کتاب ويلي وي؛ نو د خپلې پوښتنې ځواب به پکې پيدا کړې؛ هغه چا ته صحيح دي، چې ووايو، چې له کله و، چې شتون يې پر نشتون مخکې وي؛ يعنې په يو وخت کې نه و او بيا شته شو؛ خو لا يزال الله تعالی بې له کيف و او شتون يې د نورو د شتون په څېر نه دی؛ له لايزال مخکې لا يزال او روسته له روسته و او بې له کيفه لم يزال، غايت او منتهي دی. يهودي وژړل او و يې ويل: اميرالمؤمنينه! پر الله تعالی، چې په تورات کې هم داسې راغلي دي او اوس شهادت ورکوم، چې بې له خدايه بل معبود نشته او محمد يې بنده او استازی دی.
(رياض النضره: دويم ټوک، ١٢٢ او ٢٢٢ مخونه) د علي د علم په اړه دوه روايتونه راوړي او همداراز (حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦٥ او ٦٧ مخونو) د قرآن پر ظاهر او باطن د علي د پوهې په اړه دوه روايته، (ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ١٠١ مخ) له ابي الطفيل، (ابن حجر؛ تهذيب التهذيب: اووم ټوک، ٣٣٧ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: څلورم ټوک، لومړی

قسم، ۲۷۰ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ٤٦۳ مخ)، (ابن جریر؛ تفسیرجریر: ۲٦ ټوک، ۱۱٦ مخ) له ابي الطفیل او ابي الصبهاء، (متقي؛ کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲۲۸ مخ) لـه عامر بن واثله او د شپږم ټوک په ۳۹۳ مخ کې په دې اړه (سلوني؛ یعنې څه چې پوښتئ؛ نو له ما یې وپوښتئ) چې په روستي کې یې له مامون الرشید له مهدي عباسي له منصور دوانیقي له پلار یې عبدالله بن عباس روایتوي، چې وایي: له حضرت عمر بن خطاب مې واورېدل، چې وایي: هېڅکله په علي پسې بدې ردې مه ویاست، چې له علي سره مې د رسول الله داسې چلن لیده، چې که له ماسره یې درلود؛ نو تر ټولو هغو څیزونو به راته ښه و، چې لمر پرې لګي (بیا خپله خبره کوي تر دې چې دلته رارسي) علي د څو ځانګړنو په درلودو نېکمرغه شو؛ د رسول الله په زومتوب، له ېبوزلیو سره مرسته او د قرآن پر ظاهر، باطن، فقه او تاویل علم.

(طحاوي؛ مشکل الآثار: دویم ټوک، ۳۷۳ مخ) پر دوو سندونو له عبید بن ابي رفاعة انصاري روایتوي، چې د خد ای د استازي یارانو د حضرت عمربن خطاب په مخ کې د نطفې د عزل په اړه اړپېچ وکړ، چې حلاله ده که حرامه؟ حضرت عمر بن خطاب وویل: تاسې چې اهل بدر یاست او نن په یوه دیني مسئله کې سره شخړه کوئ؛ نو راتلونکی څوځات به مو څه کوي؟ اصحاب چوپ شول او دوو سره پسپسکي پیل کړل، چې عمر بن خطاب وویل: دا پسپسکي څه دي؟ یو یې وویل: یهودیان عزل حرام ګڼي او یو ډول موئوده ـژوندي ښخول ـ یې ګڼي. علي وویل: هله ژوندی ښخول ګڼل کېږي، چې له اوو پړاوونو تېر شوی وي؛ ځکه قرآن هغه ته انسان وايي، چې له اوو پړاوونو تېر شوی وي، چې دادي: ۱ـولقد خلقنا الانسان من سلالة من طین. ۲ـثم جعلناه نطفة في قرار مکین. ۳ـثم خلقنا النطفة علقة. ٤ـفخلقناه العلقة مضغة. ۵ـفخلقناه المضعة عظاماً. ٦ـفکسونا العظام لحما. ۷ـثم انشاناه خلقاً آخر فتبارک الله احسن الخالقین. او لنډه دا چې د نطفې له منځه وړل او له زیلانځ-رحم یې بهر اچول هله ژوندي ښخول دي، چې له طین، نطفه، علقه، مضغه؛ عظام او هډوکي او یا پر غوښه پوښل شوی وي او بل خلقت شوی وي او لنډه داچې ژوندی انسان وي.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵٦ مخ) له رسول الله مبارک روایتوي، چې وایي: علي بن ابیطالب د خلکو اعلم دی؛ پر الله تعالی او خلکو.

د هماغه ټوک په ۳۹٦ مخ کې له ابي ازهراء روایتوي، چې وایي: علي بن ابیطالب به تل ویل: زه او د اولادې پاکان مې، تر ټولو خلکو سینه پراخه او تر ټولو پوه یو. الله تعالی تعالی په موږ دروغ له منځه وړي او د لېوانو غاښونه له داړلو پخوي او په موږ الله تعالی مو له

ورمېږونو د ذلت زنځيرونه پرانځي، خپګانونه مو له منځه وړي او په موږ دي، چې الله تعالی پيل او پای کوي.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۳ مخ) له سلمان روايتوي، چې وايي: رسول الله ته مې وويل: رسول الله! هر پيغمبر وصي لري؛ نو ستا وصي څوک دی؟ رسول الله راته هېڅ هم و نه ويل؛ خو بله ورځ يې، چې وليدم؛ نو غږ يې راته وکړ او ما هم ورمنډه کړه او راته يې وويل: پوهېږې، چې د موسی وصي څوک و؟ورته مې وويل: يوشع بن نون. پوښتنه يې وکړه : ولې د موسی وصي شو؟ ورته مې وويل: ځکه په هغه وخت کې تر ټولو عالم و. رسول الله وويل: ((زما وصي علي دی، چې تر ټولو غوره دی، چې پر کړيو ژمنو مې وفا وکړي او پورونه مې ورکړي.))
(ابن سعد؛ طبقات: شپږم ټوک، ۱٦۷ مخ) په خپل سند له جبلة بنت مصفح له خپل پلاره، (اسدالغابه: شپږم ټوک، ۲۲ مخ) په خپل سندعبدة بن سليمان له عبدالملک بن سليمان، (استيعاب: دويم ټوک، ٤٦۲ مخ)، (مناوي؛ فيض القدير: درېيم ټوک، ٤٦ مخ)، (محب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹٤ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ٤٦۲ مخ) له جبير له عايشې بي بي، (متقي؛ کنزالعمال: شلورم ټوک، ۳٤۳ مخ او همداراز د دويم ټوک په٤٦۲ مخ) له مغيرة، (رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹٤ مخ)، (بيهقي؛ سنن: پينځم ټوک، ۵۹ مخ) په خپل سند له عمرو له ابي جعفر څخه په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې موږ دا ته يوازې د ذخاير العقبی د ٦۱ مخ روايت راخستی، چې حضرت عمر بن خطاب وويل: د الله تعالی استازي وويل: په دنيا کې د علي بن ابيطالب فضيلت ته څوک رسېدای نشي، چې خاوند د ښيون پر لور رهبري او له ضلالت او هلاکت يې لرې کړي.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳۱ مخ) په خپل سند له طبراني روايتوي، چې رسول الله علي ته وويل: ((قسم پر هغه الله تعالی، چې ژوند مې يې په لاس کې دی، چې که له دې نه وېرېدم، چې مسلمانان ستا په اړه هغه څه و نه وايي، چې مسيحيان يې د عيسی بن مريم په اړه يې وايي؛ نو نن به مې ستا په اړه هغه څه ويلي ول، چې د هر مسلمان له مخې تېرېدې؛ نو ستا د پښو خاورې به يې د تبرک لپاره ښکلولې.))
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۹۹ مخ) له وکيع له شريک له اسحاق له هبيره روايتوي، چې وايي: حسن بن علي د حضرت علي تر شهادت روسته په خطبه کې وويل: پرون له تاسې هغه سړی ولاړ، چې نه په تېرو او نه په راتلونکيو کې يې څوک پوهه لري؛ هغه چې رسول الله جګړې ته لېږه؛ نو جبراييل به يې ښي لور او مکائيل به کيڼ لور ته و او له بري پرته به نه راستنېده.

(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۲۹۹ مخ) له سويد به غفله له صنابحي، (ابونعيم؛ حلية: لومړی ټوک، ٦٤ مخ) له اصبع بن نباته او حارث، (مناوي په فيض القدير کې)، (د بغداد تاريخ: يوولسم ټوک، ۲۰٤ مخ) او کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤٠١ مخ کې له اسماعيل بن موسی څخه په دې مضمون روايتونه نقل کړي، چې رسول الله وويل: ((زه د حکمت کور او علي يې ور دی او يا وايي: زه د علم ښار اوعلي يې ور دی.))

(مستدرک الصحيحين: دريېم ټوک، ۱۲٦ مخ) په خپل سند له مجاهد له حضرت ا بن عباس روايتوي، چې وايي: رسول الله وويل: ((زه د علم ښار او علي يې ور دی؛ نو که څوک غواړي دې ښار ته راننوځي؛ نو له وره دې راننوځي.))

(خطيب بغدادي؛ د بغداد تاريخ: څلورم ټوک، ۳٤۸ مخ) او په بله لار د اووم ټوک په ۱۷۲ مخ کې اوپه بله لار د يوولسم ټوک په ٤۸ مخ کې او په څلورمه لار د اووم ټوک په ٤۹ مخ کې، (ابن اثير؛ اسدالغابه: څلورم ټوک، ۲۲ مخ)، (ابن حجر؛ تهذيب التهذيب: شپږم ټوک، ۳۲۰ مخ او همداراز د اووم ټوک په ٤۲۷ مخ )، (متقي؛ کنزالعمال: نهم ټوک، ۱٥٦ مخ)، (مناوي؛ فيض القدير: دريېم ټوک، ٤٦ مخ) او د هغه د وينا له مخې عقيلي، ا بن عدی، طبراني، حاکم، ابو الشيخ او همداراز (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱٤ مخ)، (رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۳ مخ)، (کنزالعمال: نهم ټوک، ۱٥٦ مخ)، (کنوزالحقايق: ٤۳ مخ)، (صواعق محرقه: ۷۳ مخ) او د بغداد تاريخ د دويم ټوک په ۳۷۷ مخ کې په دې مضمون روايتونه نقل کړي، چې موږ يوازې د خطيب بغدادي روايت نقل کړی دی، چې په خپل سند يې له جابر بن عبدالله روايت کړی، چې وايي: د حديبيه پر ورځ حال دا، رسول الله د علي لاس نيولی و، وويل: دا د عالم د نېکانو امير، د ناپاکانو قاتل دی او چاچې وسره مرسته وکړه؛ نو له الله تعالی سره يې مرسته کړې او که چا پرېښود؛ نو الله تعالی يې پرېښی دی او بيا يې خپل غږ لوړ کړ او پر لوړ غږ يې وويل: ((زه د علم ښار يم او علي يې ور دی؛ که څوک غواړي زما د علم ښار ته راننوځي؛ نو بايد له وره راننوځي.))

(مستدرک الصحيحين: دريېم ټوک، ۱۲۲ مخ)، (حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦۳ مخ) له حضرت انس بن مالک څخه په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې د ړومبي مضمون يې داسې دی، چې رسول الله حضرت علي ته وويل: ته به تر ما روسته زما په امت کې د الله تعالی هغه احکام بيانوې، چې خلک پکې اختلاف کوي.))

# د حضرت علي وړاندوينې

(مستدرک الصحیحین: دویم ټوک، ۳۵۸ مخ) په خپل سند له طاووس له پلاره روایتوي، چې وايي: حجربن قیس عدوي د حضرت علي بن ابیطالب له خدمتګارانو څنې و، چې یوه ورځ علي وویل: حجره! ته به تر ما روسته ژوندی یې او مـا تـه کنځلـو تـه به دې اړ کـړي؛ نـو تـه کنځلې وکړه؛ خو له ما بېزاري او کرکه مه کـوه. طـاووس وایـي: د امیرالمـؤمنین تـر شهادت روسته مې حجر ولید، چې احمد بن ابراهیم نیولی دی، چې یا به علي ته کنځلې کوي او یا به وژل کېږي، چې حجر وویل: خلکو! ټول پوه شئ، چې امـیر احمـد بن ا براهیم راتـه حکـم کړی، چې علي ته کنځل وکړم؛ نو تاسې هم راسره هغه ته کنځل وکړئ، چې اللـه تعـالی یـې لعنت کړي او الله تعالی هم د خلکو زړه داسې ړوند کړی و، چې پوه نـه شول چـې مـراد او مطلب یې څه و.

(ابن سعد؛ طبقات: پینځم ټوک، ۳۰ مخ) د مروان د حالاتو په باب یې راوړي، چې یـوه ورځ ورته علي له مانا ډکه کتنه وکړه او و یې ویل: ډېر ژر به تر بوډا توب روسـته د ضـلالت بېـرغ پورته کړي او د عمر په پای کې به امارت ته ورسې، چې هغه ته امارت د سـپي پـه څېـر دی، چې د خپلې پوزې اوبه ستي، چې همداراز هم وشول. د ژوند چټـل تـاریخ تـه یـې مراجعـه وکړئ.

(ابن حجر؛ اصابه: پینځم ټوک، درېیم ټوک، ۳۲۵ مخ) له جریر له مغیره روایتوي، چې وايي: حجاج بن یوسف په کمیل پسې یو تـن ولېږه او د هغـه او د کـورنۍ تنخـواه یـې بنـده کـړه، کمیل، چې دا خبره واورېده، و یې ویل: ما خپل عمر کړی دی؛ نو ښځګه ښه مـې نـه ایسي- چې د ځو تنو ډوډۍ بنده کړم؛ نو په خپله حجاج ته راغی او حجاج وویل: زړه مـې غـواړي سخا درسره وکړم. کمیل وویل: زما عمر مخ پر خلاصېدو دی؛ نـو هـر کـار چـې دې خوښـه وي، و یې کړه، چې ما او تا به له الله تعالی سره یو بل ګورو او امیرالمؤمنین عـلي خـبر کـړی وم، چې ته مې وژونکی یې. حجاج وویل: هو ته په هغو خلکو کې وې، چې عمر یـې وژلی و، ورمېږ ترې غوڅ کړئ او جلادانو یې هم ورمېږ پرې کړ.

(تهذیب التهذیب: اووم ټوک، ۳۵۸ مخ) د علي بن عبدالله بن عباس په حـالاتو کـې لیکـي: علي بن عبدالله بن عباس، چې وزیږېد؛ نو پلار یـې عـلي بن ابیطالـب تـه بوت، چـې امـام وپوښتل: نوم یې څه دی؟ ورته یې وویل: دانو کېدای شي، چې په نوم اینبوونه کې له تاسـې مخکې شم؟ امام وویل: زما نوم پـرې کېـږده او هغـه د پاد شاهانو پـلار دی او همـداراز هـم وشول؛ ځکه علي د ټولو عباسي خلفاوو پلار و.

(هیثمي؛ مجمع: شپږم ټوک، ۲۴۱ مخ) له جندب روایتوي، چې وایي: چې کله خوارج له علي بېل او ورسره دښمنان شول؛ نو علي ورپسې ولاړ او موږ هم ورسره شوو، چې ورورسېدو؛ نو ما ولیدل، چې په خوارجو کې ډېر داسې کسان لیدل کېدل، چې د عبادت په جامو کې وو او د ډېرو سجدو له امله یې پر تندیو ټاپې جوړې شوې وې؛ نو په زړه کې مې شک شو چې آیا کېدای شي له داسې لمونځ کوونکیو سره جګړه وکړو؛ نو خپل اس مې غاړې ته کړ، نېزه مې په خپل ځای کې کېښووه او له اس راکوز شوم او زغره مې له بدنه وایسته او پر اس مې کېښووه، او اس مې له واګي ونیو او لمونځ مې پیل کړ او په لمونځ کې مې ویل: پالونکیه! که له دې قوم سره جګړه له تا لاروي وي؛ نواجازه یې راکړه او که ورسره جګړه له تا سرغړونه وي؛ نو د برائت چل راوښیه، چې همدا مهال علي د رسول الله پر کچره ناست راورسېد او چې راورسېد، و یې وویل: جندبه! بېشکه الله تعالی ته پناه یوسه. په علي پسې شوم، چې په یو ځای کې یې لمونځ پیل کړ، چې دا مهال یو سپور راغی او و یې ویل: امیرالمؤمنینه! ورته یې وویل: څه وایې؟ امیرالمؤمنین وویل: که غواړئ له دې قوم سره وجنګیږئ؛ نو بېړه وکړئ، چې له نهره واوختل. امام وویل: نه له نهره نه دي اوختي او تېر به هم نشي، چې ټول ووژل شي او دا هغه ژمنه ده، چې رسول الله راسره کړې ده. ما وویل: الله اکبر! زه هم پاڅېدم او جنګي جامې مې واغوستې او په امیرالمؤمنین پسې شوم؛ همداراز روان و او ویل یې: جندبه! ورته مې وویل: بلې امیرالمؤمنینه! و یې ویل: زه به یو سړی ورولېږم، چې قرآن ورته ووایي او د الله تعالی کتاب او سنتو ته یې راو بلي؛ خو دا سړی به راستون نشي؛ خو چې د غشیو موخه یې شي. جندبه! پام دې وسه، چې له لښکرو به یو یوازې لس تنه ژوندی پاتې شي.

دا روایت طبراني هم راوړی دی

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۲۲ مخ) له اصبع روایتوي، چې وایي: له علي کرم الله وجهه سره د حسین د قبر له ځایه تېرېدو، چې حضرت علي کرم الله وجهه وویل: دا یې د څارویو ځای دی، دا هغه ځای دی، چې خپلو بارونه به په کې ږدي، دا هغه ځای دی، چې د آل محمد د ځوانانو وینه به تو یېږي او اسمان او ځمکه به ورته ژاړي.

دا روایت ابن حجر هم د صواعق په ۱۱۵ مخ کې په لږ اختلاف راوړی او د ملا سیرة نه یې اخستی دی.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۸۵ مخ) په خپل سند له عبدالله بن نجار له پلاره روایتوي: له علي سره نینوا ته ورسېدو او هلته یو کس و، چې د امیرالمؤمنین د او بو او لوټې دنده یې درلوده، وایي: همداچې له امیرالمؤمنین سره دې سیمې ته راورسېدو؛ نو پر لوړ غږ

يې وويل: ابا عبدالله صبر وکړه، صبر وکړه ابا عبدالله، د فرات په څنګ کې يـو. پوښـتنه مـې وکړه: څه خبره ده؟ و يې ويل: يوه ورځ رسول الله ته ورغلم او و مې ليدل، چې سـترګې يـې له اوښکو ډکې دي او ژاړي؛ نو زه يې، چې وليدم راته يې وويل: همدا اوس جبراييل دلته و او د حسين د برخليک په اړه يې راته وويل، چې د فرات په څنګ کې به وژل کېږي او بيـا يې راته وويل: غواړې د خاورې بوی يې بوی کړې. ورته مې وويل: هو! بيا يې د هغـه ځـای خاوره راکړه؛ نو له کله مې چې هغه خاوره ليدلې، د اوښکو مخنيوی نه شم کړای.
دا روايت (ابن حجر؛ تهـذيب التهـذيب: دويـم ټـوک، ٣٤٧ مـخ)، (متقـي؛ کنـزالعمال: اووم ټوک، ١٠٥ مخ) راوړی او متقي ابي شيبه، ابويعلي، سـعيد بن منصـور تـه نسبت ورکـړی او هيثمي هم د مجمع د نهم ټوک په ١٨٧ مخ کې راوړی او بزار او طبراني ته نسبت ورکـړی او رجال يې ډاډمن ګڼلي دي.
(اسدالغابه: څلورم ټوک، ١٦٩ مخ) د حضرت غرفه ازدی د حالاتو په شرحه کې وايي: هغه د رسول الله له "اصحاب صفه وو" څخه و او هماغه و، چې رسول الله ورته دعا کړې وه: بارک الله فی صفقة يمينک؛ الله تعالی دې معامله برکتي کړه. بيا وايـي: ابوصـادق لـه هغـه روايـت کړی، چې وايي: د علي په اړه شکمن وم، چې له علي سره د فرات غـاړې تـه ورسـېدو او لـه هغه ځايه، يې خپله لار کږه کړه او په يو ځای کې ودرېد، چې موږ هـم ودرېـدو او پـه خپـل لاس يې يو ځای ته اشاره وکړه او و يې ويل: دا يې د بارونو ځای دی، دا يې د څارويو ځای دی او دا هغه ځای دی، چې وينه به يې تو يېږي. پلار مې دې ترې ځار شي، چې په ځمکه او اسمانونو کې بې له خدايه بل يار نه لري. تردې چې شهيد شو او ورپسې حسين هم شهيد شو؛ نو ګنډه مې وتړله او هماغې ځای ته ولاړم او و مې ليدل، چې هماغه ځای و، چې عـلي ويلي ول او بيا مې له خدايه پر علي د شک په اړه مغفرت وغوښت او پوه شوم، علي چې څه کول، هرومرو د هغو ژمنو له مخې وو، چې رسول الله ورسره کړې وې.
(کنزالعمال: اووم ټوک، ١٠٦ ټوک) له شيبان بن محزم روايتوي، چـې وايـي: زه لـه عـلي سره وم، چې کربلا ته راورسېد، چې هلته يې وويل: په دې ځای کې به داسې کسان شهيدان شي، چې بې د بدر له شهداوو هېڅ شهيد به يې په څېر نه وي.
بيا متقي وايي: دا روايت طبراني هم راوړی او هيثمي هم د مجمع د نهم ټـوک پـه ١٩٠ مـخ کې راوړی دی.
(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ١٩١ مخ) له حضرت ابي خيرة روايتوي، چې وايي: لـه عـلي سره وو، چې له مدينې نه کوفې ته کډن شو؛ نو همدا چې ښار ته راغی، پر ممبر کېناست او د الله تعالی تر ستاينې روسته يې وويل: د کوفې خاوندانو! څنګـه ياسـت، چـې کلـه مـو د پېغمـبر

ځوځات راشي؟ وويل: كه داسې وشي؛ نو د الله تعالى په لار كې به ښه ازمېينه وركړو. و يې ويل: پر الله تعالى قسم، چې هرومرو به راشي او تاسې به ورشئ او و به يې وژنئ او بيا يې دا بيتووايه:

هم اوردوه بالغروه و غردوا    اجيبوا دعاء لا نجاة ولا عذرا

يعنې په دروغو به يې خپلې سيمې ته راولي او هغوى چې د دوى بلنه ومنله؛ نو راګېر شول؛ هغه ګېرېدل، چې د خلاصون لار يې نه وه او هېڅ عذر يې و نه منه.

## يمن ته د حضرت علي كرم الله وجهه مسافرت

(صحيح ابن ماجه: باب قضاء: ١٦٨ مخ)، (صحيح ا بوداود: د اقضيه كتاب: باب كيف القضا)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٣٥ مخ او څلورم ټوک: ٨٨ مخ)، (خصايص نسائي: ١١ مخ له اوو لارو)، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړى ټوک، ٨٣، ٨٨، ١١١، ١٣٦، ١٤٩، ١٥٦ مخونه له دوو لارو)، (ابوداود طيالسي؛ مسند: لومړى ټوک، ١٦، ١٩ مخونه)، (بيهقي؛ سنن: لسم ټوک، ٨٦ مخ له دوو لارو)، (ا بونعيم؛ حلية: څلورم ټوک، ٣٨١ مخ)، (خطيب بغدادي: د بغداد تاريخ: دولسم ټوک، ٤٤٣مخ)، (ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ١٠٠ مخ له دوو لارو او ١٠٠ مخ كې له يوې لارې)، (ابن اثير؛ اسدالغابه: څلورم ټوک، ٢٢ مخ)، (متقي؛ كنزالعمال: شپږم ټوک، ١٥٨ مخ) او په همدې مخ كې د هغه د وينا له مخې بيهقي په شعب الايمان او په ٣٩٥ مخ كې له ابن جرير او ٣٩٤ مخ كې له ابن سعد له ابي شيبه او بيهقي او په دلائل او ٣٩٥ مخ كې له عدني، مروزي، ابويعلي، دورقي، سعيد بن منصور، ابن جرير او په ٣٩٥ مخ كې بيا عدني، ا بويعلي، ا بن جرير، ا بن حبان او بيهقي، (رياض النضره: دويم ټوک، ١٩٨ مخ) او د هغه د وينا له مخې اسماعيلي او حاكمي ټولو له ابي البختري روايت كړى، چې وايي: علي وويل: رسول الله يمن ته ولېږلم، چې ورته مې وويل: رسول الله! ځوان يم او د ورمندون-قضا په فن هم نه پوهېږم؛ نو څنګه به په هغو خلكو كې حكم او ورمندون وكړم؟ رسول الله زما په سينه لاس كېښود او و يې ويل: خدايه! زړه ته يې لارښوونه او ژبه يې غښتلې كړې او له هغه مهاله تر اوسه لا د دوو كسو تر منځ په ورمندون كې شک نه دى كړى.

(ذخاير العقبى: ١٠٩ مخ) له براء بن عازب روايتوي، چې وايي: رسول الله حضرت خالد بن وليد يمن ته ولېږه، چې د هغه ځاى خلک اسلام ته راوبلي او زه هم له هغو كسانو څخه وم، چې له خالدبن وليد سره وم؛ خالد شپږ مياشتې په يمن كې تېرې كړې؛ خو چا ورسره و نه

منله؛ نو بيا رسول الله علي ددې کار لپاره ولېږه او حکم يې وکړ، چې خالد او ورسره ټول کسان که غواړي؛ نو راستانه دې شي او که غواړي؛ نو پاتې دې شي او زه له هغو کسانو څخه وم، چې له علي سره پاتې شوم؛ نو همداچې يمن ته ورننږدې شو؛ نو زموږ د راتګ خبره د هغه ځای خلکو ته ورسېده؛ نو ټول له موږ راټول شول او روسته تر دې چې علي د سهار لمونځ وکړ؛ نو موږ ټول په يوه ليکه کې ودرېدو او بيا علي راغی او د ليکې په مخ کې ودرېد او د الله تعالی تر ستاينې روسته يې د رسول الله رالېږلی ليک ولوست، چې د همذان ټبر په يوه ورځ کې ټول مسلمان شو. علي، رسول الله ته د کار ګزارش ولېږه او چې رسول الله ته د علي ليک ولوستل شو؛ سجده يې وکړه، و يې ويل: سلام دې پر همذان وي سلام دې پر همذان وي.

محب طبري وايي: دا روايت ابوعمرو هم راوړی او البته عسقلاني هم د فتح الباري د نهم ټوک په ۱۲۸ مخ کې راوړی او اسماعيلي ته يې نسبت ورکړی دی.

## علي کرم الله وجهه تر ټولو اصحابو کرامو پر قضا ښه پوهېده

(صحيح بخاري د تفسير په کتاب کې د (ما ننسخ من آية) تر آيت لاندې له سعيد بن جبير له حضرت ابن عباس، (حاکم؛ مستدرک: درېيم ټوک، ۳۰۵ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: پينځم ټوک، ۱۱۳ مخ)، (ابونعيم؛ حلية: لومړی ټوک، ٦٥ مخ)، سيوطي په در المنثور کې تر پورتني آيت لاندې او د هغه د وينا له مخې نسائي او ابن الانباري (په مصاحف کې) بيهقي (په دلائل) کې روايتوي، چې حضرت بن خطاب وويل: په موږ کې علي تر ټولو ښه پر قضا او د قضاوت پر فن پوهېږي.

(صحيح ابن ماجه؛ باب فضايل اصحاب الرسول: ١٤ مخ)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۳۵ مخ) له علقمه له عبدالله بن مسعود، (ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ۱۰۲ مخ)، (ابن اثير؛ اسدالغابه: څلورم ټوک، ۲۲ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ٤٦١، ٤٦٢ مخونه)، (ابن حجر؛ صواعق: ٧٦ مخ)، (شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۳ مخ) او د هغه د وينا له مخې ابن حجر او ابن عساکر له ابن مسعود او عسقلاني په فتح الباري (نهم ټوک، ٢٣٤ مخ) په دې اړه روايتونه راوړي، چې رسول الله ـ او په ځينو نورو کې ـ ((اصحاب يوه خوله دي چې: علي تر هغوی ټولو په قضاوت ښه پوهېده.))

(سنن بيهقي: لسم ټوک، ٢٦٩ مخ) په خپل سند له رقبه روايتوي، چې يزيد بن ابي مسلم د حجاج بن يوسف له ځايه بهر ووت او و يې ويل: امير نن څه هېښنده ورمندون وکړ. شعبي

وپوښتل: د څه قضاوت؟ کیسه یې ورته وکړه، شعبي وویل: دا ورمندون یې له یو صحابي اخستی، چې د بدر په جګړه کې یې هم ګډون درلود. یزید وپوښتل: مطلب دې څوک دی؟ و یې ویل: نه یې وایم. و یې ویل: څوک دی؟ راته یې وو‌ایه! له الله تعالی سره ژمنه کوم، چې حجاج ته به و نه وایم. شعبي وویل: علي بن ابیطالب دی. یزید د خپلې ژمنې پر خلاف ولاړ او حجاج ته یې وویل. حجاج وویل: پر ځان ووېرېږه! شعبي رښتیا وایي، دا قضاوت ما له علي بن ابیطالب زده کړی و؛ البته له څو لارو او که موږ یې کورنۍ او ځوځات وژنو؛ نو له قضاوته خو یې غچ نه اخلو؛ ځکه پوهېږم، چې علي د رسول الله تر ټولو اصحابو په قضاوت ښه پوهېده.

(حلیةالاولیاء: لومړی ټوک، ٦٥ مخ) په خپل سند حضرت له معاذ بن جبل روایتوي، چې وایي: رسول الله وویل: علي زه درسره یو لوری یم، چې د نبوت په مسله کې تر ما روسته بل پیغمبر نشته او ته به له خلکو سره په اوو ځانګړنو کې یو لوری یې، چې یو قریش هم نشي-کړای په دې ځانګړونو کې دې انډول شي؛ ١_په ایمان راوړو کې تر ټولو ړومبی یې. ٢_ د نورو په پرتله له الله تعالی سره پر کړې ژمنه ټینګ ولاړ یې. ٣_ د الله تعالی په امر کې دې پښه نه ښو یېږي. ٤_د ټولو په پرتله مساوات ښه رعایتوې. ٥_ پر ولس تر ټولو عادل یې. ٦_په قضا کې دې لیدانه- بصیرت تر ټولو ډېر دی. ٧_د الله تعالی په نزد تر ټولو لوړ مقام لرې.

دا روایت محب طبري هم د ریاض النضره د دویم ټوک په ١٩٨ مخ کې راوړی دی.

(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ٩٦ مخ)، (هیثمي؛ مجمع الزوائد: نهم ټوک، ١٦٥مخ) او د هغه د وینا له مخې په کبیر او اوسط کې او همداراز، (ریاض النضره: دویم ټوک، ١٩٨ مخ)، (ذخائر العقبی: ٨٣ مخ) له حضرت عمر بن خطاب او مرقاة المفاتیح (پینځم ټوک: ٥٨٢ مخ) له معمر له قتادة په دې اړه روایتونه راوړي دي.

(صحیح نسائي: دویم ټوک، ١٠٨ مخ) په خپل سند له حضرت زید بن ارقم روایتوي، چې وایي: له رسول الله سره وم او هغه مهال علي په یمن کې و؛ نو یو سړي رسول الله ته وویل: رسول الله! په یمن کې وو، چې درې کسان علي ته راغلل او درې واړو ادعا کوله، چې دا ماشوم زما دی، چې دې ښځې زیږولی. علي یوه ته یې وویل: شونې ده، چې ماشوم دې بل سړي ته ورکړې؟ سړي وویل: نه! دویمي او درېیمي ته یې هم دا وړاندیز وکړ؛ خو یو هم و نه منله. علي وویل: تاسې څومره ناسازګاره شریکان یاست؛ په تاسې کې به پچه واچوم، چې د چا په نوم چې راوخته؛ نو درېیمه برخه به د یو او درېیمه برخه دیه به د بل وي. رسول الله دومره وخندل، چې غاښونه یې ښکاره شول.

دا روايت (ابوداود؛ صحيح: څوارلسم ټوک، ۲۲۲ مخ) له دوو لارو، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۳۵، ۱۳٦ مخونه) له بلې لارې او د څلورم ټوک په ۹٦ مخ کې له بلې لارې، (احمد بن حنبل؛ مسند: څلورم ټوک، ۳۷۳، ۳۷٤ مخونه) له دوو لارو، (ا بوداود طيالسي؛ مسند: لومړی ټوک، ۲٦ مخ)، (بيهقي؛ سنن: لسم ټوک، ۲٦٦، ۲٦۷ مخونه له بلې لارې)، (طحاوي؛ مشکل الآثار: لومړی ټوک، ۳۲۰ مخ) له دوو لارو، (متقي؛ کنزالعمال: درېيم ټوک، ۱۸۱ مخ) او رياض النضره د دويم ټوک په ۲۰۰ مخ کې هم نقل کړی دی.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۷۷ مخ) په دوو سندونو له حنش له علي بن ابيطالب روايتوي، چې وايي: رسول الله يمن ته ولېږلم، چې هلته د څو ټبرونو تر منځ ورمندون وکړم، چې کيسه يې داسې ده: يو ځاه يې د زمري د ښکار لپاره ايستې وه او يو زمری په ځاه کې غورځېدلی و او ټول د تماشې لپاره له ځاه راتاو وو، چې يو بل ټېله کول، چې شا ته شي، چې په خپله يې هم وگوري، چې يو يې ځاه ته ورگوزار شو او چې ځاه ته غورځېده؛ نو د دويمي جامو ته يې لاس ورواچو او دويمي درېيمي او درېيمي د څلورمي جامو ته لاس ورواچو، چې په پايله کې څلور وانه ځاه ته وروغورځېدل او څلور وانه د زمري پنځو ته ورغلل، چې زمري څلور واړه وداړل، چې په پای يو وکړای شول زمری ووژني او ټپيان له ځاه راوباسي؛ خو تر څه مودې روسته څلور وانه مړه شول، چې ددې څلور وانو ټبرونو ترمنځ شخړه شوه، چې د ړومبي او همداراز د دويمي، درېيمي او څلورمي د وينې بيه به څوک ورکوي؛ نو شخړه دې ته راورسېده، چې ټول ټبرونه وسله وال شول، چې پر يو بل بريد وکړي. حنش وايي: علي ورمخکې شو او و يې ويل: تر اوسه لا رسول الله ژوندی دی او تاسې جگړې کوئ؟ زه به مو په منځ کې ورمندون وکړم؛ نو که زما پر قضاوت راضي شوئ؛ نو ښه تر ښه گنې؛ نو رسول الله ته به مو بوځم، چې په منځ کې مو قضاوت وکړي او که په تاسې کې يو هم د رسول الله خبره و نه منله؛ نو هېڅ حق به نه لرئ. ولاړ شئ او له هغه ټبرونو، چې دا ځاه يې ايستې؛ څلورمه، درېيمه، نيمه او پوره ديه راوړئ؛ يعنې له څلور وانو ټبرونو دوه زره او درې اتيا ديناره طلا راوړئ او له دې ماله څلورمه ديه _ ۲۵۰ ديناره _ د ړومبي کس وارثانو ته ورکړئ؛ ځکه هغه د دويمي د وژل کېدو لامل شوی دی؛ نو خپله خونبها يې بايد کمه شي او درېيمه برخه ديه _؛ يعنې ۳۳۳ ديناره _ د دويمي وارثانو ته او نيمه ديه _۵۰۰ ديناره_د درېيمي وارثانو ته او ۱۰۰۰ ديناره د څلورمي وارثانو ته ورکړئ؛ خو د ټبرونو خلک راضي نه شول. علي له څو کسانو مامورانو سره خلک رسول الله ته ولېږل، چې رسول الله په مسجدالحرام کې د مقام ابراهيم تر څنگ و؛ هغوی ورته خپله کيسه وکړه. رسول الله وويل: زه به په تاسې کې قضاوت وکړم. يو له هغوی وويل: علي بن ابيطالب په

موږ کې یو قضاوت کړی او بیا یې د علي قضاوت شرح کړ، چې رسول الله هماغه قضاوت لاسلیک کړ او و یې ویل: سم قضاوت یې کړی دی.

دا روایت (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۲۸، ۱۵۲ مخونه)، (ابوداود طیالسي؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۸ مخ)، (بیهقي؛ سنن: اتم ټوک، ۱۱۱ مخ)، (طحاوي؛ مشکل الآثار: درېیم ټوک، ۵۸ مخ) او (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۹۹ مخ) هم نقل کړی دی.

(استیعاب: دویم ټوک، ٤٦٢ مخ) په خپل سند له زر بن حبیش روایتوي، چې وایي: دوه کسانو سره خواړه خوړل، چې یو د پینځو ډوډیو او بل د درېو ډوډیو خاوند و، چې دا مهال یو سړی راغی، سلام یې واچاوه او د خوړو ست ورته وشو او راغلی سړی خوړو ته کېناست او درې وانېو اته ډوډۍ وخوړې، راغلي سړي اته درهمه کېښوول او ولاړ. د ډوډیو د خاوندانو سره شخړه شوه او د پینځو ډوډیو خاوند وویل: پینځه درهمه زما چې ډوډۍ مې پینځه او درې ستا؛ خو هغه بل راضي نه شو او و یې ویل: باید مساوي یې سره وویشو. شخړه یې د هواري لپاره علي بن ابیطالب ته وړاندې کړه او خپله یې کیسه یې ورته وکړه. حضرت علي د درې ډوډیو خاوند ته وویل: ملګري دې بې انصافي نه ده کړې؛ نو ته یې پر ویش راضي شه؛ ځکه ډوډۍ یې له تا ډېره وه. و یې ویل: نه!پر الله تعالی قسم، چې په مرحق پرته به پر څه راضي نشم. حضرت علي وویل: په مرحق کې تا ته له یوه درهم زیات نه رسي او اووه درهم ستا د ملګري دي. سړي وویل: سبحان الله امیرالمؤمنین! په خپله د درې درهمو وړاندیز کوې او زه پرې نه راضي کېږم او تاسې وایاست، چې په مرحق کې مې یو درهم حق دی؟ حضرت علي وویل: ملګري دې د سولې لپاره وړاندیزکړی او تا ته حلال وو؛ خو ته له مرحق پرته پر څه راضي نه شوې، چې په مرحق کې هم ستا برخه یو درهم دی. سړي وویل: ددې خبرې دلیل راته ووایه، چې قانع شم. حضرت علي وویل: مګر داسې نه ده، چې اته ډوډۍ څلرویشت ثلثه (درېیمه برخه) ډوډۍ ده؟ چې په تاسې کې هر یوه له دې څلرویشت ثلثو اته ثلثه وخوړې او ددې احتمال، چې یو به ډېره او بل به لږه خوړلې وي؛ نو له دې احتماله یوازې الله تعالی خبر دی؛ نو په تاسې کې هر یو باید اته ثلثه په غاړه واخلئ. و یې ویل: سمه ده. حضرت علي وویل: تا خپل اته ثلثه خوړلي او ددې لپاره، چې ستا ډوډۍ درې ټیلکي وه؛ یعنې نهه ثلثه وو او یو ثلث له درې ټیکلو دې په خپله نه ده خوړلې او هغه سړي خوړلې؛ لکه څنګه چې ملګري دې پینځه ټیکلي ډوډۍ؛ یعنې پنځلس ثلثه درلودې او اته ثلثه یې هم په خپله خوړلې او اوه ثلثه هم راغلي سړي؛ نو د یو ثلث پر وړاندې یو درهم برخه لري او ملګری دې د اوو ثلثو پر وړاندې اوه درهمه برخه لري. سړي وویل: اوس راضي شوم.

دا روایت (متقي؛ کنزالعمال: درېیم ټوک، ۱۸۰ مخ)، (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۹۹ مخ) او د هغه د وینا له مخې قلعي او همداراز ابن حجر د صواعق په ۷۷ مخ کې راوړی دی.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: پینځم ټوک، ۵۸ مخ) په خپل سند له معاویة بن قرة له یو انصاري، (کنزالعمال: درېیم ټوک، ۵۳ مخ) د علي د هغه قضاوت په اړه روایت نقل کړی، چې یو سړي د احرام په حال کې د شترمرغ هګۍ ماته کړې وه.
(صواعق محرقه: ۷۳ مخ) روایتوي، چې رسول الله له اصحابو سره ناست و، چې دوه شخړه کوونکي رانںووتل، چې یو یې وویل: رسول الله! ما یو خر درلود، چې ددې سړي غوا وواژه. په غونډه کې په ناستو کسانو کې یو د رسول الله تر څواب مخکې وویل: څارویان ضمانت نه لري. رسول الله وویل: علي په دې دوو کسانو کې قضاوت وکړه. علي پوښتنه وکړه: آیا دواړه څاروي تړلي ول، که خلاص وو او یا یو یې تړلی او بل یې خلاص و؟ هغو دوو کسانو وویل: خر تړلی و؛ خو غوا خلاصه وه او د غوا خاوند له خپلې غوا سره و. حضرت علي وویل: د غوا خاوند د خر ضامن دی. رسول الله دا حکم تایید کړ.
(شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۱ مخ) یوه کیسه نقل کړې ده: یو سړي له "نرښځي" سره(، چې هم یې د ښځې او هم یې دسړي عورت درلود،) واده وکړ او په مهر کې یې یوه وینځه ورکړه او چې ورسره یې کوروالی وکړ؛ نو د نر ښځي پر ګېډه ماشوم شو او زوی ترې وشو او په خپله هغه نرښځي له خپلې وینځې سره کوروالی وکړ، چې مهر یې و او هغه وینځه هم دوه ځانې- حامله شوه او زوی یې وشو. ددې سړي او نرښځي خبره ډنډوره شوه او علي بن ابیطالب هم خبر شو. حضرت علي د نرښځي له حاله خبر شو، چې هم حیض کېږي، هم وطی کوي او هم وطی کېږي؛ لنډه دا چې له دوو اړخو یې مني راوزي، حامله کېږي او حامله کول هم کوي. ټول خلک یې له خلقته حیران وو او څوک نه و، چې د هغه او مېړه په منځ کې یې قضاوت کړی وای. حضرت علي وویل: هغه دوه هلکان راوړئ؛ نو حکم یې ورکړ: ولاړ شئ او د نرښځي د سینې ښی او کینې پښتۍ وشمېرئ؛ نو که د ښي لور او چپ لور پښتۍ یې سره برابرې وې؛ نو ښځه ده او که د کینې لور یوه پښتۍ یې له ښي کمه وه؛ نو سړی دی، دوه هلکان ولاړل او د حضرت حکم یې پلي کړ او خبر یې راوړ، چې د کینې لور پښتۍ یې له ښي اړخه کمې دي او پردې مانا یې شهادت ورکړ او حضرت علي حکم وکړ، چې دا نرښځی سړی دی او له مېړه یې بېل کړ.

# د حضرت ابوبکر (رض) ستر سلاکار

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۲٤ مخ) له ابن سمان روایت کوي، چې وایي: د رسول الله تر مړینې روسته ځینې مرتد شول او د زکات له ورکولو یې سرغړونه وکړه، حضرت ابوبکر له اصحابو سره سلا مشوره وکړه؛ هر چا یوه خبره وکړه، چې علي ته یې وویل: اباالحسنه! ته پکې څه وایې؟ علي وویل: که څه ترې رسول الله اخستل او تا ورته پرېښوول؛ نو د هغه له سنتو سره دې مخالفت کړی دی. ابوبکر وویل: ته چې وایې؛ نو ورسره به وجنګېږم که ان د یو پړي لپاره هم وي.

(کنزالعمال: درېیم ټوک، ۳۰۱ مخ) او (ریاض النضره: درېیم ټوک، ۹۹ مخ) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي، چې عبدالله بن عمر وویل: څو تنه یهود حضرت ابوبکر ته راغلل او ورته یې وویل: د ملګري کیسه دې وکړه، چې څنګه سړی و. ابوبکر په ځواب کې وویل: ددې دوو ګوتو په څېر یو ځای زه ورسره په غار کې وم او ورسره د حرا غار ته ولاړم حال دا، زما وړه ګوته یې په لاس کې وه؛ خو رښتیا خبره داده، چې حدیث نقلول ترې سخت دي؛ نو تاسې ابي الحسن علي بن ابیطالب ته ور شئ؛ نو علي ته ورغلل او هغه ته یې وویل: د تره زوی دې څنګه سړی و؟ حضرت علي وویل: نه اوږد و او نه لنډ و او له تنې لږ اوږد و؛ سپین سور بخن مخ یې درلود؛ ویښتان یې غونج او ډېر اوږده نه ول او د غوږ تر نرمۍ رارسېدل؛ تندی یې لوی او سترګې یې تورې او غټې وې، له سینې تر نامه یې پر سینه نرۍ کرښه ویښتان وو او د بدن پر بل ځای یې ویښتان نه درلودل، غاښونه یې ځلېدل، پوزه یې لوړه او د پوزې سوري یې واړه وو او ورمېږ یې د نقرې د لوښي په څېر ځلېده، پښې او لاسونه یې غوښین او غټ وو او پر لار به چې تله ته وا له پورته راکوزېږي او چاته یا چېرې یې چې کتل؛ نو ټول بدن او مخ یې وراړوه؛ له ځایه به چې پاڅېد؛ نو خلک به یې بېسده کړل او چې به ناست؛ نو ټول به یې تر دبدبې لاندې وو او خبرې به یې چې کولې؛ نو ساه ګانې به بندې شوې او چې وینا به یې کوله؛ نو ټول به ورته پر ژړا وو، پر خلکو تر ټولو مهربانه و، د پلار مړیو مهربانه پلار او د بېوزلیو ډاډمن ملاتړ و؛ تر ټولو مېړنی، سخي او ښکلی و، خواړه یې روټه، ښوروا یې شیدې، بالښت یې د کجورو له پاڼو، تخت یې د ام غیلان له لرګي و، چې په منځ کې یې د کجورې پاڼې وې؛ دوه پګړۍ یې درلودې، چې د یوې نوم یې سحاب او د بلې عقاب و، بیرغ یې غراء، اوښ یې غضباء، کچره یې دلدل، خر یې یغفور، اس یې مرتجز، ګډه یې برکت، کوړه یې ممشوش او لښکر یې لواء محمد نومېده.

په خپله به يې د اس په پښو کې نعلونه لگول، واښه او اوبه به يې ورکولې. خپلې جامې يې په خپله پېوندلې او پښې يې په خپله گنډلې.

## د حضرت عمر (رض) ستر سلا کار

(صحيح ابي داود: اته ويشتم ټوک، باب سرقت ديوانگان: ۱۴۷ مخ) په خپل سند له ظبيان له حضرت ابن عباس روايتوي، چې وايي: يوه لېونۍ ښځه يې حضرت عمر ته راوسته، چې زنا يې کړې وه، چې له اصحابو سره تر سلا مشورې روسته پايله د سنگسار حکم شو او حکم پلې کولو ته يې، چې وړه؛ نو حضرت علي راغی، و يې پوښتل: دې ښځې څه کړي؟وويل شول: دا ښځه لېونۍ، د پلاني ټبر ده او زنا يې کړې او حضرت عمر يې د سنگسار حکم کړی دی. حضرت علي وويل: هغه بېرته بوځئ او عمر ته يې وويل: عمره؛ مگر خبر نه يې چې پر درې خلکو تکليف نشته؟۱_ لېونی، چې ښه شي. ۲_ويده، چې ويښ شي. ۳_ماشوم، چې بالغ شي. حضرت عمر وويل: هو! علي: نو ولې يې سنگساروې؟ علي ښځه پرېښووه او عمر څو ځل تکبير ووايه.

دا روايت بخاري په خپل صحيح، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۴۰، ۱۵۴ مخونه)، (دارقطني؛ د حدود کتاب: ۳۴٦ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: درېيم ټوک، ۹۵ مخ) او د هغه د وينا له مخې عبدالرزاق و همداراز مناوي د فيض القدير د څلورم ټوک په ۳۵٦ مخ او عسقلاني او فتح الباري په بېلابېلو عبارتونو راوړی دی او په ځينو کې يې راغلي: حضرت عمر وويل: که علي نه و؛ نو عمر به هلاک شوی و. او فتح الباري وايي: بې له نومووړيو د حديث نورو امامانو هم دا روايت نقل کړی دی.

(امام انس بن مالک؛ موطاء: د الاشربه کتاب: ۱۸٦ مخ) په خپل سند له ثور بن زيد ديلمي روايتوي، چې حضرت عمر بن خطاب د خلکو د شراب څښکلو په اړه مشوره وکړه، چې علي بن ابيطالب وويل: زما فتوا داده، چې بايد اتيا کوړې وخوري؛ ځکه چې شراب وڅښي؛ نو مست شي؛ نو چې مست شي؛ نو چټيات وايي او چې چټيات يې وويل؛ نو تورونه لگوي. حضرت عمر ورسره ومنله او تر هغه روسته به يې شرابخواران اتيا کوړې وهل.

دا روايت (شافعي؛ مسند: د الاشربه کتاب: ۱٦٦ مخ)، (حاکم؛ مستدرک: څلورم ټوک، ۳۷۵ مخ)، (سيوطي؛ درالمنثور: د مايده د سورت د انما الخمر و الميسر ترآيت لاندې) او د هغه د وينا له مخې ابو الشيخ، ابن مردويه، حاکم، دارقطني د خپل سنن د حدود د کتاب په ۳۴٦ مخ کې او متقي د کنزالعمل د درېيم ټوک په ۱۰۱ مخ کې راوړی دی.

(مستدرک الصحیحین: څلورم ټوک، ۳۷۵ مخ) په خپل سند لـه و بره کلبـي روایـتوي، چې وايي: خالد بن ولید د خپل ماموریت له ځایه حضرت عمر تـه راولېـږلم او مـدینې تـه، چې راغلم؛ نو حضرت عمر په جومات کې له عـثمان بن عفـان، عـلي، عبـدالرحمان بن عـوف، طلحة او زبېر (رضی الله عنهم) سره و. ورته مې وویل: خالد بن ولید درباندې تر سلام روسته وايي: خلکو شرابو ته مخه کړې او له هېڅ هم نه وېرېږي. حضرت عمر وویل: دا د رسول الله اصحاب دي؛ نو له دوی وپوښته، چې څه وايي؟ علي وویل: د شرابخور حد اتیا کـوړې دی. خپل ملګري ته دې ووایه، چې شرابخور پر اتیا کوړو ووهي.

دا روایت طحاوي هـم د شرح الاثـار د دویـم ټـوک پـه ۸۸ مـخ کـې لـه دوو لارو راوړی او مخکې یې ویلي: حضرت ابوبکر ژوندی و؛ نـو د شرابخـور حـد یـې څلوېښـت کـوړې و او حضرت عمر هم تر هغه ورځې پورې څلوېښت کوړې واهه.

او همداراز دارقطني هم د سنن د حدود د کتاب په ۳٤٦ مخ کې، بخاري د پینځلسم ټوک په ۷۳ مخ کې راوړی او طبراني، طحاوي، بیهقي ته یې د حضرت اسامه بن زید له لارې نسـبت ورکړی او په ۷٤ مخ کې یې عبدالرزاق له معمر بن ایوب له عکرمة ته نسبت ورکړی دی.

(مستدرک الصحیحین: لومړی ټوک، ٤۰۰ مخ) او د لومړي ټوک پـه ٤٥۷ مـخ کـې حضـرت علي تـه د حضـرت عمـر د مراجعـاتو دوه کیسـې راوړې، چـې د دویمـې لنـډیز داسـې دی: حضرت ابوسعید خدري وايي: یو کال له حضرت عمر سره حج ته تللی وم، طواف یې، چې کاوه؛ نود حجر الاسود مخ ته ودرېد او و یې ویل: خبر یم چې ته هېڅ ګټه او تاوان نه لرې او که رسول الله نه وې ښکل کړی؛ نو ما به هم نه وې ښکل کـړی. حضـرت عـلي هـم هلـته و، چې و یې ویل: عمره داسې هم نه ده، چې ګومان کوې، دا تیږه له نورو تیږو سره تـوپیر لـري او دا تیږه ګټه او تاوان لري؛ ځکه ما د اللـه تعـالی لـه اسـتازي واورېـدل، چـې و یـې ویـل: د قیامت پر ورځ به دا تیږه راوړې او پرېکنده به د هغوی په ګټه شهادت ورکـړي، چـې موحـد وي او دا تیږه یې استلام کړې وي. حضرت عمر وویل: پناه غواړم له خدایه، چې پـه داسـې خلکو کې ژوند وکړم، چې ابالحسن پکې نه وي.

دا روایت (کنزالعمال: درېیم ټوک، ۳۵ مخ) هم نقل کړی او د هندي د کتاب فضایل مکـه او مطولات په کتاب کـې یـې ابوالحسـن قطـان تـه نسـبت ورکـړی، حـاکم هـم پـه مسـتدرک، عبدالرزاق په جامع، سیوطي د انعام د سورت د (و اذا اخذ ربک مـن بنـی آدم مـن ظهـورهم ذریتهم) تر آیت لاندې نقل کړی او بیهقي ته یې په شعب الایمان کې نسبت ورکـړی، فخـر رازي د (و التین و الزیتون و طور سنین و هذا البلد الامین) تر آیت لاندې نقل کړی، چې پـه

روستي کې يې راغلي، چې حضرت عمر وويل: ابالحسنه ژوندی دې نه يم په هغه قوم کې، چې ته پکې نه يې.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱٤ مخ) په خپل سندله حضرت سعيد بن مسيب روايتوي، چې وايي: حضرت عمر خلک راټول کړل، چې د تارخ د مبداء په اړه ورسره سلا مشوره وکړي. حضرت علي وويل: له مکې څخه مدينې ته د رسول الله هجرت د تاريخ مبداء کړئ؛ ځکه دا هغه ورځ ده، چې رسول الله د شرک سيمه پرېښووه. حضرت عمر يې پرنظر عمل وکړ.
دا روايت (ابن جرير؛ تاريخ: دويم ټوک، ۱۱۲ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: پينځم ټوک، ۲٤٤ مخ) کې هم راوړی او متقي بيا وايي: حضرت عمر د خلافت له دوه نيم کالو تېرېدو روسته تاريخ تاسيس کړ.
(سنن بيهقي؛ شپږم ټوک، ۱۲۳ مخ او همداراز: اووم ټوک: **۳٤۳** مخ) حضرت علي ته د حضرت عمر د مراجعاتو په اړه دوه روايتونه نقل کړي، چې په دويم کې يې راغلي: يو سړی حضرت عمر ته راغی او ورته يې وويل: ما خپلې مېرمن ته وويل: واگې دې خپلې دي ـ البته دا يو کنايي تعبير دی او واقعي مانا يې مطلب نه ده ـ آيا دا تعبير طلاق دی که نه؟ حضرت عمر وويل: د حج په موسم کې راشه. نو چې د حج په موسم کې راغی او کيسه يې بيا ورته وکړه؛ حضرت عمر وويل: هغه اصلع ـ هغه چې پر تندي ويښتان نه لري ـ سړی وينې؟ ورشه او و يې پوښته، چې ورغی، هغه علي بن ابيطالب و؛ نو و يې پوښتل: چا رالېږلی يې؟ ورته يې وويل: عمر بن خطاب. علي وويل: پر دې کور قسم وخوره، چې پر هغه دې له هغې خبرې مراد د ښځې طلاق نه و. سړی مخ په قبله ودرېد او و يې ويل: سړي قسم وخوړ، چې له طلاق پرته مې بل مطلب نه درلود. علي وويل: ښځه دې طلاقه ده.
(سننن بيهقي؛ اووم ټوک، **٤٤۲** مخ له شعبي له عمر)، (رياض النضره: دويم ټوک، **۱۹٦** مخ له مسروق له عمر)، (سنن بيهقي: اووم ټوک، **٤٤۲** مخ په خپل سند له ابي الاسود دوئلي) په دې اړه راوايتونه نقل کړي، چې په روستي کې يې راغلي: يوه ښځه يې حضرت عمر ته راوړه، چې شپږمياشتنی ماشوم يې زيږولی و؛ نو حضرت عمر حکم وکړ، چې سنگسار يې کړئ. حضرت علي خبر شو، و يې ويل: نه! دا حکم غلط دی، سنگسار دې نشي ـ، حضرت عمر، چې واورېدل، علي يې حکم رد کړی؛ و يې پوښته: څنگه کېدای شي د ښځې شپږ ميا شتنی ماشوم وشي. علي وويل: د قرآن له دې دوو آيتونو جوتېږي، چې د حمل تر ټولو لږه موده شپږ مياشتې دي: (حمله و فصاله ثلاثون شهراً) او بل (والوالدات يرضعن اولادهن حولين کاملين لمن ارادان يتم الرضاعة) آيتونه دي؛ ځکه لومبي آيت د حمل او شيدو ورکولو موده

دېرش میاشتې ښوولي او دویمي ایت ویلي: کـه د مـور خوښـه وي؛ نـو څلرویشـت میا شتې شیدې ورکولای شي؛ نو پردې بنسټ د حمل لږ تر لږه مـوده شپږ میا شتې ده. عمـر چـې دا واورېدل؛ نو ښځه یې پرېښووه او و یې ویل: ((لو لا علی لهلک عمر؛ یعنې که علي نه و؛ نـو عمر به هلاک شوی و)

دا روایت پر بیهقي سربېره (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټـوک، ۱۹٤ مـخ) او د هغـه د وینا له مخې عقیلي او ابن اسمان، (متقي؛ کنزالعمال: درېیم ټوک، ۹٦ مخ) او د هغه د وینا لـه مخې عبدالرزاق، عبد بن حمید، ابن منذر، ابن ابي حاتم او همداراز (کنزالعمال: درېیم ټوک، ۲۲۸ مخ) او په ۲۲۸ مخ کې یې له قتادة له ابي حرب بن اسود دوئلي له پلاره هـم نقـل کـړی دی او په روستي کې راغلي: د ښځې خور علي ته راغله او ورته یې وویل: عمر غواړي خور مې سنگسار کړي؛ نو پر الله تعالی مو قسم، که څه چاره وي، چې خور مې پرې خلاصه کړم. علي وویل: خور دې معذوره ده. هغې ښځې داسې پر لوړ غږ تکبیر ووایه، چې پـه شاوخوا کې ټولو او ان حضرت عمر هم واورېد. ښځه حضرـت عمـر تـه ورنـږدې شوه او ورتـه یـې وویل: علي وایي: خور دې معذوره ده. عمر هم په علي پسې څوک ولېږه، چې عذر یې څه دی. علي وویل: الله تعالی په قرآن کې وایي.....

او همداراز دا روایت (عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ٤٦۱ مخ) نقل کړی، چې په پـای کـې یې حضرت عمر ویلي: که علي نه و؛ نو عمر به هلاک و.

(ابن سعد؛ طبقات: دویم ټوک، دویم قسـم، ۱۰۲ مـخ) پـه خپـل سـند لـه سـعید بن مسیب روایتوي، چې یوه ورځ حضرت عمر بن خطاب اصحابو ته راغی او ورته یې وویل: ما ته پـه یو کار کې لارښوونه وکړئ، چې کړی مې دی او فتوا مو راکړئ. پوښتنه وشوه: امیرالمؤمنینه! څه کار مـو کـړی دی؟ و یـې ویـل: سره لـه دې، چـې روژه وم؛ لـه خپلـې وینځـې سره مـې کوروالی وکړ. ټول چوپ شول. حضرت عمر وویل: یابن ابیطالب! ته په کې څه وایې؟ ورتـه یې وویل: حلال کار دې کړی؛ یوه ورځ له یوې ورځې سره؛ یعنې نـن دې روژه باطلـه او پـر ځای یې بله ونیسه. حضرت عمر وویل: ستا فتوا تر ټولو غوره ده.

(ابن سعد؛ طبقات: درېیم ټوک، لومړی قسم، ۲۲۱ مخ) په خپل سند له له ابي امامة بن سـهل ابن حنیف روایتوي، چـې وایـي: روسـته تـر دې، چـې حضرـت عمـر د خلافـت پـر کرسـۍ کېناست؛ نو د څه مودې لپاره یې له بیت الماله گټه نه اخسته او ددې لپاره ما ورسره ځانگړې چلن درلود؛ نو یو څوک یې د رسول الله په اصحابو پسـې ولېـږه، چـې راټـول یـې کـړل او د هغوی پر نظر یې هم ځان پوه کړ، چې حضرت عثمان وویـل: څومره چـې دې خوښـه وي، وخوره او څومره، چې دې خوښه وي، و یې ښه. حضرت سعید بن زید بن عمـرو بن عقیـل

هم همدا نظر ورکړ. حضرت عمر وویل: علي! ته څه وایې؟ ورته یې وویل: ته یوه سهارنۍ او یو ماښامنی له بېت الماله ګټه اخستی شې. حضرت عمر د علي خبره پلي کړه.
(ابن سعد؛ طبقات: دویم ټوک، دویم قسم، ۱۰۲ مخ) په خپل سند له سعید بن مسیب روایتوي، چې وایي: حضرت عمر به تل ویل: پناه غواړم له خدایه له هغې ستونزې، چې ابوالحسن علي مې تر څنګ نه وي.
دا روایت (اسدالغابه: څلورم ټوک، ۲۲ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ۲۷۰ مخ)، (ابن حجر؛ تهذیب التهذیب: اووم ټوک، ۳۲۷ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ٤٦١ مخ) او (متقي؛ کنزالعمال: پینځم ټوک، ۲٤١ مخ) هم نقل کړی دی.
(شرح معاني لاثار: دویم ټوک، د حدود کتاب، ۸۸ مخ) په خپل سند له ابي عبدالرحمن سلمي له علي روایتوي، چې د شام ځینو خلکو شراب وڅښکل او هغه مهال یې والي د معاویه بن ابوسفیان رور یزید بن ابوسفیان و؛ نو چې یې ونیول، و یې ویل: شراب حلال دي او د (لیس علی الذین آمنوا و عملوا الصالحات جناح فیما طعموا) پر آیت یې استدلال وکړ. یزید دا خبره عمر ته ولیکله. عمر ورته په ځواب کې ولیکل: چې دې څو کسانو ټول چاپېریال نه وي لړلی؛ نو ژر تر ژره یې مدینې ته راولېږه، مدینې ته یې، چې راوستل؛ نو په اړه یې حضرت عمر له نورو اصحابو سره سلا مشوره وکړه. ټولو وویل: امیرالمؤمنینه! ددې لپاره چې پر الله تعالی یې دروغ تړلي او په دین کې یې تشریع کړې؛ نو له ټولو ورمېږونه غوڅ کړه. په دې ټولو خبرو کې علي چوپ و. حضرت عمر وویل: علي ستا نظر څه دی؟ و یې ویل: زمانظر دادی، چې پر دوی توبه وباسې؛ نو که توبه یې وکړه؛ نو هر یو اتیا کوړې ووهه؛ ځکه مسلمانان شوي او پخوا یې په خپله مسلمانۍ کې شراب خوړلي او که تو به یې ونه کړه _ که همداسې یې پر خپل ارتداد ټینګاره کاوه _نو ورمېږونه ترې غوڅ کړه؛ ځکه مرتد دي، پر الله تعالی یې دروغ تړلي او بې له دې، چې د الله تعالی له کتابه څه راوړي، په دین کې یې تشریع کړې ده. حضرت عمر د حضرت علي فتوا پلي کړه؛ هغوی توبه وکړه او بیا یې اتیا اتیا کوړې ووهل.
دا روایت (عسقلاني؛ فتح الباري: پینځلسم ټوک، ۷٤ مخ) هم نقل کړی او ا بن ابي شیبه ته یې نسبت ورکړی دی. سیوطي هم په درالمنثور کې د مائده دسورت د (یا ایها الذین آمنوا انما الخمر و المیسر) تر آیت لاندې راوړی او ابن ابي شیبه، ابن منذر او کنزالعمال (لومړي ټوک: ۲۲۹ مخ ) ته یې نسبت ورکړی دی.
سیوطي په درالمنثور کې دآل عمران د سورت د (فاما الذین فی قلوبهم زیغ فیتبعون ما تشابه منه ابتغاء الفتنة و ابتغاء تاویله) تر آیت لاندې د محب (نصر) له کتاب له حضرت ابي هریرة

روایتوي، چې وایي: له حضرت عمر بن خطاب سره ناست وو، چې یو سړی راغی او و یې پوښتل: قرآن مخلوق دی او که غیر مخلوق. حضرت عمر ددې پوښتنې په اورېدو سخت حیران شو، جامې یې راټولې کړې او پوښتونکی یې علي ته بوت، ورته یې وویل: ابالحسنه! خبر یې چې دا سړی څه وایي؟ و یې ویل: څه وایي؟ حضرت عمر: راغلی او پوښتي، چې قرآن مخلوق دی که غیر مخلوق؟ علي وویل: دا هغه ټکی دی، چې ورپسې به یوه ثمره وي او که د چارو واکې زما په لاس کې وې؛ نو ورمېږ به مې ترې غوڅ کړی و.

(کنزالعمال: دویم ټوک، ۲۲۱ مخ) له حضرت انس بن مالک روایتوي، چې یو بیدیاني سړي د اوښانو رمه راوړې وه، چې و یې پلوري، حضرت عمر خبر شو، سړي ته راغی، چې یو ځای ورسره ټول ترې وپېري؛ نو بېل بېل اوښ یې په لغته واهه، چې پاڅي، چې پوه شي روغ دی که نه. اعرابي ورته سپکې سپورې وکړې او و یې ویل: اوښان مې پر خپل حال پرېږده؛ خو سپکو سپورو یې مخه ونشوه نیولای او روسته تر دې، چې ټول یې روغ وموندل؛ نو ټول یې یو ځای واخستل او پلورونکي ته یې وویل: اوښان رامخکې کړه او راځه چې بیه یې درکړم. اعرابي وویل: صبر وکړه، چې پړي او کتې ترې کوزې کړم. حضرت عمر وویل: ما اوښان له پړو او کتو سره اخستي دي. اعرابي وویل: شهدالله چې بد سړی یې! تا اوښان اخستي که کتې. حضرت عمر وویل: ما چې اخستل؛ نو پړي او کتې پرې وې؛ نو شخړه یې کوله، چې علي راورسېد. حضرت عمر وویل: ددې سړي پر قضاوت راضي یې؟ اعرابي وویل: هو او بیا یې خپله کیسه و کړه. علي وویل: که تا ورسره د پړو او کتو بیه هم کړې وه؛ نو ستا به وو او اوس چې دې نه ده کړې؛ نو د هغه دي او حضرت عمر هم د علي خبره ومنله.

(کنزالعمال: درېیم ټوک، ۵۳ مخ) له محمد بن زبیر روایتوي، چې وایي: د دمشق جومات ته ننووتم، چې هلته مې یو بوډا سړی ولید، چې په ملا کړوپ و، ورته مې وویل: مشره! تا په ژوند کې څوک لیدلي دي؟ و یې ویل: رسول الله مې لیدلی دی. پوښتنه مې وکړه: په کومو جګړو کې دې برخه اخستې وه؟ راته یې وویل: د برموک په غزا کې مې برخه اخستې وه. و مې ویل: څه چې دې اورېدلي؛ نو ما ته یې هم ووایه. و یې ویل: د ا شعریینو او عک له خلکو سره حج ته ولاړو او د احرام په حال کې مو څو د شتر مرغ هګۍ تر پښو لاندې ماتې کړې ـیا مو ماتې او و مو خوړې ـ بیا مو خپله کیسه حضرت عمر بن خطاب ته وکړه، چې زموږ تکلیف څه دی؟ پرته له دې چې کوم ځواب راکړي؛ نو موږ ته یې وویل: راځئ. موږ هم ورپسې شو، چې د رسول الله خونې ته ورسېد. ور یې وواهه، یوې ښځې له کوره غږ کړه: څوک یې؟ حضرت عمر وویل: ابوالحسن په کور کې شته؟ و یې ویل: نه! په پټي کې دی.

حضرت عمر بیا روان شو او راته یې وویل: راځئ. اباالحسن ته چې ورسېدو؛ نو ښه راغلاست یې ووایه . حضرت عمر وویل: دا ځوانان د عک او ا شعریین دي او د احرام په حال کې یې د شترمرغ څو هګۍ ماتې کړې دي. علي وویل: څوک به دې په ما پسې رالېږلی و؛ زه به په خپله درغلی وم. عمر وویل: په دې به ښه ښکاره شم، چې زه تاته را شم. علي وویل د هګیو د شمېر هومره نر شترمرغان، چې شترمرغې یې نه وي لیدلي له هغه ښځو شتر مرغو سره، چې شتر مرغ یې نه وي لیدلی؛ نوکه بچی یې وشو، هغه به منی ته یوسي او قرباني دې یې کړي. حضرت عمرو‌ویل: کېدای شي اوښه بچی وغورځوي (سقط یې کړي). علي وویل: کېدای شي هګۍ هم فاسدې شي. عمر وویل: خدایه! په داسې ستونزه کې مې راګېر نه کړې، چې علي مې تر څنګ نه وي.
(کنزالعمال: دریم ټوک، ۱۷۹ مخ) له حضرت ا بن عباس روایتوي، چې وایي: یوه ستره ستونزه حضرت عمر ته پېښه شوه، چې د ستونزې د ستروالي له امله به کېناسته او پاڅېده؛ رنګ به یې واوخوت او تک تور به شو او ددې ستونزې د هواري لپاره یې د رسول الله اصحاب راټول کړل، چې سلا مشوره ورسره وکړي، چې ټولو وویل: امیرالمؤمنینه! زموږ پناه ځای خو ته یې. حضرت عمر وویل: له خدایه وو‌ېرېږئ او سمه خبره وکړئ، چې الله تعالی مو نیتونه پاک کړي. اصحابو وویل: ددې ستونزې حل له موږ سره هم نشته. حضرت عمر وویل: پر الله تعالی قسم، چې څوک پېژنم، چې ددې ستونزې هوارول ورته ډېر اسان دي. اصحابو وویل: ګواکې مردا مو د ابیطالب زوی دی. حضرت عمر وویل: الله تعالی دې لري؛ ایا عرب یې په څېر بل لري، پاڅئ، چې ورشو. اصحابو وویل: امیرالمؤمنینه! صبر نه کوئ، چې په خپله راشي. عمر وویل: نه بېخي نه!داچې له بني هاشمو دی او د رسول الله خپلوان دی، تر ټولو پوه دی او په ټولیزه، علم یو ځیز دی، چې باید ورپسې ولاړ شو او باید توقع ونه لرو، چې کور ته مو راشي.
(کنزالعمال: دریم ټوک، ۱۷۹مخ) له سعید بن جبیر روایتوي، چې یوه ښځه یې حضرت عمر ته راوسته، چې یو ماشوم یې زېږولی و، چې له پنډیو پورته دوه وو؛ یعنې دوه سره، دوه ګېډې، څلور لاسونه او دوه عورته یې درلودل او تر پنډیو لاندې یو و. دې ښځې له مېړه څخه د دوو اولادونو میراث غوښته. حضرت عمر اصحاب راټول کړل، چې مشوره ورسره وکړي؛ خو سم او صحیح ځواب یې لاس ته را نه غی؛ نو بیا یې علي بن ابیطالب راوغوښت. حضرت علي وویل: په دې خبره کې یو راز دی؛ نو ښځه او زوی یې بندي کړئ او د میراث مال هم ونیسئ او یو څوک ورته ونیسه، چې خدمت یې وکړي او لګښت یې ورکړي، حضرت عمر همداسې وکړل، چې ښځه مړه شوه او بیا عجیب الخلقة زوی د میراث غوښتنه

وکړه، حضرت علي حکم وکړ، چې يـو خسي ـ خـادم دې د د دواړو د عـورت داسـې خيـال وساتي؛ لکه مور يې چې د خپل ماشوم ساتي، چې تر څه مودې روسته يـو لـه هغـوی د واده هيله وکړه، چې حضرت عمر يو څوک په علي پسې ولېږه، چې بالاخره نظـر دې ددې دوو کسانو په اړه څه دی؛ نو که يو يې ښځه غواړي او بل نه او يو څه غواړي، چې هغه بل يې نـه غواړي؛ موږ به څه کوو او ګورې، چې يو يې ښځه غواړي؟ علي وويل: الله اکبر! الله تعـالی ترډې حليم او کريم دی، چې خپل بنده به دې ته اړ کړي، چې جماع کول يې وليدل شي او تاسې هم هغه ځوان بوخت کړئ، چې الله تعالی يې په اړه حکم صادر کړي؛ ځکه دا هلک به هله د جماع اشتها کوي، چې مړينې ته نږدې وي او هغه ځوان هم درې ورځې روسـته مـړ شو. بيا حضرت عمر اصحاب راټـول کـړل، چـې پـه دې ژونـدي پـورې د تـړل شوي مـړي تکليف څه دی؟ورته يې وويل: هغه مـړی د ژونـدي لـه بدنـه بېـل کـړئ او ښـخ يـې کـړئ. حضرت عمر وويل: عجيبه خبره کوئ! آيا زه يو ژوندی د بل مړي لپاره ووژنـم؟ او پـه خپـل هغه ځوان هم نيوکه وکړه، چې سره له دې، چې مؤحد يـم، قرآن وايم او د محمد بن عبداللـه پر نبوت او رسالت ايمان لرم؛ نو بيا مې هم وژنئ؟ بيا حضرت عمر په حضرت علي پسـې يـو کس ولېږه، چې راشه او ددې ستونزې لپاره لاره چاره پيدا کړه. حضرت علـي وويـل: مسـله ډېره اسانه ده او تاسې مه وارخطا کېږئ؛ هغه ته غسل ورکړه او کفن يې کړه او يو خادم ورتـه ونيسه، چې په ناسته پاسته کې ورسره مرسته وکړي او چې درې ورځې تېرې شوې؛ نو هغه يو به وچ شي او د جلا کولو وړ به وګرځي، درې ورځې روسته همداسې هـم و شول. حضـرت عمر وويل: يابن ابيطالب! ته او د هرې شبهې رابرسېرروونکی او د هر حکم مرجع وې او يې.

(کنزالعمال: څلورم ټوک، ۲۲۳ مخ) له قاسم بن ابي امامه روايتوي، چې وايي: حضـرت عمـر جنب و او له خلکو سره يې لمونځ وکړ؛ نو چې پـوه شو؛ نـو خپـل لمـونځ يـې راوګرځـاوه. حضرت علي وويل: بايد خلکو ته اعلان وکړې، چې هغوی هم خپـل لمـونځ راوګرځـوي او اصحابو هم د علي حکم پلي کړ.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٦ مخ) له ا بن عمـر روايـتوي، چـې پـلار مـې عمـر بن خطـاب، حضرت علي بن ابيطالب ته وويل: ابا الحسنه! درې مطلبه مې په ذهن کې مشکل دي او ډېر مې زړه غواړي که ته يې پوهه لرې؛ نو ځواب يې راکـړه. علـي: هغـه درې مسـئلې څـه دي؟ حضرت عمر وويل: يو دا چې کله انسان له يوه داسې سـړي سره مخېږي، چـې دومـره مينـه ورسره لري، چې تر هغه هومره به له چا سره هم مينه نه کوي او بل به يې دومره بدې راځـي، چې تر هغه به يې بل بدې نه راځي، چې ددې خبرې علت به څه وي؟ علي وويل: مـا د اللـه تعالی له استازي واورېدل: ارواګانې په هوا کې ځانته لښکرې دي او په بېلو بېلو ليکو کې دي

او که بدنونه يو له بل سره مخامخ شول؛ نو که ارواګانې يې سره په يوه ليکه کې وي؛ نو يو بل جذبوي او که په يوه ليکه کې نه وي؛ نو يو بل يې بدې راځي. حضرت عمر وويل: دا يې يو. بله دا انسان هغه څه هېروي، چې چې اورېدلی يې وو او کله يې ياد ته راځي؛ نو ددې علت څه دی؟ علي وويل: د الله تعالی له استازي مې واوېدل: داسې زړه به و نه ګورې، چې د ځان لپاره به وريځ نه لري؛ لکه څنګه، چې سپوږمۍ د ځان لپاره وريځ لري او په همدې ترڅ کې، چې سپوږمۍ رڼا ورکوي؛ نو وريځ يې د رڼا مخه نيسي-او تپه تپاره کړي او زړونه همداسې دي. عمر وويل: دا يې دوه. دريېم: چې کله انسان خوب ګوري؛ نو کله يې خوب رښتيا وي او کله دروغ؛ نو ددې علت څه دی؟ علي وويل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: داسې ښځه او سړی به نه وي، چې خوب يې درون شي او اروا يې د عرش پر لور روانه نشي او تر هغه نه راويښېږي، چې اروا يې عرش ته نه وي رسېدلې او څه يې چې ليدلي؛ نو صادق دي او هغه چې عرش ته يې د اروا تر رسېدو مخکې راويخ شي؛ نو هر هغه څه دروغ دي، چې په خوب کې يېويني. عمر وويل: دا خبرې وې، چې زما ذهن يې پر ځان له ډېره وخته بوخت کړی و او تا راته دا ستونزه هواره کړه او د خدايه شکر کوم، چې تر مړينې مخکې مې پرې سر خلاص شو.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۷۰ مخ) له حضرت عمر څخه روايتوي، چې د يوې خبرې پر سر يې له يو سړي سره شخړه شوه، چې ورته مې وويل: آيا راضي يې، چې دا ناست کس زما او ستا په منځ کې قضاوت وکړي؟ سړي پر سپکاوي وويل: هغه سړی، چې غټه ګېډه لري؟ حضرت عمر غوسه شو، ورپاڅېد او سړی يې له ګرېوانه راونيو او ورته يې وويل: خبر يې چې د چا سپکاوی دې وکړ؟ تا زما او د هر مسلمان مولی خپه کړ.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۵ مخ) له زيد بن علي له پلاره له نيکه روايتوي، چې وايي: يوه دوه ځانې-حامله ښځه يې حضرت عمر ته راوسته، چې پر زنا يې منښته کړې وه. حضرت عمر پرې د سنګسار حکم وکړ. حضرت علي دا ښځه پر لار ليدلې او له خلکو يې پوښتنه کړې وه، چې دې ښځې څه کړي دي؟وويل شول: عمر حکم کړی، چې سنګسار دې شي. علي حکم وکړ: بېرته يې وګرځوئ او حضرت عمر ته يې وويل: ته پر هغې ښځې واکمن يې، نه په ګېډه کې يې پر ماشوم، ته په دې عمل پرې وينه راوړه او و دې وېروله او همدومره ورته بس دی. عمر وويل: په رښتيا چې همداسې ده؟ ورته يې وويل: هو! مګر د الله تعالی له استازي دې نه دي اورېدلي: چا چې بر بلا تر ککړېدو روسته پر جرم منښته وکړه؛ نو نور پرې حد نه جاري کېږي؛ يا بايد بندي شي او يا وګواښول شي؛ ځکه اقرار يې اقرار نه دی. حضرت عمر هم ښځه پرېښووه.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۲ مخ) له عبدالرحمان سلمي روايتوي، چې يوه ښځه يې حضرت عمر ته راوسته، چې په بيديا کې يې د سختې تندې له امله له يوه شپونه د او بو غوښتنه کړې وه او شپونۍ ورته ويلي وو، چې د کوروالي په شرط به اوبه درکړم او ښځې هم د ناچارۍ له مخې زنا کړې وه. حضرت عمر يې د سنگسارولو په اړه له اصحابو سره سلا مشوره وکړه، چې حضرت علي وويل: بايد رجم نشي؛ ځکه پرېشانه وه؛ نو تاسې يې پرېږدئ. حضرت عمر هم د علي حکم پلی کړ.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۷ مخ) له حنش بن معتمر روايتوي، چې دوه کسانو له يوې قريشي ښځې سره سل ديناره امانت کېښوول او ورته يې وويل: موږ يوه ته به يې هم نه راکوې؛ يعنې که يو مو ځان ته راغی؛ نو مه يې راکوه او صبر وکړه، چې هغه بل هم راشي، چې له دې کيسې يو کال تېر شو او يو يې راغی او ښځې ته يې وويل: زما هغه بل ملگری مړ شوی او دينار راکړه. ښځې دينار ور نه کړل او سړي د ښځې د مېړه کورنۍ په ښځې پسې راوپاروله او د ښځې کورنۍ هم دا ښځه سور اور ته ونيوه، چې ددې سړي دينار ورکړي او ښځې هم دينار ورکړل. يو کال تېر شو او هغه بل سړی راغی او د دينارو غوښتنه يې وکړه. ښځې وويل: ما دينار ستا هغه بل ملگري ته ورکړل؛ ځکه راغی او ما ته يې وويل، چې هغه بل ملگری مې مړ شوی او ما هم دينار ورکړل، چې خبره عمر ته يووړل شوه. حضرت عمر ښځې ته وويل: ته ضامنه يې او بايد دينار ورکړې. ښځې قسم ورکړ، چې ته په موږ کې قضاوت مه کوه او پرېږده، چې علي بن ابيطالب په موږ کې قضاوت وکړي. حضرت عمر هم قضاوت علي ته وروسواره. حضرت علي پوه شو، چې هغه دوه سړي له دې ښځې سره دوکه کوي. حضرت علي سړي ته وويل: هغه ورځ مو چې امانت دې ښځې ته ورکاوه؛ مگر تاسې نه وو ويلي، چې موږ يوه ته به يې نه راکوې؟ و يې ويل: هو ويلي مو وو. علي وويل: ستاسې مال له ماسره دی او ولاړ شه او هغه بل ته هم ووايه، چې راشي، چې مال مو درکړم. سړی ولاړ او بېرته راستون نشو.

(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۷ مخ) او همداراز د رياض النضره په هماغه ټوک او هماغه مخ کې درې نور روايتونه راغلي، چې په دوو کې يې حضرت عمر ويلي: علي! الله تعالی دې ما له تا مخکې واخلي.

(شبلنجي؛ نورالابصار: ۱۷۱ مخ) روايتوي، چې يو سړی يې حضرت عمر ته راوست، چې په خلکو کې يې د کفر خبرې کړې وې. خلکو پوښتلی و، چې څنگه يې. هغه ورته ويلي وو: اوس خو حالات داسې دي، چې فتنه مې خوښه ده او له حقه کرکه لرم او يهود او نصارا تاييدوم او پر هغه څه ايمان لرم چې نه يې وينم او پر هغه څه ايمان لرم، چې نه وي پيدا

شوی. حضرت عمر یو کس په حضرت علي پسې ولېږ؛ نو همداچې علي راغی؛ نو د سړي کیسه یې ورته وکړه. حضرت علي سړی په حقه وباله، و یې ویل: ربښتیا وایې؛ ځکه د هغه مال او اولاد خوښ دی او الله تعالی هغه دواړه فتنه ښوولي؛ (انما اموالکم و اولادکم فتنة) له حقه کرکجن دی، چې مراد یې مړینه ده، چې حق دی او الله تعالی وایي: (وجاءت سکرة الموت بالحق) د یهودو او نصاراوو خبره هم تاییدوي؛ ځکه قرآن د یهودو له خولې وایي: نصاری پر باطله دي او نصاری وایي، چې یهود پر باطله دي او بل داچې وایي چې پر نالیدي ایمان لرم او هغه الله تعالی دی، چې نه لیدل کېږي او پر هغه څه ایمان لري، چې پیدا شوی نه دی او هغه قیامت دی. حضرت عمر وویل: پناه غواړم له هغې ستونزې، چې علي یې هوارونکی نه وي.

(ثعلبي؛ قصص الانبیاء: ٥٦٦ مخ) د (اذ اوی الفتنة الی الکهف فقالوا ربنا آتنا من لدنک رحمة) آیت په تفسیر کې وایي: د اصحاب کهف په اړه کیسه ده او هغه داچې کله امیرالمؤمنین عمر بن خطاب خلافت ته ورسېد؛ د یهودو عالمان ورته راغلل، چې آیا له محمد او ابوبکر روسته د مسلمانانو د خلافت چارې یې په لاس کې دي؟

ورته یې وویل: هو! وویل شول: موږ څه پوښتنې لرو؛ نو که ځواب دې راکړ؛ نو پوه به شو، چې اسلام پر حقه او محمد په ربښتیا پیغمبر و او که ځواب دې رانه کړ؛ نو پوه به شو، چې اسلام پر حقه نه دی او محمد هم دروغجن و. حضرت عمر وویل: وپوښتئ هر څه چې پوښتئ. و یې ویل: راته ووایه: د اسمان د قفلونو مانا څه ده او کونجیانې یې کومې دي؟ هغه کوم قبر و، چې په ځان کې ښح کړی یې له ځانه یووړ؟ هغه څوک و، چې خپل قوم یې انذار کړ حال دا، نه انس و او نه جن؟ هغه کوم ساه کښ دي، چې پر ځمکه وگرځېدل؛ خو په یوه زیلانځ=رحم کې هم نه دي پیدا شوي؟ هغه غږ، چې دراج کوي، څه مانا لري؟ راته ووایه: چرگ، اس، چینڅخ، خر، قمري په خپل غږونو کې څه وایي؟ حضرت عمر خپل سر لاندې ټیټ کړ او بیا یې وویل: دا د عمر نیمگړتیا نه ده، چې وپوښتل شي او پر ځواب نه پوهېږي، چې ووایي: نه پوهېږم او پر څه چې نه پوهېږي، پوښتنه یې وکړي. ناڅاپه یهودان پاڅېدل او و یې ویل: موږ شهادت ورکوو، چې محمد پیغمبر نه و او اسلام هم باطل دین دی. دا مهال سلمان وارخطا پاڅېد او ورته یې وویل: تاسې مهر بانې وکړئ، څو شېبو ته کېنئ، چې راستون شم او په بېړه یې ځان علي ته وررورساوه او ورته یې وویل: ا با الحسن! سلام علیکم! د اسلام مل شه، چې گوره له لاسه ځي. علي وویل: څه شوي؟ سلمان ورته کیسه وکړه. علي د رسول الله عبا واخسته، چې پرې لړه اوږده هم وه او په دبد به مجلس ته ورغی؛ نو حضرت عمر، چې ولید، ورغاړې ووت، ورته یې وویل: ته د هرې ستونزې د

هواري لپاره زموږ زړمه يې. بيا علي له يهودانو وغوښتل: وپوښتئ او په پای کې يې وويل: اخر رسول الله ما ته زر بابه علم رازده کړی، چې له هر يو يې زر نور بابونه پرانستل کېږي. يهودانو خپلې پوښتنې وکړې او علي وويل: په دې شرط ځواب درکوم، چې که زما ځواب د تورات له مخې و؛ نو ټول به ايمان راوړئ، چې بيا علي د ټولو ځواب ورکړ، چې موږ د لنډيز لپاره نه دي راوړي.

## حضرت علي ته د حضرت عثمان او معاويه بن ابوسفيان مراجعات

(امام انس بن مالک؛ موطاء: باب طلاق مريض: ۳۶ مخ) په خپل سند له محمد بن يحيی بن حبان روايتوي، چې وايي: نيکه مې دوه ښځې درلودې، چې يوه يې ها شمي او بله يې انصاري وه؛ انصاري ته يې طلاق ورکړ حال دا، شيدې يې ورکولې او تر يو کال روسته په خپله مړ شو. دې ښځې يې ادعا وکړه، چې زه يې اوس هم ښځه يم؛ ځکه تر اوسه مې لا حيض نه دی راغلی، چې دې دواړو ښځو خپل شکايت حضرت عثمان بن عفان ته يووړ، چې عثمان بن عفان حکم وکړ: په ارث کې يې برخه ده، چې ها شمي ښځې ملامه ته کړ او ورته يې وويل: دا څنګه حکم دې وکړ. عثمان بن عفان وويل: ما دې د تره له زوی علي بن ابيطالب پوښتنه وکړه او هغه داسې حکم کړی دی.

دا روايت (بيهقي؛ سنن: اووم ټوک، ٤۱۹ مخ)، (شافعي؛ مسند: د عدد کتاب: ۱۷۱ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: اتم ټوک، لومړی قسم، ۲۰٤ مخ)، (ا بن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ۷٦٤ مخ)، (محب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۱۹۷ مخ) او محب طبري يې په پای کې راوړي: حضرت عثمان وويل: زه په دې مسله نه پوهېږم او خپله شخړه مو علي ته يوسئ. حضرت علي وويل: د رسول الله د ممبر تر غاړې قسم وخوره، چې په دې موده کې يې درې ځل حيض نه دی راغلی. ښځې هم قسم وخوړ او له هغه بلې ښځې سره په ميراث کې شريکه شوه.

(امام انس بن مالک؛ موطاء: د حدود کتاب: ۱۷٦ مخ) يو روايت نقل کړی، چې يوې ښځې شپږ مياشتنی ماشوم وزيږاوه، چې خبره يې حضرت عثمان بن عفان ته راوړه او هغه هم علي ته ورلېږل، چې دې ته ورته کيسه مو د حضرت عمر بن خطاب په مراجعاتو کې هم وکړه؛ خو په دومره توپير، چې عثمان وويل: ولاړشئ او ښځه راولئ؛ خو د سنګسار حکم يې و نه کړ؛ خو اوبه له ورخه تېرې وې.

دا روايت بيهقي هم د سنن د اووم ټوک په ٤٤۲ مخ کې له مالک نقل کړی دی.

سیوطي په درالمنثور کې د (ووصینا الانسان بوالدیه احساناً) د آیت په تفسیر کې دې روایت ته ورته یوه بله کیسه نقل کړې، چې د جهینیه د ټبر یوې ښځې شپږ میاشتنی ماشوم وزېږواه، چې د امام ځواب ورته هماغه و، چې په دوو تېرو روایتونو کې ورته اشاره وشوه؛ نو د لنډیز لپاره مو دلته نه دی راوړی او بیا همدا کیسه ابن جریر د خپل تفسیر د پینځه ویشتم ټوک په ٦١ مخ کې نقل کړې ده.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ١٠٠ مخ) په خپل سند له عبدالله بن حارث نوفل هاشمي روایتوي، چې وایي: پلار ته مې حضرت عثمان د مکې د کومې چارې واک ورکړی واو حضرت عثمان، چې مکې ته راغی؛ نو زه او پلار مې د حارث لیدو او ستړو مه شو ته ورغلو او په قدید کې کوز شو؛ ځکه حضرت عثمان هلته اړولې وه او د سیمې خلکو ورته سیسی ښکار کړې وې؛ نو هغه مو ورته قورمه پوخ کړ ورته مو یووړ، چې د حضرت عثمان یارانو یې له خوړو ډډه وکړه، چې موږ محرم یو او د احرام په حال کې نشو کړای د ښکار غوښه وخورو. حضرت عثمان وویل: موږ خو څه په خپله ښکار نه دی کړی؛ بلکې اهل حل ـ ځوک چې محرم نه وو_ښکار کړی دی او موږ ته یې راکوي او دا خو پروا نه لري او چا ویل چې پروا لري؟ عبدالله بن حارث وایي: ته به وایې، چې همدا اوس یې وینم چې علي راروان دی او خپل لاسونه یې له هغو وښو څنډل، چې څارویو ته یې اچولي وو. حضرت عثمان وویل: هغه ښکار، دی چې اهل حل کړی موږ خو امر هم نه دی کړی، چې ښکار وکړئ او ورته مو نه دي ښوولي، چې هغه ښکار کړه؛ ځکه په احرام کې څوک نشي ـ کړای، چې څه وښیي چې ښکار یې کړه او موږ خو د دوی مېلمانه یو؛ نو دا خو څه پروا نه لري. حضرت علي غوسه شو او و یې ویل: زه ناستو کسانو ته پر الله تعالی قسم ورکوم، چې پاڅئ او شهادت ورکړئ، چې رسول الله ته یې د ښکار د غوښې پنډۍ راوړه او رسول الله وویل: اهل حل ته یې ورکړئ؛ ځکه په احرام کې و؛ نو ځکه یې و نه خوړه، چې بیا دولس کسان پاڅېدل او شهادت یې ورکړ، چې رسول الله هغه غوښه و نه خوړه. حضرت علي بیا وویل: تاسې ته قسم درکوم، چې شهادت ورکړئ، چې رسول الله ته یې د احرام په حال کې د شتر مرغ غوښه راوړه، چې و یې ویل: موږ محرم یو او اهل حل ته یې ورکړئ. چې بیا تر دولس کسانو لږ پاڅېدل او شهادت یې ورکړ. بیا حضرت عثمان هغه خواړه و نه خوړل او خپلې کېږدۍ ته ننوت او خواړه یې اهل حل ته ورکړل.

دا روایت احمد بن حنبل هم له دوو لارو په لنډه راوړی او طحاوي هم د معاني الاثار د شرح د حج د کتاب په ٣٨٦ مخ کې په لنډه راوړی، متقي هم د کنزالعمال د دریم ټوک په

۵۳ مخ کې راوړی او وايي: ابن جرير او ا بويعلي نقـل کـړی او همـداراز هيثمـي د مجمع د دربيم ټوک په ۲۲۹ مخ کې راوړی او احمد، ابويعلي او بزار ته يې نسبت ورکړی دی.
(امام انس بن مالک؛ موطاء: د قضـا کـتاب: ۱۲۶ مـخ) پـه خپـل سـند لـه سـعيد بن مسـيب روايتوي، چې د شام يو اوسېدونکی، چې نوم يې ابن خيبري و، خپله ښځه يې له پردي سړي سره وليده او ښځه او که دواړه يې ووژل. خبره معاوية بن ابوسفيان ته راورسېده، چې څنګه د سړي، ښځې او مېړه او کورنيو تر منځ شخړه هواره کړي؛ نو حضرت ابو موسی اشعري ته يې ليک وليک، چې ولاړ شه او له علي ددې ستونزې هواری وپوښته. حضرت ابوموسی اشعري هم له علي پوښتنه وکړه. امام علي وويل: دا پېښه د حکومت په واک کې نه ده او بايد ووايې، چې چېرې شوې ده؟ ابو موسی ورته پوره کيسه وکـړه، چـې معاويـه راتـه لـيکلي چـې لـه تـا وپوښتم. حضرت علي وويل: که څلور شاهدان يـې راوسـتل؛ خـو سـمه ده؛ ګنـې نـو بايـد د قصاص لپاره ونيول شي.
دا روايت (بيهقي؛ سنن: اتم ټوک، ۲۳۰ مخ له يوې لارې او په ۲۳۷ مخ کې له بلې لارې او د دويـم ټوک په۱٤٧ مخ کې له بلې لارې)، (شافعي؛ مسند: دالجائز الحدود کـتاب، ۲۰٤ مـخ) او (متقي؛ کنزالعمال: اووم ټوک، ۳۰۰ مخ) کې هم نقل کړی دی.
(استيعاب: دويـم ټوک، ٤٦۳ مخ) وايي: معاوية بن ابوسفيان به چې په هره سـتونزه کـې راګېـر شو؛ نو په ليک کې به يې هواری له حضرت علي غوښته او معاويه، چې واورېدل، چې عـلي يې وواژه؛ نو و يې ويل: فقه او علـم يـې وواژه. د معاويـه رور عتبـه، چـې دا خـبره واورېـده؛ معاويه ته يې وويل: پام کوه څوک دې دا خبره وا نه وري. معاويه وويـل: درومـه خپـل کـار دې کړه.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۱ مخ) له شعبي روايتوي، چې وايي: حضرت علي وويـل: شکر د الله تعالی چې زموږ دښمن يې موږ ته اړين کړ، چې په دين کې هر ستونزه لري؛ نو له ما يـې پوښتي او همدا اوس راته معاويه د نرښځي د ميراث په اړه ليک رااستولی او ما يې هم ځواب ورکړ، چې د عورت له مخې ورته ميراث ورکړه، چې که عـورت يـې د سـړي و؛ نـو د سـړي ميراث ورکړه او که عورت يې د ښځې و؛ نو د ښځې ميراث ورکړه.
(مناوي؛ فيض القدير: څلورم ټـوک، ۳۵٦ مـخ) پـه شرح کـې وايـي: د همزيـه پـه شرح کـې راغلي، چې حضرت معاويه بن ابي سفيان به په ستونزه کې راګېر شو؛ نو د هواري غوښتنه به يې له حضرت علي کوله او علي هم ورته ستونزه هواروله، چې د علي يو زوی وويل: ولـې د ښمن ته لارښوونه کوې؟ علي وويل: دا موږ ته بس نه ده، چې الله تعالی راته اړ کـړی دی او موږ پوښتي؟

(کنزالعمال: درېیم ټوک، ۱۸۰ مخ) له ابي الوضین روایتوي، چې یو سړي د یو شامي پر لور مرکه وکړه؛ البته پر هغه لور، چې له ازادې ښځې یې وه او د لور پلار له وینځې لور سینگار او د زوم کور ته یې ولېږله، زوم، چې د واده پر ړومبۍ شپه کوټې ته ولاړ؛ نو ناوې یې وپوښتله: د چا لور یې؟ ناوې وویل: د پلانی لور_؛ یعنې د وینځې لور _ زوم وویل: د پلانی پر لور چې یې له ازادې ښځې شوې وه، مې مرکه کړې وه. خبره یې معاویه بن ابوسفیان ته وکړه. معاویه وویل: څه پروا کوي، چې یوه ښځه یې د بلې ښځې پر ځای درکړې ده او بیا یې له خپلو شاوخوا کسانو وپوښتل: ددې مسلې حل څه دی؟ هغوی هم ورته د معاویه خبره وکړه او و یې ویل: څه پروا کوي، چې یوه ښځه یې د بلې ښځې پر ځای درکړې ده. زوم غوښتنه وکړه، چې مسئله علي ته ولېږئ او معاویه هم علي ته ولېږله. حضرت علي څه له ځمکې راپورته کړل او و یې ویل: ددې خبرې حل ددې څیز د راوچتولو هومره اسان دی او و یې ویل: کوم جهیز یې، چې دې ښځې ته ورکړې، ددې ښځې شو؛ ځکه کوروالی دې ورسره کړی او پلار یې باید هماغومره جهیز هغه بلې لور ته چمتو کړي او ددې ښځې عده، چې پای ته ورسېده؛ هغه بله لور دې ستا کور ته راولېږي. بیا راوي وایي: تر کومه مې چې یادېږي علي د نجلۍ پلار پر کوړو وواهه او که غوښتل یې، چې و یې وهي. بیا وایي: دا روایت ا بن ابي شیبه هم روایت کړی دی.
(کنزالعمال: درېیم ټوک، ۱۸۱ مخ) له حجار بن ابحر روایتوي، چې وایي: له معاویه سره ناست وم، چې دوه سړي راغلل، چې د یو جوړ جامو پر سر یې شخړه وه او یو یې وویل: دا جامه زما او شهود یې راوستل او هغه بل وویل: دا جامه ما په خپله له یو ناپېژندگلو سړي اخستې ده. معاویه وویل: کاشکې علي بن ابیطالب و، چې دا ستونزه یې هواره کړې وای. ما وویل: زه وم، چې دې ته ورته شخړه یې حضرت علي ته راوړه؟ پوښتنه یې وکړه: نو هغه څه وکړل؟ و مې ویل: حق یې هغه ته ورکړ، چې د شهودو اقامه یې کړې وه او بل ته یې وویل: تا خپل مال ضایع کړی دی.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۹۵ مخ) له ابي حازم روایتوي، چې یو سړي حضرت معاویه بن ابي سفیان ته راغی او له هغه یې د یوې مسئلې پوښتنه وکړه او داچې له معاویه سره یې ځواب نه و؛ نو ورته یې وویل: ولاړ شه او له علي یې وپوښته. سړي وویل: ستا ځواب مې ډېر خوښ دی. معاویه: څومره ناوړه خبره دې وکړه! آیا هغه سړي ته له تگه کرکه کوې، چې رسول الله پر علم موړ کړی و؛ هغه سړی، چې رسول الله یې په اړه ویلي وو: ((ته ما ته داسې یې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته پیغمبر نه راځي)) هغه

سړی، چې حضرت عمر بن خطاب به په کومه ستونزه کې راګیر شو؛ نو حضرت علي ته به یې مراجعه کوله.
محب طبري وایي: دا روایت احمد هم په مناقب کې راوړی دی.
(مناوي؛ فیض القدیر: دریم ټوک، ٤٦ مخ) له کلا بازي راویت کوي، چې یو سړي له حضرت معاویه بن ابي سفیان یوه مسله وپوښتله. معاویه وویل: له علي یې وپوښته، چې تر ما اعلم دی. سړي وویل: زه ستا ځواب غواړم. معاویه وویل: پر ځان ووېرېږه، چې له هغه سړي ډډه کوې، چې رسول الله پر علم موړ کړی و؛ هغه سړی، چې حضرت عمر به په ستونزه کې ګېر شو؛ نو علي به یې پوښته او یوه ورځ یو سړی عمر ته راغی او پوښتنه یې ترې وکړه، چې عمر وویل: حضرت علي دلته دی، چې سړي وویل: له تا یې ځواب غواړم. حضرت عمر وویل: پاڅه الله تعالی دې پښې شلې کړه او حکم یې وکړ، چې نوم یې له دېوانه پاک کړئ.
دې روایت ته ورته یو بل روایت په فتح الباري فی شرح البخاري (اولسم ټوک، ٥٠ مخ) له اسماعیل بن ابي خالد له قیس بن ابي حازم نقل کړی دی.
(صحیح مسلم د طهارت کتاب: پر موزې د مسحې باب) په خپل سند له حکم بن عتیبه له قاسم بن مخیمره له شرح بن هاني روایتوي، چې عایشې بي بي ته ولاړم او پر موزې د مسحې په اړه مې ترې پوښتنه وکړه، چې راته یې وویل: ولاړ شه او د ابیطالب له زوی پوښتنه وکړه.
دا روایت مسلم له دوو نورو لارو، نسائي په صحیح (لومړی ټوک، ٣٢ مخ)، (ا بن ماجه؛ صحیح: ٤٢ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک: ٩٦، ١٠٠، ١١٣، ١١٧، ١٢٠، ١٣٣، ١٤٦، ١٤٩ او د شپږم ټوک په ١١٠ مخ)، (ا بوداود طیالسي؛ مسند: لومړی ټوک، ١٥ مخ)، (بیهقي؛ سنن: لومړی ټوک، ٢٧٢ مخ له دوو لارو او په ٢٧٧ مخ کې له درېیمې لارې)، (ابونعیم؛ حلیة: لومړی ټوک، ٨٣ مخ)، (خطیب بغدادي: د بغداد تاریخ: یوولسم ټوک، ٢٤٦ مخ)، (طحاوي؛ شرح معاني الاثار: د طهارت کتاب: ٤٩ مخ او له بلې لارې په ٥٠ مخ)، (ابوحنیفه؛ مسند: ١٢٩ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: پینځم ټوک، ١٤٧ مخ) او د هغه د وینا له مخې حمیدي، سعید بن منصور، عبدالرزاق، ابن ابي شیبه، احمد بن حنبل، عدني، دارمي، ابن حزیمه او ابن حبان هم نقل کړی دی.
(فتح الباري؛ شپاړسم ټوک، ١٦٨ مخ) له ا بن ابي شیبه په ډېر ښه او صحیح سند له عبدالرحمن بن ابزي روایتوي، چې و ایي: د جمل د جګړې پر ورځ عبدالله بن بدیل بن ورقاء خزاعي ځان عایشې بي بي ته ورساوه او تر اوسه لا عایشه په خپله کجاوه کې وه او ورته یې وویل: یادېږي مو چې د حضرت عثمان تر وژل کېدو وورسته درغلم او پوښتنه مو

وکړه، چې تر عثمان روسته د چا خلافت ته غاړه کېږدو؟ تا راتـه وویـل: د عـلي خلافـت تـه. عایشه چوپ شوه او څه یې و نه ویل. بیـایې د هغـې د روړ محمـد پـه مرسـته اوښ وتـاړه او حضرت علي ته مو راوسته. حضرت علي حکم وکړ، چې ځانګړی کور ورکړئ.

(سنن بیهقي؛ پینځم ټوک، ۱٤۹ مخ) په خپل سند له ابي مجلز روایتوي، چې وایي: یو سړي د حضرت عمر زوی وپوښته، چې په رمي جمرات کـې مـې شک کـړی، آیـا اوه واري مـې رجم وکړ او که شپږ واري؛ نو څه وکړم؟ و یې ویل: باید علي بن ابیطالب وپوښتې.

## د هجرت پر مهال د پېغمبر په بستره کې د علي څملاستل

فخر رازي په تفسير كبير كې د بقره سورت د (و من الناس من يشرى نفسه)آيت په تفسير كې ليكي: دا آيت د حضرت علي په اړه راغلی، چې د هجرت پر مهال، چې رسول الله د ثور د غار پر لور وته؛ نو علي يې په بستره كې څملاست او خپل ځان يې د رسول الله ساتلو ته ځار کړ.

فخر رازي بيا وايي: چې كله حضرت علي د رسول الله په بستره كې څملاست؛ نو جبراييل يې سر او مكائيل يې پښو ته ودرېد، چې جبراييل وويل: بخ بخ من مثلک يابن ابيطالب؛ ستا په شان بندګانو الله تعالی د پرښتو پر وړاندې وياړي. او همدلته دا آيت راغی.

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۲۵ مخ )، (شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۷ مخ )، (مناوي؛ كنوزالحقايق: ۳۱ مخ )، (خصايص نسائي: ۸ مخ )، (حاكم؛ مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ٤ مخ )، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۳۳۰ مخ )، (محب طبري؛ رياض النضره: _ټوک، ۲۰۳ مخ )، (ذخاير العقبی: ۸٦ مخ )، (متقي؛ كنزالعمال: اتم ټوک، ۳۳۳ مخ )، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۹ مخ ) او (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ٤ مخ ) په دې اړه راوايتونه نقل كړي، چې روستی يې په خپل سند له علي بن الحسين نقل كړی، چې وايي: علي بن ابيطالب لومبی تن و، چې د الله تعالی په لار كې يې ځان پر الله تعالی وپلوره، چې د هجرت پر شپه د رسول الله په بستره كې څملاست او چې ويده شو؛ نو دا شعرونه يې ويل، چې موږ يې يوازې پښتو ژباړه راوړې ده.

۱_ په ځان مې د هغه ځان وژغوره، چې پر ځمكه تر ټولو غوره بشر و او تر ټولو غوره كس و، چې د كعبې او حجر الاسود په شاوخوا كې يې طواف كړی دی.

۲_رسول الله چې له زيان ورسېدو ووېرېد _ ځكه پر هغه شپه له څلوېښت تېرونو څلوېښت تنه هم ژمني شوي ول، چې رسول الله ووژني

۳_ مهربان الله تعالی هغه د دښمن له دسيسې وساته او په غار كې په امن كې شو او د الله تعالی په ساتنه كې هېڅ تاوان ور و نه رسېد.

٤_او زه يې پر ځای ويده شم او دښمن مې څاره، حال دا، مړينې ته چمتو او لېږ تر لېږه بنديتوب ته چمتو وم؛ خو كار يې راسره و نه درلود او الله تعالی زه هم وساتلم.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۳۴۸ مخ) په خپل سند له حضرت ا بن عباس روايتوي، چې د (و اذا يمكر بک الذين كفروا ليثبتوک) آيت په تفسير کې يې وويل: يوه شپه قريش په مکه کې راټول شوي ول، چې د رسول الله د وژلو په اړه سلا مشوره وکړي؛ ځينو يې وويل: چې سهار شو؛ نو په خپل کور کې يې کلابند کړئ. ځينو يې وويل: و يې وژنئ او ځان ترې خلاص کړئ. ځينو وويل: له ښاره يې بهر کړئ. الله تعالی خپل استازی له دې نقشې خبر کړ. حضرت علي د رسول الله په ځای کې څملاست او رسول الله له کوره ووت او غار ته ولاړ. مشرکينو تر سهاره په دې گومان د رسول الله بستره څارله، چې پېغمبر به پکې وي؛ خو سهار د يرغل پر مهال پوه شول، چې علي په کې ويده دی او پوه شول، چې رسول الله يې نقشې له خاور ايرو سره برا برې کړې دي؛ نو علي يې پوښتنه: ملگری دې چېرې دی؟ ورته يې وويل: نه پوهېږم. د رسول الله په لټه کې شول ا د پښو په چاپ پسې يې د غار خولې ته ورسېدل او هلته يې نور د پښو چاپ و نه ليد او له هر لوري پر غره وختل او د غار له خولې تېر شول او و يې ليدل، چې د غنې ځاله ده او و يې ويل: که غار ته ننوتي وو؛ نو دلته به د غنې ځاله نه وه. رسول الله درې شپې په غار کې پاتې شو او بيا مدينې ته ولاړ.
دا روايت (خطيب بغدادي؛ تاريخ: ديارلسم ټوک، ۱۹۱ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۲۷ مخ) او د هغه د وينا له مخې، احمد، طبراني او همداراز سيوطي په درالمنثور کې د انفال د سورت تر پورتني آيت لاندې او د هغه د وينا له مخې، عبدالرزاق، عبدبن حميد، ابن منذر، ابوالشيخ، ابن مردويه او ابونعيم په دلائل کې هم راوړی دی.
(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۱۸ مخ) په خپل سند له ا بن اسحاق روايتوي، چې وايي: ټول اصحاب، چې مدينې ته مهاجر شول؛ نو رسول الله په مکه کې پاتې شو، چې د الله تعالی حکم ورته راشي، چې جبراييل راغی او د قريشو له نقشې يې له خبر کړ او د الله تعالی له لوري يې حکم ورکړ، چې مهاجر شه او ورته يې وويل: نن شپه بايد په خپل کور او بستره کې ويده نشې؛ نو رسول الله، حضرت علي ته وويل: په بستره کې مې ويده شه.
او د اسدالغابه د څلورم ټوک په ۱۹ مخ کې راغلي: رسول الله علي ته وويل: په بستره کې ويده شه، چې دښمن مې تعقيب نه کړي او بيا يې وويل: راسره د خلکو امانتونه ورکړه او پر هغو وصيتونو عمل وکړې، چې پخوا مې درته کړي ول. قريشو د شپې له سره تر سهاره د رسول الله کور کلا بند کړی و او په دې گومان ول، چې چېرې ځي؛ نو علي هم له ځان سره بوځي او بيا يې حضرت علي ته وويل: زما د چارو تر سر ته رسولو روسته ځان مدينې ته راورساوه. حضرت علي هم پر لوڅو پښو له مکې ووت او دشپې به يې مزل کاوه او د ورځې به پټېده، چې ځان يې مدينې ته ورساوه؛ ، رسول الله، چې خبر شو، چې علي رارسېدلی؛ نو و

يې ويل: ورته وویاست، چې ما ته راشي. وويل شول: رسول الله! مزل نشي کړای. رسول الله په خپله ورغی په غېږ کې يې راونيو او د حضرت علي د پښو پړسوب خورا غمجن کړ او پر ژړا يې له الله تعالى ورته ببړنۍ شفا وغوښته او تر هغې روسته، چې علي ژوندی و، پښو يې درد و نه کړ.

(کنزالعمال: درېيم ټوک، ۱۵۵ مخ) له حضرت ابي الطفيل عامر بن وائله روايت دی، چې وايي: د حضرت عمر تر مړينې روسته، چې شورا جوړه شوه؛ نو زه يې د وره شا ته ولاړ وم او وامې ورېدل، چې غړونه پوته شول او علي وويل: پر هغه ورځ، چې خلکو له ا بوبکر سره بيعت وکړ؛ نو پر الله تعالى چې زه ترې وړ وم او دا مقام زما حق و؛ نه د هغه او همداراز يې ويل، چې دلته راورسېد: اوس چې عمر هم مري؛ نو زه يې له پينځه کسانو سره انډول کړم او رښتيا خو داده، چې زه يې شپږم کړی يم، ته وا، چې د هغوی په پرتله ما ته هېڅ ډول فضيلت قايل نه و او هېڅ صلاحيت راته نه دی قايل شوی او تاسې پينځه کسان هم راته پر هېڅ ډول وړتيا قايل نه ياست او موږ ټول پکار او وړتيا کې يو شانت گڼئ؛ خو پر الله تعالى قسم، که خبرې مې پيل کړې؛ نو عرب، عجم، همژمني او مشرک به مې خبرې رد کړای نشي؛ خو نه غواړم خبرې وکړم، يوازې مو پوښتم: په تاسې کې کوم يوتر ما مخکې د الله تعالى له استازي علم زده کړی او رسول الله ورته زما په پرتله ډېر نږدې و او په تاسې کې څوک و، چې په بستره کې يې څملاست او هغه يې وژغوره. ټولو وويل: ته رښتيا وايې. (د حديث تر پايه)

## د بدر د جگړې پر ورځ حضرت جبراييل وويل: لا سيف الا ذوالفقار و لا فتى الا علي

(صحيح بخاري: د بدء الخلق کتاب: باب قتال ابي جهل) په خپل سند له علي بن ابيطالب روايتوي چې وايي: زومبی تن يم، چې د قيامت پر ورځ به د لوراند څښتن پر وړاندې عدالت غوښتنې ته گونډه ووهم. قيس بن عباد وايي: د (هذان خصمان اختصموا فی ربهم) آيت هم د علي په اړه نازل شوی او د بدر د ورځې يو جنگيالی هغه، بل يې حمزه، عبيدة بن حارث، عتبه، شيبه او وليد د عتبه زوی و.

(سنن بيهقي: درېيم ټوک، ۲۷٦ مخ) په خپل سند له حضرت علي روايتوي، چې وايي: د بدر پر ورځ عتبه، رور يې شيبه او زوی يې وليد د دښمن له لښکره راووت او مقابلې ته يې انډول وغوښت؛ نو د اسلام له لښکره يو ځوان راووت، مشرکانو وويل: موږ دا نه غواړو. ورته ووايه،

چې زموږ خپل تربوران راشي، موږ غواړو د عبدالمطلب له پرګې سره وجنګېږو. رسول الله خپل تره ته وویل: حمزه! عبیده! علي پاځی! بیا حمزه له عتبه، عبیده له شیبه او علي له ولید سره ونښت؛ حمزه عتبه، علي ولید او عبیده شیبه وواژه؛ خو شیبه په توره عبیده وواهه او پښه یې ترې غوسه یې کړه او حمزه او علي یې مرستې ورغلل او عبیده تر څه مودې روسته په صفراء کې ومړ.

سیوطي په درالمنثور کې د (ص) د سورت تر (ام نجعل الذین آمنوا و عملوا الصالحات کالمفسدین فی الارض) آیت او همداراز (حلیة: : نهم ټوک، ۱۴۵ مخ) په دې اړه راویتونه نقل کړي، چې په دویمي کې یې راغلي: حضرت معاویه بن ابي سفیان د بني کنانه یو سړی وپوښت: د بدر جګړه دې یادېږي؟ ورته یې وویل: هو. معاویه: هغه مهال د څو کالو وې؟ ورته یې وویل: ځوان وم. معاویه: څه چې دې یادېږي، راته یې ووایه. و یې ویل: د علي بن ابیطالب جګړه مې یادېږي، چې تر اوسه مې د هغه په څېر ځوان نه و لیدلی، چې د زمري په څېر به یې پر دښمن برید کاوه.

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۲۵ مخ) او (ابن جریر طبري؛ تاریخ: دویم ټوک، ۱۹۷ مخ) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په دویمي کې یې ابي رافع له پلار له نیکه روایت وي، چې وایي: روسته تر دې، چې علي د بدر په جګړه کې د کفر بېرغچیان ووژل؛ نو رسول الله ولیدل، چې د مشرکینو یوه ډله په یوه ځای کې راټوله شوې؛ نو علي ته یې حکم وکړ، چې برید پرې وکړه او خواره یې کړه. علي برید وکړ او په دې برید کې یې عمرو بن عبدالله وواژه او نور یې خواره کړل. بیا رسول الله ولیدل، چې بله ډله په یوه بل ځای کې ولاړه ده؛ نو بیا یې پر علي غږ وکړه: هغوی وشینده! علي برید وکړ او د بني عامر بن لوئي له ټبر ه یې شیبه بن مالک وواژه او نور یې خواره واره کړل. دا مهال حضرت جبراییل رسول الله ته وویل: دا ده د مواسات مانا. رسول الله وویل: اخر هغه له ما او زه له هغه ځنې یم. جبراییل وویل: او زه ستاسو د دواړو او چې ټولو واورېدل: لا سیف الا ذوالفقار و لا فتی الا علی.

دا روایت (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۲ مخ)، (علي بن سلطان؛ مرقاة: پینځم ټوک، ۵۶۷ مخ)، (کنزالعمال: درېیم ټوک، ۱۵٤ مخ)، (ذخایر العقبی: ۷٤ مخ) او همداراز (کنزالعمال: پینځم ټوک، ۲۷۳ مخ) هر یو د بدر د جګړې په اړه روایت نقل کړی، چې په روستي کې یې راغلي: پر هغه شپه رسول الله خپلو یارانو ته وویل: څوک به او به راوړي؟ اصحابو یې خبره و نه منله او یوازې علي و، چې د اوبو خیږ یې پر اوږه کړ او د بدر څاه ته ورکوز شو، چې ډېر ژور او تیاره و. الله تعالی جبراییل، مکائیل او اسرافیل ته وویل: د

محمد او گوند يې د بري چمتوتيا ونيسئ او دا درې وانه پرښتې راکوزې شوې او د راکوزېدو پر مهال يې د علي ستاينه وکړه.
دا روايت ابن شاهين هم نقل کړی. محب طبري هم د ذخاير په ٦٨ مخ کې راوړی او د احمد مناقب ته يې نسبت ورکړی دی.
زمخشري د کشاف او فخر رازي په کبير تفسير کې د انفال د سورت د (فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم و ما رميت اذ رميت و لکن الله رمی؛ يعنې تاسې هغوی و نه وژل؛ بلکې الله تعالی ووژل او تاسې هم گوزار نه کړل کله مو چې گوزار کړل؛ بلکې الله تعالی گوزار کړل) آيت په تفسير کې راوړي، د کفر لښکر، چې راښکاره شو؛ نو رسول الله د دعا لپاره لاسونه پورته کړل او و يې ويل: خدايه!دا د قريشو لښکر دی، چې ستا استازی يې دورغجن وگڼه او اوس په کبر را روان دي؛ نو خدايه! هغه بری راورسوي، چې ژمنه دې راسره کړې وه. جبراييل راغی او و يې ويل: يو موټی خاوره راواخله او پر لور يې وروشينده، لښکر، چې رانږدې شو، پاک نبي علي ته وويل: يو موټی خاورې راکړه. خاورې يې د دښمن پر لور وروشيندلې او و يې ويل: شاهت الوجوه؛ چې په پايله کې يو مشرک هم پاتې نه شو؛ خو هغه چې خاورې پرې نه وې لگېدلې، د کفر لښکر ټول ووژل او ځينې يې اسيران کړل. دا روايت سيوطي هم په درالمنثور کې د پورتني آيت په تفسير کې راوړی او په طبراني، ابوالشيخ او ابن مردويه ته يې نسبت ورکړی دی.

## د احد غزا

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۲۰ مخ) په خپل سند له حضرت سعيد بن مسيب روايتوي، چې وايي: علي د احد پر ورځ شپاړس ټپونه واخستل، چې هر يو يې يوازې کړای شول، له پښو يې وغورځوي او هر ټپ يې، چې اخسته او لوېده؛ نو جبراييل به را پورته کاوه.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۱۷۲ مخ)، (علي بن سلطان؛ مرقاة: پينځم ټوک، ٥٦٨ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: شپږم ټوک، ١١٤ مخ) او (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک ٤٠٠ مخ) روايتونه راوړي، چې حضرت جبرئيل د حضرت علي مواساة وستايل.
(شبلنجي؛ نوروالابصار: ۷۹ مخ) له حافظ بن محمد بن عبدالعزيز جنا بذی د (معالم العترة النبويه) په کتاب کې او هغه د مسند له ذکر پرته له قيس بن سعد له پلاره روايتوي، چې له علي يې اورېدلي، چې و يې ويل: د احد پر ورځ مې شپاړس ټپونه واخستل، چې څلورو يې راگوزار کړم، چې يو ښکلی او خوږبويه سړی راغی او زه يې را اوچت کړم او راته يې وويل:

وروسته ولاړ شه، چې د الله تعالی او رسول پر لار یې او هغوی دواړه له تا راضي دي. ما کیسه رسول الله ته و کړه. و یې ویل: علي! الله تعالی دې سترګې روښانه کړه؛ هغه جبراییل و.
(نورالابصار: ۷۸ مخ) له حضرت ابن عباس روایتوي، چې وایي: د احد پر ورځ طلحه بن ابي طلحة د کفارو بیرغچي مېدان ته راودانګل او غږ یې کړ: د محمد اصحابو! ګروهمن یاست، چې موږ به الله تعالی ستاسې په تورو دوزخ ته او تاسې به زموږ په تورو جنت ته لېږي؛ نو په تاسې کې کوم یو د جنت لېواله دی. حضرت علي بن ابیطالب ورمخې ته شو او ورته یې وویل: پر الله تعالی چې تر هغه به دې پرې نه ږدم، چې په توره مې دوزخ ته نه یې لېږلی؛ د تورو ګوزارونه شول، چې علي په توره پر پښو وواهه او پښې یې ترې غوسې کړې او غوښتل یې و یې وژني؛ خو طلحه ورته د خپلوۍ قسم ورکړ، چې مه مې وژنه. علي هم خپل ځای ته راستون شو. مسلمانانو وویل: ولې دې و نه واژه. ورته یې وویل: قسم یې راکړ، چې و یې نه وژنم؛ خو ډاډمن یم، چې ژوندی به پاتې نشي او طلحه همدلته ومړ او رسول الله یې پر مړینه خورا خوشحاله شو. شبلنجي بیا له ابن اسحاق نقلوي، چې وایي: د احد د جګړې فاتح علي او د هغه زغم وه.

## د قیامت تر ورځې د علي

## مبارزه د امت تر ټولو کړنو غوره ده

(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۳۲ مخ) په خپل سند له سفیان ثوري له بهز بن حکیم حکیم له پلاره له نیکه روایتوي، چې وایي: رسول الله ویل: د خندق د جګړې پر ورځ له عمرو بن عبدود سره د حضرت علي مبارزه د قیامت تر ورځې تر ټولو غوره عمل دی، چې زما امت به یې کوي.
دا روایت (خطیب؛ د بغداد تاریخي: دیارلسم ټوک، ۱۹ مخ) له اسحاق بن بشر قرشي له بهز بن حکیم له پلاره له نیکه او دې ورته یو روایت فخر رازي په کبیر تفسیر کې د قدر سورت په تفسیر کې راوړی دی.
(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۳۲ مخ) په خپل سند له ابن اسحاق روایتوي، چې وایي: عمرو بن عبدود د بدر په جګړه کې هم برخه اخستې وه؛ خو د ټپ اخستو له امله یې د احد په جګړه کې برخه وا نه خسته؛ نو د خندق جګړې ته ځکه راغلی و، چې د بدر په جګړه کې د اخستل شوي ټپ غچ واخلي او ټول ځان یې پر وسله پوښلی و، چې ټول یې وګوري، چې

علي پرې غږ وکړ: عمرو! له الله تعالی سره دې ژمنه کړې وه، چې کـه پـه جگـړه کـې مقا بل لوری قرشي وي؛ نو یو له دوو وړاندیزونو یـې ومنـې. عمـرو وویـل: هـو همداسـې ده! عـلي وویل: وړاندیز درکوم، چې د الله تعالی او رسول بلنه یې و منې او مسلمان شې. عمرو وویل: زه دې خـبرو تـه اړتیـا نـه لـرم، دویـم وړانـدیز دې څـه دی؟ عـلي وویـل: بل داچـې راسره وجنگېږې. عمرو وویل: وراره! دا څنگه وړاندیز دې ورکړ، پر الله تعالی قسم، چې نه غـواړم و دې وژنم. علي وویل: پر الله تعالی قسم، چې غواړم تا ووژنم. عمرو غـیرتي شو او لـه اس یې راودانگل او د علي پر لور راغی او غږ یې کړ: څوک دی، چې له مـا سرو وجنگېـږي؟ دا مهال وسلوال علي پاڅېد، چې یوازې سترگې یې ښکارېدې او و یې ویل: رسول اللـه! اجـازه راکړه، چې دگر ته ورشم. پېغمبر وویل: اخر هغه عمرو بن عبدود دی، ته کېنه! عمرو بیـا غـږ کړ: په تاسې کې سړی نشته؟ رسول الله علي ته اجازه ورکړه او ولاړ او و یې ویل:

لا تعجلن اتاک مجیب صوتک غیر عاجز

ذونبهة و بصیرة والصدق منــجی کل فائز

انی لارجو اقیم علیک نامـــــحة الجنـــائز

من ضربة نجلاء یبقی ذکرها عندالهــزاهز

عمرو وپوښته: څوک یې؟ ورته یې وویل: علي یم؟ پوښـتنه یـې وکـړه: د چـا زوی یـې؟ زه د عبدمناف زوی علي بن ابیطالب یم. عمرو وویل: ستا په لښکر کې داسې کسان شته، چې تـر تا پاخه وي، ستون شه!نه غواړم ودې وژنم او وینه دې تو یې کړم. علي: خـو زه سـتا د وینـې تویولو لپاره هېڅ پروا او وېره نه لرم. عمرو له اسه راکوز شو او د برښنا په څېر یـې خپلـه تـوره راوایسته او د علي پر لور راغی. علي هم ورمخکې شو او د څرمنې سپر یې د تورې مخې تـه ونیو. دواړه ونښتل او د نښـتې له امله دوړې شوې، چې یوه لښکر هم نه لیدل، چې څـه روان دي، چې ناڅایه له دوړو د علي د الله اکبر غږ راپورته شو او رسول الله پوه شو، چې حضرت علي، عمرو له منځه وړی دی. ـ تردې چې وایي: ـ علي د رسول الله پر لـور راغـی حـال دا، څېره یې ځلېده. حضرت عمر بن خطاب وپوښتل: ولې دې د هغه سلب را وا نـه خسـت او د هغه د زغرې په شان بله زغره په عربو کې نشته؟ علي وویل: هغه مې چې وواهه او پر ځمکـه گوزار شو او چې غوښتل مې سر ترې غوڅ کړم؛ نو عورت یـې ښـکاره کـړ، وشرمېـدم، چـې سلب یې واخلم او تر مړینې روسته یې لښکریانو له ځان سره وتښتاوه.

دا روایت (شبلنجي؛ نورالابصار: ۷۹ مخ) هم راوړی؛ خو پـه دومـره تـوپیر چـې د عمـرو بن عبدود شعرونه یې هم راوړي، چې وایي:

ولقد بحجت من النداء لجمعکم هل من مبارز

و وقفت اذوقت الشجاع مواقف القرن المناجر
و كذلک انی لـــــم ازل متترعاً قبـــــــل الهزاهز
ان الشجاعة فی الفتی و الجود من خير الغرائز

غږ مې ټپ شو، دومره چغې مې ستاسې لښکر ته ووهلې، چې څـوک دی مبـارز او د مړانـې پر مقام ولاړ يم، چې د خپل قوم ستر يم او مبـارز غـواړي زه تـل د اوښـانو اخسـتونکی او د جگړې د ورځې په هيله وم. هو! مړانه په مېړنيو کې او سخاوت تر ټولو غوره غريزه ده.

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۳۳ مخ) په خپل سند له عاصم بن عمر ابن قتاده د عمرو له خور څخه د خپل رور په مرثيه کې شعرونه نقل کړي، چې دادي:

لوکان قاتل عمرو قاتله بکيته ما اقام الروح فی جسدی
لـــکن قاتله من لايعاب به و کان يدعی قديما بيضة البد

که د عمرو قاتل بې له هغه بل څوک و، چې وژلی يې دی؛ نو چې ژونـدی وم، ژړل به مـې؛ خو د رور وژونکی مې هغه دی، چې چا پکې نيمگړتيا نه ده ليدلې او زما د رور پر وژلو هـم نه رټل کېږي او هغه هم دی، چې له پخوا به يې ورته د قوم مشر وايه.

فخر رازي په کبير تفسير کې د بقره د سورت د (تلک الرسل فضلنا بعضهم عـلی بعـض؛ تېـر انبياء مو ځينې پر ځينو غوره کړل) آيت په تفسير کې روايتوي، چې د عمرو عبدود تر وژولو روسته، رسول الله، علي وپوښت: علي! هغه مهال دې خپل زړه څنگـه ومونـد؟ عـلي وويـل: هغه مهال مې زړه دومره پياوړی و، چې کـه ټولـه مدينـه راسره جنگېـدلې وای؛ نـو ورسره به جنگېدلای وم.

سيوطي په درالمنثور کې د احزاب د سورت د (وردالله الذين کفروا بغيظهم لم ينـالوا خيـزا و کفی الله المؤمنين القتال) د آيت په تفسير کې له ابي حاتم، ابن مردويه او ابن عساکر ټول له ابن مسعود روايت کړی، چې هغه دا آيت داسې ولوسـته کـړ: (و کفـی اللـه المـؤمنين القـتال بعلي بن ابيطالب) او دا مانا ذهبي هم د ميزان الاعتدال د دويم ټوک پـه ۱۷ مـخ کـې لـه ا بن مسعود نقل کړې ـ؛ البته مانا يې دا نه ده، چې د علي بن ابيطالب ټکی هم د قـرآن برخـه وه، چې بيا لرې شوې؛ بلکې ابن مسعود غوښتل ووايي، چې دا آيت د عـلي بن ابيطالـب پـه اړه نازل شوی دی.

# د خيبر او حنين غزاګانې

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: شپږم ټوک، ۸ مخ) په خپل سند له ابي رافع روايتوي، چې له علي سره د خيبر د کلاوو پر لور ولاړو؛ نو همداچې کلاوو ته ورنږدې شو؛ نو له کلاګانو پرې يرغل وشو او له علي سره ونښتل، چې يو سړي پر علي د تورې ګوزار وکړ او ډال يې ترې ګوزار کړ؛ نو علي يو ور راواخسته او خپل ډال يې کړ او تر هغې يې په لاس کې و، چې خيبر يې سوبه کړ او بيا يې پر ځمکه ګوزار کړ، چې بيا زه او اووه کسان نور ولاړو، چې ور راپورته کړو، چې څومره دروند دی؛ خو څومره زورونه مو چې ووهل، له ځايه مو و نه خوځاوه.

دا روايت (ابن جرير طبري؛ تاريخ: دويم ټوک: ۳۰۰ مخ) او (علي بن سلطان؛ مرقاة: پينځم ټوک، ٥٦٦ مخ) کې هم راوړی او د احمد بن حنبل مناقب ته يې نسبت ورکړی دی.

(د بغداد تاريخ: يوولسم ټوک، ۳۲٤ مخ) په خپل سند له حضرت جابر بن عبدالله روايتوي، چې د خيبر د سوبې پر ورځ، چې علي کوم ور اوچت کړی و؛ نو تر څلوېښت کسانو لږو و نشو کړای اوچت يې کړي.

دا روايت (ذهبي؛ ميزان الاعتدال: دويم ټوک، ۲۱۸ مخ)، (عسقلاني؛ فتح الباري: نهم ټوک، ۱۸ مخ)، (علي بن سلطان؛ مرقاة: پينځم ټوک، ٥٦٧ مخ)، (محب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۱۸۸ مخ) هم راوړی او محب طبري او علي بن سلطان ويلي: بيا چې غوښتل دا ور پر خپل ځای کېږدي؛ نو اويا کسانو دا کار وکړ او دا خبره يې د حاکمي اربعين ته نسبت ورکړې ده.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۸ مخ) له جابر بن سمرة روايتوي، چې وايي: علي د خيبر پر ورځ ور را ونړاوه او مسلمانان کلا ته ننوتل او کلا يې سوبه کړه او بيا تر څلويښتو لږو کسانو و نه شو کړای ور اوچت کړي.

(ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ۳۹۸ مخ) له زبير بن بکار له عبدالله بن بريده له حضرت بريده روايتوي، چې حضرت ام سلمه بي بي هم د خيبر په جګړه کې وه او و يې ويل: د مرحب پر غاښونو مې د علي د تورې د ګوزار غږ واورېد.

فخر رازي په کبير تفسير کې د کهف د سورت د (ام حسبت ان اصحاب الکهف و الرقيم کانوا من آياتنا عجبا) آيت په تفسير کې د کراماتو پېښېدو ته شپږم دليل راوړي، وايي: څوک چې د عالم غيب په اړه ډېره پوهه ولري؛ نو زړه او ماغزه يې غښتلي وي؛ نو ځکه حضرت علي کرم الله وجهه وايي: پر الله تعالی قسم، چې هغه مهال مې د خيبر ور په جسماني

ځواک پورته نه کړ او په رباني او اسماني ځواک مې پورته کړ او داچې هغه مهال حضرت علي کرم الله وجهه په ټولیزه توګه له مادي نړۍ سره اړیکه پرېکړې وه او د نور پړښتو پرې د عالم کبریاء رڼا اچولې وه، چې په پایله کې یې اروا د ملکي ارواګانو په څېر غښتلې شوې وه او داسې ځواک یې لاس ته راوړی و، چې تر اوسه لا هیچا هم لاس ته نه و راوړی.

(هیثمي؛ مجمع: شپږم ټوک، ۱۸۰ مخ) وایي: له حضرت انس بن مالک روایت، دی چې وایي: د حنین د جګړې پر ورځ له حضرت عباس د پېغمبر تره، حضرت ابوسفیان بن حارث د پېغمبر د تره زوی او علي پرته ټول وتښتېدل او یوازې دوی ول، چې په هغه حال کې جنګېدل.

او د هماغه ټوک په ۱۸۲ مخ کې له حضرت ابن عباس روایتوي، چې وایي: حضرت علي بن ابیطالب یو موټی خاورې رسول الله ته ورکړې او رسول الله پر دښمن وروشیندلې.

## حضرت علي پر ځمکه سیف الله او اسدالله دی

(ذخایر العقبی: ۹۲ مخ) له حضرت انس بن مالک روایتوي، چې وایي: رسول الله پر ممبر کېناست او ډېره وینا یې وکړه او بیا یې وپوښتل: علي بن ابیطالب چېرې دی؟ علي له ځایه پاڅېد او و یې ویل: رسول الله حاضر یم. رسول الله خپلې سینې ته رانږدې او د دوو سترګو تر منځ یې ښکل کړ او پر لوړ غږ یې وویل: مسلمانانو! دا زما رور، د تره زوی او زوم دی؛ زما غوښه، وینه او ویښته دی؛ دا زما د دوو زامنو پلار دی، چې د جنت د ځوانانو ښاغلي دي، دا دی چې تل یې زما د ستونزو غوټې پرانستې، پر ځمکه د الله تعالی دښمنانو پر خلاف سیف الله او اسدالله دی، پر دښمنانو دې یې د الله تعالی لعنت وي، زه او الله تعالی یې له دښمنانو کرکجن یو او که څوک غواړي له ما او خدایه بېزاره شي؛ نو له علي دې بېزاره شي او ناست کسان دې دا خبره هغوی ته ورسوي، چې نشته. بیا یې وویل: علي کېنه! چې الله تعالی معرفي کړې.

(ابن قتیبه؛ الامامة والسیاسیة: ۹۷ مخ) له ابو المجحن ثقفي پرته له سنده روایت نقل کړی، چې معاویه ته ورغی او ورته یې وویل: زه له بې سره، بې ژبې، ډارن او بخیل علي بن ابیطالب څخه راغلم. معاویه وویل: ته او الله تعالی! پوهېږې چې څه وایې؟ او دا چې و دې ویل، هغه بې ژبې دی؛ نو پر الله تعالی قسم که د خلکو ټولې ژبې یو ځای شي؛ نو یوازې د علي ژبه ورته کافي ده او داچې و دې ویل، چې هغه ډارن دی؛ نو مور دې سر ته کېنه؛ تا تر اوسه څوک لیدلی، چې علي ته به ټینګ شوی وي او پر منځ به یې نه وي نیم کړی؟ او داچې و

دې ویل، هغه کنجوس دی؛ نو پر الله تعالی قسم، چې یو کور له سرو زرو او بل له بوسو ورکړې؛ نو سره زره به تر بوسو مخکې انفاق کړي. د ابوالمحجن زوی وویل: نو ولې وسره جنګیږې. معاویه وویل: د عثمان د وینې د غچ لپاره.

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۲۵ مخ) حضرت ابن عباس وپوښتل شو: د صفین په جګړه کې په خپله جګړې ته تللی وې که نه؟ ځواب یې ورکړ: پر الله تعالی قسم د هغه په څېر مې هېڅ څوک نه دي لیدلي، چې د مرګ خولې ته ځان ورغورځوي او له ډېرو جنګیالیو سره جنګېدلی او ټول یې وژلي دي.

محب طبري د ذخایر په ۹۹ مخ کې راوړي او واقدي ته یې نسبت ورکوي او وایي: ابن هشام له یو داسې کس نقل کړي، چې ډاډ یې پرې درلود چې وایي: پر هغه ورځ، چې مسلمانانو بني قریظه کلا بندکړي ول؛ نو حضرت علي یوازې یو غږ وکړ: د ایمان سرتېرو برید وکړئ او په خپله له حضرت زبیر بن عوام سره مخکې ولاړ او غږ یې کړ: پر الله تعالی قسم، هغه شربت څښم، چې تره مې حمزه سید الشهدا وڅښکه او یا به کلا سوبه کړم. د کلا خلکو چغې کړې: محمده! د سعد بن معاذ پرېکړه مو قبوله ده.

## د ټولو جګړو مشري د حضرت علي په لاس کې وه

(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۱۱۱ مخ) او همداراز (دریم ټوک، ۱۳۷ مخ) په دې اړه دوه روایتونه راوړي، چې په دویمي کې مالک بن دینار وایي: حضرت سعید بن جبیر مې وپوښت: په جګړو کې د رسول الله بېرغ د چا په لاس کې و؟ له مانا ډکه کتنه یې راته وکړه او را ته یې وویل: راته ښکاري، چې ډېر بې فکره او خونسرده انسان یې. زه ډېر خپه شوم او د هغه دا خبره مې د هغه ملګري قراء ته وکړه، چې ما له سعید پوښتنه وکړه، و یې ویل: په داسې ځای کې دې وپوښت، چې له حجاج څخه وېرېده او پټ و او نن راغلی او د کعبې په شاوخوا کې یې پېدا کولای شې؛ نو ته کړای، شې چې ورشې او خپله پوښتنه تري وکړې او ځواب دې واخلې؛ نو ما هم د کعبې مخامخ پوښتنه وکړه او راته یې وویل: په ټولو جګړو کې د رسول الله بېرغ له علي سره و او زه دا له حضرت ابن عباس روایتوم.

دا روایت ابن سعد هم د طبقات د دریم ټوک په ۱۵ مخ کې په لږ اختلاف نقل کړی، چې سعد وایي: پر لار به د جګړې بېرغ ابن میسره عبسي وړه؛ خو چې جګړه به شوه؛ نو علي به په لاس کې نیوه.

دا روایت (ذخایر: ۷۵ مخ) هم راوړی او د احمد بن حنبل مناقب ته یې نسبت ورکړی دی.

په تېرو مخونو کې مو له (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ٤٩٩ مخ) له قیس بن ابي حازم یو روایت راوړ، چې وایي: په مدینه کې په بازار کې ګرځېدم او د زیب تېرېږ ته ورسېدم، چې یوه ډله مې ولیده، چې علي ته کنځل کوي او ځوک هم ورته څه نه وایي، چې حضرت سعد بن ابي وقاص رامخکې شو او و یې ویل: آیا علي ړومبی مسلمان، ړومبی لمونځ کوونکی، تر ټولو زاهد، تر ټولو عالم، د رسول الله زوم او د الله تعالی د رسول د بېرغ خاوند نه و. (د حدیث تر پایه)

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ٣٦٨مخ) په خپل سند له مقسم (ا بن حجر؛ تهذیب التهذیب: درېیم ټوک، ٤٧٥ مخ) له نوموړي (اسدالغابه: څلورم ټوک، ٢٠ مخ) له ثعلبة بن ابي مالک، (کنزالعمال: پینځم ټوک، ٢٩٥ مخ) له سعد بن عباده، (ابن سعد؛ طبقات: درېیم ټوک، لومړی قسم، ١٤ مخ) له قتادة، (ریاض النضره: دویم ټوک، ١٩١مخ) له حضرت ابن عباس، (هیثمي؛ مجمع: پینځم ټوک، ٣١١ مخ)، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ١١١ مخ)، (کنزالعمال: پینځم ټوک، ٢٦٩ مخ) له حضرت ابن عباس، (هیثمي؛ مجمع: شپږم ټوک، ١١٤ مخ)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ١٩١ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ١٦ مخ)، (اسدالغابه: څلورم ټوک، ٢١ مخ) او (صواعق محرقه: ٧٦ مخ) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي: ابویعلي له حضرت ابوهریرة روایتوي، چې وایي: حضرت عمر بن خطاب وویل: علي ته داسې ځانګړنې لرې، چې که یوه یې هم ما درلوده؛ نو تر ټولو نعمتونو به راته ښه وه. پوښتنه وشوه: هغه کومې ځانګړنې دي؟ له فاطمې سره واده، په جومات کې ژوند او د خیبر د جګړې د ورځې بېرغ.

## الله تعالی د حضرت علي زړه پر ایمان ازمېیلی دی

(صحیح ترمذي: دویم ټوک) په خپل سند له ربعي بن حراش روایتوي چې وایي: علي بن ابیطالب د کوفې په رحبه کې خلکو ته وویل: د حدیبیه پر ورځ یوه ډله مشرکانو، چې سهیل بن عمر هم پکې و، رسول الله ته وویل: زموږ ځینې زامن، خپلوان او مریان په دې نامه، چې مسلمانان شوي مدینې ته درغلي؛ خو شته داسې کسان، چې نه پوهېږي، چې اصلاً دین څه ته وایي او مطلب یې دا و، چې زموږ مالونه یې له ځان سره مدینې ته دروړي؛ نو داسې خلک راوسپارئ. رسول الله وویل: که دیني پوهه نه لري؛ نو دیني پوهه به ورزده کړو او په ګواښ یې وویل: د قریشو ډلې! یا مو له دې چارو لاس واخلئ او یا به داسې سړی درولېږم، چې په توره مو سمې لار ته راوړي، چې الله تعالی یې پر ایمان زړه ازمېیلی دی. خلکو

وپوښتل: رسول الله! هغه څوک دی؟ دا مهال حضرت ابوبکر او حضرت عمر دواړو په یو بل پسې سرونه راپورته کړل. رسول الله چوپ و او بیا یې وویل: هغه چې خپلې پڼې ګنډي او هغه مهال حضرت علي د رسول الله پڼې ګنډلې. بیا علي راوکتل، و یې ویل: دالله تعالی استازي وویل: کور دې وسوځېږي د هغه چې پر موږ دروغ تړي.
دا روایت (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٠٧ مخ کې راوړی او ابن جریر ته یې نسبت ورکړی او صحیح یې ګڼلی)، (مستدرک الصحیحین: دویم ټوک، ۱۳۷ مخ او همداراز څلورم ټوک، ۲۹۸ مخ )، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹٦ مخ) همدې مضمون ته نږدې یو بل روایت هم نقل کړی، (د بغداد تاریخ: لومړی ټوک، ۱۳۳ مخ) له ربعي او د اتم ټوک په ٤۳۳ مخ کې له بلې لارې او دویم ټوک په ٤٠٨ مخ کې په لنډه نقل کړی دی.

## رسول الله به خطبه ویله او حضرت علي به یې وینا تقریروله

(صحیح ابي داود: پینځه ویشتم باب: د سرو جامو د اغوستو د جواز باب: ۱۱٦ مخ) وایي: مسدد ابومعاویه له هلال بن عامر له پلاره موږ ته نقل کړی، چې وایي: رسول الله مې په منی کې پر اوښ ولید، چې خلکو ته یې خطبه ویله او سره چپن یې پر تن وه او علي یې خبرې خلکو ته پر لوړ غږ رسولې.
دا روایت (بیهقي؛ سنن: دریم ټوک، ۲٤۷ مخ) هم نقل کړی دی.
(اسدالغابه: دویم ټوک، ۱۵۵ مخ او همداراز پینځم ټوک، ۱۱ مخ) د نافع بن عمر او مزني د حال په شرح کې وایي: زه په حجة الوداع کې پینځه او که تر پینځو کلونو مې عمر ډېر و، چې پلار مې له لاسه ونیوم او رسول الله ته یې نږدې بوتلم، چې د شهباء په نامه پر قاطر سپور و او خطبه یې ویله او علي به پر لوړ غږ خلکو ته رساوه او ما د رسول الله پر زنګون لاس وواهه او راکوز مې کړ او پر پښو مې هم ورته وواهه، چې په ماشومتوب کې مې یوازې همدا ذهن ته راتلل، چې و مې کړل.

## يوازې حضرت علي د رسول الله پر اوږو وخوت

(خصايص نسائي: ۳۱ مخ) په خپل سند لـه ابي مـريم رواېتوي، چې وايـي: حضرت علـي وويل: د الله تعالى له استازي سره مسجد الحرام ته د كعبې څنگ ته راغلو، چې زما پـر اوږو وخوت او زه هم جيگ شوم، چې رسول الله احساس وكړ، چې زه يـې د درونـوالي وس نـه لرم؛ نو راته يې وويل: كېنه او زه هم كېناستم. بيا په خپله كېناست او ما ته يې وويل: ته زما پر اوږو پورته شه. زه يې پر اوږو وختم او او پورته يې كړم؛ نـو هغـه مهـال مـې داسـې احسـاس كړل، چې كه وغواړم د اسمان هر ځای ته لاس ورووړم؛ نو وړای يې شم؛ نو د كعبې چـت تـه وختم او د كعبې له پاسه مسي بوتان مې له بېخه راونړول. رسول الله راتـه وويـل: لانـدې يـې راگوزار كړه او ما هم راگوزار كړل او ټوټې ټوټې شول او بيا له رسول الله سره پـه بيـړه راغلـو، چې څوک مو و نه ويني او په كور كې پټ شوو.

دا روايت حاكم هم د مستدرک د دويم ټوک په ۳٦٦ مخ كې راوړی، پكې راغـلي: د كعبـې بام ته، چې ورو‌ختم؛ نو رسول الله شا ته شو او و يې ويل: هغـه سـتر بوت راگـوزار كـړه. مـا وليدل، چې ستر مېخ يې پرې وهلی دی، راته يې وويل: خواري پرې وكړه، چې و يې نـړوې او ما پرې دومره خواري وكړه، چې له ځايه مې رانړاوه او لاندې مې راگوزار كـړ او بيـا مـې د كعبې له بامه راټوپ كړل او د الله تعالى له استازي سره په بيړه له جوماته بهـر ووتـو او ژر مـو ځان خوندي كړ، چې څوک مو و نه ويني.

دا روايت (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۸٤، ۱۵۱ مخونو په لنډه)، (متقي؛ كنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۷ مخ) او د هغه د وينا له مخې ا بن ابي شيبه، ا بويعلي، ا بن جريـر، (محـب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۲۰۰ مخ) او د هغه د وينا له مخې احمد او د (الصـفوه) د كتاب خاوند او حاكمي هم نقل كړی دی.

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۵ مخ) په خپل سند له ابي مريم اسدي له علي روايتوي، چې وايي: پر هغه شپه، چې رسول الله ما ته وويل، چې په بستره كې يې ويـده شم، چـې لـه مكې څخه يې مدينې ته هجرت كاوه؛ نو زه يې له ځان سره مسجد الحرام ته بوتلم او راته يې وويل: كېنه او زه كېناستم او د كعبې ديوال ته مې تكيه وكړه او رسول الله مې پـر اوږو پورتـه شو او راته يې وويل: پاڅه او زه پاڅېدم او و يې ليدل چې درون والی يې نـه شم زغمـلای، راته يې وويل: كېنه او لاندې راكوز شو او ما ته يې وويل: ته وخېژه او زه يې پـر اوږو وخـتم او زه يې پر اوږو پورته كړم او هغه مهال مې ونگېرل، چې كه وغواړم؛ نو اسـمان تـه هـم لاس

وروړای شم او بیا د کعبې بام ته وروختم او هغه ستر بوت چې پر سیخ د کعبې پر بام نښتی و، راو مې نړاوه او راګوزار مې کړ او ټوټې ټوټې شو.
تېر روایتونه تر هجرته مخکې د بوتانو ماتولو لپاره وو او لاندې روایت د مکې تر سوبې روسته د بوتانو ماتولو په اړه دی، چې زمخشري د اسراء د سورت (و قل جاء الحق و زهق الباطل ان الباطل کان زهوقا) آیت په تفسیر کې راوړی، چې وايي: دا آیت، چې د مکې د سوبې پر مهال نازل شو، حضرت جبراییل رسول الله ته وویل: خپله همسا راواخله او بوتان پرې لاندې راګوزار کړه؛ نو مشرکینو هم نن‌داره کوله، رسول الله به چې د خپلې همسا په نوکه د کوم بوت پر لور اشاره کوله؛ نو هغه بوت به راغورځېده؛ نو ټول بوتان، چې راګوزار شول؛ نو د خزاعه د تېر بوت، چې د کعبې پر بام و، پاتې شو، چې رسول الله، حضرت علي ته وویل: لاندې یې راګوزار کړه او بیا یې علي پر خپلو اوږو د کعبې بام ته ور پورته کړ او حضرت علي هغه بوت لاندې راګوزار کړ، چې د مکې خلک له دې کاره خورا حیران ول او ویل به یې: محمد څومره تکړه کوډګر دی.

## د برائت د سورت تبلیغ

(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۱۸۳ مخ) له انس او په هماغه مخ کې یې یو بل روایت له حضرت ابن عباس څخه، (نسائي؛ خصایص: ۲۰ مخ) له زید بن یثیع، (احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ۲۸۳ مخ)، سیوطي په درالمنثور کې د برائت د سورت په تفسیر کې، (خصایص نسائي: ۲۰ مخ) له سعد، (ابن جریر؛ تفسیر: لسم ټوک، ٤٦ مخ) له زید بن یثیع او همداراز د هماغه ټوک په هماغه مخ کې یې له حضرت ا بن عباس او په اووم مخ کې له سری، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۵۱ مخ) له حضرت جمیع بن عمیر څخه په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې د ټولو نچوړ دادی، چې رسول الله حضرت ابوبکر ته حکم وکړ، چې د برائت سورت مکې ته یوسي او مشرکینو ته یې و وايي او په ځینو روایتونو کې راغلي، چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر دواړو ته یې ورکړ او هغه په ذي الحلیفه کې د شجره جومات ته رسېدلې و_ په ځینو روایتونو کې دي، چې په جحفه جومات پورې رسېدلي ول، چې د رسول الله د اوښ غږ یې واورېد او ګومان یې وکړ، چې رسول الله دی، چې رانږدې شو، و یې لیدل چې حضرت علي پرې ناست دی، چې حضرت علي وویل: د برائت سورت باید زه یوسم او تاسې ستانه شئ _ چې په خپګان په دې خیال بېرته راستانه شوو، چې الله تعالی خو یې کوم آیت رټنې ته نه وي رالېږلی، رسول الله ته چې راغلل، و یې پوښتل: آیا

زموږ په اړه کوم آیت راغلی، چې رسول الله وویل: ((راته وحې شوې، چې د برائت سورت یا زه پخپله او یا هغه چې له ما او زما له اهلبیتو وي، خلکو ته ووایي.))
زید بن یثیع، حضرت علي وپوښت: د برائت په سورت کې څه وو؟ حضرت علي وویل: پایله یې څلور ټکي ول: لومړی داچې تردې روسته یو مشرک هم حق نه لري بربنډ د کعبې طواف وکړي؛ ځکه مشرکان داسې وو، چې نر او ښځو به یې بربنډ د الله تعالی د کور طواف کاوه او خیال یې کاوه، چې په هغو جامو کې یې چې گناه کړې؛ نو پکې باید د الله تعالی کور ته رانشي. دویم داچې چاچې د الله تعالی له استازي سره کوم تړون او ژمنه درلوده؛ نو هغه تړونونه او ژمنې تردې روسته نه غځېږي او څوک هم چې ورسره تړون نه لري؛ نو تر څلور میاشتو پورې وخت لري ـ یا دې له دې ښاره پښې سپکې کړي یا دې مسلمانان شي او یا دې جزیه ورکړي ـ دریم داچې هېڅ څوک به جنت ته داخل نشي؛ خو داچې په زړه کې پر ایکي یو الله تعالی ایمان ولري او څلورم داچې تر دې روسته به مسلمانان او مشرکین په یو ځای کې راټول نشي.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۳ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲٤٦ مخ) او د هغه د وینا له مخې، ابن جزیمه، ابوعوانه، دارقطني ـ د افراد په کتاب کې ـ، (محب طبري؛ ذخایر: ٦٩ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۵۱ مخ) له حنش او په ۳۳۰ مخ کې له عمرو بن میمون او سیوطي په درالمنثور کې له ابن حبان، ابن مردویه او حضرت ابي سعید خدري په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۹ مخ) له حضرت جابر نقل کړي، چې وایي: چې کله د مدینې د قبا د کلي خلکو له رسول الله څخه وغوښتل جومات ورته جوړ کړي ـهغه جومات تر اوسه هم شته دی ـ د الله تعالی استازي خپلو اصحابو ته وویل: یو پاڅئ او پر اوښ سواره شئ او چېرې، چې اوښ ودرېد؛ نو هلته به جومات جوړ کړو؛ ځکه زما اوښ ته دا دنده ورکړه شوې ده؛ نو ړومبی حضرت ابوبکر پاڅېد او چې پر اوښ سپور شو، اوښ له خپل ځایه اوچت نشو او څومره خواری یې هم چې پرې وکړې، اوښ له ځایه اوچت نشو؛ نو راکوز او رسول الله ته راستون شو او تر هغه روسته حضرت عمر ولاړ او پر اوښ سپور شو؛ خو هر کار یې چې وکړ؛ خو اوښ له خپل ځایه اوچت نشو او دا ځل حضرت علي ولاړ او پر اوښ کېناست او همداچې پر اوښ کېناست؛ نو اوښ له خپل ځایه پاڅېد. رسول الله وویل: علي! د اوښ واگې پرېږده! پرېږده چې په هر ځای کې یې چې خوښه وي؛ په هماغه ځای کې کېني؛ ځکه دې څاروي ته دنده ورکړه شوې ده.

دا روایت (هیثمي؛ مجمع: څلورم ټوک، ۱۱ مخ) هم نقل کړی او د هغه د وینا له مخې، طبراني په کبیر تفسیر کې هم نقل کړی دی.

## رسول الله حضرت علي ته دنده ورکړه

## چې پېریان راوبلي

(اصابه: څلورم ټوک، لومړی قسم، ۲۳۵ مخ) د عرفطة بن شمراح د حالاتو په شرح کې، چې د پېریانو د بني نجاح له ټبره دی د حرائطي د هواتف له کتابه په یوه سند له حضرت سلمان پارسي روایت نقل کړی، چې وایي: په یوه باراني ورځ کې د الله تعالی له استازي سره په جومات کې ناست وو، چې یو غږ مو واورېد: السلام علیک یا رسول الله! خو څوک نه لیدل کېدل. رسول الله پوښتنه وکړه: څوک یې؟ و یې ویل: زه غرفطة د شمراح پیري زوی یم او اسلام مې راوړی دی. پېغمبر وویل: آفرین دې پر تا وي، ځان راوښیه! سلمان وایي: ناڅاپه زموږ مخې ته یو سپین ږیری بوډا راووت، چې پېر او ګڼ ویښتان یې درلودل او سترګې یې په اوږدو پرانستې، خوله یې په سینه، مخ یې له ویښتو ډک، خوله یې اوږده او په ګوتو کې یې د مرغانو د پنجو په څېر نوکان وو؛ نو ما چې ولید، ویښتان مې نېغ ودرېدل. دې بوډا پیري وویل: رسول الله! څوک راسره ولېږه، چې زموږ ډله هم اسلام ته راو بلي او زه به یې روغ رمټ تاسې ته راستون کړم.

ابن حجر له خرائطي څخه د علي د لېږلو اوږده کیسه نقلوي، تردې چې وایي: علي یې پر اوښ سپور کړ او سلمان یې ورپسې او دا درې کسان همداسې ولاړل، چې یوې وچې او شاړې بیدیا ته ورسېدل او علي پر ټوله لار د الله تعالی پر ذکر بوخت و او بیا حضرت سلمان هغه بوډا او نورو پېریانو ته سهار د لمانځه جمه ورکړه؛ بیا حضرت علي خطبې ته ودرېد او پیریان ترې راټول شول. علي د اوږدې مودې لپاره دعا وکړه، چې ناڅاپه برېښنا راغله او ډېر پیریان یې وسوځول او نورو یې اسلام راوړ او حضرت علي له حضرت سلمان سره راستون شو. رسول الله چې کیسه واورېده؛ نو و یې ویل: هغوی به د قیامت تر ورځې پر تا شمېري.

## رسول الله د قرآن د تنزیل لپاره وجنگېد او حضرت علي به يې د تاويل لپاره جنگېږي

(خصايص نسائي: ٤٠ مخ) له حضرت ابي سعيد خدري، (حاكم، مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٢٢ مخ) له دوو لارو له ابي سعيد خدري، (امام احمد بن حنبل؛ مسند: درېيم ټوک، ٣٣مخ) له ابي سعيد او د درېيم ټوک په ٨٢ مخ کې له دوو لارو، (ا بونعيم؛ حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦٧ مخ) له ابي سعيد، (ابن اثير؛ اسدالغابه: درېيم ټوک، ٢٨٢ مخ) له سری بن اسماعيل له عامر شعبي له عبدالرحمان بن بشير او د څلورم ټوک په ٣٢ مخ کې، (ابن حجر؛ اصابه: لومړی ټوک، لومړی قسم، ٢٢ مخ) له اخضر بن ابي الاخضر او همداراز د څلورم ټوک د لومړي قسم په ١٥٢ مخ کې له باوردي او ابن منده د سيف بن محمد له لارې روايتونه نقل کړي چې ناقلان يې وايي: رسول الله ته په تمه وو، چې راغی، ټول يو ځای لمانځه ته ولاړو، څو گامه مخکې نه وو تللي، چې پڼه يې وشلېده، علي ته يې د گنډلو لپاره ورکړ، چې حضرت علي روسته پاتې شو او رسول الله د خطبو پر ويلو لگيا شو، و يې ويل: په تاسې کې داسې څوک شته، چې د قرآن د تاويل لپاره به وجنگېږي؛ لکه چې زه د قرآن د تنزيل لپاره وجنگېدم؛ نو موږ ټولو چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر هم راکې ول، سرونه راپورته کړل، چې کېدای شي مطلب يې موږ يو؛ خو رسول الله وويل: نه په تاسې کې يو هم نه دی او هغه دی، چې له موږ شاته پاتې شوی، چې زموږ پڼې وگنډي، دا زېری مو چې پر علي وکړ، چې رسول الله ستا په اړه داسې وويل؛ نو ډېره خو شحالي يې څرگنده نه کړه؛ گواکې رسول الله ورته پخوا ويلي وو.

(استيعاب: دويم ټوک، ٤٢٣ مخ) وايي: له اعمش له ابي عبدالرحمان سلمي روايت شوی، چې وايي: د صفين په جگړه کې له حضرت علي سره وو، چې حضرت عمار ياسر به چې هر لوري ته تله؛ نو ټول اصحاب به هم ورپسې تلل، ته وا حضرت عمار يې بېرغ و او پر هماغه مهال يې هاشم بن عتبه ته وويل: هاشمه! ددې تورو له پړکاره ځان جنت ته نباسه، چې نن به زه هم خپل دوستان؛ يعنې محمد او گوند يې ووينم؛ پر الله تعالی قسم، که موږ ته ماتې راکړي او د هجر تر کجورو مو ـ گواکې په مدينه يا کوفه کې کومه سيمه ده ـ وځغلوي؛ نو بيا به هم ډاډ ولرم، چې هغوی پر باطله او موږ پر حقه يو او بيا يې شعرونه وويل، چې خلک يې پوه کړل، چې د صفين جگړه هماغه د رسول الله وينا ده، چې حضرت علي ته يې ويلي ول، چې د قرآن د تاويل پر سر به جنگېږې:

نحــن ضربناكم على تنزيله  فاليم نضربكم على تاويله
ضربـاً يزيل الهام من مقيله و يذهل الخليل عن خليله
او يرجع الحق الى سبيله

يعني موږ وو، چې په بدر، احد او احزاب کې مو درسره د قرآن پر تنزيل جګـړه کولـه او نـن يې د تاويل په پار تاسې وهو، هغه وهل، چې يا سرونه له خپل ځايـه ونړيـږي او هـر ملګـرى خپل ملګرى له ياده وباسي او يا داچې حق خپل بهير ته راستون شي.

(متقي؛ کنـزالعمال: شپږم ټـوک، ١٥٥، ٣٩٠، ٣٩١ مـخ پـه دې اړه روايتونـه راوړي، چـې پـه منځني کې يې له حضرت ابي ذر غفاري نقل، کړي چې وايي: د الله تعالى له استازي سره په بقيع الرقد (په مدينه منوره کې د يوې هديرې نوم دى) کې وو، چې و يې ويل: قسم پـر هغـه الله تعالى، چې ژوند مې يې په لاس کې دى، چې په تاسې کې يو سړى دى، چـې د قـرآن د تاويل پر سر به جنګيږي؛ لکه څنګه چې زه له مشرکينو سره د قرآن د تنزيل لپاره جنګېدم او داچې جګړه يې د ((لا اله الا الله)) له ويونکي سره ده؛ نو خلکو ته به ډېره ګرانه وي او د الله تعالى له ولي به سرغړونه کوي، چې ولې مسلمانان وژني او دا کړه به يـې نـاوړه وګڼـي؛ لکـه څنګه حضرت موسى د حضرت خضر کړه ناوړه وګڼل، چې د خلکو بېړۍ يې سـورۍ او يـو ماشوم يې وواژه او له هغو خلکو يې دېوال جوړ کړ چې خواړه يې نه وو ورکړي حال دا، د د بېړۍ سوري کول، د ماشوم وژل او د دېوال جوړول د الله تعالى د رضـا لپـاره وو او د مـوسى خوښ نشو.

دا روايت ديلمي هم نقل کړى او د کنزالعمال د وينا له مخـې، دريـيم روايـت ا بن ابي  شيبه، احمد بن حنبل په خپل مسند کې، ابونعيم په حلية، ابويعلي په مسند، ا بن حبـان پـه صـحيح، حاکم په مستدرک، ابونعيم په حلية، او سعيد بن منصور په خپل سنن کې هم نقل کړى دى.

(رياض النضره: دويم ټوک، ١٦٧ مخ) او د هغه د وينا لـه مخـې، احمـد پـه مناقـب، متقـي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤٠٤ مخ کـې او د هغـه د وينـا لـه مخـې، ا بويعلي او بوصـيري لـه حضرت علي روايت کړى، چې وايي: رسول الله زما په لټه کې و، چـې زه يـې پـه يـوبڼ کـې ويده وموندم، چې پر پښه يې ووهلم او و يې ويل: پاڅه چې خوشحاله دې کړم؛ ته مې رور، د زامنو پلار، ته به زما د سنت په پار وژنه کوې، څوک چې زما پر ژوند وړي؛ نو د جنت پـه يوه ګوټ کې به وي او څوک چې ستا پر ژوندون وړي؛ نو اجل به يې رارسېدلى وي او کـه څوک ستا تر مړينې روسته ستا په مينه وړي؛ نو الله تعالى به يې د عمر د پاى ايمان په امنيت کې کړي او دا حکم به تر هغه وي، چې لمر راخېژي او ډوبېږي.

## رسول الله علي ته د ناکثينو، قاسطينواو مارقينو د وژلو دنده ورکړې وه

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۳۹ مخ) په خپل سند له عقاب بن ثعلبه له حضرت ا بو ايوب انصاري روايتوي، چې د حضرت عمر بن خطاب د خلافت پر مهال يې وويل: رسول الله حضرت علي بن ابيطالب ته دنده ورکړه، چې قاسطين، مارقين او ناکثين به وژني.

او همداراز (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۳۹ مخ) له اصبغ بن نباته له حضرت ابوايوب انصاري روايتوي، چې وايي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې حضرت علي بن ابيطالب ته يې ويل: ((ته به له ناکثينو سره په طرقات، له قاسطينو سره په نهروانات او له مارقينو سره د کجورو په پاڼو کې جنګېږې.)) حضرت ابو ايوب وايي: ورته مو وويل: رسول الله! هغه مهال موږ ته د چا پلوي په کار ده. رسول الله وويل: د علي بن ابيطالب.

(د بغداد تاريخ: اتم ټوک، ۳٤٠ مخ) په خپل سند له خليد عصري روايتوي، چې وايي: د نهروان په جګړه کې مې له علي واورېدل، چې و يې ويل: رسول الله دنده راکړې چې له ناکثينو، قاسطينو او مارقينو سره وجنګېږم.

(د بغداد تاريخ: ديارلسم ټوک، ۱۸٦ مخ) په خپل سند له علقمه او اسود روايتوي، چې ويلي يې دي: حضرت ابوايوب انصاري، چې د صفين له جګړې راستون شو؛ نو ليدو ته يې ورغلم او ورته مو وويل: ابو ايوبه! پر الله تعالی ګران وې، محمد رسول الله، چې مدينې ته راغی؛ نو په کور کې دې مېشت شو او اوښ يې هم راغی او ستا د کور مخې ته ودرېد او رسول الله ته به چې خلکو څومره ټينګار هم کاوه؛ نو رسول الله به ويل: الله تعالی راته ويلي، چې چېرې دې اوښه ودرېده؛ نو هلته به مېشت شم، چې د رسول الله اوښه ستا د کور مخې ته کېناسته؛ نو آيا سره له دې دومره وياړنو او فضيلتونو درته په کار ول، چې توره راواخلې او د ((لا اله الا الله) ـ د معاويه لښکر ـ (پر ويونکيو يې راوباسې او ورسره وجنګېږې؟ حضرت ابوايوب وويل: هېڅکله لارښود خپلو لارويانو ته دروغ نه وايي؛ رسول الله دنده راکړې، چې د حضرت علي په پلوی له دري ډلو سره وجنګېږو؛ يو يې ناکثين، يو يې قاسطين او بل يې مارقين او مارقين حضرت طلحه، حضرت زبير او لښکر يې دی، چې له حضرت علي کرم الله وجهه سره يې کړی بيعت مات کړ او د جمل جګړه يې پيل کړه او قاسطين همدوی ول، چې له جګړې يې راستنېږم ـ يعنې معاويه او عمرو عاص چې د صفين جګړه يې پيل کړه؛ خو پر الله تعالی قسم، چې تر اوسه خبر نه يم، چې مارقين څوک دي او کله به ورسره جنګېږو. رسول الله وويل: ((د سعيفات، نخيلات او نهروان اصحاب دي، چې انشاءالله ورسره به جنګېږو.)) بيا يې وويل: ما په خپله د الله تعالی له استازي اورېدلي، چې حضرت

عمار یاسر ته یې وویل: ((له دینه وتلې، یاغي او ظالمه ډله به دې وژني او پر هغه ورځ ته لـه حق او حق له تا سره دی، عمار یاسره! چې ګورې علي پر یوه او خلک پر بله دي؛ نو په علي پسې ځه، چې هغه به مو له ښیونه بې لارې نه کړي او هلاکت ته به مـو بو نـه ځـي. عـماره! څوک چې په یوه توره له علي سره مرسته وکړي؛ نو الله تعالی به د قیامت پـرورځ دوه تـورې ورسره وکړي او څوک چې توره د علي پر خلاف او له دښمن سره یې وکاروي؛ نو الله تعالی به د قیامت پر ورځ له اوره دوه تورې ورباندې کړي. علقمه! دومره وینا درته بس نـه ده؛ اللـه تعالی دې وبښه!همدومره درته بس دی، الله تعالی دې وبښه.

دا روایت (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۵ مخ) هم نقـل کـړی او دیلمـي تـه یـې نسبت ورکړی دی.

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳۲ مخ) په خپل سند له حضرت ابي سعید خـدري روایـتوي، چـې وایي: رسول الله راته د ناکثینو، مارقینو او قاسطینو د وژلو دنده راکړه. پوښتنه مو وکـړه: د اللـه تعالی استازیه! ددې درېو ډلو د وژلو دنده خو دې راکړه؛ خو هغه مهال د چـا پلـوي شو؟ و یې ویل: ((له علي بن ابیطالب سره، چې عمار یاسر به یې هم په پلوۍ وژل کېږي.))

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳۳ مخ) په خپل سند له مخنف بن سـلیم روایـتوي، چـې وایـي: لـه حضرت ابوایوب انصاري سره وو، چې ورته مو وویل: په همـدې تـوره دې د رسـول اللـه پـه پلوۍ مشرکان ووژل او نن پرې مسلمانان وژنې؟ و یې یـل: رسـول اللـه د نـاکثینو، مـارقینو او قاسطینو د وژلو دنده راکړې ده.

دا روایت د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۸۸ مخ کې راغلی او په پای کې یې راغلي دي: زه له ناکثانو او قاسطانو سره وجنګېدم او انشاءالله ډېر ژر به له مارقینو سره هم وجنګېږم.

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳۳ مخ) او سیوطي پـه درالمنثـور کـې د احـزاب د سـورت د (فامـا نذهبن بک فانامنهم منتقمون) د آیت په تفسیر کې له ابن مردویه د محمد بن مروان له کلبي له ابي صالح له حضرت جابر بن عبدالله له رسول الله دوه روایتونـه راوړي، چـې پـه دویمـي کې راغلي: د الله تعالی استازي وویل: دا آیت د علي بن ابیطالب پـه اړه راغـلی، چـې تـر مـا روسته به له ناکثینو، قاسطینو غچ اخلي.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۲ مخ) له علي بن ربیعه روایتوي، چې وایي: علي پـر ممـبر ناسـت و، چې سړي وپوښت: ولې دومره وینې تویوې او د خپل اوښ په څېر ورسره معامله کوې؛ د رسول الله له لوري دنده لرې که خپل شخصي نظر دې دی؟ حضرت عـلي وویـل: پـر اللـه تعالی قسم، چې نه دروغ وایم او نه راته دروغ ویل شوي؛ نه په خپله بې لارې او نـه یـې بې لارې کړی یم؛ بلکې هغه ژمنه ده، چې د الله تعالی استازي راسره کړې او زیانکاره دی هغه،

چې تور وتړي او رسول الله راسره ژمنه کړې، چې باید تر هغه روسته له ناکثینو، مارقینو او قاسطینو سره وجنګېږم.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۸ مخ) له ثوري او معمر له ابي اسحاق له عاصم بن ضمرة له ابي صادق او همداراز د شپږم ټوک په ۳۱۹ مخ کې له ابن مسعود، (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۲٤۰ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۲ مخ) له زید بن علي بن الحسین له پلاره له نیکه له حضرت علي او د اتم ټوک په ۲۱۵ مخ کې له یحیی بن عبدالله بن حسن له پلاره، (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۲۳۵ مخ) او د اووم ټوک په ۲۳۸ مخ کې په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې موږ یوازې د کنزالعمال د اتم ټوک په ۲۱۵ مخ کې پر روایت بسیا کوو، چې په خپل سند یې له یحیی بن عبدالله بن حسن له پلاره روایتوي، چې وایي: حضرت علي پر ممبر وینا کوله، چې یو سړی پاڅېد او و یې پوښتل: امیرالمؤمنینه! – تر دې چې وایي ـ د فتنې په اړه خبر راکړه، آیا د الله تعالی له استازي دې د هغې په اړه پوښتنه کړې که نه؟ علي وویل: هو! د (الف لام میم احسب الناس ان یترکوا ان یقولوا آمنا و هم لا یفتنون؛ یعنې خلکو! ایا ګومان موکړی، چې یوازې داچې وویاست ایمان مو راوړی؛ نو خلاص به شئ او و به نه ازمېیل شئ)) آیت، چې راغی؛ نو پوه شوم، چې رسول الله په موږ کې دی او نه ازمېیل کېږو او فتنه نه راځي؛ نو پوښتنه مې وکړه: رسول الله! دا کومه فتنه ده، چې الله تعالی یې وعده درکړې ده. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: را ته یې وویل: ((علي! زما امت به ډېر ژر تر ما روسته پر فتنه ککړ شي.)) ورته مې وویل: مور او پلار مې درځار! راته وویاست، چې دا څنګه فتنه او کله ده او تر تاسې روسته زموږ دنده څه ده؟ پېغمبر راته وویل: ډېر ژر به له ناکثانو، قاسطانو او مارقانو سره وجنګېږې او بیا یې د بېل بېل نوم راوښود.

## پر علي د ظلم په اړه د رسول الله (ص) وړاندوینه

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۳٦٦ مخ) په خپل سند له قیس بن ابي حازم روایتوي، چې وایي: حضرت علي حضرت زبیر ته وویل: یادېږې دې، چې موږ او تاسې د انصارو د یو ټبر په یو څېرګي کې ناست و، چې رسول الله وپوښتلې: زبیره! آیا له علي دې ښه ایسي؟ تا ورته په ځواب کې وویل: ولې ښه نه ایسي؟ درته یې وویل: ډېر ژر به ترې سرغړونه وکړې او توره به پرې راوباسې حال دا، ظالم به یې، زبیر، چې دا واورېدل؛ نو ستون شو.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۳٦٦ مخ) له ابي الاسود دئلي، (اسدالغابه: دویم ټوک، ۱۹۹ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: درېیم ټوک، ٦مخ)، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۳٦۷

مخ) له دوو لارو له ابن جرو مازني، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۵ مخ) او د هغه د وینا له مخې ابو یعلي، عقیلي، بیهقي د ابن عساکر دلائل، (تهذیب التهذیب: شپږم ټوک، ۳۲۵ مخ) له عبدالسلام کوفي، (عسقلاني؛ فتح الباري: شپاړسم ټوک، ۱٦۵ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۲ مخ) له قتادة او په هماغه کې له ابي الاسود په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي: ابي الاسود دئلي ویلي: علي او لښکر یې، چې د دښمن لښکر ته ورسېد او دوه لښکرې سره په دوو لیکو کې مخامخ شوې؛ نو علي د رسول الله پر اس سپور، د دښمن لښکر ته مخامخ ودرېد او و یې ویل: وویاست چې زبیر ما ته راشي. زبیر ته یې غږ کړ؛ نو علي ته چې نږدې راغی، ورته یې وویل: زبیره! ستا دې پر الله تعالی قسم وي، چې هغه ورځ په پلاني ځای کې وو او رسول الله زما او ستا په مخ کې تېر شو او تا ته یې وویل: زبیره! علي درباندې ګران دی؟ تا وویل: آیا د ترور زوی او هغه چې زما په دین کې دی؛ نو راباندې به ګران نه وي؟ او بیا رسول الله راته مخ کړ: علي! زبیر درباندې ګران دی؟ ورته مې وویل: رسول الله! د ترور زوی او هغه چې زما په دین کې دی؛ نو راباندې به ګران نه وي؟ او بیا یې درته وویل: سر خلاص کړه زبیره، چې ته به پر علي توره راباسې او ظلم به پرې کوې. زبیر وویل: هو! پر الله تعالی قسم چې راياد شول او پر هغه ورځ مې چې دا خبر د الله تعالی له استازي واورېده؛ نو راڅخه هېره شوې وه؛ پر الله تعالی قسم، چې درسره به و نه جنګېږم. بیا حضرت زبیر د لښکر تم ځای ته ولاړ. زوی یې وایي: څه خبرې دي او څه یې وویل: حضرت علي راته د رسول الله هغه حدیث رایاد کړ، چې ما ته یې ویلي ول، چې ته به له علي سره جنګېږې حال دا چې ظالم به یې او اوس زه له هغه سره له جګړې ډډه کوم. حضرت عبدالله بن زبیر خپل پلار ته وویل: اخر ته د جګړې لپاره راغلی یې. ورته یې وویل: نه! زه راغلی یم، چې په خلکو کې سمونه وکړم او اوس ته دا کار وکړه، پرېږده، چې الله تعالی ستا په لاس خلک اصلاح کړي. ورته یې وویل: اوس چې دې قسم خوړلی، چې ورسره و نه جنګېږې؛ نو مریی دې ازاد کړه، چې هغه دلته پاتې شي او تر هغه پورې دلته وسه، چې خلک اصلاح شي. زبیر خپل مریی ازاد کړ او په خپله په یو ګوټ کې ودرېد؛ نو همداچې د جګړې لمبه بله شوه؛ نو د خپل اس پر لور ولاړ، پرې سپور شو او د لښکر له تم ځایه لرې شو.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۳ مخ) له نذیر ضبي او همداراز د شپږم ټوک: ۸۳ مخ له حضرت ابن عباس او بیا د شپږم ټوک په ۸۵ مخ کې له اسود بن قیس او ا بن قتیبه څخه د الامامة والسیاسة په کتاب (٦۳مخ) کې په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې د روستي نچوړ یې دادی: چې کله حضرت علي او حضرت زبیر سره مخ شول؛ نو یو بل ته ورغاړې وتل، پر ژړا شول

او علي وويل: زبيره! اباعبدالله! ته دلته څه کوې؟ ورته يې وويل: راغلی يم، چې د حضرت عثمان د وينې غچ واخلم. حضرت علي په حيرانتيا وويل: د عثمان د وينې غچ!!! الله تعالی دې د عثمان وژونکي ووژني! زبير ه آيا يادېږې دي چې ته او رسول الله زما په مخ کې تېر شوئ، چې د الله تعالی استازي راباندې سلام واچاوه او راباندې يې وخندل او بيا يې تا ته وويل: زبيره! يوه ورځ به ته له علي سره جګړه کوې حال دا، ظلم به پرې کوې. زبير: هو پر الله تعالی چې راياد مې شول. علي وويل: نو سره له دې؛ ولې او پر څه راسره جګړه کوې. زبير: پر الله تعالی چې د رسول الله دا وړاندوينه مې هېره کړې وه او که ياده مې وای؛ نو هېڅکله به مې له تا سرغړونه او درسره به مې جګړه نه کوله.

## رسول الله (ص) ام المؤمنين عايشه له حضرت علي سره له جګړې منع کړې وه

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۱۹ مخ) او (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸٤ مخ) دوه روايتونه؛ يو له حضرت ام سلمه بي بي او بل له طاووس نقل کړي، چې رسول الله خپلو مېرمنو ته مخ کړ او و يې پوښتل: په تاسې کې څوک د حوئب سپي خاونده ده؟ نو عايشې بي بي وخندل، چې رسول الله وويل: پام کوه چې هغه ته و نه اوسې.
(ابن جرير طبري؛ تاريخ: درېيم ټوک، ٤٨٥ مخ) په خپل سند له زهري روايتوي چې وايي: ما ته داسې رارسېدلي، حضرت طلحه او حضرت زبير، چې له خپل لښکر سره په ذي قار کې د حضرت علي لښکرته ورسېدل؛ نو د خپل لښکر مخه يې دبصرې پر لور کړه او د منکدر له سيمې ولاړل او په لار کې د حوئب له سيمې سره مخ شول، چې د هغه سيمې سپي پر غپارشول، چې حضرت عايشې بي بي وپوښتل: دا کومه سيمه ده؟ وويل شول: حوئب. بي بي وويل: انا لله و انا اليه راجعون! زه هماغه يم، چې وامې ورېدل، چې رسول الله خپلو مېرمنو ته وويل: کاشکې، چې ويلي مو وای چې په تاسې کومه يوه ده، چې د حوئب سپي به ورپسې غاپي. بيا بي بي عايشې غوښتل له هماغه ځايه ستنه شي، چې عبدالله بن ز بير ورغی، ورته يې وويل: تاسې ته يې دروغ ويلي؛ دا سيمه حوئب نه ده او دومره يې ورته غوبرونه ډک کړل، چې جګړې ته يې چمتو کړه.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۲۰ مخ) په خپل سند له قيس بن ابي حازم، (امام احمد بن حنبل؛ مسند: شپږم ټوک، ۹۷ مخ)، (عسقلاني؛ فتح الباري: شپاړسم ټوک، ۱٦٥

مخ) او د هغه د وينا له مخې ابويعلي او بزار_ هغه دا روايت صحيح ګڼلی او ا بن حبان او حاکم _ هغه دا حديث د مسلم او بخاري په تول پوره صحيح ګڼلی، (هيثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۲۳٤ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: اتم ټوک، لومړی قسم، ۱۱۱مخ) د سلمي بنت مالک حذيفه په شرح کې، (هيثمي؛ مجمع: اتم ټوک، ۲۸۹ مخ)، (عسقلاني؛ فتح الباري: شپاړسم ټوک، ۱٦٥ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۳ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ٧٤٥ مخ)

(ابن قتيبه: الامامة و السياسة: ٥٥ مخ)، ( شبلنجي؛ نولابصار: ۸۱ مخ)، (حاکم؛ مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱۱۹ مخ)، (ابونعيم؛ حلية: دويم ټوک، ٤۸ مخ)، (ابن سعد؛ طبقات: اتم ټوک، ٥٦ مخ)، (د بغداد تاريخ: نهم ټوک، ۱۸٥مخ)، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۲ مخ) او (ابن جرير طبري؛ تاريخ: دريم ټوک، ٥٤۸ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې د حوئب د سيمې سپو په حضرت عايشې بي بي پسې وغپل، چې په ځينو کې يې راغلي، چې حضرت عايشې بي بي وويل: کاشکې د حارث بن هشام په څېر د لسو مړيو سر ته ناسته وای؛ خو په دې لار نه وم راغلې او په ځينو نورو کې راغلي او همداچې عبدالله بن ز بير واورېدل، چې ام المؤمنين عايشه غواړي ستنه شي؛ نو خپل لښکرته يې وويل: النجا النجا تښتئ! تښتئ! چې علي بن ابيطالب راورسېد؛ نو لښکر مهلت ورنه کړ، چې عايشه بي بي ستنه شي

(احمد بن حنبل؛ مسند: شپږم ټوک، ۳۹۳ مخ) په خپل سند له ابي رافع روايت کړی، چې رسول الله حضرت علي بن ابيطالب ته وويل: ډېر ژر به ستا او عايشې تر منځ شخړه شي. علي وپوښتل: رسول الله! زه؟ ورته يې وويل: هو! بيا يې وپوښتل: زه؟ ورته يې وويل: هو! علي وويل: هغه مهال به په دواړو کې تر ټولو بد مرغه زه يم. پېغمبر وويل: نه! خو که دا پېښه راپېښه شوه؛ نو خپل کور ته يې ستنه کړه.

دا روايت (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک: ٤۱۰ مخ) هم راوړی او د احمد بن حنبل مسند او طبراني ته يې نسبت ورکړی، (هيثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۲۳٤ مخ) هم نقل کړی او احمد، بزار اوطبراني ته يې نسبت ورکړی او ټول رجال يې ډاډمن ګڼلي دي.

(صحيح بخاري: د بداء الخلق کتاب: کيسر او قصری ته د رسول الله د ليک باب او همداراز د فتن کتاب) وايي: عثمان بن هيثم موږ ته روايت کړی، چې عوف له حسن له ابي بکرة روايت کړی، چې وايي: الله تعالی ما ته له هغه ټکي سره خورا ګټه راکړه، چې دالله تعالی له استازي مې اورېدلې وه، چې نږدې وو، د جمل په جګړه کې له اصحاب جمل سره يو ځای شم او له علي سره وجنګېږم؛ خو هغه ټکي وساتلم او کيسه يې داسې وه، چې کله رسول الله

واورېدل، چې پارسيانو د کسرى لور پر خپل سلطنت کېنولې؛ نو و يې ويـل: هغـه خلـک به بريالي نشي، چې ښځه يې د چارو واکمنه وي او د عايشې بي بي په پېښه کې د رسول الله دا خبره راياده شوه او الله تعالى وساتلم.
(ابن سعد؛ طبقـات: اتـم ټـوک، ١٥٠ مـخ) او همـداراز (اتـم ټـوک، ١٥٠ مـخ) دوه روايتونـه راوړي، چې رسول الله په حجة الوداع کې خپلو مېرمنو ته پرته له دوو؛ يعنې سوده او زمعـه د جحش لور، چې نه وې راغلې او پر ياد يې ول، چې الله تعالى ورته ويلي وو: د خپل کور په چوپړ کې شئ ـ وويل: دا ځل داچې زما حجة الوداع وه؛ نـو راغلـئ؛ خـو تـر دې روسـته پـه خپل کور کېنئ.
دا خبره (د بغداد تاريخ: اووم ټوک، ١١٠ مخ)، (ابن حجر؛ تهذيب التهذيب: يوولسم ټـوک، ١٠٧ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: درېيم ټوک، ٢١٤ مخ) له ام سلمه او هماغه د درېيم ټوک په ٢١٤ مخ کې له ابن عمر هم نقل کړې ده.

## د رسول الله (ص) وړاندوينه:

## حضرت عمار ياسر (رض) به ياغي او ظالمه ډله وژني

(صحيح بخاري: د صلوة کتاب: د جومات په جوړولو کې د تعـاون باب) پـه خپـل سـند لـه عکرمه روايتوي، چې حضرت ابن عباس ما او زوى ته يې وويل: حضرت ابي سـعيد تـه ولاړ شئ او حديثونه ترې واورئ، چې موږ يې په لټه کې شوو، چـې پـه يـو چـاردېوالي کـې مـو وموند، چې جوړاوه يې اوچې موږ ته د حـديثونو پـر نقلولـو بوخـت شو، چـې د جومـات د جوړولو خبره شوه، ابو سعيد وويل: موږ به د جومات په جوړولو کـې يـوه يـوه خښـته پورتـه کوله؛ خو حضرت عمار ياسر به دوه دوه ښختې اوچتلې؛ نو د الله تعالى استازي چې وليد؛ نو جامې يې وروڅنډلې او ورته يې وويل: عمار به بې لارې ډله وژني. حضرت عمار وويل: له فتنو له الله تعالى پناه غواړم.
(صحيح مسلم: د فتن کتاب: د علايم قيامت باب: له دوو لارو له حضرت ابي سعيد خـدري او په هماغه باب کې له حضرت ام سلمه بي بي، (صحيح ترمذي: دويم ټوک، د مناقب عمار باب) په خپل سند له حضرت ابي هريرة لـه ام سـلمه لـه عبدالله بن عمـرو لـه ابي اليسر ـ لـه حضرت حذيفه، (مستدرک الصحيحين: دويم ټوک، ١٤٨ مخ) په خپل سند له خالد عرني په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې موږ يې يوازې روستى نقلوو، چې خالـد عـرني وايـي: مـا او

حضرت ابوسعيد خدري، حضرت حذيفه ته ولاړو او ورته مو وويل: د الله تعالى له استازي دې چې څه د فتنو په اړه اورېدلي، موږ ته يې هم ووايه. حضرت حذيفه وويل: رسول الله راته وويل: ((د الله تعالى له کتابه چورلئ او چېرې، چې د الله تعالى کتاب ته؛ نو تاسې هم ورپسې ولاړ شئ.)) ورته مو وويل: که خلکو اړپېچ وکړ؛ نو له چا سره شو؟ پېغمبر وويل: ((بيا تاسې وګورئ، چې ابن سميه له کومې ډلې سره دی؛ نو تاسې هم له هماغې ډلې سره شئ؛ ځکه هغه د الله تعالى له کتابه چورلي.)) په ډله کې مې وپوښتل: ابن سميه څوک دی؟ و يې ويل: نه يې پېژنې؟ ورته مو وويل: راته يې وښيه. و يې ويل: عمار ياسر، چې ما د الله تعالى له استازي واورېدل، چې عمار ته يې ويل: ((ابا اليقظانه! ته به تر هغه نه مرې، چې بې لارې ډله دې ووژني .)) حاکم ددې حديث سندونه سم ګڼلي دي.

(مستدرک ا لصحيحين: درېيم ټوک، ۳۸۵ مخ) په خپل سند له عمارة بن خزيمة بن ثا بت روايتوي، چې پلار يې خزيمه د جمل په جګړه کې حاضر و؛ خو توره يې له پوښه را و نه ايسته او د صفين په جګړه کې هم و او خپلو ملګرو ته يې وويل: پر الله تعالى قسم، چې زه ځان د عمار پر وژلو نه بېلارې کوم؛ صبر کوم او ګورم، چې کوم يو لښکر يې وژني، د ابوالغاديه او عمرو عاص، چې حضرت عمار ياسر شهيد کړ؛ نو خزيمه وويل: ضلالت ډېر رانږدې شوی و. ابوالغاديه مزني په نيزه عمار پر تشي ـ وواهه او ۹٤ کلن عمار پر ځمکه راګوزار شو، بيا يې بريد وکړ، چې راوغورځېد او يو سړي پرې ځان ورګوزار کړ، چې د عمار د سر غوڅولو وياړ په خپله برخه کړي، چې يو بل سړی ورسره په شخړه شو، چې عمار ما وژلی او سر يې بايد ما ته راکړې. عمرو عاص له لرې په ننداره و او و يې ويل: پر الله تعالى قسم، چې د دوزخ د اور پر سر شخړه کوي او بيا يې له ځان سره وويل: د ضلالت د لښکر په واسطه د عمار وژل کېدل_ هماغه دي او ته په خپله پوهېږې، چې د کوم لښکر مشري دې پر غاړه اخستې؛ پر الله تعالى قسم، چې خوښ وم شل کاله مخکې مړ شوی وای؛ خو دا کار مې نه و کړی.

دا روايت (ابن سعد: طبقات: درېيم ټوک، ۱۸۵ مخ) هم نقل کړی او په پای کې يې ويلي: بيا خزيمه بن ثابت: ضلالت رانږدې شوی، توره يې له پوښه راوايسته او د علي په پلوی و جنګېد او شهيد شو.

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۳۸٦ مخ) په خپل سند له محمد بن عمر بن حزم روايتوي، چې وايي: چې کله عمار ياسر د معاويه لښکر وواژه؛ نو عمرو بن حازم عمرو عاص ته خبر ورکړ او ورته يې وويل: عمار ياسر زموږ وواژه، چې ما په خپله د الله تعالى له استازي اورېدلي وو، چې ويل يې: ((عمار به ضلالت وژني.)) عمرو عاص سخت خپه شو او پر

خپگان یې معاویه ته ولاړ. معاویه وویل: ولې دومره خپه یې؟ ورته یې وویل: عمار زموږ وژلی دی، چې ما په خپله د الله تعالی له استازي اورېدلي ول، چې ویل یې: عمار به د ضلالت ډله وژني او داچې معاویه وکړای شي عمرو عاص تېرباسي؛ نو ورته یې وویل: مګر عمار یاسر موږ وژلی؟ علي او اصحابو یې وژلی، چې بوډا یې زموږ غشیو او تورو ته مخامخ کړ.
بیا حاکم وایي: دا حدیث د مسلم او بخاري پر شرائطو صحیح حدیث دی او ډېر ژر به د علي ځواب هم رواړل شي، چې معاویه ته یې په ځواب کې وویل: که داسې وي؛ نو د حمزه سیدالشهداء وژنکي به مشرکین نه؛ بلکې رسول الله وي، چې حمزه یې جهاد ته راوستی و.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۳۸۷ مخ) دې ورته کیسه له ابي عبدالرحمن سلمي نقل کړې، چې په کې معاویه عمرو عاص ته وویل: ته خو تل له وېرې په خپلو متیازو کې ښو یېږې؛ آیا موږ عمار وژلی که علي او اصحابو یې؟
دا حدیث ابن جریر هم د تاریخ د څلورم ټوک په ۲۸ مخ کې په لنډه راوړی دی.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: دویم ټوک، ۱٦۱ مخ) په خپل سند له عبدالله بن حارث څخه روایت کوي، چې زه د صفین په جګړه کې د معاویه لښکر ونیوم او تر جګړې روسته په لار کې د معاویه او عمروعاص په منځ کې وم؛ نو وا مو نه ورېدل، چې د عمروعاص زوی؛ یعنې عبدالله خپل پلار ته وایي: پلاره! و مو ا نه ورېدل، چې د الله تعالی استازي حضرت عمار ته وویل: د سمیه زویه! تا به د ضلالت لښکر وژني. عمرو دا کیسه معاویه ته وکړه، چې نه اورې دا هلک څه وایي؟ معاویه وویل: ته خو تل په غولو کې ډکي وهې او بوی یې ډېرېږي؛ آیا موږ عمار وژلی که علي او اصحابو یې؟
(امام احمد بن حنبل: مسند: دویم ټوک، ۱٦٤ مخ) په خپل سند له حنظلة بن خویلد عنبري روایتوي، چې وایي: زه له معاویه سره ناست وم، چې دوه شخړه مار راغلل او د حضرت عمار پر غوڅ شوي سر یې شخړه وه. عبدالله د عمروعاص زوی وویل: په تاسې کې دې یو د بل په ګټه تېر شي، چې ما د الله تعالی له استازي واورېدل، چې عمار به د ضلالت ډله وژني. معاویه وویل: که دا خبره دې اورېدلې؛ نو ولې زموږ په لښکر کې یې؟ و یې ویل: څو ځل مې پلار زما له لاسه رسول الله ته ګیله وکړه. رسول الله راته وویل: چې دې پلار ژوندی وي؛ نو لاروي ترې کوه او زه هم له خپل پلاره د لاروی په پار ستا په لښکر کې یم؛ خو توره مې نه ده را ایستې.
لیکوال: ګواکې د عمروعاص زوی نه پوهېده، چې له پلاره لاروي هغه مهال واجبه ده، چې له خدایه سرغړونه نه وي او د ضلالت له لښکر سره یو ځای کېدل له خدایه سرغړونه ده.

(امام احمد بن حنبل: څلورم ټوک، ۱۹۷ مخ) په خپل سند له عمرو بن دينـار روايـتوي، چـې وايي: عمرو عاص د ځينو خلكوكورونو ته ډالۍ ولېږلې او د حضرت عمار ياسر كور تـه يـې ډېرې ولېږلې؛ نو ددې كار د علت پوښتنه، چې ترې وشوه؛ نو و يې ويل: ځكه د الله تعالى له استازي مې واورېدل، چې ويل يې: ((عمار به د ضلالت لښكر وژني.))
(امام احمد بن حنبل: مسند: شپږم ټوک، ۲۸۹ مخ) په خپل سند له ام سلمه بي بي روايـتوي، چې وايي: هېڅكلـه د خنـدق د كنلـو ورځ نـه هېـروم، چـې رسـول الله پـر دوړو ككـړ و او مسلمانانو ته يې شيده وركول او ويل يې: ((خدايه! خېر د اخرت خېر دی! خدايـه مهـاجر او انصار وبښې!)) چې ناڅاپه يې سترګې پر عمار ولګېدې او و يې ويل: ((عمار به د ضـلالت لښكر وژني.))
دې حديث ته ورته يو بل روايت هم ابوداود طيالسي د خپل مسند د درېيم ټوک پـه ۹۰ مـخ كې نقل كړی دی.
(حلية الاولياء: څلورم ټوک، ۱۷۲ مخ) په خپل سند لـه زيـد روايـتوي، چـې وايـي: حضرت عمار به د حضرت عثمان د خلاف پر مهال ډېر په قريشو پـورې لګېـده او قـريش هـم تـرې پوزې ته رارسېدلي ول، چې يوه ورځ يې سم وواهه. حضرت عـمار كـور تـه ولاړ او نـور لـه كوره رابهر نشو. حضرت عثمان يې پوښتنې ته ورغی؛ نو همداچې د حضرت عمار لـه كـوره راووت؛ نو نېغ جومات ته ولاړ او پر ممبر كېناست او قريشو ته يې نصيحت وكـړ: مـا د اللـه تعالى له استازي واورېدل: ((عمار به د ضلالت ډله وژني.))
(د بغداد تاريخ: پينځم ټوک، ۳۱۵ مخ) په خپل سند له علقمه او اسـود او همـداراز د پيـنځم ټوک په ۳۱۵ مخ كې په خپل سند له حضرت انس بن مالک او همداراز د اووم ټوک په٤١٤ مخ كې له حضرت عبدالله بن عمر بن خطاب، (ابن سعد؛ طبقات: درېيم ټوک، لومړی قسم، ۱۷۷ مخ) په خپل سند له عمرو بن ميمون څخه په دې اړه روايتونه نقل كړي، چې په روستي كې يې راغلي: تر هجرت مخكې مشركينو د حضرت عمار مور و پلار ووژل؛ نو چې كله هغه ته وورسېدل؛ نو اور يې ورواچوه؛ نو د الله تعالى استازي يې پر بدن لاس راكښود او دا آيـت يې وwايه: (يا ناركونی بردا و سلاماً) او ورته يې وويل: عماره! تا به د ضلالت لښكر وژني.
(ابن سعد؛ طبقات: درېيم ټوک، لومړی قسـم، ۱۷۹ مـخ) او همـداراز (درېـيم ټـوک: لـومړی قسم، ۱۸۱ مخ)، (اسدالغابه: دويم ټوک، ١٤٣مخ) په دې اړه روايتونه نقل كړي، چې درېيمی يې داسې دی: د شام ذي الكلاع كډن شو او هلته له معاويه سره و، چـې فتنـه راولاړه شوه او حضرت معاويه بن ابي سفيان هغه د صفين د لښكر پالندوی كړی و او اوچې په جګړه كې ومړ؛ نو معاويه خورا خوشحاله شو؛ ځكه حضرت معاويـه بن ابي سـفيان يـې خـبر كـړی و، چـې

رسول الله د حضرت عمار په اړه څه ویلي وو او تل به يې حضرت معاویه بن ابي سفیان ته ویل: اخر موږ څنګه له علي او عمار سره و جنګېږو؟ معاویه وويل: ډېر ژر به عمار زموږ لوري ته راشي او د علي لښکر به يې ووژني او چې "ذي الكلاع" ومړ؛ نو معاویه وويل: که ذي الكلاع ژوندی و او زموږ د لښکر له لوري يې د عمار وژل کېدل لیدلي وو؛ نو زما نیم لښکر به يې علي ته وراړولی و.

(اسدالغابه: دویم ټوک، ۲۱۷ مخ) له زهري (الامامة والسیاسه: ۱۰۶ مخ)، (اصابه: لومړی ټوک، څلورم قسم: ۱۲۵ مخ) له اسماعیل انصاري، (ریاض النضره: لومړی ټوک، ۱٤ مخ) له زید بن ابي اوفي، (نورلابصار: ۱۲۵ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۷۲ مخ) له جابر بن سمرة او د هماغه ټوک په هماغه مخ کې له له جابر له حضرت عمار یاسر او همداراز په ۷۳ مخ کې يې له کعب بن مالک او یو بل روایت له حضرت خالد بن ولید راوړي، چې په روستي کې يې راغلي: حضرت عمار یاسر ناورغ شو او د هشام بن ولید بن مغیره لور يې پالنه کوله، چې دا نجلۍ وایي: معاویه د عمار پوښتنې ته راغی او د ستنېدو پر مهال يې وويل: خدایه هغه زما په لاس و نه وژنې؛ ځکه ما په خپله د الله تعالی له استازي واورېدل، چې ويل يې عمار به بې لارې ډله وژني.

(کنزالعمال: اووم ټوک، ۷۳ مخ) له ابي امامه او په ۷٤ مخ کې له ابي قتادة او په هماغه مخ کې یو بل روایت له حضرت ابي بکر او بل روایت له حضرت ا بن عباس، بل روایت له عایشې بي بي او بل روایت له حضرت حسن روایي، چې په روستي کې يې وايي: رسول الله، چې مدینې ته راغی؛ نو خلکو ته يې وويل: جومات را ته جوړ کړئ. خلکو وويل: څنګه جومات؟ و يې ويل: د موسی د عرش په څېر (يعنې د موسی د څپرګي په څېر)، له ښحتو یوه څلور دېوالي. خلکو د جومات پر جوړولو بوخت شول او رسول الله به معمار ته ښختې ورکولې او یا به يې پر سینه خاورې او اوبه وړې، ویل يې: پالونکیه! خوندونه د اخرت خوندونه وي، انصار او مهاجر وبښې او بیا يې په خاورو شوی عمار له خاورو وڅنډه، په غېږ کې يې راونیو، ورته يې وويل: د سمیه زویه! د ضلالت ډله به دې وژني.

(کنزالعمال: اووم ټوک، ۷٤ مخ) له سعید بن جبیر او په هماغه ټوک او هماغه مخ کې له ا بن مسعود، (هیثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۲٤ مخ) له ابي عبدالرحمان سلمي، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۳۸۷ مخ)، (هیثمي؛ مجمع: اووم ټ، ک، ۲٤۲ مخ) له عمار یاسر او د نهم ټوک په ۲۹٦ مخ کې له ابي رافع او همداراز (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک: ۲۹٦ مخ) له حبه او د هماغه ټوک په ۳۹۷ مخ کې له عبدالله بن حارث څخه په دې اړه یو بل روایت نقل کړی دی.

(متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۵ مخ) د الله تعالی له استازي روایتوي، چې وايي: ((علي! ډېر ژر به د بې لارو ډله درسره جګړه شي؛ خو ته به پر حقه يې او پر هغه ورځ، چې چا دې ملاتړ و نه کړ؛ نو له موږ ځني به نه وي.))

(ابونعیم؛ حلیة: څلورم ټوک، ۲۰ مخ) له ابن عمر، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۸٤ مخ) او همدا راز د اووم ټوک په ۷۵ مخ کې روایتونه راوړي، چې پر هغه ورځ حضرت عمار یاسر د جومات د جوړولو لپاره ښختې وړې، چې رسول الله وویل: ((خدایه! تا هغوی په عمار پسې کړي دي او عمارېې جنت ته رابولي او هغوی يې دوزخ ته چې دا په خپله د بدمرغو او فاجرچارو عمل دی.))

(ابن سعد؛ طبقات: درېیم ټوک، لومړی قسم، ۱۸۸ مخ) له حسن (ګواکې مردا ترې حسن بصري دی) څخه روایتوي، چې وايي: عمرو عاص وویل: هیلمن یم چې هغوی په دوزخ کې نه کړي، چې د رسول الله د عمر په پای کې پر رسول الله ګران وو. وویل شول: موږ لیدل، چې ته د الله تعالی پر استازي ګران وې او تا ته به يې دندې درسپارلې. و يې ویل: مړی ژوندی له مینې سره توپیر لري؛ خو داسې یو سړی پېژنم، چې رسول الله ورسره مینه درلوده او ټولو ترې دا مینه لیدلې هم وه. پوښتنه و شوه: هغه څوک و؟ ورته يې وویل: حضرت عمار بن یاسر. خلکو وویل: هغه هم تاسې وواژه . و يې ویل: هو پر الله تعالی چې موږ وواژه.

(ابن اثیر؛ اسدالغابه: پینځم ټوک، ۲٦۷ مخ) د ابوالغادیه _ د حضرت عمار بن یاسر وژونکی _ د حال په شرح کې له ابي الدنیا له محمد بن ابي معشر له پلاره روایتوي، چې وايي: زه له حجاج بن یوسف سره وم، چې یو سړی يې راوړ، چې ګامونه يې لنډ وو او حجاج چې ولید؛ نو و يې وویل: ابوالغادیه په خیر راغلې! او هغه يې له ځان سره پر تخت کېناوه او ورته يې وویل: عمار یاسر تا وژلی؟ و يې ویل: هو! حجاج: کیسه وکړه، چې څنګه دې وواژه؟ ابولغادیه هم ورته کیسه وکړه. حجاج د شام خلکو ته وویل: څوک چې غواړي داسې سړی وګوري، چې په قیامت کې يې لاس خلاص دی؛ نو دا سړی دې وګوري. بیا ابوالغادیه د حجاج غوږ ته سر ورنږدې کړ او د بېوزلۍ څرګندونه يې وکړه او حجاج هم ورته په سپینه وویل: څه نه لرم. ابولغادیه وویل: عجیبه ده، موږ ورته دنیا هواره کړه؛ نو اوس چې ترې مرسته غواړو، نه يې راکوي او ګومان کوي، چې په قیامت کې به خلاص لاس لرم؛ سره له دې چې پر الله تعالی قسم، چې که پر ځمکه ټولو خلکو د حضرت عمار په وژلو کې لاس درلود؛ نو ټول به دوزخي شوي ول.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۸۸ مخ) له شداد بن اوس روایتوي، چې وایي: د معاویه کور ته ولاړم او و مې لیدل، چې عمرو عاص هم هغه خوا ناست دی او زه د دوی په منځ کې کېناستم او ورته مې وویل: پوهېږئ، چې ولې ستاسې په منځ کې کېناستم؟ ځکه د الله تعالی له استازي مې اورېدلي وو، چې و یې ویل: معاویه او عمرو عاص مو چې یو ځای ولیدل؛ نو یې بېل کړئ؛ ځکه پر الله تعالی قسم، چې دوی دواړه سره نه یو ځای کېږي؛ خو د خیانت او دوکې لپاره؛ نو و مې غوښتل ستاسې په منځ کې بېلتون راوړم.

دا روایت (هیثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ۲٤۸ مخ) هم راوړی دی.

(هیثمي؛ مجمع: اتم ټوک، ۱۲۱ مخ) له حضرت ابن عباس روایتوي، چې وایي: رسول الله د دوو کسانو غږونه واورېدل، چې سندرې یې ویلې تردې چې وایي: رسول الله پوښتنه وکړه: دوی څوک دي؟ وویل شول: معاویه او عمروعاص دي. رسول الله وویل: ((خدایه! دوی دواړه پر فتنو داسې لاندې باندې کړې، چې په خپله پوهېږي او د دوزخ په اور کې یې واچوې.))

دا روایت (ذهبي؛ میزان الاعتدال: درېیم ټوک، ۳۱۱ مخ) له ابي برزه او همداراز له حضرت ابي هریرة نقل کړی دی.

## د حضرت عبدالله بن عمر خواشیني

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۱۵ مخ) له شعیب بن ابي حمزه قریشي-له زهري له حمزة بن عبدالله بن عمر روایتوي، چې وایي: یوه ورځ مې له پلار ناست و، چې د عراق یو سړی راغی او زما د پلار _ عبدالله بن عمر _ خورا تعریف یې وکړ او و یې ویل: د قرآن دې آیت مې زړه خپه کړ چې وایي: (و ان طائفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما فان بغت احداهما علی الاخری فقاتلوا التی تبغی ان تفیء الی امرالله فان فاءت فاصلحوا بینهما بالعدل و اقسطوا ان الله یحب المقسطین) ددې آیت مانا څه ده؟ عبدالله وویل: څه پرې کوې؟ زه خپل کار کوه. سړی ولاړ، چې سیورې یې ښخي له موږ څخه پناه شو بیا عبدالله بن عمر موږ ته مخ کړ او یې ویل: دا آیت، چې دې ولوست؛ زړه یې راته خپه کړ، چې نور مې و نه شو کړای ځواب یې ورکړم او هغه داچې ولې د ضلالت له لښکر سره و نه جنګېدم او د علي پلوی نشوم او د الله تعالی د حکم لاروي مې ونه کړه.

(ابن سعد؛ طبقات: څلورم ټوک، ۱۳٦ مخ) له سعیدبن جبیر او د هماغه ټوک په ۱۳۷ مخ کې له حبیب بن ابي ثابت او (هیثمي؛ مجمع: دریم ټوک، ۱۸۲ مخ) له ابن عمر، (ریاض النضره: دویم ټوک، ۲٤۲ مخ) هم له ابن عمر، (ابن عبدالبر؛ استیعاب: لومړی ټوک، ۳۰۷ مخ) له ابي بکر بن ابي الجهم څخه په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې ابن عمر د خپل عمر په پای کې وویل: په دنیا کې مې یو ارمان هم پر زړه نه دی پاتې، بې له دې، چې ولې د معاویه د ضلالت له لښکر سره و نه جنګېدم.

(ابن سعد؛ طبقات: څلورم ټوک، دویم قسم، ۱۲ مخ) له نافع بن عمر او (ا بن عبدالبر؛ استیعاب: لومړی ټوک، ۳۷۱ مخ) د عبدالله بن عمروعاص د حال په شرح کې دوه روایتونه نقل کړي، چې خواشینی و چې ولې یې له پلار سره د صفین په جګړه کې علي پر خلاف ګډون کړی و. مخکې مو هم وویل، چې هغه توره را و نه ایسته؛ خو سره له دې یې وویل: کاشکې شل کاله مخکې مړ شوی وم.

## د خوارجو په اړه د رسول الله وړاندوینه

(صحیح بخاري: د بدء الخلق کتاب: په اسلام کې د نبوت د علاماتو باب) په خپل سند له حضرت ابي سعید خدري روایتوي، چې وایي: یوه ورځ د الله تعالی له استازي سره وو، چې بېت المال یې ویشه، چې د بني تمیم د ټبر ذوالخویصره راغی او و یې ویل: رسول الله! عدالت کوه. رسول الله وویل: ((پر ځان وویرېږه! که عدالت و نه کړم؛ نو خائب او خاسر به شم. حضرت عمر بن خطاب وویل: رسول الله اجازه راکړئ ورمېږ ترې غوڅ کړم. رسول الله: پرېږ یې ده؛ ځکه هغه به داسې ملګري پیدا کړي، چې ستا لمونځونه او روژې به د هغوی د لمونځونو او روژو پر وړاندې ډېر ناڅیزه وي؛ قرآن به وایي؛ خو له مریو به یې لاندې نه ځي او د الله تعالی دین به داسې ټوټه کړي، چې د خپلو غشیو موخه به یې کړي، تردې چې وایي: یو تور مخی سړی ــ به یې مشري کوي ــ به وي، چې یو لاس به یې د ښځې د تي په څېر وي او د خلکو له تر ټولو غوره فرقو به خروج وکړي.)) حضرت ابو سعید قسم خوري، چې دا حدیث یې له رسول الله اورېدلی و، او وم چې له حضرت علي بن ابیطالب سره خوارجو سره جګړه وکړه او ټول یې وځپل او بیا یې حکم وکړ، چې د هغه سړي ــ ذوالثدیه ــ مړی یې ورته راوړ او و مو لیدل، چې لاس یې د ښځې د تي په څېر دی.

دا روایت (نسائي: خصایص: ٤۳ او ٤٤ مخونه)، (مسلم؛ صحیح: د زکاة کتاب)، (ا بن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: دویم ټوک، ۱٤۰ مخ د ذي الخویصره په ژباړه کې له حضرت ابي سعید

خدري؛ په دې روايت کې راغلي، چې د حنين د جګړې غنيمت ويشل کېده)، (ابن جرير طبري؛ تفسير: لسم ټوک، ۱۰۹ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: درېيم ټوک، ۵۶ او ۶۵ مخونه)، (هيثمي؛ مجمع: شپږم ټوک، ۲۳۴ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې په وروسيت کې يې راغلي: چې کله حضرت علي ته يې د ذوالثديه مړی راوړ؛ نو خلک يې وپوښتل: څوک دا سړی پېژني؟ وويل شول: موږ يې پېژنو او نوم يې حرقوس دی او مور يې دلته ده. حضرت علي وويل: ولاړ شئ او مور يې راوړئ. مور يې چې راغله؛ نو پوښتنه ترې و شوه: دا څوک دی؟ و يې ويل: نه پوهېږم، چې د چا زوی دی؛ ددې لپاره، چې په جاهليت کې ما پـه ر بذه کې ګډې سرولې؛ نو دظلمت په څېر يو څه راباندې راپرېوتل او دا ماشوم مې پر ګېډه شو.

(ذهبي؛ ميزان الاعتدال: دويم ټوک، ۲۶۳ مخ)، (صحيح مسلم: کتاب صلوة: باب تحريص برګشتن خوارج له عبيده)، (ابن ماجه؛ صحيح: باب ذکر خوارج)، (ابوداود؛ صحيح: دېر شم ټوک، باب قتال خوارج)، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۷۸ مخ)، (صحيح مسلم: کتاب زکاة: د خوارجو د وژلو د تحريص باب) په دې روايتونه راوړي، چې په روستي کې يې زيد بن وهب جهني وايي: يو سرتېری، چې له خوارجو سره په جګړه کې له حضرت علي سره و، وويل: يوه ورځ علي وويل: ايهاالناس! ما د الله تعالی له استازي اورېدلي وو: ((ډېر ژر به زما له امته يو طيفه خروج وکړي، چې د قرآن قرائت به يې ستاسې د قرآن له قرائت سره هېڅ اړه نه لري او لمونځ او روژه يې ستاسې له لمونځ او روژې سره هېڅ اړه نه لري؛ خو قرآن وايي او داسې ګومان کوي، چې ګواکې قرآن يې ملګری دی؛ خو قرآن يې دښمن دی او لمونځونه يې له مريو نه تېرېږي او له اسلامه به داسې په ځغاسته وځي؛ لکه غشی ـ له ليندۍ)) او هغه لښکر چې له دوی سره مخامخېږي؛ نو پوه دې شي، چې د رسول الله پر ژ به د دوی لپاره څه برخليک تقدير شوی دی؛ نو نور به لاس له عمله وانخلي او ددې خلکو نښه داده، چې يو داسې سړی پکې دی، بې ساعده مټ لري او د مټ په پای؛ يعنې پر اوږه يې د ښځو د تي په څېر يو شی دی، چې سپين ويښتان پرې راختلي ـ تر دې چې وايي: نو يو بل به ووژني او په خلکو کې به يوازې دوه کسان مړه شي. تـر جګړې روسته حضرت علي وويل: ولاړ شئ او هغه مجدع ـ هغه چې لاس يې نيمګړی وي ـ پيدا کړئ. اصحاب ولاړل؛ خو مړی يې و نه موند. پخپله حضرت علي په مړيو کې لټه پيل کړه، چې و يې موند، چې په مړيو کې پړمخه پروت دی. امام تکبير ووايه او و يې ويل: صدق رسول الله. په اصحابو کې عبيده سلماني پاڅېد او پوښتنه يې وکړه: اميرالمؤمنينه! ستا دې قسم پر هغه الله تعالی وي، چې بې له هغه معبود نشته، آيا دا هر څه دې د الله تعالی له استازي اورېدلي وو؟ امام وويل:

هو! قسم پر هغه الله تعالی، چې بې له هغه بل معبود نشته. سلماني درې ځلې قسم ورکړ او امام هم درې ځل قسم وخوړ، چې دا وړاندوینه رسول الله کړې وه.
دا روایت (ابوداود؛ صحیح: دېرشم ټوک، باب قتال خوارج)، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۹۱ مخ) او (بیهقي؛ سنن: اتم ټوک، ۱۷۰ مخ) او د حدیث نورو ائمو هم نقل کړی دی.
(مستدرک الصحیحین: دویم ټوک، ۱٤٥، ۱٤۷، ۱٤۸، ۱٥٤ مخونه) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې په وروسیت کې یې راغلي: روسته له دې، چې رسول الله غنیمت وایشه؛ نو سړی رامخکې شو، چې پر تندي یې د سجدې ټاپه وه او و یې ویل: نن دې د غنیمت په ویش کې هېڅ عدالت پلي نه کړ. رسول الله له خپګانه خپل لاسونه پر یو بل وموږل او و یې ویل: ((که زه عدالت پلي نه کړم؛ نو تر ما روسته به څوک عدالت پلي کوي؟ پوه شه چې ډېر به له یوې ډلې سره له دینه ووځئ؛ لکه څنګه چې غشی پر ښکار ولګي او هخوا ترې ووځي او بیا به دین ته راستانه نشئ؛ هغه ډله، چې قرآن به وایاست؛ خو له مریو به مو لاندې نه ځي؛ خبرې به یې ښه؛ خو کړنې به یې ناوړه وي؛ نو که هر چېا دا ډله ولیده؛ نو ورسره دې وجنګېږي او هر چاچې دا ډله ووژله؛ نو تر ټولو غوره ثواب به لري او که څوک د دوی په واسطه ووژل شو؛ نو د شهادت مقام ته رسېدلای؛ دوی د الله تعالی تر ټولو ناوړه مخلوقات دي؛ الله تعالی ترې بېزاره دی او ددې ډلې وژونکي هغه دي، چې تر ټولو ما ته نږدې دي.))
(صحیح ابي داود: نهه ویشتم ټوک، په فتنه کې د خبرو نه کولو باب)، (احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ۲٦، ۳۲، ٤٥، ٤۸، ۷۰، ۸۲، ۹٥ مخونه)، (خصایص نسائي: ٤۲، ٤۳ مخونه)، (احمد بن حنبل؛ مسند: څلورم ټوک، ۳٥۷ مخ)، (ابونعیم؛ حلیة: څلورم ټوک، ۱۸٦ مخ) له زر او د شپږم ټوک په ۲۱ مخ کې له کعب او د اووم ټوک په ۳۱ مخ کې له سفیان ثوري، (د بغداد تاریخ: لومړی ټوک، ۱٥۹ مخ) د خوارجو په اړه د رسول الله د وړاندوینې په اړه روایتونه نقل کړي، چې په روستي کې یې راغلي دي: خطیب بغدادي په خپل سند له نبیط بن شریط اشجعي روایتوي، چې وایي: روسته له دې چې په نهروان کې له خوارجو سره جګړه فیصله شوه؛ نو ابو قتاده له شپېته او که له اویا سرتېرو سره له کربې لارې ستون شو او ړومبی بي بي عایشې ته ولاړل؛ ابوقتاده وایي: عایشې بي بي پوښتنه وکړه: څه خبر مو راوړی دی؟ کیسه مو ورته وکړه او ورته مې وویل، چې ټول خوارج مو ووژل. پوښتنه یې وکړه: څو کسان درسره راغلي دي؟ ورته مې وویل: شپېته که اویا کسان. پوښتنه یې وکړه: هغوی ټول درسره همغږي دي؟ ورته مې وویل: هو! و یې ویل: نو اوس راته ټکی په ټکی کیسه وکړه. ورته مې وویل: د دولس زرو په شاوخوا کې کسان وو، چې ټولو یوه خوله ویل: حکم یوازې

د الله تعالی حکم دی. حضرت علي وويل: د حق خبره پر باطل نيت کوئ. نو روسته تردې، چې د الله تعالی او قرآن قسم مو ورکړ؛ نو په ځواب کې يې وويل: عثمان، علي، معاويه او عايشه کافران شوي او بايد ورسره وجنګېږو؛ نو موږ د ناچارۍ له مخې ورسره په جګړه شو او هغوی همداسې قرآنونه ويل؛ ځينې يې وتښتېدل او نور ټول ووژل شول. حضرت علي وويل: په تښتېدلو پسې مه ځئ. تر جګړې روسته په مړيو کې ګرځېدو او علي د رسول الله پر قاطر سپور و، چې د نهروان د نهر په څنګ کې ودرېد او و يې ويل: دا ټول مړي راواړوئ! ټول مړي مو راواړول، چې يو سړی مو پکې وموند، چې په اوږه يې د ښځې د تي په څېر يو شی و؛ نو چې کله حضرت علي وليد؛ نو الله اکبر يې نعرې کړل او و يې ويل: پر الله تعالی قسم، چې دروغ نه وايم او نه راته دروغ ويل شوي؛ زه يوه ورځ له رسول الله سره وم، چې غنيمت يې ويشه، چې دا سړی راغی او و يې ويل: محمده! عدالت کوه؛ که څه پر الله تعالی قسم، چې تر ننه دې عدالت نه دی پلي کړی. رسول الله وويل: مور دې سر ته کېنه! که زه عدالت ونه کړم؛ نو څوک به يې کوي؟ حضرت عمر بن خطاب هلته و او و يې ويل: رسول الله! مړ يې کړم؟ رسول الله وويل: شته داسې څوک چې و به يې وژني. عايشې بي بي چې دا کيسه واورېده؛ نو و يې ويل: که څه زه له علي سره څه ښه اړيکه نه لرم؛ خو ولې د حق خبره ونه کړم؛ ما د الله تعالی له استازي واورېدل، چې ويل يې: امت به مې پر دوو ډلو وويشل شي؛ يوه ډله به سرونه خروي، برېتې پرېږدي او د پښو تر ځنګکيو به يې پېنسې اوچتې کړې وي؛ قرآن به وايي؛ خو له ستونو به يې نه کوزېږي او الله تعالی ته نږدې هغه کس دی، چې دوی ووژني. ورته مې وويل: ام المؤمنين! ته چې دومره له علي خبره وې؛ نو ولې دې ورپسې توره راوايسته؟ و يې ويل: ابو قتاده! کوم کار چې بايد وشي؛ نو کېږي او کېدونکي کارونه ځانګړې جرنده لري.

(د بغداد تاريخ: اووم ټوک، ۲۳۷ مخ) له حضرت جابر څخه روايت دی، چې زه له حضرت علي سره د نهروان په جګړه کې وم، چې تاسې صبر وکړئ _ تاسې ړومبی جګړه مه کوئ _ بيا هغوی ټولو ته يې غږ کړ، چې زموږ د واکمن عبدالله بن خباب وژونکی موږ ته راکړئ. و يې ويل: موږ ټولو هغه وژلی دی. حضرت علي وويل: الله اکبر! او بيا يې اصحابو ته وويل: لاسونه مو پر ليندو کړئ او بريد وکړئ او مجدع را پيدا کړئ. ياران يې د مجدع _ هغه چې لاس يې نيمګړی وي _ په لټه کې شول؛ خو و يې نه موند. حضرت علي وويل: بيا يې ولټوي! پر الله تعالی چې نه دروغ وايم او نه راته دروغ ويل شوي او بيا يې عجلان ته وويل: عجلانه! د رسول الله قاطر راوړه؛ نو چې را يې ووړ؛ نو پرې سپور شو او ولاړ او ځان يې مړيو ته ورساوه او و يې ويل: دلته يې ولټوئ. لټه پيل شوه او تر مړيو لاندې يې راوايست،

چې په اوبو او ختو کې ډوب شوی و او په اوږه يې داسې يو څه وو، چې راکش به دې کړ؛ نو د ربړ په څېر به راکش کېده او د ښځې د تي په څېر و. حضرت علي وويل: الله اکبر! پر الله تعالی قسم، چې که له غره کېده مو نه وېرېدم؛ نو درته به مو ويلي ول، چې ددې قوم وژل څومره ثواب لري.

(هيثمي؛ مجمع: شپږم ټوک، ۲۳۹مخ) له حضرت عايشې بي بي او د هغه د وينا له مخې، بزار او طبراني په اوسط کې له همدې لارې او همداراز د شپږم ټوک په ۲۳۹ مخ کې له علي او د هغه د وينا له مخې، طبراني په اوسط او صغير کې پر دوو سندونو او شپږم ټوک په ۲٤۱ مخ کې له جندب، (دارقطني؛ سنن: باب حدود: ۳٤۳ مخ)، (کنزالعمال: لومړی ټوک، ۹۲ مخ) له حاتم بن اسماعيل، (ابن حجر؛ الاصابه: شپږم ټوک، ۳٤۸ مخ) د خوارجو د وړاندوينې په اړه او داچې رسول الله يې وژونکيو ته د جنت وعده ورکړې وه او پر خوارجو يې لعنت ويلي و، روايتونه نقل کړي دي.

## د رسول الله (ص) بدني غښتلتيا ته يې په يوه کجوره يوه بوکه رااېسته

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۵۹ مخ) په خپل سند له محمد بن کعب قرظي روايتوي، چې وايي: حضرت علي بن ابيطالب وويل: داسې وخت به و چې ما او رسول الله به له لوږې تيږه پر نسونو تړلې وه او نن مې صدقه دېرش زره درهمو ته رسي.

(ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ٤٦۵ مخ) له عبدالرزاق ثوري له ابي حيان تيمي له پلاره روايتوي، چې وايي: حضرت علي بن ابيطالب مې پر ممبر وليد چې وايي: څوک دې زما توره وپېري او که ما نغدې درلودای؛ نو جامې به مې پرې اخستی وای او خپله توره به مې نه پلورله. يو سړي وويل: موږ به د يو جوړ جامو هومره پور درکړو. د حديث نقل کوونکي بيا د عبدالرزاق له خولې وايي: دا د هغه چا خبره ده، چې له شام پرته نوره ټوله دنيا يې په واک کې وه.

دا روايت (ابن سعد؛ طبقات: شپږم ټوک، ۱٦۵ مخ) له ابي رجاء، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۹ مخ) له علي بن ارقم له پلاره نقل کړی، چې د متقي په روايت کې راغلي، چې راوي وايي: علي مې د سلطنت پر مهال د کوفې په بازار کې وليد، چې خپله توره پر خلکو پلوري، چې څوک شته چې دا توره مې پېري؟ او ما څو ځل پر همدې توره رسول الله له ستونزو رااېستی دی او که د يو لونګ هومره نغدې مې درلودې؛ نو نه به مې پېرله.

دا روايت (ابونعيم؛ حلية: لومړی ټوک، ۸۳ مخ) په عبارت کې په لږ اختلاف نقل کړی دی.

(صحیح ابن ماجه: باب رهون) په خپل سند له حضرت ابن عباس روایتوي، چې وایي: یوه ورځ حضرت علي ولیدل، چې رسول الله له لوږې کمزوری شوی؛ نو په مزدورۍ پسې ووت، چې رسول الله ته پرې څه راوړي، چې د یو یهودي بڼ ته ورسېد او ورته یې اولس بوکې راوایستې او د هرې بوکې پر وړاندې یې یوه کجوره په مزدورۍ کې واخسته او رسول الله ته یې راوړې.

په یو بل روایت کې، چې په (بیهقي؛ سنن: شپږم ټوک، ۱۱۹ مخ) کې راغلی؛ رسول الله وپوښتل: علي! دا دې له کومه راوړې؟ ورته یې وویل: ستا کمزوري مې چې ولیده؛ نو په مزدورۍ پسې ووتم، چې تاسې ته پرې خواړه راوړم. رسول الله (ص) وویل: له الله تعالی او استازي سره یې مینې دې کار ته اړ کړې. علي وویل: هو! رسول الله وویل: هغوی چې له الله تعالی او استازي سره یې مینه کوي؛ نو بېوزلي به داسې په ځغاسته ورپسې راشي؛ لکه نېز؛ بلکې تر هغه هم په ځغاسته؛ نو څوک چې له الله تعالی او استازي سره یې مینه کوي؛ باید وسلوال وي؛ یعنې سینه یې پراخه وي او صبر وکړي.

(کنزالعمال: څلورم ټوک، ۵۲ مخ) دې ورته یوه بله کیسه له ابي قلابه نقل کړې ده.

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۳۲ مخ) له حضرت اسماء بنت عمیس د رسول الله له لور بي بي فاطمې روایتوي، چې وایي: یوه ورځ رسول الله له موږ کره راغی او و یې پوښتل: زامن مې حسن او حسین چېرې دي؟ ما وویل: په کور کې مو څه نه درلودل؛ نو علي وویل، چې کېدای شي ماشومان وژاړي او خپه دې کړي؛ نو له ځان سره یې بهر وړم. رسول الله په علي پسې ووت او هغه یې د یهودي په بڼ کې وموند، چې حسن او حسین د هغه د بڼ په چمن کې لوبې کولې. رسول الله وویل: علي! د هوا تر گرمېدو مخکې ماشومان کور ته یوسه. علي وویل: په کور کې مو خواړه نه درولودل؛ نو ډېره به ښه شي، چې دلته کېنئ، چې مزدوري وکړم او د فاطمې لپاره یو څه کجورې یوسم. رسول الله کېناست او علي څو بوکې نورې اوبه هم یهودي ته راوایستې او یهودي ورته په مزدورۍ کې څو کجورې وکړې او هغه یې په خپل څادر کې کېښووې او راغی؛ رسول الله یو ماشوم او علي بل ماشوم په غېږ کې راونیول او راغلل.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۳۵ مخ) په خپل سند له مجاهد روایتوي، چې حضرت علي وویل: یوه ورځ په مدینه کې خورا وږی شوم او له ښاره بهر ووتم، چې په بېنوکې مزدوري وکړم او هلته مې یوه ښځه ولیده، چې ډېرې لوټې یې راغونډې کړي؛ نو احتمال مې ورکړ، چې غواړي خټه ترې جوړه کړي؛ نو ورمخکې شوم او خبره مې ورسره وکړه، چې د هرې بوکې اوبه را ایستو پر وړاندې به یوه کجوره مزدوري راکړي؛ شپاړس بوکې

اوبه مې راوايستې، چې لاسونه مې تښاکې شول او بيا مې ورته دوه لاسونه ونيول، چې کجورې دلته راواچوه؛ شپاړس کجورې مې وشمېرلې او رسول الله ته مې راوړې او کيسه مې ورته وکړه او د خېر دعا مې ترې وغوښته.

## د علي کرم الله وجهه زهد

(حلية اولياء: لومړی ټوک، ۸۰ مخ) په خپل سند له علي بن ربيعه والبي له حضرت علي بن ابيطالب روايتوي، چې ابن نباج وويل: اميرالمؤمنينه! بيت المال له ژېړو او سپينو ـ سرو او سپينو زرو ـ ډک شوی دی. حضرت علي وويل: الله اکبر! بيا يې د ابن نباج پر لاس تکيه ووهله او پاڅېد او د بيت المال پر ايشلو بوخت شو او دا شعر يې له ځان سره وايه:

هذا جناى و خياره فيه و کل جان يده الى فيه

دا دي هغه څه ـ له مېوو ـ چې ما ډېرې کړي، چې رسېدلي او خواږه يې هم دلته دي؛ خو بې له ما چې چا څه ډېری کړي وو، خوړل يې او تل يې لاسونو په خولو کې وو.

بيا يې وويل: ابن نباجه! خلکو ته ووايه، چې راشي. بيا منادي ټولو ته غږ وکړ او ټول راغلل او هغه څه چې په بيت المال کې وو، ټول يې ورکړل، حال دا، ويل يې: ژېړو! سپينو! زما پر ځای بل وغولوئ او له دې او هغه زړه يوسئ. ترڅو چې يو دينار او درهم هم پاتې نه شو او بيا يې حکم وکړ، چې گودام جارو کړئ او په خپله يې هلته لمونځ وکړ.

دا روايت او ورته يو بل روايت علي بن سلطان د مرقاة د پينځم ټوک په ۷۵۰ مخ کې راوړی او احمد بن حنبل ته يې نسبت ورکړی، هيثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۳۱ مخ کې له عبدالله بن نجا او ابن عبدالبر د استيعاب د دويم ټوک په ٤۲۵ مخ کې له عنتره شيباني او. . . .

(ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ٤٦۵ مخ) په خپل سند له ابحر بن جرموز له پلاره جرموز روايتوي، چې وايي: حضرت علي بن ابيطالب مې په کوفه کې وليد، چې له جوماته راووت، حال دا، دوه قطري ټوکران ـ چې د هغه وخت تر ټولو ارزان بيه ټوکران وو ـ يې پر تن وې، چې له يوې يې لونگ او په ملا پورې يې تړلې وه او بله پر ولي اوچولې وه، کوړه يې په لاس کې وه او د کوفې په بازار کې گرځېد او خلک يې تقوی، رښتينولی، په معامله کې انصاف او په تله کې ډانډی نه وهلو ته رابلل او له ابوقيس اودي روايتوي، چې وايي: خلک يې درې ډلې ليدل: ۱ـ ديناداران، چې حضرت علي يې خوښ و. ۲ـ پر دنيا زړه بايلونکي، چې معاويه يې خوښ و. ۳ـ خوارج چې نه يې دين درلود او نه دنيا.

(کنزالعمال: دویم ټوک، ۱۶۱ مخ) له ابي جعفر روایتوي، چې وایي: حضرت علي به کجوره او وریسې به یې د اوبو گوټ کاوه او بیا به یې لاس پر خپله ګېډه واهه او ویل به یې: بدمرغه هغه دی، چې ګېډه یې اور ته ورواچوي او له خدایه یې له لرې کړي او بیا یې دا شعر ووایه:

فانک مهما بطنک سوله و فرجک نالا منتهی الذم اجمعا

که تا د نفس واګې له لاس ورکړې او هر هغه څه چمتو کړې، چې ګېډه او شهوت یې درځني غواړي؛ نو پوه شه، چې د ځان په رټنه او بې غیرته کولو کې دې هڅه کړې ده.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۴۰۹ مخ) له عمرو بن قیس او د شپږم ټوک په ۴۱۰ مخ کې له ابي مطر دوه روایتونه نقل کړي، چې د دویمې خلاصه یې داسې ده، چې ابي مطر وایي: له جوماته راووتم، چې یو سړي غږ وکړ: که مسلمان یې؛ نو لمن دې راټوله کړه، چې هم تقوی ته نږدې ده او هم دې جامې پاکې پاتې کېږي او له سره دې واخله ـ کېدای شي اوږده ویښتان او یا بې ماډله خولې یې درلوده ـ شا ته مې چې ولیدل؛ نو ګورم چې حضرت علي بن ابیطالب دی؛ کوړه یې په لاس کې ده؛ نو وریسې شوم، چې د مال پلورو بازار ته ورسېد او پر لوړ غږ یې وویل: وپلورئ؛ خو قسم مه خورئ، چې په معامله کې قسم ګټه راوړي؛ خو برکت یې له منځه وړي. بیا کجورپلورو ته ورغی؛ نو و یې لیدل، چې یو خادم ژاړي؛ نو د ژړا د علت پوښتنه یې ترې وکړه. ورته یې وویل: له دې ښاغلي مې په درهم کجوره اخستې؛ خو بادار مې قبوله نه کړه او اوس یې بېرته نه اخلي. حضرت علي وویل: کجوره بېرته واخله او پیسې یې بېرته ورکړه؛ ځکه خادم خو له ځانه واک نه لري. سړي غوښتل و یې نه مني. ما ورته حضرت علي بن ابیطالب ورمعرفي کړ او هغه د عذر له مخې وویل: امیرالمؤمنینه! خوښ به شم، چې تاسې راځني خوښ شئ. حضرت علي وویل: چې کله له خلکو سره سمه معامله وکړې؛ نو درنه به خوښېږم او بیا یې ټولو کجور پلورو ته وویل: له خپلو کجورو مو یو څه پر بېوزلیو وخورئ، چې کسب مو وده وکړي. بیا د کب پلور بازار ته ورغی او و یې ویل: زموږ د مسلمانانو په بازار کې باید طافي ـ یو ډول پرته له پولکونو کب دی ـ و نه پلورل شي. بیا د بزازانو ځای ته ورغی، چې هلته یې کرباسونه پلورل، چې یو بوډا ته یې وویل: درې درهمه له ما واخله او ښه کمیس راکړه؛ نو بیا چې کله پوه شو او و یې پېژاند، چې علي بن ابیطالب دی؛ نو څه یې ترې وا نه خستل؛ بلکې یو ځوان ته ورغی او پر درې درهمه یې یو کمیس واخست، چې پښو ته یې رسېده؛ نو ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې د هغه ځوان پلار ته ورسېدل، چې زوی دې پر درې درهمه پر امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب کمیس پلورلی؛ نو پلار یې نیوکه وکړه، چې ولې دې ترې دوه درهمه وا نه خستل او هغه اضافه درهم یې ترې واخست او په علي پسې یې ورمنډې کړې او ورته یې وویل: دا یو درهم واخله او

ورته يې وويل: زموږ د كميس بيه دوه درهمه وو او زوی مې پوه نه شو، چې پر تاسې يې پـر درې درهمه وپېره. حضرت علي وويل: زموږ او په خپله خوښه معامله تر سره شوې او پای ته رسېدلې ده.
متقي بيا وايي: دا روايت ابن راهويه، احمد د زهد په كتاب كـې، عبـد بن حميـد، ا بويعلي، بيهقي او ابن عساكر هم نقل كړی دی.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۳۰ مخ) له حضرت ابن عباس او ددويم ټوک په **۲۲۹** مخ كـې له علي دوه روايتونه راوړي، چې په دويمي كې يې حضرت علي بن ابيطالب وايي: رسول الله وويل: علي څنگه به يې، چې خلک د اخرت پر وړاندې زاهد؛ خو د دنيا پر وړاندې حريص وي، د يو بل پر ارث گېډه واچوي او پر مړه گېډه له مال سره مينه ولري او د الله تعالی دين د دوكو لپاره وكاروي او بيت المال غنيمت وگڼي؟ علي وويل: خلک به پر خپل حـال پرېـږدم او په خپله به الله تعالی، استازی او اخرت په پام كې ونيسم او د دنيا كړاوونو او خپگـانونو تـه به سينه پراخه كړم، چې انشاء الله له تا سر يو ځای شم. رسول اللـه وويـل: رښـتيا دې وويـل: خدايه بريالی يې كړې.
(رياض النضره: دويم ټـوک، ۲۳۰ مـخ) وايـي: لـه عـلي بن ربيعـه روايـت دی چـې و ايـي: حضرت علي دوه مېرمنې درلودې؛ نو كله به چې ددې ښځې وار شو؛ نو د نيم درهم غوښه به يې اخسته او كله به چې د هغه بلې ښځې هم وار شو؛ نو بيـا بـه يـې هـم د نـيم درهـم غوښـه اخسته.
(ذخاير العقبی: **۹۳** مخ) له ابي الحمراء روايتوي، چـې وايـي: رسـول اللـه وويـل: كـه څـوک غواړي داسې سړی ووينې، چې د آدم علم، د نوح فهم، د ابراهيم حلـم، د يحيـی بن زكريـا زهد او د موسی قدرت او مړانه ولري؛ نو علي بن ابيطالب دې وگوري.

## د حضرت علي عدالت، پاكلمنتوب او تقوی

(حلية الاولياء: لومړی ټوک، ۸۲ مخ) په خپل سند له عبـدالملک ا بن عمـير روايـتوي، چـې وايي: د ثقيف د ټبر يو سړی راروايتوي، چې زه حضرت علي بن ابيطالـب د عكـبر د سـيمې واكمن كړم او راته يې وويل: ماسپښين ما ته راشه. زه ورغلم؛ خو د كـور د وره مخـې تـه يـې ساتندويان نه وو او و مې ليدل، چې په كور كې ناست او ورسره د او بو كاسـه او كـوزه ده او غږ يې كړ: هغه زما ظبيه (هغه انبانه چې د اوسی له پوټكي جوړېږي او ويښـتان تـرې نـه وي غوڅ شوي) راوړئ. ما له ځان سره وويل: زه ورته امين ښـكارم او غـواړي گـران بيـه مرغلـه

راسره امانت کېږدي؛ خو کله یې چې مهر او موم هخوا کړل؛ نو و مې لیدل، چې زړه وړه پکې دي؛ یو څه یې ترې راواخستل او په کاسه کې یې واچول او پر اوبو یې خیشته کړل او بیا یې وخوړل؛ نو ما خوله بنده و نشوه ساتلای او ورته مې وویل: په عراق کې د نعمت له دې دومره پراخۍ سره دا څه دي، چې تاسې یې خورئ. و یې ویل: پر الله تعالی چې د کنجوسۍ له مخې دا انبانه نه موموم؛ خو د خپلو خوړو حساب له ځان سره لرم؛ وېرېږم، چې له مودې مخکې خلاص شي او بیا د کورنۍ عذر د نور خلکو د خوړو په خوړولو کې موجه شي او ما و نه غوښتل پر حلال او پاک رزق سربېره نور خواړه په ګېډه کې واچوم.
دا روایت (ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۳۵ مخ) کې راوړی او د الصفوة او ملا سیرة ته یې نسبت ورکړی دی.
(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ۸۲ مخ) په خپل سند له هارون بن عنتره له پلاره روایتوي، چې وایي: په خورنق ـ د عراق یوه سړه سیمه ده ـ کې حضرت علي بن ابیطالب ته ورغلم او و مې لیدل، چې یوازې یو څادر لري او له سړو رچېږي؛ نو ورته مې وویل: امیرالمؤمنینه! الله تعالی تا او کورنۍ ته دې دومره مال درکړی او تاسې پر خپل نفس داسې کوئ. و یې ویل: پر الله تعالی چې ستاسې له مال مې هېڅ هم نه دي اخستي او دا څادر هم چې ګورې له کوره ـ او یا یې وویل: ـ له مدینې مې له ځان سره راوړی دی. په هماغه کې یو بل روایت دی چې وایي: خواړه به یې هم له مدینې راتلل.
(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ۸۱ مخ) په خپل سند له ابي عمرو بن علاء له پلاره روایتوي، چې یوه ورځ علي په خطبه کې وویل: قسم پر هغه الله تعالی، چې بې له هغه بل معبود نشته، چې ستاسې له بیت الماله مې هېڅ هم نه دي اخستي او نه مې ځان ته زېرمه کړي؛ پرته له دې ـ خپل لاس یې په لستوڼي کې کړ او یوه خالي هنداره یې راوایسته ـ چې ازاد شوي مې راته په ډالۍ کې راوړې ده.
دا روایت ابونعیم هم د نهم ټوک په ۵۳ مخ کې او همداراز متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ٤۰٦ مخ کې نقل کړی دی.
(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۲٤ مخ) په خپل سند له عبدالملک بن عمیر روایتوي، چې وایي: د ثقیف د ټبر یو سړي راروایت کړل، چې حضرت علي بن ابیطالب د سالور د ښار د مالیاتو د راټولولو دنده ورکړه او راته یې وویل: څوک د مالیاتو اخستو لپاره پر کوره و نه وهې او له رزق یې زکاة مه اخله او د اوړي او ژمي له جامو او له سورلو هم مالیات مه اخله، چې پرې سپرېږي او څوک د پیسو اخستو په موخه ولاړ مه ساته. ورته مې وویل: امیرالمؤمنینه! داسې چې تاسې ویاست؛ نو څنګه تش لاس چې ځم؛ نو همداسې تش لاس به راستون شم. راته

يې وويل: كه راستون شوې؛ نو څه به وشي؟ پر ځان ووېرېږه! موږ دنده لرو، چې په اضافه مال کې ترې زكات واخلو.
(صواعق محرقه: ۷۹ مخ) له ابن عساکر روایتوي، چې وايي: چې كله عقيل (د علي رور) له علي د مرستې غوښتنه وکړه، چې بېوزله يم او اړين يم؛ نو علي وويل: صبر وکړه، چې له نورو مسلمانانو سره يو ځای دې تنخواه واخلې. عقيل ټينګار وکړ. علي يو سړي ته وويل: له لاسه يې ونيسه (؛ ځكه عقيل ړوند و) او بازار ته يې يوسه او ورته ووايه، چې د دوكانونه قلفونه مات كړي او څه يې چې خوښه وي، را اوچت دې کړي. عقيل وويل: غواړې سبا مې د غلا پر جرم بندي کړې. علي وويل: لكه څنګه چې ته غواړې سبا ما د غلا پر جرم مواخذه کړې؛ ځكه غواړې د مسلمانانو مال راواخلم او تا ته يې درکړم. عقيل وويل: اوس چې داسې شوه؛ نو زه هم معاويه ته ورځم. علي وويل: دا ته او معاويه. عقيل معاويه ته ورغی او هغه هم سل زره درهمه ورکړل او بيا يې وويل: بايد پر ممبر کېني او هغه څه خلكو ته ووايې چې ما او علي درسره څه کړي دي. عقيل د شام پر ممبر کېناست او و يې ويل: ايهاالناس! غوښتل مې د علي دين په لاس كې ونيسم؛ خو هغه خپل دين واخست او زه يې له لاسه ورکړم. شام ته راغلم او له معاويه مې د هغه دين وغوښت او هغه خپل دين راكړ او زه يې لاس ته راوړم.
د صواعق محرقه خاوند وايي: معاويه له خالد بن معمر پوښتنه وکړه: ولې علي پر موږ وړ ګڼې؟ ورته يې وويل: پر درې دليلونو: ۱_ حلم يې چې كله غوسه شي. ۲_رښتيا يې چې كله وينا كوي. ۳_عدالت يې چې كله حكم كوي.
(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۳٦ مخ) له عمر بن يحيی له پلار روايتوي، چې د شاتو او غوړيو څو لوښي يې حضرت علي ته ډالۍ راوړې؛ نو چې كله حضرت علي پوه شو، چې د يو لوښي سر خلاص شوی؛ نو څېړنه يې وکړه، چې ورته يې وويل: ام كلثوم ترې اخستي دي. علي يو هټيوال راوغوښت، چې كم شوی مال بيه کړي او هټيوال هم پينځه درهمه بيه کړل. حضرت علي په ام كلثوم پسې يو كس ولېږ، چې پينځه درهمه راولېږه.
دا روايت د صفوة د کتاب خاوند هم نقل کړی او همداراز عاصم بن كليب نقل كړي، چې كله له اصفهان څخه حضرت علي ته مال ولېږل شو؛ نو علي پر اوو برخو وويشل او په هغه مال کې يې يوه ډوډۍ وليده، چې بيا يې هم پر اوو برخو وويشله او بيايې په اوو كسانو كې پچه واچوله چې هر يو ته كومه برخه ورسي.
او همداراز ابي صالح روايتوي، چې وايي: له ام كلثوم د علي له لور كره ولاړم، چې د پردې تر شا ږومنځه وهي، چې ورونه يې حسن او حسين راغلل چې ام كلثوم خپلو رورنو ته وويل: ابا صالح ته خواړه نه وركوئ؟ حسن او حسين راته د يو لوښې شورا راوړه، چې په کې

حبوبات هم وو. پوښتنه مې وکړه: آیا ددې په خاطر مېلمنو ته مو شورا ورکوئ، چې د خلکو واکمنان یاست؟ ام کلثوم وویل: که امیر المؤمنین علي دې لیدلای و؛ نو څه به دې کړي ول، چې کله ورته ترنج راوړل شول؛ نو کله یې چې یو زوی مخکې له ویشه یو دانه واخسته؛ نو علي یې له لاسه واخسته او بیا یې پر ټولو وویشه.
(هیثمي؛ مجمع: ۱۵۸، ۱٦٥ مخونه)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۳ مخ) او (د بغداد تاریخ: لومړی ټوک، ٤۹ مخ) د علي د عدالت، قضاوت او پر خلکو د پام په اړه روایتونه نقل کړي دي.

## د علي تواضع، سخاوت او ښېنه

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۳٤ مخ) له زادان روایتوي، چې وایي: علي مې په بازار کې ولید، چې د بوټانو تسمه یې په لاس کې ده او چې لیدل به یې چې د چا د بوټ تسمه شلېدلې؛ نو هغه ته به یې ورکوله او که چا به ترې پته غوښته؛ نو لارښوونه به یې ورته کوله او که چا به د بار وړونکی په کار و؛ نو علي به ورسره بار تر مزله وړه او تل به یې ویل: (تلک الدار الاخرة نجعلها للذین لا یریدون علوا فی الارض و لا فساد والعاقبة للمتقین) او بیا به یې ویل: دا آیت د قدرت د خاوندانو په اړه راغلی دی.
(بخاري؛ ادب المفرد: باب تکبر) په خپل سند روایتوي، چې وایي: حضرت علي مې په بازار کې ولید، چې پر درهم یې کجورې واخستې او په هماغه پوزي کې یې کور ته یووړې. ما وویل: امیرالمؤمنینه! اجازه راکړئ، درسره یې یوسم. علي وویل: د وړو پلار یې وړوو ته وړ دی.
دا روایت علي بن سلطان هم د مرقاة د پینځم ټوک په ۵۰۷ مخ کې راوړی او د بغوي معجم کتاب ته یې نسبت ورکړی دی.
(بیهقي؛ سنن: لسم ټوک، ۱۳٦ مخ) په خپل سند له شعبي روایتوي، چې وایي: یو ورځ حضرت علي بن ابیطالب ته ولاړو، چې یو نصراني یې ولید، چې یوه زره پلوري. حضرت علي هغه زره ته وکتل او هغه یې خپله وموندله او و یې ویل: دا زره زما ده او زما او ستا په منځ کې به حکم د مسلمانانو قاضي کوي او پر هغه ورځ قاضي شریح و، چې حضرت علي ورته د ورمندون دنده ورکړې وه؛ نو چې کله شریح علي ولید؛ نو له خپل ځایه راپاڅېد او علي یې پر خپل ځای کېناوه او په خپله د نصراني تر څنگه کېناست. علي شریح ته وویل: که مقابل لوری مې مسلمان و؛ نو زه به ورسره په څنگ کې ناست وم؛ خو ددې لپاره چې نصراني دی، چې د الله تعالی له استازي مې اورېدلي: ((پر دوی ړومبی سلام مه کوئ، سترې مه شي هم

ورسره مه کوئ، د ناروغانو پوښتنې ته يې مه ځئ، تنگسه پرې راوړئ، سپکاوی يـې وکـړئ؛ لکه چې الله تعالی يې سپکاوی کړی دی))؛ نو د همدې لپاره مې له هغه سره ځـان برا بر نـه کړ؛ نو اوس زما او د هغه تر منځ قضاوت وکړه. شريح وويل : اميرالمؤمنينه! څه دعوی لـرئ؟ علي وويل: خپله زره مې چې ورکه کړې وه، له ده سره مې ومونده. شريح نصراني ته مخ کـړ او ورته يې وويل: ته په کې څه وايې؟ نصراني وويل: زه اميرالمؤمنين نه تکذيبوم؛ خو يوازې دومره وايم، چې دا زره زما ده. شريح علي ته وويل: د شاهدانو له راوړو پرته نشې کـړای زره ترې لاس ته راوړئ. د اميرالمؤمنين دا خبره خوښه شوه او د قاضي خـبره يـې تصـديق کـړه. نضراني وويل: خو زه دا خبره تصديقوم چې دا قانون د انبياو قـانون دی، چـې د واکمنـانو او ولس تر منځ توپير نه قايليږي او امير په محکمه کې حاضريږي او قاضي يې پر خلاف حکم هم ورکوي او بيا يې اميرالمؤمنين ته مخ کړه او ورته يې وويل: دا زره ستاسـې ده؛ زه سـتا پـه اوښ پسې وم، چې زره دې پرې اچولې وه او ترې راگوزاره شوه او ما را اوچته کـړه او اوس شهادت ورکوم، چې بې له خدايـه بل اللـه تعـالی نشـته او محمـد يـې بنـده او اسـتازی دی. حضرت علي وويلل: اوس چې مسلمان شوې؛ نو زه مې زره دربښم او يو گرانبيه اس يې هـم ورکړ.

دا روايت متقي د کنزالعمال د څلورم ټوک په ٦ مخ کې هم راوړی دی.

(کنزالعمال: درېيم ټوک، ٣٢٤ مخ) له اصبغ بن نباته روايتوي، چې وايـي: يـو سـړی حضـرت علي ته راغی او ورته يې وويل: اميرالمؤمنينه! يوه اړتيا لرم او تر تا مخکې مې اللـه تعـالی تـه هم ويلې؛ نو که تا مې اړتيا پوره کړه؛ نو د الله تعالی شکر به وکړم او که پوره يې هم نه کړې؛ نو بيا به هم د الله تعالی شکر کوم او تا به معذور وگـڼم. حضـرت عـلي وويـل: اړتيـا دې پـر ځمکه وليکه؛ ځکه خوښ نه يم د سوال ذلت دې په څېره کې ووينم او سړي هم پر ځمکـه وليکل: اړين يم. علي ورته ټوټه ورکړه، چې هغه سړي داسې شعرونه وويل، چې د هغه سړي د کمال او معرفت څرگندونه يې کوله؛ نو چې کله حضرت علي يې کمال او معرفت وليد؛ نو غږ يې کړ: دينار راوړئ. دينار يې ورته راوړل. اصبغ وايي: ورته مې وويل: اميرالمؤمنينه! يوه ټوټه او سل ديناره يوه سړي ته ورکوئ. حضرت علي وويل: هو! د الله تعالی له اسـتازي مـې اورېدلي ول، چې ويل يې: ((له خلکـو سره د هغـوی د مقـام او منزلـت لـه مخـې احسـان او درناوی يې کوئ)) او ددې سړي مقام او منزلت له ماسره همدومره و.

متقي په اخر کې وايي: دا روايت ابن عساکر او ابوموسی مدني هم نقل کړی دی.

(رياض النضره: دويم ټوک، ٢٢٨ مخ) له جعفـر بن محمـد لـه پـلاره روايـتوي، چـې وايـي: حضرت عمر د ينبع په نامه يوه ځمکه حضرت علي ته ورکړه او حضرت علي يې پـه څنـگ

کې نوره ځمکه هم واخسته او په کې یې کارېز وایست؛ نو په همدې ترځ کې، چې کارګرانو پکې کار کاوه؛ نو د اوښ د اورمېږ هومره چینه پکې راوخوټېده، چې پر حضرت علي یې زېری وکړ. حضرت علي وویل: پر وارث یې زېری وکړئ او بیا چینه بېوزلیو، مسکینانو، ابن السبیل او في السبیل الله یې خپلوانو، پردیو، نږدېو، لرېو، د جګړې په حال، د سولې په حال او... ته وقف کړه او په پای کې یې ولیکل: حضرت علي ځکه دا کار وکړ، چې پر هغه ورځ، چې ځینې څېرې سپینې او ځینې تورې شي، چې خپله څېره له اوره وساتي.

(کنزالعمال: درېیم ټوک، ۳۱۰ مخ) له عبیدالله بن محمد بن عایشه یو روایت نقل کړی، چې خلاصه یې داده: یوه ورځ یو سوالګر له حضرت علي یو څه وغوښتل. حضرت علي ورته هغه شپږ درهم ورکړل، چې د اوړو اخستو لپاره یې ساتلي ول او د ورکولو پر مهال یې وویل: ((د یوه بنده ایمان هله نږه کېږي، چې پر هغه څه ډاډ ولري، چې له الله تعالی سره یې لري؛ نه پر هغه څه چې له خلکو سره یې لري.))

راوي وایي: تر اوسه لا علي نه و ناست و، چې یو سړی له اوښ سره تېر شو حال دا، ویل یې: څوک دا اوښ پېري؟ حضرت علي وویل: بیه یې څو ده؟ و یې ویل: یو سل او څلوېښت درهمه. حضرت علي وویل: که په نسیه یې ورکوې؛ نو اخلم یې. سړی له خپل اوښه راکوز شو، چې خپل درهم واخلي، چې یو بل سړی راورسېد او پوښتنه یې وکړه: دا اوښ پېرې؟ حضرت علي ورته و یې ویل: هو! سړي وویل: په څو؟ و یې ویل: په دوه سوه درهمه. و یې ویل: اخلم یې. اوښ یې واخست او دوه سوه درهمه یې ورکړل. حضرت علي ولاړ او یو سل او څلویښت درهمه یې د اوښ پلوري ته ورکړل او شپېته درهمه یې بي بي فاطمې ته ورکړل او د پیښې کیسه یې ورته وکړه، چې دا هغه ژمنه ده، چې الله تعالی له نېکچارو سره کړې ده او و یې ویل: (من جاء بالحسنه فله عشر امثالها)

(ذخایر العقبی: ۷۹ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۳، ۳۹۲ مخ) او (بیهقي؛ سنن: اتم ټوک، ۱۸۱ مخ) هم د حضرت علي د سخاوت، ښښې او تواضع په اړه روایتونه نقل کړي دي.

**د الله تعالی له حقه په دفاع کې پرېکندتوب**

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۳٤مخ) له حضرت ابو سعید خدري، (احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ٦۸ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ۷۳٦ مخ) له حضرت زینب بنت کعب عجرة، (ابن جریر طبري؛ تاریخ: دویم ټوک، ٤۰۲ مخ)، (ابن عبدالبر؛ استیعاب:

دويم ټوک، ٤٦٥ مخ)، (حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦٨ مخ) او رياض النضره: دويم ټوک، ١٩٦ مخ) په دې اړه روايتونه نقل کړي، چې د روستي خلاصه يې داده:
محب طبري له حضرت محمد بن زياد روايتوي، چې وايي: يو کال حضرت عمر بن خطاب حج ته تللی و، چې يو سړی ورته راغی او و يې ويل: په طواف کې يې زما سترګه خوږه کړې ده. حضرت عمر وپوښت: چا وهلی يې؟ و يې ويل: علي بن ابيطالب. حضرت عمر وويل: هېښنده ده، چې د الله تعالی سترګه پر تا لوېدلې او نوره يې پوښتنه ونه کړه، چې ولې يې خوږ کړی يې؟ تردې چې پخپله علي بن ابيطالب، حضرت عمر بن خطاب ته راغی، چې هغه سړی هم له حضرت عمر سره ناست و. حضرت عمر وپوښتل: علي! ولې دې دا سړی وهلی دی؟ حضرت علي په خپله وويل: و مې ليد، چې د الله تعالی د کور د طواف پر مهال د خلکو ښځو ته ګوري. حضرت عمر وويل: ته تل د الله تعالی نور ته پام کوې.
(ذخاير العقبی: ٢٢٣ مخ) له حضرت ابن عباس روايتوي، چې د مکې د سوبې پر مهال رسول الله له ام هاني د حضرت علي له خور کره ولاړ، چې ام هاني وويل: رسول الله! زما زومان، چې ټول مشرکان دي، د علي له وېرې له ما کره پټ شوي او تاسې په خپله پوهېږئ، چې د الله تعالی پر وړاندې علي خپل او پردی نه پېژني؛ نو مخکې له دې، چې د علي په لاس ووژل شي؛ نو له تاسې غواړم حکم وکړئ، چې هغوی په امان کې دي، چې د ام هاني په کور کې يې پناه اخستې وي. رسول الله حکم ورکړ، چې چغې کړئ، چې چا ته چې ام هاني پناه ورکړې، موږ هم پناه ورکړې ده.
(ابن عبدالبر؛ استيعاب: دويم ټوک، ٤٦٩ مخ) روايتوي، چې کله علي بن ابيطالب شهيد شو او خبر يې عايشې بي بي ته ورسېد؛ نو و يې ويل: تر نن روسته، چې د عرب څه خوښه وي، و دې کړي؛ ځکه څوک نشته، چې مخه يې ونيسي.

## د الله تعالی ذکر

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٥١ مخ) په خپل سند له عبدالرحمان بن ابي ليلي له حضرت علي بن ابيطالب روايتوي چې وايي: پخپله بستره کې ويده وم، چې رسول الله رانووت او خپله پښه يې زما او د فاطمې په منځ کې را اوږده کړه او و يې ويل: تر څملاستو مخکې درې دېرش ځل سبحان الله، درې درېرش ځل الحمدالله او څلوردرېرش الله اکبر ووياست. حضرت علي وايي: موږ دا سپارښتنه هېڅکله هم هېره نه کړه. يو سړي، چې د علي

دا ادعا و نه منله؛ نو له علي يې وپوښت: آيا د صفين په شپه دې هم هېره نه کړه. حضرت علي وويل: هو! د صفين په شپه مې هم هېره نه کړه.
دا روايت (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱٤٤ مخ او همداراز دويم ټوک: ٦٦۱ مخ) هم نقل کړی او ويلي يې دي: پوښتونکی الکواء و او ابن حجرعسقلاني پوښتونکی ا شعث بن قيس ښوولې، چې د حضرت علي له دښمنانو و.
(حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦۹ او ۷۰ مخونه) دوه روايتونه راوړي، چې دويمی يې له ا بن اعبد نقل کړی، چې وايي: حضرت علي راته وويل: ابن اعبد! آيا خبر يې چې د خوړو حق څه دی؟ ورته مې وويل: نه! راته يې وويل: داچې تر خوړو مخکې ووايې: بسم الله الرحمن الرحيم _ خدايه په روزئ کې مې برکت واچوې. بيا يې وويل: خبر يې، چې د خوړو شکر څه دی؟ ورته مې وويل: نه! و يې ويل: داچې ووايې: شکر د هغه الله تعالی، چې م خواړه او اوبه يې راکړې. بيا يې راته وويل: غواړې خپله او د رسول الله د لور د فاطمې کيسه درته وکړم؛ هغه د الله تعالی پر استازي تر ټولو گرانه او سره له دې، چې زما مېرمن وه، دومره مېچنه يې وکړه، چې لاسونه به يې تڼاکې شول، دومره د او بو بوکې يې راوايستې، چې اوږه يې خوږه شوه، دومره جارو يې ووهله، چې جامې يې خړې شوې، تر دېگ لاندې اور بلولو تـه يې دومره پوکي ورکړل، چې له جامو يې د لوږي بوي راته او ډېر کارونو يې ملا ماته کړه؛ نو په هغه ورځو کې يې خورا زيات خادمان او مريان رسول الله تـه راوړي ول، چې ما وويل: څه به شوي وای، چې پلار ته دې ورغلې وای او يو خادم يې درکړی و؟
په دې او ړومبي حديث کې چې راوي يې شبث بن ربعي دی، راغلي: فاطمه درې شپې او ورځ رسول الله ته ولاړه؛ خو له دې وړانديزه شرمېده، چې په څلورمه شپه ښځه او مېړه دواړه سره ولاړل، چې رسول الله وپوښتل: علي! هرومرو به کومې اړتيا راوړي ياست. علي وويل: هو! د خادم د نه درلودو امله په تنگسه کې يو. رسول الله وويل: غواړئ داسې څه درزده کړم، چې تر ټولو نعمتونو يې ارزښت ډېر وي؟ ورته مو وويل: ولې نه! پېغمبر وويل: ((تر ويدېدو مخکې سل ځل تکبير، حمد او تسبيح ووياست، چې له زر حسنو سره ويده شئ او سل ځل يې په سهار کې ووياست، چې له زر حسنو سره راويخ شوي ياست.)) او ما د رسول الله د ا سپارښتنه هېڅکله هېره نه کړه؛ خو د صفين په شپه، چې راپاڅېدم او تسبيحات مې وويل.

## حضرت حضرت معاویه بن ابي سفیان ته د ضرار په خبرو کې د حضرت علي کرم الله وجهه فضایل

(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ٨٤مخ) په خپل سند له ابي صالح روایتوي چې وایي: ضرار بن ضمره کناني ـ د حضرت علي تر شهادت روسته ـ حضرت معاویه بن ابي سفیان ته ورغی، چې حضرت معاویه وویل: د علي ځانګړنې راته ووایه. ورته یې وویل: که شوني وي؛ نو ما وبښئ! حضرت معاویه بن ابي سفیان وویل: نه! باید یې ووایې. ورته یې وویل: اوس مې چې نه پرېږدې؛ نو هغه یو داسې سړی و، چې د هېڅ انسان پوهې او فهم او انساني مقام نشو رانغاړلی، ډېر غښتلی او مېړنی و، خبره یې وړه خو پخه وه، حکمت یې په عدل کې و، علم ترې هرې خوا ته خورېده، له دنیا او غولولو یې سخته کرکه کوله، له شپې او تیارې سره یې ځه عجیبه الفت درلود، پر الله تعالی چې تل یې په سترګو کې اوښکې وې، فکر یې تل بوخت او لاسونه به یې تل موږل او خپل نفس ته به یې خطاب کاوه او ورسره به یې خبرې کولې، په جامو کې یې لنډې خوښې وې، په خوړو کې یې بې خونده خوښ وو، که پوښتنه به مو ترې وکړه؛ نو ځواب یې راکاوه او سره له دې، چې تل یې غوښتل، موږ ته رانږدې شي، موږ هم ورنږدې وو؛ خو دومره هیبت او دبدبه یې درلوده، چې د خبرو کولو مړانه مو ورسره نه درلوده او چې موسکی به شو؛ نو غاښونه به یې تر شونډو لاندې ښکاره شول، چې د لوء لوء په څېر به ځلېدل. د دینداراتو به یې درناوی کاوه او بېوزله پرې ګران وو، هېڅ بېوزله یې له عدالته نهیلی نه و، الله تعالی مې ګواه دی، چې د شپې په تپه تیاره کې یې خپله ږیره په لاس کې نیولې وه او له ځانه تاوېده او د مارچیچلي په څېر لوغړېده او غمجنه ژړا یې کوله، ته وا همدا اوس یې غږ زما په غوږونو کې دی او وایې: پالونکیه! پالونکیه! او د الله تعالی درشل ته یې زارۍ کولې او ویل یې: دنیا! په ما پورې نښتې یې او غواړې له ما زړه یوسې؟؛ خو دومره پوه شه، چې ستا لاس به هېڅکله را و نه رسي؛ نو ولاړه شه او د بل مخې ته ودرېږه او له نورو زړه یوسه، چې ما درې طلاقه درکړي دي؛ ځکه عمر دې لنډ، مجلس دې پرېوتی او ارزښت دې لږ دی؛ نو څومره سخته ده اوږده لار او د توښې لږوالی.

راوي وایي: چې کله د ضرار خبره دلته راورسېده؛ نو د حضرت معاویه بن ابي سفیان له سترګو اوښکې راتو یې شوې او پر ږیره یې راغلې او په غونډه کې ناست ټول کسان غمجن شول. حضرت معاویه بن ابي سفیان تر ژړا وورسته وویل: هو! ابالحسن داسې و؛ الله تعالی دې وبښي. ضراره! د علي پر مړینه څومره غمجن یې. و یې ویل: دومره؛ لکه د پلار په مخ

کې یې، چې د یوازې یو ځوان زوی سر غوڅ شي او نشي کړای د خپلو اوښکو مخه ونیسي-او زه هم داسې یم او دا یې وویل او ولاړ.
دا روایت (ابن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ٤٦٣ مخ) له حرمازي همداني، (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ٢١٢ مخ) کې هم راوړی او طبري دولابي، ابوعمرو او د الصفوه د کتاب خاوند ته نسبت ورکړی دی.
(ابونعیم؛ حلیة: لومړی ټوک، ٨٦ مخ) له سلمة بن کهل له مجاهد روایتوي، چې وايي: د حضرت علي لارویان حلیم، پوه او مړاوي دي. ډېر سائلان لري، چې د ډېر عبادت له امله پر رهبانیت پېژندل کیږي.

## حضرت علي د رسول الله له نظره

(ریاض النضره: دویم ټوک، ١٨٠ مخ)، (ذخایر العقبی: ٧٢ مخ) له حضرت عایشې بي بي روایتوي، چې وايي: رسول الله، چې د استحضار په حالت کې پرېووت؛ نو و یې ویل: حبیب مې راوغواړئ! حضرت ابوبکر ته یې غږ کړ. رسول الله سر را پورته کړ؛ نو همداچې ا بوبکر یې ولید؛ نو بېرته یې سر کېښود او ولاړل او حضرت عمر ته یې غږ کړ او بیا رسول الله سر راپورته کړل او چې و یې لیدل، چې عمر دی؛ نو بیرته یې سر کېښود او و یې ویل: حبیب مې راوغواړئ، چې ولاړل او حضرت علي ته یې غږ کړ؛ نو چې کله رسول الله ولیدل؛ نو له ځان سره یې په بستره کې دننه کړ او خپله بستره یې پر هغه هم واچوله او په غېږ کې یې راونیو او خپل لاس یې د علي په لاس کې ورکړ او له دنیا یې سترګې پټې کړې.
(هیثمي؛ مجمع: لومړی ټوک، ٢٩٣ مخ) له حضرت ابي رافع روایتوي چې وايي: رسول الله په داسې حال له دې دنیا سترګې پټې کړې، چې سر یې د حضرت علي په لمن کې و او ورته یې ویل: الله الله، چې له خپلو مریانو سره ښه چلن وکړئ! الله الله، چې لمونځ وکړئ او دا یې روستی خبره وه.
(ابن سعد؛ طبقات: دویم ټوک، دویم قسم، ٥١ مخ) له عبدالله بن محمد بن عمر بن علي او (کنزالعمال: څلورم ټوک، ٥٥ مخ) دوه روایتونه نقل کړي، چې په دویمي کې یې راغلي، چې حضرت علي وویل: رسول الله ناروغ و؛ نو چې کله ورغلم؛ نو یو سړی مې ورسره ولید، چې د هغه په څېر ښکلی سړی مې لا تر اوسه نه و لیدلی؛ د رسول الله سر یې په خپله لمنه کې کېښود؛ د الله تعالی استازی ویده شو، چې هغه سړي راته وویل: خپل د تره زوی ته دې رانږدې شه، چې تر ما هغه ته وړ او نږدې یې؛ زه ورنږدې شوم او د هغه سړي ما ته خپل

ځای پرېښود او زه يې پر ځای کېناستم او د رسول الله سر مې په خپله لمن کې کېښود؛ نو ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې رسول الله راپاڅېد او و يې پوښتل: هغه سړی چې زما سر يې په لمن کې و، څه شو؟ ورته مې وويل: زه چې راغلم؛ نو راته يې وويل: خپل د تره زوی ته دې رانږدې شه، چې تر ما ورته وړ يې او زه يې په ځای کې کېناستم. رسول الله وويل: هغه دې وپېژنده؟ ورته مې وويل: نه! مور او پلار مې درځار. رسول الله وويل: هغه جبراييل و، چې راسره يې خبرې کولې، چې درد مې لږ شو او ويده شوم.

دا روايت (محب طبري؛ ذخاير: ۹۴ مخ) او همداراز د رياض النضره د دويم ټوک په ۲۱۹ مخ کې هم نقل کړی او ورپسې له حضرت ابن عباس روايتوي، چې د هغه خلکو په څواب کې يې وويل، چې په حضرت علي پسې يې خبرې کولې: په هغه چا پسې خبرې کوئ، چې د جبراييل د پښو غږ يې د کور له بامه اورېدل کېږي.

(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۱۲ مخ) له حضرت جميع بن عمير روايتوي، چې وايي: مور او ترور مې له حضرت عايشې بي بي کره ولاړل ـ تر دې چې وايي ـ و يې ويل: اوس راته د حضرت علي د ايمان په اړه ووياست. عايشې بي بي وويل: څومره ستره پوښتنه دې وکړه. د هغه سړي په اړه مو وپوښتل، چې دومره رسول الله ته نږدې و، چې د رسول الله ساه د هغه په غېږ کې ووته او علي يې لاس پر خپل مخ ومونږد او کله يې چې د پېغمبر د ښحولو په ځای کې اړېيچ وکړ؛ نو و يې ويل: د پېغمبر د ښخېدو تر ټولو غوره ځای هماغه دی، چې ساه يې پکې ورکړې وي. مور او ترور مې وويل: ته چې دومره علي ستر گڼې؛ نو ولې دې ورسره جګړه وکړه او توره دې ورپسې راوايسته؟ و يې ويل: کوم کار چې کېدونکی وي؛ هغه کار کېږي او زه اوس هيله کوم، چې کاشکې دا هر څه چې پر ځمکه دي، زما وي، چې ټول مې ورکړي وای؛ خو دا پېښه نه وه راپېښه شوې.

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۳۸ مخ) په خپل سند له ابوموسی له ام سلمه بي بي روايتوي، چې وايي: قسم پر هغه چا، چې تل يې قسم خورم، چې يوه ورځ د رسول الله پوښتنې ته ولاړو او سره له دې، چې تر مونږ ټولو به ډېر علي ورته او تازه يې له کوره وتلی و؛ خو رسول الله به تل پوښتل؟ علي راغی؟ علي راغی؟ فاطمې بي بي وويل: گواکې تاسې په خپله په کوم کار پسې لېږلی دی. ام سلمه بي بي وايي: ما گومان کاوه، چې کوم مهم کار ورسره لري؛ نو له کوټې راووتم او په وره کې په تمه کېناستم، چې علي به کله راځي او زه تر نورو د کور وره ته نږدې وم او همداراز په تمه وم، چې علي راغی او رسول الله ځان پر علي ورگوزار کړ او ورسره يې په غوږ کې پټې خبرې وکړې، چې پر هماغه ورځ يې له دې دنيا سترگې هم پټې کړې.

حاکم په پای کې وايي: ددې حديث سند صحيح دی. نسائي هم د خصايص په ۴۰ مخ کې او احمد بن حنبل د مسند د شپږم ټوک په ۳۰۰ مخ کې نقل کړی او نورو د حديث ائمو هم نقل کړی دی.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۲۶۰ مخ) په خپل سند له حضرت ا بن عباس روايتوي، چې وايي: چې کله د رسول الله د جنازې لپاره خلک راټول شول؛ نو د رسول الله په کور کې يې له اهلبيتو؛ يعنې عباس د پيغمبر تره، علي بن ابيطالب، فضل، قثم د عباس دوه زامن، اسامة بن زيد بن حارثه او صالح د رسول الله له ازاد شوي پرته هيڅ څوک هم نه وو. د وره له شا اوس بن خولي انصاري ـددې لپاره چې انصار د رسول الله د غسل له برکته بې برخې پاتې نشي ـ او همداراز يو له بني عف بني خزرع هم علي ته قسم ورکړ، چې اجازه ورکړي، چې موږ هم راننوځوو؛ حضرت علي اجازه ورکړه؛ خو د غسل په ورکولو کې يې اجازه ورنه کړه. راوي وايي: حضرت علي د رسول الله مړی په خپلې سينې پورې کړ او کميس يې ترې وايست او عباس، فضل او قثم د مړي په سم ايښوو کې له حضرت علي سره مرسته وکړه او اسامه او صالح د رسول الله دوو ازاد شويو به او به اچولې او علي به پرېمنځه او هغه څه چې د نورو مړو ليدل کېدل، له پيغمبراکرم څخه و نه ليدل شول؛ نو علي به ويل: مور او پلار مې درځار، چې څومره په ژوند او مړينه کې پاک وې؛ نو کله يې چې غسل ورکړ؛ نو مړی يې وچ کړ او په درېو ټوټو؛ يوه رنگينه او دوو سپينو کې يې کفن کړ. حضرت عباس هغه دوو ته وويل: په ابو عبيده جراح پسې ولاړ شئ، چې د مکې د خلکو قبرايستونکی و او طلحة بن سهل انصاري د مدينې د خلکو قبر ايستونکی و.

هغه چې په ابوعبيده پسې تللی و، پيدا يې نه کړ ـ ليکوال ـ که له ما يې پوښتئ؛ نو درته به ووايم، چې د رسول الله مړی په کور کې و او هغه او نور اصحاب د اسلام د يو څو ورځو د رياست لپاره راټول شوي ول او له هغه مسيره کاږه شي، چې الله تعالی ورته ټاکلی و ـ؛ نو يوازې ابي طلحه راغی او د رسول الله لپاره يې قبر وايسته.

دا حديث ابن ماجه هم د خپل صحيح د ما جاء فی غسل النبي په باب کې له حضرت سعيد بن مسيب څخه په لنډه راوړی او بيهقي د خپل سنن د درېيم ټوک په ۳۸۸ مخ کې له دوو لارو له حضرت سعيد بن مسيب نقل کړی دی.

(حلية الاولياء: څلورم ټوک، ۷۳ مخ) په خپل سند له حضرت جابر عبدالله، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۳۶ مخ) له حضرت ابن عباس، (ثعلبي؛ قصص الانبياء: ۵۹ مخ) له حضرت ا بن عباس، (حاکم؛ مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۱۱مخ)، (ا بن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ۵۰ مخ) په خپل سند له حضرت جابر څخه روايتوي، چې د حضرت عمر

د خلافت پر مهال له يوې ډلې اصحابو سره له حضرت عمر سره ناست وو، چې کعب الاحبار پاڅېد او حضرت عمر يې وپوښت: روستۍ خبره، چې رسول الله وکړه او بيا ومړ، څه وه؟ حضرت عمر وويل: بايد علي وپوښتئ. و يې پوښتل: علي چېرې دی؟ و يې ويل: دلته دی. نو هغه يې وپوښت. حضرت علي وويل: رسول الله مې خپلې سينې ته رانږدې کړ او سر يې زما پر اوږه و او راته يې وويل: الصلاة الصلاة او له دنيا يې سترگې پټې کړې. کعب ـ له پخوا د يهودو له احبارو و ـ وويل: د نورو پيغمبرانو هم روستۍ ژمنه همدا وه؛ يعنې دنده يې درلوده، چې د عمر په روستيو شېبو کې د لمونځ سپارښتنه وکړي او د لمونځ لپاره مبعوث شوي وو. بيا يې وپوښتل: اميرالمؤمنينه! چا رسول الله ته غسل ورکړ. حضرت عمر وويل: علي وپوښته. حضرت علي يې وپوښت، چې په ځواب کې يې وويل: ما غسل ورکاوه، عباس ناست و او اسامه او شقرآن د اوبو راوړو او اچولو دنده درلوده.
(ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ٥١ مخ) په خپل سند له ابي غطفان روايتوي، چې وايي: حضرت ابن عباس مې وپوښت: رسوالله چې مړ کېده؛ نو سر يې د چا پر سينه و؟ و يې ويل: سر يې د علي پر سينه و. و يې ويل: اخر عايشې بي بي راته ويلي وو، چې د رسول الله سر زما پر سينه و او ساه يې ووته. حضرت ابن عباس وويل: آيا عقل لرې؟ پر الله تعالی قسم، چې رسول الله پداسې حال له دې دنيا سترگې پټې کړې، چې سر يې د علي پر سينه و او علي غسل ورکړ او پلار مې عباس او رور مې فضل ورسره مرسته کوله او اصولاً چاته يې اجازه ور نه کړي، چې ورننوځي؛ ځکه رسول الله سپارښتنه کړې وه، چې په پټ ځای کې غسل ورکړئ.
(ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ٦١ مخ) له يزيد بن بلال، (رياض النضره: دويم ټوک، ١٧٨مخ) له حسين بن علي له پلاره له نيکه، (متقي؛ کنزالعمال: څلورم ټوک، ٥٤ مخ) له علي بن الحسين له پلاره له نيکه او کنزالعمال او مناوي د کنوز الحقايق په ١٨٨ مخ کې او همداراز کنزالعمال د شپږم ټوک په ٣٩٣ مخ کې له حضرت ا بن عباس څخه روايتونه نقل کړي، چې رسول الله سپارښتنه او ټينگار کړی و، چې يوازې علي دې غسل ورکړي او داچې پرښتې به ورسره په دې چار کې مرسته کوي، چې روستی روايت مو راوړی دی.
کنزالعمال له حضرت ا بن عباس روايتوي، چې وايي: له حضرت عمر بن خطاب مې واورېدل، چې وايي: پام کوئ او په علي پسې خبرې مه کوئ!؛ ځکه ما د علي په اړه د الله تعالی له استازي داسې څېزونه اورېدلي، چې که يو يې هم د آل خطاب په اړه وو؛ نو د دنيا تر ټولو نعمتونو به غوره وو؛ يوه ورځ زه، ابوبکر، ابوعبيده او نور اصحاب د پيغمبر کور ته ولاړو، چې پر هغه ورځ له ام سلمې بي بي کره و، چې علي مو د رسول الله د کور مخې ته

ولاړ وموند. حضرت علي ته مو وويل: غواړو رسول الله ووينو. و يې ويل: همدا اوس بهر راوځي؛ نو ډېر وخت نه و اوښتی، چې رسول الله راووت او موږ له ځايه پاڅېدو او پېغمبراکرم پر علي تکيه وکړه او پر لاس يې علي پر اوږه وواهه او و يې ويل: علي! ډېر ژر به تر ما روسته اصحاب درسره دښمني وکړي، ته ړومبی تن يې، چې ايمان دې راوړی، تر ټولو له راتلونکي ښه خبر يې او تر ټولو له الله تعالی سره وفا کوې، په ويش کې تر ټولو ډېر عدالت پلي کوې، تر ټولو پر ولس مهربانه يې، د الله تعالی په لار کې به تر ټولو ډېر خپگانونه او کړاوونه گالې، ته زما مړ، ما ته غسل راکوونکی او ښخوونکی مې يې.
(ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ۷۰ مخ) په خپل سند له عبدالله بن محمد بن عمر بن علي بن ابيطالب څخه روايت دی، چې وايي: کله يې چې رسول الله په تابوت کې کېښود؛ نو په جومات کې يې کېښود، چې علي حکم وکړ: څوک يې د جنازې د لمانځه امامت ونه کړي او خلک ډلې ډلې جومات ته راننووتل، په ليکه کې به درېدل او لمونځ به يې کاوه او علي به د جنازې ترڅنگ ويل: سلام دې پر تا وي ايها النبي و رحمة الله و برکاته! پالونکيه! موږ شهادت ورکوو، چې هغه ستا رسالت خلکو ته ورساوه، د امت ښېگڼه يې غوښته، ستا په لار کې يې جهاد وکړ، تردې چې دين ته دې عزت ورکړي. پالونکيه! موږ له هغوی کړې، چې د هغه څه لارويان شوو، چې پر هغه دې نازل کړي، تر هغه روسته مو پر دين ثابت وساتې او په قيامت کې مو ورسره يو ځای کړې. خلکو به ويل: آمين او ټولو سړيو، ښځو او ماشومانو د رسول الله د جنازې لمونځ وکړ.
(مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۵۷ مخ) په خپل سند له حضرت جابر بن عبدالله روايتوي، چې کله رسول الله له دې دنيا سترگې پټې کړې؛ نو پرښتې اهلبيتو ته تسليت ته راغلې، چې غږونه يې اورېدل کېدل؛ خو په خپله نه ليدل کېدې او داسې يې ويل: سلام دې پر تاسې اهلبيتو وي ورحمة الله وبرکاته او له الله تعالی سره د هر خپگان او مصيبت تلافي شته، پر الله تعالی ډاډ ولرئ او ورته هيلمن وسئ، چې واقعي محروم هغه دی، چې د الله تعالی له ثوابه بې برخې وي، السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!
دا حديث ابن حجر د اصابه د دويم ټوک په ۱۲۹ مخ کې راوړی او د بيهقي دلائل کتاب ته يې نسبت ورکړی دی.
(سيوطي؛ درالمنثور: د آل عمران د سورت د (کل نفس ذائقة الموت) د آيت په تفسير کې، (ابن سعد؛ طبقات: دويم ټوک، دويم قسم، ٤٨ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: دويم ټوک، ۱۲۷ او ۱۲۸ مخونه)، (علي بن سلطان؛ مرقاة: پينځم ټوک، ٥٠٤ مخ) په دې اړه روايتونه راوړي، چې

اهلبیتو د چا تسلیت واورېد؛ خو څوک یې و نه لید. حضرت علي وویـل: دا حضرـت خضرـ دی، چې تسلیت ته راغلی دی.

## تر رسول الله روسته یې د دندو سرته رسونکی

(امام احمدبن حنبل؛ مسند: لـومړی ټوک، ۱۱۱مخ)، (کنـزالعمال: دویـم ټـوک، ۳۹۶ مـخ)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ۱٦۸ مخ)، (ابونعیم؛ حلیة الاولیاء: لسم ټـوک، ۲۱۱ مـخ)، (ا بن سعد؛ طبقات: دویم ټوک، ۸۹ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټـوک، ٤۰۳، ۱۵۵ مخونـه)، (هیثمـي؛ مجمع الزوائد: نهم ټوک، ۱۱۳ مخ)، (مناوي؛ فیض القدیر: څلورم ټوک، ۳۵۹ مخ او همداراز د نهـم ټـوک، ۱۲۱، ۱۳۸ مخونـه)، (نسـائي: خصـایص: ٤ مـخ) او (کنوزالحقـایق: ۹۲ مـخ) روایتونه نقل کړي، چې په ټولو کې رسول الله ویـلي: ((علـي یـوازېنی تـن دی، چـې تـر مـا روسته به مې پورونه ورکوي، د خلکو امانتونه به ورکوي، له خلکو سره پر کړیو ژمنـو به مـې وفا کوي او هغه مې په دنیا او اخرت کې د لوا خاوند دی.))

(ابن سعد؛ طبقات: دویم ټوک، ۸۹ مخ) په خپل سند له عبدالواحـد بن ابي عـون روایـتوي، چې وایي: چې کله رسول الله له دې دنیا سترگې پټې کړې؛ نو حضرت علي حکم وکړ، چې منادي دې نعرې کړي: که څوک د الله تعالی پر استازي پور او یا کومه ژمنه یې ورسره کـړې وي؛ نو راشئ چې در یې کړم او د رسول الله پر ژمنه وفا وکړم او علي به تل د حج پـه موسـم کې په عقبه کې د غټ اختر پر ورځ داسې اعلان کاوه، تردې چې په خپله حضرت علي هـم ومړ او تر هغه روسته امام حسن دا کار کاوه، چې هغه هم شهید شو او تـر هغـه روسـته امـام حسین دا کار وکړ، چې هغه هم شهید شو. سلام الله علیهم.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۲٦۰ مخ) په خپـل سـند لـه حضرـت ا بن عبـاس، (فخر رازي؛ تفسیر کبیر: د کوثر د سورت په تفسیر کې)، (امام احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ۳۳۱ مخ ) له جابر، (بیهقي؛ سنن: پینځم ټوک، ٦ مخ)، (ابن سعد؛ طبقات: اووم ټوک، دویم قسم، ۱٤۵ مخ) او (ابن اثیر جرزي؛ اسـدالغابه: څلورم ټـوک، ۱٦۹مـخ) روایتونـه نقـل کړي، چې رسول الله د قرباني سل اوښان راوړي وو، چې د غټ اختر پر ورځ یې شپږ دېرش په خپله قرباني کړل، چې سترې شو؛ نو نور علي قرباني کړل او پیغمبر حکـم وکـړ، چـې پـر خلکو یې وایشه او یوازې له هر یوه لره غوښه وساته او په یوه دېگ کې یې پخه کړه، چـې و یې خورو.

(صحيح ابي داود: اتلسم ټوک، د مړي لپاره د قرباني باب) له حنش او (مستدرک الصحيحين: څلورم ټوک، ۲۲۹ مخ) په دې مضمون روايتونه نقل کړي، چې د الله تعالی استازي وصيت کړی و، چې هر کال ورته قرباني وشي او هر کال به علي ورته دوه سيرلي قرباني کول.

## تر رسول الله (ص) روسته له حضرت علي سره د امت چلن

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱٤۰ مخ) په خپل سند له ابي ادريس او دی له علي روايتوي، چې وايي: يوه وړاندوينه، چې رسول الله زما په اړه کړې وه، چې علي! ډېر ژر به تر ما روسته امت درسره خيانت او جفا وکړي.
بيا حاکم وايي: ددې حديث سند صحيح دی.
دا روايت (خطيب بغدادي: د بغداد تاريخ: يوولسم ټوک، ۲۱٦ مخ) او (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۷۳ مخ) هم نقل کړی او ابن ابي شيبه، حارث، بزار، حاکم، عقيلي او بيهقي ته يې نسبت ورکړی دی.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱٤۲ مخ) په خپل سند له حيان اسدي روايتوي، چې وايي: له حضرت علي مې واورېدل: رسول الله ما ته وويل: ((علي! ډېر ژر به زما تر مړينې روسته امت درسره جفا او خيانت وکړي او ته به له ملت او زما له دين سره ژوند کوې او څوک چې درسره دښمني وکړي؛ نو راسره به يې کړې وي او ډېر ژر به دې دا ـ د علي ږيرې ته په اشارې ـ د کپرې پر وينو ولړل شي.))
دا روايت (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۷ مخ) هم نقل کړی او د افراد په کتاب کې دارقطني، حاکم او خطيب ته نسبت ورکړی، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳۷ مخ)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱٤۰ مخ) په دې اړه دوه روايتونه راوړي، چې په دويمي کې حضرت ابن عباس د رسول الله د خولې وينا را اخلي، چې علي ته وايي: ډېر ژر زما تر مړينې روسته گرفتاری او کړاوونه ولرې. علي وپوښتل: دين خو به پر ځای وي که نه؟ رسول الله وويل: ته به زما پر دين يې.
(حلية الاولياء: لومړی ټوک، ٦٦ مخ) په خپل سند له ابي برزه په دې اړه يو روايت نقل کړی دی.
(د بغداد تاريخ: دولسم ټوک، ۳۹۸ مخ) په خپل سند له عبدالله بن احمد بن کثير او احمد بن زهير په خپل سند له ابي عثمان نهدي له حضرت علي بن ابيطالب روايتوي، چې وايي: د

الله تعالی له استازي سره له یوه بڼه څخه تېرېدو. ورته مې وویل: رسول الله! څومره ښکلی دی . پیغمبراکرم راته وویل: ستا د جنت بڼ تر هغه ښکلی دی او همداراز له یوه بڼه تر بله بڼه، چې اووه بڼه شول _ او د زهیر بن احمد په روایت له نهو بڼونو تېر شو او ما به هماغه خبره پیغمبر ته کوله، چې رسول الله په غبږ کې راونیوم او سخت په ژړا شو؛ نو ورته مې وویل: رسول الله! ولې ژاړې؟ پیغمبر: هغه کینې مې ژړوي، چې د خلکو په زړونو کې درته پرتې دي، چې نه یې رابرسیروي؛ خو زما تر مړینې روسته. و مې پوښتل: دین به مې روغ رمټ پاتې کېږي؟ رسول الله: هو ته به تل زما پر دین یې.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۴۰۸ مخ) او د هغه د وینا له مخې بزار، ابویعلي، ابوالشیخ، د (القطع و السرقة) په کتاب کې، ابن جوزي، ابن النجار په خپل تاریخ کې، (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۱۰ مخ) او د هغه د وینا له مخې، احمد په مناقب، (احمد؛ مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۱۳۹ مخ) یو بل روایت په هماغه مضمون نقل کړی، (ا بن سعد؛ طبقات: دریم ټوک، لومړی قسم، ۲۴ مخ) له حسن بن علي روایت کړی: یوه شپه پېشمنی مې له پلار سره وم او ورسره کېناستم، چې راته یې وویل: نن ځکه ویده نشوم، چې ماشومان له خوبه راویخ کړم؛ خو په دې اخره کې مې سترګه درنه شوه او په ناسته ویده شوم. رسول الله مې ولید او د امت له لاسه مې ورته ګیله وکړه. راته یې وویل: علي! ښېرا ورته وکړه. ما وویل: تر دوی ښه او غوره خلک ما ته راکړه او تر ټولو بد امیر ورروزي کړه.

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳۶ مخ) دې ته ورته روایت له حسین بن علي راوړی؛ خو ا بن اثیر یې په پای کې وایي: زما په ګومان، چې علي بن حسین به غلط وي او هماغه حسن بن علي به صحیح وي.

(ابن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ۴۷۰ مخ) له ابوعبدالرحمان سلمي روایتوي، چې وایي: د هماغه شپې پر سهار، چې علي شهید شو؛ نو حسن بن علي ته ولاړم، چې حدیثونه یې راته وویل، چې و یې ویل: پرون شپه پېشمنی مهال مې له پلاره واورېدل، چې ویل یې: زویه! نن شپه مې رسول الله په خوب کې ولید او ورته مې ګیله وکړه، چې تر تګ روسته مو رابانـدې امت څومره کړاوونه راوړل. پیغمبراکرم راته وویل: ښېرې ورته وکړه. ما وویل: خدایه! داسې خلک راکړه، چې تر دوی ښه وي او زما پر ځای داسې امیر ورکړې، چې تر ټولو بد وي او په همدې حال کې یې موذن راغی، چې د لمانځه وخت دی. پلار مې پاڅېد او جومات ته ولاړ او دوه کسانو پرې یرغل و کړ، چې د یوه د تورې ګوزار پر دېوال ولګېد او د بل د تورې ګوزار مې د پلار پر کپره ولګېده.

## د حضرت علي د شهادت په هلکه د رسول الله وړاندوینه او داچې په کومه شپه او په کوم ساعت کې به په شهادت رسي

(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱٤۲ مخ) له حیان اسدي روایتوي: حضرت علي وایي: رسول الله راته وویل: ډېر ژر به زما تر مړینې روسته امت درسره جفا او خیانت وکړي؛ خو تـه به زما پر ملت او دین ژوند کوئ او زما پر سنت به ووژل شې؛ نو که چا درسره مینه وکـړه؛ نـو له ماسره یې مینه کړې او که چا درسره دښمني وکړه؛ نو راسره به یې کړې وي او ډېر ژر به دا ـ د علي ږیرې ته په اشارې ـ ددې په واسطه ـد علي کپرې ته اشاره ـ رنګینه شي.
(استیعاب: دویـم ټوک، ٤٨١ مخ) په خپل سند له حضرـت ا بن ابي فضـاله (رض) روایـ توي، چې وایي: یوه ورځ مې له پلار سره ینبیع ته ولاړم، چې د حضرت علي عیـادت وکـړو، چـې دومره سخت ناروغ شوی و، چې ټول وېرېدلي وو؛ پلار مې وویل: ولـې پـه ینبیـع کـې پـاتې شوي یاست؛ نو که دلته له دنیا سترګې پټې کړئ؛ نو څوک به مو کارونه کوي؛ پرتـه لـه یـوې ډلې جهینه عربو چې؛ نو غوره به نه وي، چې هر څنګه، چې وي ځان مدینې ته ورسوئ؛ نـو که مرئ، چې خپل خپلوان مو په شاوخوا کې وي.
حضرت ابوفضاله له هغه اصحابو و، چې د بدر په جګړه کې یې هم ګډون کړی و. حضرـت علي وویل: زه به په دې ناروغۍ مړ نشم؛ ځکه رسول الله راسره ژمنه کړې، چې ته به نه مرې؛ خو دا چې پر امارت دې وټاکې او بیا دې دا ځای ـ ږیرې ته اشاره ـ ددې ځـای پـر وینـو ـ کپرې اشاره ـ رنګینه شي. او بیا حضرت ابوفضاله د صفین په جګړه کـې د عـلي پـه پلـوی د معاویه له اړخه شهید شو.
(ابي داود طیالسي: مسند: لومړی ټوک، ۲۳ مخ) په خپل سند له زبید بن وهب روایتوي، چې وایي: د خوراجو مشر علي ته راغی او و یې ویل: له الله تعالی ووېرېږه او دومره د خلکو وینه مه تویوه اخر یوه ورځ خو به ته هم مرې. حضرت علي وویل: نه!ر هغه الله تعالی قسم، چـې دانې راټوکوي او انسانان جوړوي؛ زه به مړ نشم؛ بلکې و به وژل شم او دا ـ ږیرې ته اشاره ـ به ددې ځای په وینو ـ کپرې ته اشاره ـ رنګینه شي ـ او دا هرومرو قضا ده او تـاوان به هغـه کړی وي، چې افتراء تړي.
(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳۷ مخ) له حضرت عایشې بي بي روایتوي، چې وایـي: رسـول الله مې له حضرت علي سره ولید، چې ښکلوي یـې او ورتـه یـې ویـل: مـور او پـلار مـې لـه

يوازې شهيده ځار شي. بيا هيثمي وايي: دا روايت ابويعلي هم نقل کړی، ابن حجر د صواعق په ۷٤ مخ کې او کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱۵۷ مخ کې هم نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک: ۱۵۷ مخ : ) رسول الله وايي: دا ـ علي ته ا شاره ـ هېڅکله به مړ نشي؛ خو هغه مهال، چې زړه يې خوړين شي ـ د غم او کړاوونو له لاسه ـ او مړ به نشي؛ خو دا چې و يې وژني. (کنزالعمال: شپږم ټوک: ۳۹۸ مخ) هم دې مضمون ته نږدې يو بل روايت نقل کړی دی.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۵٦ مخ) په خپل سند له عبدالله بن سبع روايتوي، چې وايي: حضرت علي راته وينا کوله: قسم پر هغه الله تعالی، چې دانې راټوکوي او انسانان پيدا کوي، دا به ډېر ژر په دې رنګينه شي. خلکو وويل: اميرالمؤمنينه! وواست، چې قاتل مو څوک دی، چې خانه يې ورخرابه کړو. حضرت علي وويل: پر الله تعالی مو قسم، چې تر ما روسته به زما له قاتل پرته پربل چا ان نيوکه هم نه کوئ.
(ابن سعد؛ طبقات: دريم ټوک، لومړی قسم، ۲۲ مخ) او همداراز د هماغه کتاب د دريم ټوک د لومړي قسم په ۲۳ مخ کې په دې اړه دوه روايتونه راغلي، چې په دويمي کې يې راغلي: ام جعفر سريه روايت کاوه او و يې ويل: ما د حضرت علي پر لاس اوبه اچولې، چې ناڅاپه يې سر اسمان ته پورته کړ او خپله ږيره يې پر لاس اوچته او تر پوزې يې ورسوله او ورته يې وويل: واهاً لک! ډېر ژر به رنګينه شې. دا يې وويل او د هماغې ونې د جمعې پر ورځ يې پر سو ګوزار وخوړ.
(ابن سعد؛ طبقات: دريم ټوک، لومړی قسم، ۲۲ مخ) په خپل سند له محمد بن سيرين روايتوي، چې وايي: حضرت علي بن ابيطالب کرم الله وجهه ابن ملجم مرادي ته وويل: اريد حياته و يريد قتلي عذيرک من خليلک من مرادی.
دا حديث ابن عبدالبر هم د استيعاب د دويم ټوک په ٤۷۰ مخ کې نقل کړی دی.
(استيعاب: دويم ټوک، ٤۷۰ مخ) په خپل سند له سکين بن عبدالعزيز عبدي روايتوي، چې له خپل پلاره يې اورېدلي: عبدالرحمان بن ملجم راغی او له حضرت علي يې مرکب وغوښت او حضرت علي مرکب ورکړ او خلکو ته يې مخ کړ او و يې ويل: زه يې ژوند غواړم او هغه مې مرګ او زه له هغه سره داسې چلن کوم، چې د خپل هوډ د پلي کولو لپاره هېڅ پلمه نه لري؛ نو ټول پوه شئ، چې هغه مې وژونکی دی. په ډله کې ځينو وويل: نو ولې مو ازاد پرېښی او ولې يې شر له ځانه نه کموئ؟ حضرت علي وويل: ځکه زه يې لا تر اوسه نه يم وژلی.

دا روایت محب طبري د ریاض النضره د دویم ټوک په ۲٤٥ مخ کې هم نقل کړی، چې حضرت علي ته یې خبر راوړ، چې ابن ملجم خپله توره پر زهرو ککړوي، وایي: ډېر ژر به علي داسې ووژنم، چې د ټولو عربو د مجلس نُقُل شي. بیا حضرت علي ورپسې یو تن ورولیږه، چې ولې دې توره پر زهرو ککړوې. ا بن ملجم وویل: خپل او ستا دښمن لپاره. حضرت علي پرېښود او و یې ویل: څه وکړم تر اوسه خو یې لا زه نه یم وژلی. [دا روایت ابوعمرو هم نقل کړی دی. ]

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤١٢ مخ) له معاوية بن جوین حضرمي روایتوي، چې وایي: یوه ورځ لښکر د حضرت علي په مخ کې رسم گذشت کاوه، چې پکې ابن ملجم هم تېر شو. علي یې نوم وپوښتن. بل نوم یې ورته وښود. حضرت علي وویل: دروغ وایي! د پلار نوم دې څه دی؟ خو ابن ملجم ورته و نه ویل، چې حضرت علي وویل: اخر رسول الله راته ویلي، چې وژونکی دې د یهودیانو په څېر؛ بلکې په خپله یهودي دی.

(صواعق محرق: ۸۰ مخ) پر هغه شپه، چې پر علي گوزار و شو؛ نو ډېر زیات به له خونې راوت او اسمان ته به یې کتل او ډېر به یې ویل: پر الله تعالی قسم دروغ نه وایم او دروغ هم راته نه دي ویل شوي او دا هماغه شپه ده، چې خبر یې راکړ شوی دی؛ نو همداچې پېشمنی مهال له کوره ووت؛ نو ابن ملجم پرې گوزار وکړ.

(اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳۵ مخ) په خپل سند له حسن بن کثیر له پلاره روایتوي، چې وایي: هغه شپه علي د سهار لمانځه ته له کوره ووت، مرغاوۍ یې مخې ته راغلې او ورته پر اوازونو شوې؛ خو موږ وشړلې. حضرت علي وویل: پرېږ یې دئ، چې ستېنې وکړي؛ نو همداچې جومات ته ننووت؛ نو پر سر یې گوزار وخوړ او له دې حدیثه په گوتو کېږي، چې حضرت علي ته د خپل شهادت شپه او ساعت معلوم و.

دا حدیث (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤١٣ مخ) هم نقل کړی او ا بن عساکر ته یې نسبت ورکړی دی.

(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲٤٥ مخ) همدا حدیث نقل کړی او په پای کې یې راوي وایي: امیرالمؤمنینه! تاسې زموږ لاس د مرادیانو پر وړاندې خلاص پرېږدئ، اخر هغوی خو په دې ښار کې اوبه، پټی او خپلوان نه لري؛ نو اجازه راکړئ، چې له دې ښاره یې بهر کړو. حضرت علي وویل: نه! خوکه یې زه ووژلم؛ نو تاسې یې هم ووژنئ او که روغ شوم؛ نو یوازې د ټپ قصاص یې کړئ.

## حضرت علي ددې امت ذوالقرنين دی

( طحاوي؛ مشکل الآثار: دويم ټوک، ۳۵۰ مخ ) په خپل سند لـه ابي الطفيـل روايـ‌ تـوي، چـې وايي: حضرت علي پر ممبر وويل: ((سلونی قبل ان تفقدونی))؛ يعنې مخکې له دې، چې له لاسه مې ورکړئ؛ نو ومې پوښتئ او تر ما روسته به زما په څېر يو هم د خپلو پوښتنو لپاره پېدا نه کړئ. ابوالکواء پاڅېد او و يې ويل: ذوالقرنين پېغمبر و که پادشاه؟ حضرت علي وويل: نه پېغمبر و نه پادشاه؛ بلکې يو صالح انسان و، چې الله تعالی پرې ګران و او پر اللـه تعـالی هـم ګران و؛ د الله تعالی لپاره يې ښېګڼه غوښته او الله تعالی به هم ورته ښېګڼه غوښـته؛ يـو ځـل يې د سر پر ښي اړخ وواهه او ومړ او بيا راوژندی شو او بيا يې د سر پر کيڼ اړخ وواهه او ومړ او په تاسې کې هم داسې څوک شته، چې د هغه په څېر دی.

دا روايت (متقي؛ کنزالعمال: لومړی ټوک، ۲۵٤ مخ ) هـم نقـل کـړی او ويـلي يـې دي، چـې حضرت علي وويل: الله تعالی ژوندی کړ، چې له کفارو سره وجنګېږي او بيا يې د سر پر بل اړخ وواهه او ومړ او بيا الله تعالی راژوندی کړ؛ خو الله تعالی راژوندی کړ، چې جهاد وکـړي او د همدې لپاره ورته ذوالقرنين ويل کېږي او په تاسې کې هم داسې څوک شته، چې پر سر به پرې ګوزار کېږي.

دا روايت عبدالحکيم د فتوح مصر په کتاب کې له ابن ابي عاصـم، محـب طـبري د ريـاض النضره د دويم ټوک په ۲۱۰ مخ کې له هروي نقل کړی، چې وايي: که ورته ذوالقـرنين ويـل کېده؛ نو ددې لپاره وو چې خپل قوم يې د الله تعالی عبادت ته رابله او خلکو د سر پـر ښـي اړخ وواهه او ومړ او الله تعالی بيا ژوندی کړ او دا ځل يې د سر پر کيڼ اړخ وواهه او بيا ومـړ او بيا الله تعالی راژوندی کړ او که حضرت علي ويل، چې په تاسې کې هم د هغه په څېر يـو سړی شته؛ نو مطلب يې خپل ځان و؛ ځکه يو ځل عمرو بن عبدود د خندق په جګړه کې پر سر وواهه او بل ځل ابن ملجم.

(سيوطي؛ درالمنثور: د (والشمس) د سورت په تفسير کـې) لـه ا بن ابي حـاتم، ا بن مردويـه، ابونعيم او حضرت عمار ياسر، (نسائي؛ خصايص: ۳۹ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسـند: څلـورم ټوک، ۲٦۲ مخ)، (حاکم؛ مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱٤۰ مخ)، (طحـاوي؛ مشـلکل الآثار: لومړی ټوک، ۳۵۱ مخ)، (ابن جرير طبري؛ تاريخ: دويم ټوک، ۱۲۳ مخ) له دوو لارو، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټـوک، ۳۹۹ مـخ) روايتونـه راوړي، چـې چـې د ټولـو مانـا او نچـوړ دادی، چې رسول الله علي ته وويل: په بشر کې تر ټولو بدمرغه دوه تنه دي؛ يو د ثمود د قوم

هغه سړی، چې د حضرت صالح اوښه یې ووژله او دویم هغه چې ستا ږیره به ستا د سر په وینو ککړوي.
(مستدرک الصحیحین: دویم ټوک، ۱۱۳ مخ)، (بیهقي؛ سنن: اتم ټوک، ۵۸ مخ) او (ابن اثیر جرزي؛ اسدالغابه: شپږم ټوک، ۳۳ مخ) له ابي سنان دولي روایتوي، چې وایي: حضرت علي سخت ناروغ شو او زه یې پوښتنې ته ورغلم او ورته مې وویل: خلک ستا له مړینې وربږېږي.
حضرت علي وویل: خو زه هېڅ نه وېرېږم؛ ځکه پوهېږم په دې ناورغی له دنیا نه ځم؛ ځکه د الله تعالی له استازي مې واورېدل: تا به پر سر یو گوزار پر دې ځای او بل پردې ځای ووهي او د خپل سر دوو اړخونو ته په اشارې یې وویل: وینه به دې داسې راتو یې شي، چې ږیره به دې پرې رنگینه شي او ددې کار کوونکی د امت تر ټولو بدمرغه انسان دی؛ لکه څنگه چې د ثمود د قوم تر ټولو بدمرغه انسان هغه و، چې د صالح اوښه یې ووژله.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۳۰ مخ) په خپل سند له عبدالله بن سبع روایتوي، چې وایي: حضرت علي وویل: ډېر ژر به دا په دې رنگینه شي او نه پوهېږم، چې ددې امت تر ټولو بدمرغه انسان څه ته په تمه دی؟ وویل شول: امیرالمؤمنینه! موږ ته ووایه، چې هغه څوک دی، چې خانه یې ورخرابه کړو. که داسې وشول؛ نو زما لپاره به مو زما له وژونکي پرته بل وژلی وي.
دا روایت (ابن سعد؛ طبقات: دریم ټوک، ۲۲ مخ) او (خطیب بغدادي؛ د بغداد تاریخ: دولسم ټوک، ۵۷ مخ) هم نقل کړی دی.
(ابن سعد؛ طبقات: دریم ټوک، لومړی قسم، ۲۱ مخ) له ابي الطفیل روایتوي، چې وایي: حضرت علي خلک له ځان سره بیعت ته راوبلل او په خلکو کې عبدالرحمان د ملجم زوی هم و، چې حضرت علي دوه ځل رد کړ او دریم ځل راغی، چې حضرت علي وویل: څوک به د امت تر ټولو بدمرغه انسان مخه و نه نیسې، چې دا په دې رنگین کړي او بیا یې دا دوه بیته شعر ووایه:
اشدد حیاز یمک للموت فان الموت اتیک
ولا تجزع من القتل اذاحل بوادیک
یعني ملا دې د مرگ لپاره کلکه وتړه، چې مرگ به راشي او له مړینې جرع مکوه، چې کله ستا پر لور راشي.
دا روایت (طحاوي؛ مشکل الآثار: لومړی ټوک، ۳۵۲ مخ) هم له دې اضافتوب سره نقل کړی، چې و یې ویل: څومره چټل دی ددې امت تر ټولو بدمرغه انسان؛ خلاصه داچې په دې روایت کې د (ما یجس) د ټکي پر ځای د (ما انجس) ټکی راغلی دی.

دا روایت ابن اثیر هم د اسدالغابه د څلورم ټوک په ۳۵ مخ کې نقل کړی دی.
(ابن سعد؛ طبقات: درېیم ټوک، لومړی قسم: ۲۲ مخ) په خپل سند له عبیده روایتوي، چې وایي: علي وویل: څه د امت تر ټولو بدمرغه انسان مخه نیولې، را دې شي او ما دې ووژني. خدایه! ما دا امت ستړی کړ او زه هم دې امت ستړی کړی یم، ما د هغوی له لاسه خلاص کړه او هغوی زما له لاسه.
(ابن سعد؛ طبقات: درېیم ټوک: لومړی قسم: ۲۲ مخ) بیا هم له عبیده، (د بغداد تاریخ: لومړی ټوک، ۱۳۵ مخ) په خپل سند له جابر بن سمرة، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۸ مخ)، (زمخشري په کشاف او فخر رازي په کبیر تفسیر کې) دواړو د اعراف د سورت د (هذه ناقة الله لکم ایة) آیت په تفسیر کې، (اسدالغابه: څلورم ټوک، ۳٤ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۱۲ مخ)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ۲٤۸ مخ)، (ا بن عبدالبر؛ استیعاب: دویم ټوک، ٤۰۷ مخ)، (عسقلاني؛ فتح الباري: اتم ټوک، ۷٦ مخ)، (ثعلبي؛ قصص الانبیاء: ۱۰۰ مخ) او (شبلنجي؛ نورالابصار: ۹۷مخ) هم په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.
(شبلنجي؛ نورلابصار: ۹۸ مخ) د ابي بکر خوارزمي د مناقب له کتابه نقلوي، چې ابوالقاسم بن محمد وویل: ما په مسجدالحرام کې یوه ډله ولیده، چې په مقام ا براهیم کې له یوه چا راټوله شوې ده؛ نو ومې پوښتل: دا څوک دی؟ و یې ویل: یو راهب دی، چې نوی مسلمان شوی او مکې ته راغلی او هېښنده کیسې کوي؛ نو زه هم ورنږدې شوم او و مې لیدل، چې یو بوډا دی، چې په مقام ابراهیم کې ناست دی او له خلکو سره خبرې کوي او خلک یې هم خبرو ته غوږ دي او خپله هېښنده کیسه یې ما ته داسې وکړه: په صومعه کې ناست وم، چې ناڅاپه مې یوه ستره مرغۍ ولیده، چې په یوه ډ بره راکوزه شوه؛ خوړل شوي خواړه یې راوگرزول؛ نو و مې لیدل، چې خواړه یې د انسان د بدن څلورمه برخه ده؛ مارغه والوت او له سترگو ورک شو او ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې بیا راغی او بیا یې د انسان د بدن څلورمه برخه راوگرځوله او همداراز راته او ته، چې ټول انسان یې راوگرځاوه او بیا چې دا مارغه ولاړ؛ نو د انسان دا څلور برخې یو ځای شوې او ژوندی شو او زه ډېر زیات حیران شوم او په همدې حال کې مارغه راستون شو او څلورمه برخه یې وخوړ او بیا په نورو وارونو کې یې نور هم وخوړ او سبا بیا هماغه مارغه راغی او هماغه عمل یې بیا تکرار کړ؛ نو دا ځل چې کله بیا د هغه انسان بدن را ژوندی شو؛ نو له صومعې راکوز او شوم او د الله تعالی قسم مې ورکړ، چې ته څوک یې؟ د یوې شېبې لپاره چوپ و؛ بیا مې قسم ورکړ، چې و یې ویل: زه ابن ملجم مرادي یم. پوښتنه مې وکړه: ستا کیسه څه ده؟ راته یې وویل: ما علي بن ابیطالب وژلی او الله تعالی هم دې مرغه ته دنده ورکړې، چې هر ورځ مې داسې وکړوي؛ نو ما خپله

کړه وتړله، چې څېړنه وکړم، چې علي بن ابيطالب څوک دی، چې راته وويل شول، چې د رسول الله د تره زوی دی؛ نو اسلام مې راوړ او اوس د الله تعالی د کور او رسول الله د قبر زيارت ته راغلی يم.
(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٤٤ مخ) په خپل سند له شعبي، (شافعي؛ مسند: کتاب قتال اهل بغی: ١٨٠ مخ) له ابراهيم بن محمد بن جعفر بن محمد، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٢٣ مخ) له جعفربن محمد روايتونه نقل کړي، چې د ټولو نچوړ دادی، چې روسته تر دې چې علي گوزار وخوړ؛ نو وصيت يې وکړ، چې ژوندی يم؛ نو پر ما له گوزار کوونکي سره نېکي وکړئ او په نرم ځای کې ورته د خوب ځای جوړ کړئ؛ نو که ژوندی پاتې شوم؛ نو يا به يې وبښم او يا به يې قصاص کړم او که مړ شوم؛ نو ژر تر ژره يې غرغره کړئ، چې له خپل پالونکي سره ورسره جگړه وکړم او تر وژولو روسته يې مه مثله کوئ.
دا مضمون بيهقي هم نقل کړی دی.
(اسدالغابه: څلورم ټوک، ٣٨ مخ) په خپل سند له عمرو ذی مر روايتوي، چې وايي: چې کله حضرت علي گوزار وخوړ؛ نو زه يې پوښتنې ته ورغلم؛ نو و مې ليد، چې سر يې تړلی دی، ورته مې وويل: اميرالمؤمنينه! د گوزار ځای مو راوښيه! علي ټپ خلاص کړ او ما ټپ وليد او ورته مې وويل: رغی ټپ دی او دومره خاص خبره نه ده. حضرت علي وويل: خو زه درنه ځم. له پردې هخوا د ام کلثوم د ژړا غږ راپورته شو. حضرت علي وويل: غلې شه! پر الله تعالی که هغه څه دې ليدلای، چې زه يې گورم؛ نو نه به دې ژړل. ومې پوښتل: اميرالمؤمنينه! تاسې څه وينئ؟ و يې ويل: ډلې ډلې پرښتې او انبياء راځي او دا محمد رسول الله دې چې وايي: علي! زيری دې پر تا وي، چې له کړختونو به خلاص شې.
(اسدالغابه: څلورم ټوک، ٣٥ مخ) په خپل سند له عثمان بن مغيره روايتوي، چې د رمضان مياشت شوه؛ نو علي به د روژه ماتي لپاره هره ورځ له يو اولاد کره ته؛ يو شپه د حسن کور ته، بله شپه د حسين، بله شپه د عبدالله بن جعفر کور ته او هره شپه به يې تر درې کپو ډېر خواړه نه خوړل؛ نو د علت پوښتنه به چې ورځنې وشوه؛ نو ځواب به يې ورکاوه: غواړم په وږي نس له خپل پالونکي سره ووينم او په همدې دوو يا درې شپو کې به له خپل پالونکي سره ووينم.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤١١ مخ) همدا مضمون په يو بل روايت کې نقل کړی، چې پکې وايي: لږې شپې پاتې دي، چې د الله تعالی امر وشي او غواړم هغه مهال وږی يم.
(رياض النضره: دويم ټوک، ١٦٥ مخ) له حضرت ابي ذر روايتوي، چې وايي: رسول الله وويل: چې کله د معراج شپه شوه؛ نو يوه پرښته مې وليده، چې د نور پر تخت ناسته ده _ بيا يې د پرښتې د ځانگړنو تر بيانولو روسته وويل: جبراييل مې وپوښت: دا څوک دی؟ و يې

ویل: عزرائیل دی، چې ټول مخلوقات یې د دوو زنګونونو په منځ کې ځایېږي او لا س یې ختیځ او لویدیځ ته رسي؛ نو ته هم ورته سلام وکړه. ما سلام وکړ، چې په ځواب کې یې وویل: و علیک السلام یا احمد؛ د تره زوی دې څنګه دی؟ ورته مې وویل: مګر زمام د تره زوی پېژنې؟ و یې ویل: څنګه یې نه پېژنم، چې ستا او د هغه په اړه راته ځانګړې سپارښتنه شوې ده او هغه داچې له تا او هغه ساه و نه باسم؛ ځکه په خپله الله تعالی به له تاسې ساه باسي.

دا روایت د ملا په سیرة کې هم راغلی دی.

(مستدرک الصحیحین: لومړی ټوک، ۳٦۱ مخ) په خپل سند له ابي وائل روایتوي، چې وایي: حضرت علي یو څه مشک درلودل او وصیت یې وکړ، چې په هغه مشکو یې حنوط کړئ او و یې ویل: دا له هغه مشکو پاتې شوي، چې رسول الله مې پرې حنوط کړی و.

ریاض النضره هم دا مضمون له هارون بن سعید څخه نقل کړی دی.

(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۱۱۳ مخ) په خپل سند له ا بن شهاب روایتوي، چې وایي: چې کله دمشق ته راغلم؛ نو عبدالملک ته ورغلم، چې پر هغه مې هم سلام اچولی وي؛ نو و مې لیدل، چې ماڼۍ ته ننږدې یوه قبه ده، چې پر فرش ناست دی؛ نو سلام مې پرې وکړ او کېناستم؛ نو راته یې وویل: ابن شهابه! آیا خبر یې، چې پر هغه سهار، چې علي شهید شو؛ نو په بیت المقدس کې څه پېښه وشوه؟ ورته مې وویل: هو خبر یم. خو سره له دې یې هم راته وویل: راپاڅه او په ما پسې راځه؛ نو زه هم ورپسې شوم او هلته د ناستو خلکو تر شا راتېر شو او د ماڼۍ په شاتني ور ووت او هلته یې راته مخ کړ، راټیټ شو، چې وواېي چې څه مې لیدلي؟ ورته مې وویل: داسې تیږه به نه وه، چې ترې لاندې به تازه وینه نه وه. راته یې وویل: اوس له ما او تا پرته هېڅ څوک له دې خبرې خبر نه دي او باید پر خولې دې برغولی کېږدې او چا ته یې و نه وایې او تر هغه چې ژوندی و؛ نو له وېرې مې دا خبره چاته هم ونه کړه تردې چې ومړ.

دا روایت محب طبري هم د ریاض النضره د دویم ټوک په ۲٤۷ مخ کې نقل کړی او د (الاحاد والمثانی) په کتاب کې یې ابن ضحاک ته نسبت ورکړی دی.

(مستدرک الصحیحین: دریم ټوک، ۱٤٤ مخ) په خپل سند له زهري له اسماء انصاري روایتوي، چې وایي: د علي د شهادت پر شپه په ایلیاء کې به مې، چې کومه تیږه پورته کوله؛ نو لاندې به ترې تازه وینه وه.

(صواعق محرقه: ۱۱٦ مخ) ددې په ترڅ کې، چې له علي بن حسین څخه روایتونه نقلوي، چې د حضرت علي د شهادت پر شپه تر هرې تیږې لاندې تازه وینه راخوټېده، وایي چې دا

پېښنه په شام کې هم د حضرت علي د شهادت په شپه وشوه _ او یا داچې په ټوله دنیا کې راپېښنه شوه _ لکه څنګه چې بیهقي هم روایتوي، وایي: شام ته ولاړم، چې جهاد وکړم (د کیسې تر پایه)

## د قیامت پر ورځ حضرت علي پر جنتي اوښ سپور دی

(د بغداد تاریخ: یوولسم ټوک، ۱۱۲ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس روایتوي، چې وایي: رسول الله وویل: د قیامت پر ورځ به هېڅ څوک سواره نه راځي؛ خو موږ څلور کسان. پلار مې عباس پاڅېد او پوښتنه یې وکړه: رسول الله! هغه څلور کسان څوک دي؟ رسول الله وویل: ړومبی زه یم، چې پر براق به سپور یم، چې څېره یې د انسانانو په څېر ده _ بیا یې د براق د ځانګړونو تر بیانولو روسته _ عباس وپوښتل: بل څوک دی؟ پېغمبر وویل: رور مې صالح پېغمبر، چې هغه هم پر خپل اوښ سپور راځي. پوښتنه یې وکړه: بل څوک دی؟ پېغمبر وویل: تره مې حمزه، چې د الله تعالی زمری، د رسول زمری او سیدالشهداء دی، چې هغه به هم پر اوښ سپور راځي. حضرت عباس وپوښتل: بل څوک دی؟ رسول الله وویل: رور مې علي، چې پر جنتي اوښ سپور به راځي، چې واګې یې د کجورو له لوء لوء دي او د یاقوتو محمل به پرې اچول شوی وي _ همداراز د اوښ ځانګړنې وایي، تر دې چې دلته رارسي او وایي: _ چې خلایق به یو بل ته وایي : دا سړی یا پېغمبر دی یا مرسل او یا کومه مقربه پرښته، چې په ځواب کې به یې د عرش له پاسه ځواب راشي: هغه نه پېغمبر دی او نه مرسل او نه مقربه پرښته او نه د الله تعالی د عرش وړونکی؛ بلکې علي بن ابیطالب د رب العالمین د استازي ځایناستی دی؛ هغه امام المتقین، قائدغرمحجلین (د سپین مخیو مشر_) دی.

(د بغداد تاریخ: دیارلسم ټوک، ۱۲۲ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس همدا مضمون روایت کړی او په پای کې یې وایي: که عابد د ځمکې په رکن، مقام ابراهیم او مسجدالحرام کې زر کاله د الله تعالی عبادت وکړي، چې بدن یې د مشکو په څېر وچ شي او په قیامت کې له الله تعالی سره له آل محمد سره په زړه کې په کینه ملاقات وکړي؛ نو الله تعالی به یې پر مخه په اور کې وګوزار کړي.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۴۰۲، ۳۹۶، ۱۹۳، ۴۰۳ مخونه)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۱۱ مخ)، (احمد بن حنبل په مناقب کې حضرت له انس بن مالک)، (خطیب بغدادي: د بغداد

تاریخ: درېیم ټوک، ۱٤۰ مخ) او (محب طبري؛ ذخایر: ۱۳۵ مخ) د قیامت پر ورځ پـر جنـتي اوښ د حضرت علي د راتګ په اړه روایتونه نقل کړي دي.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۰۲ مخ) له حضرت جابر بن سمرة روایـت کـړی، چـې د اللـه تعالی استازي یې وپوښت: د قیامت پر ورځ به دې د لـوا وړونکـی څـوک وي؟ رسـول اللـه وویل: هماغه چې په دنیا کې به یې وړله او هغه علي بن ابیطالب دی.
بیا وایي: دا روایت نظام الملک په امالي او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۳۹۸ مـخ کـې هم نقل کړی دی.
(حلیة الاولیاء: لومړی ټوک، ٦٦ مخ) په خپل سند له حضرت انـس بن مالـک، (کنـزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۵، ٤۰۳مخونه)، (ریاض النضره: دویـم ټوک، ۲۰۱ مخ) او (ذخایر العقبـی: ۷۵ مخ) په دې اړه روایتونه نقل کړي، چې د روستي خلاصه یې داسې ده:
ریاض النضره او ذخایر له محدوج بن زید دهلي روایتوي، چې رسول الله، حضرت عـلي تـه وویل: د قیامت پر ورځ به ړومبی زه، بیا انبیاء او ورپسې به ته راپاڅېږې او همداراز زمـا امـت ړومبی امت دی، چې مبعوث به شي او لواء الحمد به تا تـه پـه لاس کـې درکـړي، چـې ډېـر خلایق به ورلاندې پناه واخلي او هغه مهال به دې حسن ښي اړخ او حسین به دې کـین اړخ ته وي او له عرشه به غږ راشي: ابراهیم څومره ښه پلار و ستا لپـاره او عـلي څـومره ښـه رور و ستا لپاره او زه پر تا زېری کوم، چې هر اکرام، چې له ما سر وشي؛ نو له تا سر هم کیږي.
د ملا د سیرة په یوه روایت کې راغلي، چې و یې پوښتل: څنګه به حضرت علي وکـړای شي دا لواء راواخلي؟ رسول الله وویل: ولې به یې نشي اوچتوالای، چې الله تعالی ورته زما د صبر په څېر صبر ورکړی دی او د جبراییل د قدرت په څېر قدرت یې ورکړی دی.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۰۳ مخ) له حضرت ابي سعید خدري، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۳۹۳ مخ) له حضرت عمـر بن خطـاب او همـداراز (کنـزالعمال: شپږم ټـوک، ٤۰۰ مـخ) لـه حضرت ابن عباس څخه په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.

## حضرت علي او لارویان به یې د حوض کوثر تر څنګ وي

(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۳۱ مخ) له طبراني نقل کړی، چې په خپل سند یې د رسول اللـه د خولې وینا راخستې، چې حضرت علي ته یې وویل: ((علي! ته او لارویـان به دې حـوض کوثر ته رانڼوځئ؛ خو په خپله به ماړه یاست او نور به مړوئ، حال دا، څېرې به مو سپینې وي او ستا دښمنان به له علي سره حوض کوثر ته رانڼوځي؛ خو لاس تړلي او تږي.))

(کنوزالحقایق: ۱۸۸ مخ)، (استیعاب: دویم ټوک، ٤٥٧ مخ)، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۳٦ مخ) او (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۰۲ مخ) په دې مضمون روایتونه نقل کړي دي.
(هیثمي؛ مجمع: لسم ټوک، ۳٦۷ مخ) له حضرت ابي هریرة او حضرت جابربن عبدالله روایتوي، چې دواړو ویلي دي: رسول الله وویل: ((د قیامت پر ورځ به علي بن ابطالب زما د حوض خاوند وي، چې د ستورو د شمېر هومره جامونه لري، چې بري یې له جابیه تر صنعا پورې دی.))
(کنوزالحقایق: ۹۲ مخ)، (حلیة الاولیاء: لسم ټوک، ۲۱۱ مخ)، (د بغداد تاریخ: څوارلسم ټوک، ۹۸ مخ)، (ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۰۳، ۲۱۱ مخونه)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۲ مخ)، (هیثمي؛ مجمع الزوائد: نهم ټوک، ۱۳٥ مخ)، (ابن حجر؛ تهذیب التهذیب: درېیم ټوک، ۱۳۸ مخ او همداراز نهم ټوک، ۱۳۰ مخ)، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۳۸ مخ) او (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤۰۰، ٤۰۳، ۳۹۷ مخونه) هم په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.

## له پل صراطه د تېرېدو لپاره د حضرت علي اجازه په کار ده

(د بغداد تاریخ: لسم ټوک، ۳٥٦ مخ) په خپل سند له حضرت انس بن مالک روایتوي، چې کله حضرت ابوبکر د مرگ په بستره کې څملاست؛ نو څه خبرې یې وکړې ـ تردې چې و یې ویل: ـ ما د الله تعالی له استازي واورېدل، چې ویل یې: د جنت پر صراط ـ خطرناکه ـ عقبه ده، چې هېڅ څوک به هم ترې وا نه وړي؛ خو د علي په اجازه ـ یا جواز ـ تر دې چې وایي: او همداراز مې واورېدل، چې رسول الله حضرت علي ته وویل: علي! زه خاتم الانبیاء او ته خاتم الاولیاء یې.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۲ مخ) له حضرت علي روایتوي، چې وایي: رسول الله وویل: چې کله د قیامت پر ورځ ړومبني او روستي خلایق راټول شي او پر دوزخ پول ولگوي؛ نو هېڅ څوک به ترې وا نه وړي؛ خو دا چې له تا برائت ولري؛ یعنې په دنیا کې ستا ولایت ورسره وي.
(ریاض النضره: دویم ټوک، ۱۷۲ مخ) له حضرت قیس بن حازم روایتوي، چې وایي: حضرت علي له حضرت ابوبکر سره پر لار یو ځای شو، چې حضرت ابوبکر ورته موسکی

شو، و يې ويل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې ويل يې: هېڅ څوک به له پل صراطه تېر نشي؛ خو داچې د علي جواز ورسره وي.
دا حديث ابن سمان هم د (موافقت) په کتاب کې نقل کړی دی.

## حضرت علي د جنت او دوزخ ايشونکی دی

(صواعق محرقه: ۷۵ مخ) وايي: دارقطني په خپل سند نقل کړي، چې حضرت علي له هغه شپږو کسانو سره اوږدې خبرې وکړې، چې حضرت عمر ورته شورا ورسپارلې وه، چې ځينې يې دادي: پر الله تعالی مو په تاسې کې داسې څوک شته، چې رسول الله به ورته ويلي وي: ته د قيامت پر ورځ د جنت او دوزخ ايشونکی يې؟ نه زه؟ ټولو وويل: پر الله تعالی چې داسې څوک راکې نشته.
له امام رضا روايت شوی، چې وايي: علي! ته د اور او جنت ايشونکی يې او د قيامت پر ورځ به ته يې، چې اور ته به وايې: دا ستا او دا زما.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۴۰۲ مخ) د حضرت علي د خولې وينا داسې راخستې: زه د اور ويشونکی يم.
دا حديث شاذان فضيلي هم په ردالشمس کې او کنوزالحقايق هم په ۹۲ مخ کې دې ورته يو بل روايت نقل کړی او ديلمي ته يې نسبت ورکړی دی.

## رسول الله، حضرت علي، جعفر، حمزه، حسن، حسين او مهدي د جنتيانو سادات دي

(مستدرک الصحيحين: دربيم ټوک، ۱۱ مخ) په خپل سند له حضرت انس بن مالک روايتوي، چې د الله تعالی استازی وايي: موږ د عبدالمطلب زامن؛ يعنې زه، علي، جعفر، حمزه، حسن، حسين او مهدي د جنتيانو سادات يو.
حاکم وايي: دا حديث د مسلم د شرايطو په تول پوره دی.
دا حديث (محب طبري؛ رياض النضره: دويم ټوک، ۲۰۹ مخ) او همدارز السری او ا بن حجر د صواعق په ۹۶ او په ۱۴۰ مخ کې راوړی دی.

(صحیح ابن ماجه: باب خروج مهدي: ۳۰۹ مخ) په خپل سند له حضرت انس بن مالک روایتوي، چې وايي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: موږ د عبدالمطلب زامن؛ یعنې زه، علي، جعفر، حمزه، حسن، حسین او مهدي د جنتیانو سادات یو.
(د بغداد تاریخ: نهم ټوک، ٤٣٤ مخ) هم دې ورته یو بل روایت له حضرت انس بن مالک څخه نقل کړی دی.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۱۰۱ مخ) په خپل سند له عبدالرحمان ارزق له علي روایتوي، چې وايي: رسول الله راکره راغی او زه مې د خوب په ځای کې ویده وم. حسین له رسول الله څخه اوبه وغوښتې. رسول الله پاځېد او هغه گډه یې راولو شله، چې شیده یې لږ ول، چې شیده یې ډېر شو. حسن ورمخکې شو، چې ما ته راکړه؛ خو رسول الله ورنه کړل او حسین ته یې ورکړل، چې فاطمې وپوښتل: گواکې حسین دربانديې ډېر گران دی. رسول الله وویل: داسې نه ده؛ خو حسین ترې مخکې تړی شوی و او بیا یې وویل: زه، ته، دا دوه او هغه چې ویده دي، د قیامت پر ورځ سره یو ځای په یوه ځای کې یو.
دا روایت ابن اثیر هم د اسدالغابه د پینځم ټوک په ۵۲۳ مخ کې نقل کړی او همداراز ا بن اثیر دې ورته یو بل روایت هم حسن بن علي نقل کړی دی.
دا روایت (ابوداود طیالسي؛ مسند: لومړی ټوک، ۲٦ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: اتم ټوک، ۱۰۱ مخ) او د هغه د وینا له مخې ابویعلي او ابن ابي عاصم د (السنه) په کتاب کې، طبراني د (المتفق و المتفرق) په کتاب کې، ابن نجار او خطیب بغدادي او (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱٦۹ مخ) هم نقل کړی دی.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱٥٦ مخ) او همداراز د اووم ټوک: ۱۰۲ مخ او همداراز د شپږم ټوک: ۲۱٦ مخ او د اووم ټوک: ۱۰۲ مخ او (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک: ۱٦۹ مخ) هم په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱٥٦ مخ) داسې وايي: الله تعالی زه د ابراهیم خلیل په څېر کړم او زما او د هغه ماڼۍ یو بل ته مخامخ دي او د ماڼۍ زما او ا براهیم د ماڼۍ په منځ کې ده او څومره بختور دی، دا حبیب، چې د دوو خلیلانو تر منځ یې ماڼۍ ده.
دا حدیث حاکم په خپل تاریخ، بیهقي په (فضائل الصحابه)، ابن الجوزي له حذیفه، (محب طبري؛ ریاض النضره: دویم ټوک، ۲۱۱ مخ) او دې روایت ته ورته یو بل روایت کنزالعمال د شپږم ټوک په ۱٥٦ مخ کې هم نقل کړی دی.

(هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۴۰۵ مخ) له عمرو بن حمق روايت توي، چې وايي: رسول الله جگړې ته سريه ولېږله (د نور مطالبو تر ويلو روسته يې وويل: ) ما هغه مهال د رسول الله پر لور مهاجرت وکړ او په دې ترخ کې، چې له رسول الله سره وم، ما ته يې وويل: عمرو! غواړې د جنت آيت دروښيم، چې په دې دنيا کې په خلکو کې خواړه خوري، اوبه څښکي او په بازارونو کې گرځي؟ ورته مې وويل: ولې نه! رسول الله وويل: دادی او قوم يې او علي بن ابيطالب ته يې اشاره وکړه او و يې ويل: عمرو! غواړې د دوزخ آيت دروښيم، چې همدا اوس په دنيا کې خواړه خوري، اوبه څښکي او په بازارونو کې گرځي؟ ورته مې وويل: را و يې ښيه! رسول الله وويل: دا او قوم يې دی، چې د اور آيت دی او داسې سړي ته يې ا شاره وکړه، چې ما و نه پېژنده او د رسول الله تر مړينې روسته، چې فتنه راولاړه شوه؛ نو د رسول الله خبره رایاده شوه او د دوزخ له آيته د جنت آيت ته وروتښتېدم ـ تردې چې وايي: ـ پر الله تعالی قسم که د ډبرې په گېډه کې پټ شم؛ نو بني اميه به مې راوباسي او مړ به مې کړي؛ ځکه حبيب مې رسول الله راته ويلي ول، چې ستا سر په اسلام کې لومبی سر دی، چې په نېزه به پورته کړای شي او په ښارونو کې به وگرځول شي.

(کنزالعمال: اووم ټوک، ۶۳ مخ) له اجلح بن عبدالله کندي او همداراز (کنزالعمال: اووم ټوک، ۶۳ مخ) دوه روايتونه نقل کړي، چې دويم يې له حضرت عبدالله بن رافع نقل کړی، چې وايي: حضرت معاويه بن ابي سفيان د عمرو بن حمق په لټه کې شو، چې و يې وژني. عمرو د جزيرې پر لور وتښتېداو زاهر د حضرت علي يو بل صحابي يې هم له ځان سره يووړ، چې د شپې په دښته کې مار وچيچه او بدن يې وپړسېد او خپل ملگري زاهر ته يې وويل: له ما لرې شه؛ ځکه له خپل خليل رسول الله مې واورېدل، چې و يې ويل: پيريان او انسانان دواړه به ستا په وينه کې گډون کوي؛ نو نن پېرې خپل کار وکړ او د همدې وينا په ترخ کې ول، چې له وريه پر اسونو سپور لښکر راغی؛ نو عمرو پوه شو، چې هماغه د حضرت معاويه بن ابي سفيان لښکر دی؛ نو زاهر ته يې وويل: ته پټ شه او کله يې چې زه ووژلم او سر له يې تنې راته غوڅ کړ؛ نو ته مې تنه ښخه کړه. زاهر وويل: ولې داسې وکړم؟ بلکې داسې به وکړم خپل، چې خپل غشي به راوباسم او ورسره به وجنگېږم؛ نو کله مې چې غشي خلاص شول؛ نو له تا سره به مې يو ځای ووژني. عمرو وويل: نه! داسې سمه نه ده او ته ځان وژغوره او زه توښه لرم، در به يې کړم او روسته به دې په کار راشي او هغه دا حديث دی، چې له ما يې واوره ـ او نورو ته يې ورسوه: د جنت آيت محمد رسول الله او نښانه يې

علي بن ابيطالب دی. بیا زاهر ځان پټ کړ او دښمنان راورسېدل، چې یو پکې غنم رنګی سړی و، چې راکوز شو او د عمرو سر یې له تنې غوڅ کړ او په نېزه یې کړ او دا ړومبی سر و، چې په اسلام کې پر نېزه شو. روسته تر دې، چې د حضرت معاویه بن ابي سفیان لښکر ولاړ؛ نو زاهر له خپل پټ ځایه راووت او د عمرو تنه یې ښخه کړه.
(حلیة الاولیاء: څلورم ټوک، ۳۲۹ مخ) په خپل سند له شعبي، (د بغداد تاریخ: دولسم ټوک، ۳۵۸ مخ) په خپل سند له حضرت ابي سعید خدري له ام سلمه بي بي، (هیثمي؛ مجمع: لسم ټوک، ۲۱ مخ) له ام سلمه بي بي او د نهم ټوک په ۱۷۳ مخ کې له حضرت ابي هریرة، (صواعق محرقه: ۹٦ مخ) د احمد له مناقب، (کنزالعمال: دویم ټوک، ۲۱۸ مخ) ټولو روایتونه نقل کړي، چې د ټولو مضمون یو دی او نچوړ یې دادی، چې حضرت علي او لارویان یې جنتیان دي او موږ روستی روایت راخستی، چې رسول الله وویل: علي! زه، ته، حسن، حسین او زموږ ځوځات به موږ پسې او زموږ مېرمنې زموږ په ځوځات پسې له ښي اړخه او لارویان به مو له کیڼ اړخه جنت ته ورننوځو.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۱۵۳ مخ) او د هغه د وینا له مخې، بیهقي د فضائل الصحابه په کتاب کې او دیلمي د الفردوس په کتاب کې له حضرت انس روایتوي، چې رسول الله وویل: علي بن ابیطالب به په جنت کې د هغه د اهل لپاره د سهار د ستوري په څېر وځلېږي.
دا روایت یې په ۱۵۵ مخ کې هم نقل کړی او حاکم ته یې په تاریخ کې، بیهقي ته یې په فضائل الصحابه کې، دیلمي او ابن جوزي ته یې نسبت ورکړی دی. مناوي هم د فیض القدیر او د حدیث نورو ائمو هم نقل کړی دی.

# د حضرت فاطمة الزهرا فضایل

(سیوطي په درالمنثور کې د معراج د آیت په تفسیر کې له طبراني له حضرت عایشې بي بي روایتوي، چې وایي: رسول الله وویل: کله یې چې زه اسمان ته او بیا جنت ته یووړم؛ نو تر یوې داسې ونې لاندې تم شوم، چې تر اوسه مې لا نه وه لیدلې او له هغه ونې مې یوه مېوه روشلوله او و مې خوړه، چې هغه مېوه د فاطمې نطفه شوه؛ نو اوس چې کله هم د هغه ونې د بوی لېواله شم؛ نو فاطمه بویوم.

د مستدرک (درېیم ټوک: ۱۵٦ مخ) په روایت کې راغلي: هغه ونه د بویي ونه وه او ذخایر العقبي په ۳٦ مخ کې حضرت عایشه بي بي پر رسول الله نیوکه کوي، چې ولې فاطمه دومره ښکلوي؛ نو پېغمبر یې علت د معراج کیسه او د جنت ونه کړه او د ذخایر العقبی په ٤٤ مخ کې وایي: ((پر جنتي مېوې سربېره، حضرت جبراییل هم راته څمکې ته جنتي مڼه راوړه)) او د د بغداد تاریخ د پینځم ټوک په ۸۷ مخ کې د معراج د کیسې تر نقلولو روسته حضرت عایشه بي بي وایي: ((نو فاطمه په بشري بڼه جنتي حوره ده.)) او د د بغداد تاریخ د دولسم ټوک په ۳۳۱ مخ او د صواعق د ۹٦ مخ روایت، چې له حضرت ا بن عباس یې نقل کړی، چې ټولو ته یې وویل: ((فاطمه په بشري بڼه جنتي حوره ده، چې هېڅکله نه حیض شوه او نه استحاضه او که الله تعالی پرې د فاطمې نوم کېښود؛ نوددې لپاره وو، چې الله تعالی یې دوستان یې د دوزخ له اوره فطم (لرې) کړل.)) او د ذخایر په ٤٤مخ کې اسماء له رسول الله څخه په حیرانتیا پوښتي، چې د فاطمې حسن وشو؛ نو نه نفاس شوه او نه استحاضه. رسول الله وویل: لور مې مطهره طاهره ده.

د ذخایر په ٤٤ مخ کې په یو بل روایت کې وایي: ((جبراییل راته له جنته یوه مڼه راوړه، و مې خوړه، له خدیجې بي بي سره مې کوروالی وکړ، چې فاطمه یې په ګېډه شوه، چې خدیجه وایي: ډېر سپک حمل دی او راته وایي: رسول الله! چې کله له کوره ووځې؛ نو په ګېډه ماشوم راسره خبرې کوي؛ نو چې کله د خدیجې د لنګوال دردونه شول؛ نو د قریشو په ښځې پسې یې څوک ولېږل؛ خو څوک یې مرستې ته رانغلل او راته یې وویل: ولې دې له محمد سره واده وکړ، چې په همدې وخت کې څلور ښکلې ښځې راغلې او دومره ښکلې وې، چې د ښکلا تعریف یې نشته، چې یوې یې وویل: زه دې نیا "حوا" یم. دویمې وویل: زه "آسیه" دمزاحم لور یم. درېیمې یې وویل: زه "کلثوم" د موسی خور یم. څلورمې یې وویل: زه "مریم" د عمران لور او د عیسی مور یم او راغلي یو، چې په لنګوال کې درسره

مرسته وکړو؛ نو چې کله ماشوم وزیږېد؛ نو سجده یې وکړه او دوه ګوتې یې اسمان تـه پورتـه کړې.
(ذخایر العقبی: ۲٦ مخ) د علي بن موسی الرضا له مسنده، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۱۹ مخ)، (اسدالغابه: پینځم ټوک، ٤۲۰ مخ)، (استیعاب: دویم ټوک، ۷۵۲ مخ) روایتونه نقل کړي، چې په ځینو کې د فاطمې وجه تسمیه فاطمه راغلې او په ځینو نورو کې یې کنیه ام ابیهـا؛ یعنـې د پلار مور راغلې ده.
(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۳۱۹ مخ) یـو روایـت راوړی، چـې پـه پـای کـې یـې حضـرت عایشه بي بي وايي: فاطمه به چې رسول الله ته راغله؛ نو پیغمبر به ورته لـه ځایـه پاڅېـد او یـا هغه (او یا به یې لاس) ښکلاوه او په خپل ځای کې به یې کېنوله.
(ابوداود طیالسي؛ صحیح: ؟ ټوک، ۳۳۷ مخ)، (عسقلاني؛ فتح الباري: نهم ټوک، ۲۰۰ مـخ)، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۵٤ مـخ) لـه حضـرت عایشـې بي بي، (بخـاري؛ ادب المفرد: ۱٤۱ مخ)، (استیعاب: دویم ټوک، ۷۵۱ مخ)، (بیهقـي؛ سـنن: اووم ټـوک، ۱۰۱ مـخ)، (کنزالعمال: اتم ټوک، ۱۱۱ مخ)، (اسدالغابه: پینځم ټـوک، ۵۲۲ مـخ)، (مجمـع الزوائـد: اتـم ټوک، ٤۲ مخ) او (ذخائر العقبی: ۳٦ مخ) له عایشې بي بي په دې اړه روایتونه نقل کړي دي.

## رسول الله او فاطمة الزهرا پر یو بل خورا ګران وو

(صحیح مسلم: کتاب جهاد و سیر: د مشرکینو لخوا د پیغمبر د کړولو باب) په خپـل سـند لـه حضرت ابن مسعود روایتوي، چې وايي: یوه ورځ رسول الله د اللـه تعـالی د کـور تـر څنګـه لمونځ کاوه، چې ابوجهل خپلو ملګرو ته وویل: په تاسې کې کوم یو چمتو دی، چې د هغـه اوښ لرې راوړي او هغه مهال یې پر محمد خالي کړي، چې سجدې تـه ولاړ؛ نـو پـه هغـوی کې یو، چې تر ټولو کینه کښ و، دا دنده یې پر غاړه واخسته او ټول پر خندا شول او دومره یې وخندل، چې ټول پر یو بل پرېووتل؛ خو ما هـېڅ کـار و نـه شو کـړای او ولاړم د پیغمـبر وړوکې لور فاطمة الزهرا ته مې خبر یووړ چې راغله او لـه پـلاره یـې هغـه لـرې پـاک کـړ او مشرکینو ته غوسه شوه او د رسول الله لمونځ، چې پای ته ورسېد؛ نـو دوی تـه یـې درې ځـل ښېرا وکړه؛ نو همداچې د هغه غږ یې واورېد؛ نو دا خنداګانې یې بس شوې او رسـول اللـه د اوو کسانو په بېله بېله نوم واخست او ښېرې یې ورته وکړې او پر الله تعـالی قسـم، چـې مـا د بدر پر ورځ د ټولو مړي په کنده کې ولیدل.

(صحیح مسلم: کتاب جهاد وسیر: باب غزوه احد) په خپل سندله حضرت ابي حازم روایتوي، چې له حضرت سهل بن سعد یې واورېدل، چې د احد په جګړه کې رسول الله د ټپونو د څرنګوالي په ځواب کې یې وویل: څېره یې ټپي شوه او مخکنـي غاښـونه یـې مـات شول او خولې یې په سر کې راومنډل شوه او فاطمة الزهرا به یې د څېرې وینې پرېمنځلې او حضرت علي به ورته پـر سر او به اچـولې او چې کلـه بي بي فـاطمې ولیـدل، چـې وینـه نـه بندېږي؛ نو پوزی یې وسوځاوه او ایره یې د رسول الله پر ټپونو کېښووه، چې وینه بنده شوه.
(حلیة الاولیاء: دویم ټوک، ۳۰۰ مخ)، (کنزالعمال: لومړی ټوک، ۷۷ مـخ)، (هیثمـي؛ مجمـع: اتم ټوک، ۲۶۲ مخ)، (ذخائر العقبی: ٤٧ مخ)، (ابن سعد؛ طبقات: اتم ټوک، ۲٤ مخ) روایتونـه نقل کړي، چې د ټولو نچوړ دادی: رسول الله به پـر اوختي رنـګ لـه جګـړې راسـتنېده؛ نـو ړومبی به جومات بیا به له فاطمة الزهرا کره تله او فاطمې به یې په ژړا استقبال ته راوته او کلـه به چې فاطمې خواړه پاخه کړل؛ نو هرومرو به یې خپل پلار ته لېږل او چې کله بي بي فاطمې د خپلې خور رقیه قبر ته ژړل؛ نو رسول الله ورته پر خپله لمنه اوښکې پاکې کړې.
(صحیح ابي داود: اته ویشتم ټوک، باب انتفـاع بالعـاج) لـه حضـرت ثو بان د رسـول اللـه لـه مریي، (مستدرک الصحیحین: لومړی ټوک، ٤٨٩ مخ) له حضرت ابن عمران او درېیم ټـوک په ۱۵٦ او ۱۵۵ مخونو په دې مضمون روایتونه نقل کړي، چې رسول الله به چې پر سفر وتـه؛ نو تر ټولو اخر به یې له فاطمې بي بي سره الله تعالی پاماني کوله او کله به چې راسـتون شو؛ نو تر ټولو ړومبی به فاطمې بي بي ته ورتله او له یوه سفر، چې راستون شو؛ نو رسول الله یـې له کوره غوسه راووت، چې فاطمې بي ځنډه خپلې غوږوالۍ، پرده او غـاړکۍ رسـول اللـه تـه ولېږله، چې د الله تعالی په لار کې یې انفاق کړي، چې رسـول اللـه درې ځـل وویـل: دنیـا د محمد او آل محمد لپاره نه ده، که دنیا الله تعالی ته د د مچ د وز هـومره ازربښـت درلـود؛ نـو کفارو ته به یې یو ګوټ اوبه هم نه وې ورکړې.
(امام احمد بن حنبل؛ مسند: درېیم ټوک، ۱۵۰ مـخ) پـه خپـل سـند لـه حضـرت انـس څخـه روایتوي، چې یوه ورځ حضرت بلال د سهار د لمانځه لپاره ناوخته کړ، چې رسول الله ترې د علت پوښتنه وکړه. و یې ویل: د فاطمې کور ته ولاړم او مې لیدل، چې مېچنه کوي او ماشوم یې ژاړي؛ نو ورته مې وویل: که غواړئ؛ نو مېچنه به زه وکړم او ته خپل ماشوم په کـلاره کـړه او که غواړئ؛ نو زه به مو ماشوم په کلاره کړم او تاسې مېچنه وکـړئ. و یـې ویـل: زه مـې پـر ماشوم تر ټولو مهربانـه یـم؛ نـو زه پـر مېچنـه بوخـت شوم. و یـې ویـل: زړه دې پـر فـاطمې وسوځېد؟ الله تعالی دې تا وبښي.

(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۹۵ مخ) له حضرت جابر روایتوي، چې وایي: رسول الله فاطمه ولیده، چې د اوښ د وړی څادر یې اغوستی او مېچنه کوي، چې د الله تعالی د استازی پرې زړه وسوځېد اوښکې یې راوبهېدې و یې ویل: فاطمې! د دنیا په سختو صبر وکړه، چې د آخرت نعمتونو ته ورسې او د (و لسوف یعطیک ربک فترضی) آیت راغی.
او په درالمنثور کې تر (و آت ذا القربی حقه-د نږدې خپلوانو حق دې ورکړه) له بزار، ابویعلي، ابن مردویه او نورو له حضرت ابي سعید خدري رانقل کړي، چې و یې ویل: دا آیت، چې راغی؛ نو د الله تعالی رسول صلی الله علیه و آله وسلم فاطمې ته غږ کړ او فدک یې وروباښه. سیوطي وایي: دا روایت یې له ابن مردویه له حضرت ابن عباس رانقل کړی دی.
(هیثمي؛ مجمع۴۹/۷) له حضرت ابي سعید خدري او د هغه د وینا له مخې طبراني او همداراز ذهبي په میزان الاعتدال (۲۲۸/۲) (دا حدیث یې سم ګڼلی دی) او متقي په کنزالعمال (۱۵۸/۲) او د هغه د وینا له مخې حاکم په خپل تاریخ کې او ابن النجار دا کیسه رانقل کړې ده.

## فاطمة الزهرا د نړۍ د ښځمنو اغلې ده

(صحیح ترمذي ۳۰۶/۲ د حسن او حسین د مناقبو باب) له حضرت حذیفه روایت کړی، چې مور مې ورټلم، چې څو ورځې کېږي، چې رسول الله ته نه یې ورغلی؟ ورته مې وویل: مه خپه کېږه او همدا اوس به ورشم او د ماښام لمونځ به ورسره وکړم او له آنحضرته به وغواړم، چې ما او تاته دعا وکړي. د ماښام لمونځ مې له آنحضرت سره وکړ او همداسې یې لمونځونه کول، چې د ماسخوتن د لمانځه وخت راورسېد، د ماسخوتن تر لمانځه روسته روان شو او زه ورپسې شوم، ورته مې غږ کړ، زما غږ یې واورېد، و یې وپوښتل: څوک دی؟ حذیفه دی؟ ورته مې وویل: هو زه یم! و یې ویل: څه کار لرې الله تعالی دې تا او ستا مور وبښي. ورته مې وویل: کار نه لرم- و یې ویل: دا پرښته ده، چې ځمکې ته راکوزه شوې ده او تر اوسه لا نه وه راکوزه شوې او له خپل پالونکي یې د راکېووتو اجازه غوښتې، چې پر ما سلام ووایي او زېری راباندې وکړي، چې فاطمه د جنتي ښځمنو اغلې او حسن او حسین د جنتي ځوانانو ښاغلي دي.
دا روایت حاکم په مستدرک (۱۵۱/۳) کې (هغه دا حدیث سم ګڼلی دی)، امام احمد بن حنبل په خپل مسند (۳۹۱/۵)، ابونعیم په حلیة (۵۷٤/۵)، متقي په کنزالعمال (۲۱۷/٦)، ابن

اثير په اسدالغابه (٥٧٤/٥) او متقي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۲۱۷ مخ کې رانقل کړی او د وينا له مخې يې رواياني له ابن حبان نه رانقل کړی دی.

(حلية الاولياء: دويم ټوک، ٤٢ مخ) په خپل سند له حضرت جابر بن سمرة روايتوي: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم راغی، کېناست او و يې ويل: فاطمه رنځوره شوې ده. ورته مو وويل: اجازه راکړئ، چې پوښتنه يې وکړو، بيا پاڅېد او په ډله يې د کور مخې ته ولاړو؛ خو د کور ور يې تړلی و؛ آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم وويل: پړونی دې پر سره کړه، چې خلک دې پوښتنې ته راځي. و يې ويل: يا رسول الله! زه يوازې يو پټو لرم، بيا د الله تعالی رسول خپله پګړۍ ور واچوله، چې سر دې پرې وپوښه، خلک تر څه مودې روسته پاڅېدل حال دا، خپه وو، چې ولې زموږ د پېغمبر لور جامې نه درلودې؟ آنحضرت ورته مخ کړ، و يې ويل: هغه د قيامت پر ورځ د ښځو اغلې ده.

(خصايص نسائي: ٣٤ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۱۱ مخ)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۸۵ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۱۱ مخ او شپږم ټوک، ۱۵۳ مخ)، (ذخائر العقبی، ٤٤ مخ)، (مستدرک الصحيحين: دويم ټوک، ٤٩٧ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۲۹۳، ۳۱٦ او ۳۲۲ مخ په څو لارو) (ابن عبدالبر؛ استيعاب، دويم ټوکو ۷۲۰ مخ)، (اسدالغابه: پينځم ټوک، ٤٣٧ مخ)، (ذخائر، ٤٢ مخ)، (ابن حجر؛ الاصابه: اتم ټوک، ۱۵۸ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۲۲۳ مخ)، (استيعاب، دويم ټوک، ۷۵۰ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۱۷ مخ)، (فيض القدير: دريم ټوک، ٤٣٢ مخ)، (تفسير ابن جرير: درېيم ټوک، ۱۰۸ مخ)، (صحيح ترمذي: لومړی ټوک، ۳۱ مخ)، (مستدر: درېيم ټوک، ۱۵۷ مخ)، (احمد؛ مسند: درېيم ټوک، ۱۳۵ مخ)، (ابونعيم؛ حلية: دويم ټوک، ٣٤٤ مخ)، (طحاوي؛ مشکل الاثار: لومړی ټوک، ۵۰ مخ)، (خطيب؛ تاريخ: اووم ټوک، ۱۸٤ مخ او نهم ټوک، ٤٠٤ مخ)، (اسدالغابه: پينځم ټوک، ٤٣٧ مخ)، (تهذيب التهذيب: دولسم ټوک، ٤٤١ مخ)، (استيعاب: دويم ټوک، ۷۲۰ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۲۷ مخ)، (تفسير ابن جرير: درېيم ټوک، ۱۸۰ مخ) او سيوطي په درمنثور کې د آل عمران د سورت تر (و اذ قالت الملائکة يا مريم) آيت لاندې په دې باب روايتونو راوړي دي، چې په دنيا او آخرت کې د ښځو اغلې آسيه، مريم، خديجه او فاطمه دي.

## حضرت فاطمة الزهرا د رسول الله (ص) په ويناوو کې

(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۰۲ مخ) له حضرت ابوسعيد ـ د شرف النبوه په کتاب کې- نقل کړي دي، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم حضرت علي ته وويل: الله تعالی درې نعمتونو درکړي، چې ماته يې نه دي راکړي: لومړی داچې زما په څېر خسر يې درکړی دی او ما ته يې داسې خسر نه دی راکړی، دويم داچې د فاطمې په څېر مېرمن يې درکړې، چې صديقه ده او داسې مېرمن يې ما ته نه ده راکړې، درېيم داچې د حسنين په څېر اولاد يې درکړی، چې زما له څوځاته دي؛ خو هر څه چې وي تاسې ټول له ما څخه او زه له تاسې يم.

(د بغداد تاريخ: لومړی ټوک، ۲۵۹ مخ) په خپل سند له حضرت ابن عباس نه روايتوي: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: پر هغه شپه يې چې معرج ته بوتلم، و مې ليدل، چې د جنت پر وره يې ليکلي دي: لا اله الا الله محمد رسول الله علی حب الله و الحسن و الحسين صفوة الله و فاطمة غيرة الله و علی اعدائهم لعنة الله.

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۶۰ مخ) په خپل سند له ام المؤمنين عايشې بي بي روايتوي: د فاطمې نوم به چې د حضرت عايشې په مخ کې اخستل کېده، ويل به يې: ما هېڅکله بې له پلاره يې د هغه په څېر صادق الهجه و نه ليده.

دا روايت (ابن عبدالبر؛ استيعاب، دويم ټوک، ۷۵۱ مخ) او (حلية الالياء: دويم ټوک، ٤١ مخ) هم راوړی دی.

(مستدرک الصحيحين، درېيم ټوک، ١٦٤ مخ) په خپل سند له جابر نه روايتوي: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: هر پېغمبر خپل څوځات لري، چې د پلار له اړخه ورپورې تړاو لري؛ خو د فاطمې اولاد، چې ولي يې زه يم او زما څوځات دی (هغه دا حديث صحيح ګڼلی دی) (د بغداد تاريخ، يوولسم ټوک، ۲۸۵ مخ) په دوو لارو او (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۱٦ مخ)، (ذخائر العقبی، ۱۲۱ مخ) په دې باب روايتونه راوړي دي، چې روستی يې دادی، چې د ذخائر ليکوال له حضرت عمر بن خطاب نه روايت کړی دی، چې و يې ويل: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: هر ماشوم پلار لري، چې په هغه پورې اړه لري ـوايي: پلانی د پلاني زوی ـ بې د فاطمې له زامنو، چې پلار يې زه يم او ما ته منتسب دي. د ذخائر ليکوال دا حديث د احمد بن حنبل د مناقب کتاب ته نسبت ورکړی دی.

(صحيح بخاري، د بداء الخلق کتاب، د الله تعالی د رسول د خپلوانو د مناقبو باب) په خپل سند له مسور بن مخرمة روايتوي: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: فاطمه مې د وجود ټوټه ده، چا چې غوسه کړه، زه يې غوسه کړی يم.

دا مضمون متقي هندي د کنزالعمال د شپږم ټوک په ۲۲۹ مخ کې او مناوي د فيض القدير د درېيم ټوک په ٤۲۱ مخ کې، نسائي د خصايص په ۳۵ مخ کې او صحيح بخاري په کتاب نکاح، ابوداود د خپل صحيح د دولسم ټوک کې (صحيح مسلم: د فضائل الصحابه کتاب، د فاطمة الزهرا د فضايلو باب) (فخر رازي په خپل تفسير کې د مودت د آيت او د معارج د سورت په تفسير کې) (صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۳۱۹ مخ)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۵۹ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: څلورم ټوک، ۳۲۲ او ۳۳۲ مخونه له دوو لارو)، (بيهقي؛ سنن: اووم ټوک، ٦٤ مخ)، (حلية الاولياء: دويم ټوک، ٤٠ مخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۱۹ مخ)، (مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ١٥٤ مخ)، (کنزالعمال: اتم ټوک، ۳۱۵ مخ)، (خصائص نسائي: ۳٦مخ) او (صواعق المحرقه، ۱۰۷ مخ) راوړی دی، چې يوازې روستی روايت يې دلته راوړو.

(ابن حجر؛ صواعق: ۱۰۷ مخ) يوه ورځ حسن مثنی د حسن سبط (امام مجتبی) زوی عمر بن عبدالعزيز ته ورغی؛ نو داچې عمر ځوان او هغه بوډا و؛ نو عمر يې درناوي ته په خپل ځای کېناوه، درباريانو عمر ملامته کړ (چې ته اموي يې؛ نو ولې د علي د زوی درناوی کوې؟)ورته يې وويل: ډاډمنو او موثقو وګړيو راته نقل کړي دي او دومره ډاډمن دي؛ لکه په خپله مې چې اورېدلي وي، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: "فاطمه مې د وجود ټوټه ده، څه چې يې خوشحالوي ما خوشحالوي " او پوهېږم که فاطمه ژوندۍ وه او ليدلي يې وای، چې څنګه يې د لمسي درناوی کوم، نو خوشحاله شوې به وه؛ نو زما په دې کړنه د الله تعالی رسول خوشحالېږي.

(مستدرک الصحيحين: درېيم ټوک، ۱۵۳ مخ) په خپل سند له حضرت روايتوي: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: "الله تعالی د فاطمې په غوسه، غوسه کېږي او په خوشحالۍ يې خوشحالېږي."

دا مضمون، چې سند يې صحيح دی ابن اثير هم د اسدالغابه د پينځم ټوک په ۵۲۲ مخ کې او ابن حجر د اصابه د اتم ټوک په ۱۵۹ مخ کې او تهذيب التهذيب د دويم ټوک په ٤٤١ مخ کې او متقي د کنزالعمال د اووم ټوک په ۱۱۱ مخ کې او همداراز د شپږم ټوک په ۲۱۹ مخ کې، ذهبي د ميزان الاعتدال د دويم ټوک په ۷۲ مخ او ذخائر العقبی په ۳۹ مخ کې هم راوړی دی.

## د حسنینو فضائل

(ذخائر العقبی: ۱۲۰ مخ) له حضرت اسماء بنت عمیس روایتوي: فاطمې حسن راوست، رسول الله راغی، و یې ویل: زوی مې راوړه، ما حسن له روښې سره، چې ژېړه ټوکر و، ورکړ، هغه ټوکر یې لرې کړ، و یې ویل: ویلي مې نه وو، چې یو ماشوم هم په ژېړه ټوټه کې مه تړئ؟ بیا مې ماشوم په سپین ټوکر کې تاو کړ او ور مې کړ، آنحضرت ورته په ښي غوږ کې اذان او په کیڼ غوږ کې یې اقامه وویله او علي یې وپوښت: څه نوم دې پرې ایښی دی؟ و یې ویل: زه په دې چار کې تر تاسې نه مخکې کېږم. جبرائیل راغی او پیغام یې راووړ: الله تعالی دې درباندې تر سلام ویلو روسته وایي، چې نوم یې د هارون د زوی نوم کېږده؛ ځکه علي ما ته داسې دی؛ لکه هارون، چې موسی ته و؛ خو داچې تر ما روسته بل پیغمبر نه راځي.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم : وپوښتل: د هارون د زوی څه نوم و؟ و یې ویل: شبر! د الله تعالی رسول وویل: زما ژبه خو عربي ده (او دا خو عبري ټکی دی) حضرت جبرائیل وویل: نوم یې حسن کېږده. یو کال روسته حسین وزیږېد او همدا خبرې رامنځ ته شوې او جبرائیل ورته حکم وکړ، چې نوم یې د هارون د بل زوی نوم؛ شبیر کېږده او د الله تعالی رسول بیا هماغه نیوکه وکړه او حضرت جبرائیل وویل، چې نوم یې حسین کېږده او لکه څنګه یې چې پر دریم زوی یې مشبر یعنې محسن کېښود.

(اسدالغابه: دویم ټوک، ۹ مخ) له ابو احمد عسکري روایتوي، چې د حسن او حسین نومونو په جاهلیت کې هېڅ مخینه نه درلوده او همداراز له مفضل نه روایتوي، چې: الله تعالی د جاهلي عرب پوهه او ذهن له دې دوو نومونو پټ کړ، د یوه عرب ذهن ته هم دا را نه غلل، چې د خپل زوی نوم حسن یا حسین کېږدي، تر څو چې د الله تعالی رسول په خپلو زامنو کېښود. دا اعرابي وایي: ما مفضل ته وویل: په یمن کې مخینه لري؟ و یې ویل: نه! په یمن کې حسن د سین په سکون او حسین د ح په فتحه او سین په کسره کارېده او له عمران بن سلیمان یې نقل کړي دي: دا دوه نومونو د جنتیانو نومونه دي او په جاهلیت کې یې مخینه نه درلوده.

(تهذیب التهذیب: دویم ټوک، ۲۹۸ مخ) له حضرت ا بوهریره روایتوي: الله تعالی شاهد دی، چې د الله تعالی له رسول سره بهر ووتو، چې د حسن او حسین د ژړا غږ یې واورېد، چټک د فاطمې د کور پر لور روان شو، وا مې ورېدل، چې پوښتي: زامن مې ولې ژاړي؟ و یې ویل: تږي دي. رسول الله راغی، چې له زاړه خیره اوبه راواخلي، پکې نه وې؛ نو ټولو ته

يې وويل: په تاسې کې له چا سره اوبه شته؟ له چا سره ان يو گوټ او به هم نه وې، بيا يې وويل: يو ماشوم راکړه. فاطمې يو ماشوم ورکړ او د الله تعالی رسول په خپلې سينې پورې کړ او خپله ژبه يې ورته په خوله کې کېښوه او ماشوم هم ژبه وروله، چې ارام شو؛ دا ماشوم يې ورکړ او هغه بل يې راواخست او موړ يې کړ.
دې روايت ته ورته (هيمثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۸۰ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۰۵ مخ) او (ذهبي؛ ميزان الاعتدال: لومړی ټوک، ۹۷ مخ) هم راوړی دی.
(احمد بن حنبل؛ مسند: شپږم ټوک، ۳۹۹ مخ)، (ابن حجر؛ اصابه: پينځم ټوک، ۲۳۱ مخ)، (ابن ماجه قزويني؛ صحيح: ابواب رويا، ۲۹۸ مخ)، (حاکم؛ مستدرک: درېيم ټوک، ۱۷۳ مخ)، (ابن سعد؛ طبقات: اتم ټوک، ۲۰٤ مخ) او همداراز د اتم ټوک په ۱۷۳ مخ کې روايتونه راوړي دي، چې لنډيز يې دادی، چې ام الفضل د پېغمبر د تره حضرت عباس مېرمن خوب وليد، چې د الله تعالی د رسول د مړي يوه ټوټه پرې شوه او د هغې لمنې ته راگوزاره شوه؛ نو دا خوب يې چې د الله تعالی رسول ته ووايه؛ ورته يې وويل: ښه خوب دې ليدلی دی، د لور به مې زوی وشي او ته به ورته شيده ورکړې. همداسې وشول (تر حديث تر پايه).
(صحيح بخاري، د ادب کتاب: د ماشوم ښکلول او په غېږ کې يې د اخستو باب) په خپل سند له ابن ابي نعيم نه روايتوي: زه له ابن عمرسره وم، چې يو سړي ترې د مچ د وينې پوښتنه وکړه. عبدالله بن عمر وپوښت: د کوم ځای يې؟ و يې ويل: عراقی يم. عبدالله بن عمر غونډې ته مخ کړ، و يې ويل: دې سړي ته وگورئ، چې د مچ د وينې پوښتي؛ حال دا، د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د زوی وينه تويوي. ما په خپله د الله تعالی له رسوله اورېدلي دي، چې و يې ويل: حسن او حسين مې په دنيا کې دوه خوشبويه گلان دي.
دا حديث بخاري په بله لار د بداء الخلق په کتاب کې د مناقب حسن او حسين عليهما السلام په باب کې راوړی دی؛ او همداراز په خپل بل کتاب ادب الفرد، ١٤ مخ کې؛ ترمذي هم د خپل صحيح د دويم ټوک په ۳۰٦ مخ کې، (احمد بن حنبل؛ مسند: دويم ټوک په څو لارو، ۸۵، ۹۳، ١١٤، ۱۵۳ مخونو کې)، (ابوداود طيالسي؛ مسند: اتم ټوک، ۱٦۰ مخ)، (ابونعيم؛ حلية: پينځم ټوک، ۷۰مخ) په دوو لارو (نسائي؛ خصايص: ۳۷ مخ) او (فتح الباري: اتم ټوک، ۱۰۰ مخ) کې راوړی دی.
(حلية الاولياء: درېيم ټوک، ۲۰۱ مخ) په خپل سند له جابر نه روايتوي: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم حضرت علي ته وويل: سلام دې پر تا وي ای زما د دوو گلانو پلاره؛ ستا ځان او زما د دوو گلانو ځان؛ ځکه ژر به دې دوه رکنه راونړېږي او الله تعالی پر تا زما ځايناستی دی -يعنې الله تعالی ته دې سپارم - او د الله تعالی رسول، چې له دنيا ولاړ، علي

وويل: دا مې يو له دوو رکنو څخې و، چې ونړېد او فاطمه، چې له دنيا ولاړه؛ نو و يې ويل: دا مې دويم رکن و، چې ونړېد.
(خصايص نسائي: ۳۷ مخ) په خپل سند له حضرت انس بن مالک روايتوي: ډېرى به پېښېدل، چې کله به د الله تعالى رسول ته ورغلو؛ نو حسنين به يې پر خېټه لوغړېدل او آنحضرت وايي: دا مې له دې امته دوه ګلان دي.
(کنزالعمال: شپږم ټوک، ۲۲۰ مخ او اووم ټوک، ۱۰۹، ۱۱۰ مخ او شپږم ټوک، ۲۲۱ مخ)، (کنوزالحقايق: ۱۶۵ مخ) (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۸۱ مخ)، (مستدرک الصحيحين: دريم ټوک، ۱۶۵مخ) او (رياض النضره: دويم ټوک، ۲۳۲ مخ) په دې باب راويتونو رانقل کړي دي، چې موږ يې په يوازې په روستي بسيانه کوو:
(رياض النضره: دويم ټوک، ۲۳۲ مخ) له حضرت اسماء بنت عميس نه د رسول اکرم له لور فاطمې روايتوي، چې رسول الله مې کور ته راغى، و يې پوښتل: زامن مې چېرې دي؟ -يعنې حسن او حسين –ورته مې وويل: نن مو په کور کې خواړه نه درلودل، علي وويل، چې له کوره يې بهر وړم، چې د خوړو په باب دې په ژړا و نه کړوي. رسول الله، چې دا واورېدل؛ نو د علي په لټه کې بهر شو او د پلاني يهودي په پټيو کې يې وموند، چې مخې ته يو څو دانې کجورې پاتې وې؛ رسول الله علي ته وويل: د هوا تر ګرمېدو د مخه ما شومان کور ته نه وړې؟ تر دې چې رسول الله يو ماشوم او علي بل ماشوم په غېږ کې ونيو او کور ته راغلل. په دې اړه د يهودي لپاره د حضرت د اوبو د بوکې د راايستو مفصل حديث تېر شو.
(ذخاير العقبى: ۱۳۰ مخ) له حضرت ابن عباس نه روايتوي: يوه ورځ د الله تعالى له استازي سره وو، چې فاطمه په ژړا راغله، رسول الله وويل: پلار دې در ځار! ولې ژاړې؟ ورته يې وويل: حسن او حسين له کوره ووتل او نه پوهېږم، چې شپه به چېرې تېروي. و يې ويل: مه ژاړه، چې د هغوى خالق يې تر موږ پرې خورا لوراند دى او بيا يې خپل لاسونه پورته کړل، و يې ويل: پالونکيه! دواړه روغ رمټ وساتې! ډېر وخت لا نه و تېر شوى، چې جبرائيل راغى، و يې ويل: محمده! مه ژاړه، چې زامن دې د بني النجار د بڼ مخې ته ويده دي او الله تعالى يې ساتلو ته يوه پرښته ګومارلې ده، رسول الله له اصحابو سره راووت، چې د بني النجار بڼ ته راورسېد، و يې ليدل، چې دې دوو ماشومانو يو بل ته په ورمېږ کې لاسونه ايښي او ويده دي او د الله تعالى له لوري ګومارل شوې پرښتې ترې خپل يو وزر لاندې کړى او بل يې ورته سيورى کړى دى، رسول الله پرې بېواکه ځان ورواچاوه او ښکل يې کړل، چې ما شومان راويښ شول او بيا يې حسن په په ښۍ اوږه او حسين يې په کيڼه اوږه کېناوه او روان شو. په لار کې ورته حضرت ابوبکر مخې ته راغى، و يې ويل: رسول الله! يو ماشوم ما ته راکړئ!او

یې ویل: نه! دا دوه زامن مې ښه اوښ لري او دا دوه زامن یې ښه سورلی دي او پلار یې تر دې دوو غوره دی، تر دې چې جومات ته راورسېدل، رسول الله ولاړ و او ما شومان یې پر اوږو وو.
په داسې حال کې یې ټول مسلمانانو ته مخه کړه، و یې ویل: غواړئ، چې د پلار نیکه له پلوه مو له تر ټولو غوره وګړیو سره اشنا کړم؟ ټولو وویل: هو! همدا حسن او حسین، چې نیکه یې د رسولانو خاتم او نیا یې خدیجه د خویلد لور ده، چې د جنت د ښځو اغلې ده او ایا غواړئ، چې د تره او ترور (عمه) له پلوه مو له تر ټولو غوره وګړیو سره ا شنا کړم؟ خلکو وویل: هو! بیا هم همدا حسن او حسین دي، چې تره یې جعفر او ترور یې ام هاني ده.
خلکو!غواړئ، چې د ترور (خاله) او ماما له پلوه مو له تر ټولو غوره وګړیو سره ا شنا کړم؟ وویل شول: هو! و یې ویل: بیا هم همدا حسن او حسین دي؛ ځکه ماما یې قاسم د الله تعالی د استازي زوی او خاله یې زینب د الله تعالی د رسول لور ده، بیا یې وویل: الله تعالی پوهېږي، چې حسن او حسین، ترونه او عمه ګانې او دوستان یې په جنت کې او دښمنان یې په اور کې دي.
(هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۸۲ مخ) او (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۰۷ مخ) هم دې ورته کیسه راوړې ده.
(ذخائر القبی: ۱۳۰ او ۱۳۲ مخونه)، (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۸۲ مخ) او (متقي؛ کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۰۸ مخ) له رامهرمزي د امثال په کتاب کې او ابن عساکر او هیثمي د مجمع د نهم ټوک په ۱۸۱ مخ کې له حضرت عمر بن خطاب او کنزالعمال د اووم ټوک په ۱۰٦ مخ کې (هیثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۸۲ مخ)، (مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱۷۰ مخ)، (اسدالغابه، دویم ټوک، ۱۲ مخ)، (کنزالعمال: ۱۰٤ مخ او د هغه د وینا له مخې)، (ا بن عساکر او همداراز ترمذي؛ صحیح: دویم ټوک، ۳۰۸ مخ) او (ذخائر العقبی: ۱۳۱ مخ) په دې باب راویتونه راوړي دي، چې راویانو یې ویلي دي، چې و مو لیدل، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم حسنین پر خپلو اوږو سواره کړي وو او د (هیثمي؛ نهم ټوک، ۱۸۱) مخ د روایت له مخې، حضرت عمر وایي: ما وویل: څومره ښه اوښ لرئ. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: زه څومره ښه سواره لرم.
(مستدرک الصحیحین: درېیم ټوک، ۱٦۷ مخ) په خپل سند له حضرت ابوهریره روایتوي: له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره مو د ماسخوتن لمونځ کاوه؛ سجدې ته به چې تله؛ نو حسن او حسین به یې پر شا سورېدل او چې راپورته کېده به نو؛ هغه دواړه به یې ارام په ځمکه ایښوول او بیا به جګېده او دا چار په ټولو سجدو کې و. د لمانځه په پای کې مې

وويل: رسول الله اجازه راکوئ، چې دا ماشومان يې مور ته بوځم؟ و يې ويل: نه! ناڅاپه مې وليدل، چې برښنا راښکاره شوه او د الله تعالی رسول وويل: ځئ! مور تـه ولاړ شئ او برښـنا يې مخه روښانه کړې وه، چې کور ته ورسېدل. (دا حديث صحيح سند لري)
(احمد بن حنبل؛ مسند: دويم ټوک، ۵۱۳ مـخ)، (متقـي؛ کنـزالعمال: اووم ټـوک، ۱۰۹ مـخ)، (هيثمي؛ مجمع: نهم ټوک، ۱۸۱ مخ کې) راوړی دی، (بيهقي؛ سنن: دويم ټـوک، ۲٦۳ مـخ) په خپل سند له زر بن جيش نه دې ورته يو روايت راوړی دی؛ خو په پای کې يې رسول الله د هغه خلکو په ځواب کـې، چـې ما شومان يـې کـور تـه رسـول غوښـتل، ويـلي دي: دا دوه ماشومان ما ته پرېږدئ، مور و پلار مې ترې ځار وي، څوک چې له ما سره مينه کوي، لـه دې دوو سره دې هم مينه وکړي.
(ذخائر العقبی: ۱۳۲ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۰۹ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: درېـيم ټـوک، ۱۸۲، ۱۸۱ او ۱۷۵ مخونه)، (نسـائي؛ صـحيح: لـومړی ټـوک، ۱۷۱ مـخ)، (مسـتدرک: درېـيم ټوک، ۱٦۵، ٦۲٦ مخونه)، (احمد بن حنبل؛ مسـند: درېـيم ټـوک، ٤۹۳ مـخ)، (بيهقـي؛ سـنن: دويـم ټوک، ۲٦۳ مخ)، (اسدالغابه: دويـم ټوک، ۳۸۹ مخ) او (کنزالعمال: اووم ټـوک، ۱۰۹ او ۲۲۲ مخونو) په دې باب روايتونه رانقل کړي دي، چې د لنډيز لپاره يې له راوړو ډډه کوو.
(صحيح ترمذي: دويم ټوک، ۳۰٦ مخ)، (نسائي؛ صحيح، لـومړی ټـوک، ۲۰۹ او ۲۳۵ مـخ)، (ابو داود؛ صحيح: شپږم ټوک، ۱۱۰ مخ)، (مستدرک: لومړی ټوک، ۲۸۷ مخ او څلورم ټوک، ۱۸۹ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: پينځم ټوک، ۳۵٤ مخ)، (بيهقي؛ سنن: درېـيم ټـوک، ۲۱۸ مخ او شپږم ټوک، ۱٦۵ مخ)، (اسدالغابه: دويم ټوک، ۱۲ مخ)، (ابن جرير؛ تفسير: ۲۸ ټوک، ۸۱ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۰۸ مخ)، (سيوطي؛ درمنثور: د تغـابن د سـورت تـر "انمـا اموالکم و اولادکم فتنة" تر آيت لاندې)، (مستدرک، درېيم ټوک، ۱٦۸ مـخ) او (عسـقلاني؛ فتح الباري: اتم ټوک، ۱۰۰ مخ) په دې مضمن روايتونه رانقل کړي دي، چې رسـول اللـه پـه خطبه و او حسن (او بله ورځ حسين) او (په بلـه ورځ دواړو) د رسـول اللـه خپـرې پرېکـړې، لاندې راکوز شو، ماشومان يې په غېږ کې ونيـول، و يـې ويـل: د دوی د ژړا د غږ د اورېـدو وس نه لرم.
(اسدالغابه: دويم ټوک، ۱۹ مخ) له حضرت ابي هريرة او (کنزالعمال: درېيم ټوک، ۱۵٤ مـخ) له ابي ذر او (ذخائر العقبی: ۱۳٤ مخ) له جعفـر بن محمـد او (کنـزالعمال: اووم ټـوک، ۱۰۷ مخ) له حضرت علي کرم الله وجهه نه په دې مضمون روايتونه رانقل کړي دي، چې څو ځل ځل حسن او حسين سره غېږ په غېږ شول، چې سيالي وکړي، رسول الله به د حسين پـر ځـای

حسن هڅاوه او دا چې فاطمې -یا علي –یې ترې علت وپوښت و یې ویـل: ځکـه جبرائیـل حسین هڅوي؛ نو زه حسن هڅوم.

(صحیح ترمذي: دویم ټوک، ۲٤۰ او ۳۰۷ مخونه)، (صحیح ابن ماجـه)، (احمـد بن حنبـل؛ مسند: پینځم ټوک، ۳٦۹ مخ)، (طیالسي؛ مسـند: لسـم ټـوک، ۳۳۲ او ۳۲۷ مخونـه)، (بیهقـي؛ سنن: دویم ټوک، ۲۱۳ مخ) او (کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۰۸ مـخ) روایتونـه راوړي دي، چـې لنډیز یې دادی، چې حسین وړوکی ماشوم و، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم به له لاسه نیوه، د هغه پښه به یې پر خپله خېټه ایښووه او تر اوږو به یې جیگاوه، ویل یـې: (حزقـه حزقه. ترق عین بقه –ماشومه!ماشومه! راوخېژه ای د مـاشي سـترگې) او ځنـې عالمـان وایـي، چې د رسول الله دا خبره یې د امام حسین د شهادت او بدن د سوري سوري کېدو وړاندوینه ده؛ ځکه اوس برسېره شوې ده، چې د ماشي سترگې سورې سورې ده –په دې ټولو روایتونـو کې راغلي دي، چې ویلي یې دي: (خدایه! هغه مو ښه ایسي ستا دې هـم هغـه ښـه و ایسي- چې دی یې ښه ایسي)

(ابن سعد؛ طبقات: پینځم ټوک، ۱۰۷ مخ) له ابي عـون روایـتوي، چـې کلـه امـام حسـین لـه مدینې نه د مکې پر لور عراق ته د تگ لپاره حرکت وکړ؛ نو په لار کې له ابن مطیع سره مـخ شو، چې څاه یې کنله، و یې پوښتل: مور وپلار مې در ځار چېرې ځـې؟ آنحضرـت ورتـه د خپلو پلویان د بلنې کیسه وکړه او ابن مطیع ترې وغوښتل، چې د حجار خلک د خپل وجود له برکته مه بې برخې کوئ؛ خو امام و نه منله، و یې ویل: دا څاه مې چې کنلې، نوې اوبه یـې راوتـلي دي، او به یـې تـروې دي؛ لـه خدایـه وغـواړه، چـې او به یـې سـړې او خـوږې شي. آنحضرت هم د هغه څاه لومړی بوکه اوبه راواخستې، غړغړه یې کړې او په څاه کې واچـولې او د څاه اوبه خوږې او سړې شوې.

(ابن ماجه؛ صحیح: ابواب جهاد، د ذکر دیلم باب) په خپل سند له حضرت ابي هریره روایتوي، چې د الله تعالی رسول وویل: د دنیا د ژوند یوه ورځ که هم پاتې شي؛ نو الله تعالی به یې دومره اوږده کړي، چې زما له اهلبیتو یو سړی د دیلم او قسطنطنیه (استامبول) د غرونو د لړۍ تر منځ پر سیمه واکمن شي او پر دې ځمکه واکمني وکړي.
(ابن ماجه؛ صحیح: د فتن ابواب، د مهدي د راښکاره کېدو باب) په خپل سند له حضرت علي کرم الله وجهه روایتوي: رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: مهدي زموږ له اهلبیتو ځنې دی، چې الله تعالی به یې په یوه شپه کې د راښکاره کېدوه سریزې چمتو کړي.
دا حدیث (ابونعیم؛ حلیة: دریېم ټوک، ۱۷۷ مخ) په دې اضافه راوړی، چې په یوه شپه کې – یا یې وویل، چې په دوو ورځو کې – امام احمد بن حنبل هم د خپل مسند د لومړي ټوک په ۱۸٤ مخ کې راوړی او سیوطي هم په درمنثور کې د محمد سورت په تفسیر کې روایت دی او ابي شیبه، احمد او ابن ماجه ته یې نسبت ورکړی دی.
(ابن ماجه؛ صحیح: د فتن ابواب، د مهدي د راښکاره کېدو باب) په خپل سند له عبدالله روایتوي: یوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره وو، چې یوه ډله بني ها شم راغلل؛ همدا چې آنحضرت دا ډله ولیده، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، رنګ یې واوخوت، ورته مو وویل: ستاسې په څېره کې مو خپګان ولید؟ و یې ویل: موږ هغه اهلبیت یو، چې الله تعالی راته آخرت ته پر دنیا غوراوی راکړی دی، تر تګ روسته به مې پر اهلبیتو خورا کړاوونه او ستونزې راشي، خلک به ورته شا کړي، تردې چې له ختیځه به له تورو بېرغونو سره یو قوم راشي او خیر او صلاح به وړاندیز کړي؛ خو خلک به یې ورسره و نه مني؛ نو د ناچارۍ له مخې به تورې ته لاس کړي او الله تعالی به ددې قوم ملاتړ وي او خلک به یې ورسره د ناچارۍ له مخې ومني او هغه څه به هم ورته ورکړي، چې ترې نه وي غوښتل شوي؛ خو هغه قوم به یې ورسره نه مني؛ تر دې، چې د چار واګې زما له اهلبیتو ځنې یو سړي ته وسپاري او هغه سړی به ځمکه له عدله ډکه کړي؛ لکه څنګه چې له تېري او ظلمه ډکه شوې وه؛ نو که هر چا هغه مهال ولید؛ نو ور دې شي که څه له یخه وي.
(ابي داود؛ صحیح: ۲۷ ټوک) د المهدي په کتاب کې په خپل سند له ابي الطفیل روایتوي: که د هستۍ یوه ورځ هم پاتې شي؛ نو الله تعالی به پر هغه ورځ زما له اهلبیتو ځنې یو راښکاره کړي، چې ځمکه له عدله ډکه کړي؛ لکه څنګه چې له ظلمه ډکه شوې وه.

(مستدرک الصحیحین: څلورم ټوک، ۵۵۷ مخ) په خپل سند لـه حضرت ابي سـعید خـدري روایتوي: د الله تعالی رسول صلی الله علیه و آله وسـلم وویـل: قیامـت به نشي ـ تـردې چې څمکه له ظلم او دښمنۍ ډکه شي او هله به زما له اهلبیتو څخه یو راووځـي، چـې څمکـه لـه عدل او دوستۍ ډکه کړي؛ لکه څنګه چې لـه ظلـم او دښـمنۍ ډکـه شوې وه. بیـا وایـي: دا حدیث د مسلم او بخاري له نظره د صحت ټول شرایط لري.

دا روایت ابو نعیم د حلیة الاولیاء د درېیم ټوک په ۱۰۱ مخ کې په لـږ اخـتلاف راوړی دی او همداراز احمد بن حنبل د خپل مسند د درېیم ټوک په ۳٦ مخ کې او د حدیث نورو ائمو هم رانقل کړی دی.

(مستدرک الصحیحین: څلورم ټوک، ۵۵۸ مخ) په خپل له حضرت ابوسعید خدري روایتوي: رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: څمکه به له ظلم او دښمنۍ ډکه شي؛ نـو زمـا لـه عترته به یو سړی راووځي. او دا حدیث د مسلم او بخـاري لـه نظـره د صـحت ټـول شرطونـه لري.

(امام احمد بن حنبل؛ مسند: لومړی ټوک، ۹۹ مخ) په خپل سند لـه حضـرت علـي کـرم اللـه وجهه روایتوي: د الله تعالی استازي وویل: که د دنیا یوه ورځ هم پاتې شي؛ نو الله تعـالی به له موږ څخه یو سړی مبعوث کړي، چې دنیا له عدله ډکه شي؛ لکه څنګه چې لـه ظلمـه ډکـه شوې وه.

دا روایت سیوطي هم په درمنثور کې په محمد سورت کې راوړی دی او ابن ابي شیبه، احمد او ابوداود ته یې نسبت ورکړی دی.

(اسدالغابه: لومړی ټوک، ۲۵۹ مخ) د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم یو حدیث راوړی دی، چې وایي: ډېر ژر به تر ما روسته خلفاء او تر خلفاوو روسته آمران او تـر آمرانـو روسـته پاچپان او جبابر واک ته ورسي او تر هغه روسته به مې له اهلبیتو څخه یو سړی راووځي، چې څمکه له عدله ډکه کړي؛ لکه څنګه چې له ظلمه ډکه شوې وه.

اسدالغابه دا روایت د پینځم ټوک په ۱۵۵ مخ کې هم راوړی دی، په دې توپیر، چـې وایـي: تر ملوکو روسته به جبابره راځي.

همداراز دا روایت (ابن عبدالبر؛ استیعاب: لومړی ټوک، ۱۸۵ مخ)، (ا بن حجـر؛ اصـابه: اووم ټوک، ۳۰ مخ)، (متقي؛ کنزالعمال: اووم ټوک، ۱۸٦ مخ)، (ابن حجر؛ صـواعق: ۹۸ مـخ) او د هغـه د وینـا لـه مخـې رویـاني او طـبراني او همـداراز (کنـزالعمال: اووم ټـوک، ۲٦۳ مـخ)، (کنزالعمال: شپږم ټوک، ٤٤ مخ) د حضرت امام مهدي په باب روایتونه راوړي دي، چـې پـه روستي کې یې حضرت رسول الله عوف ته وایي: عوفه! څنګه به یې پر هغه مهال، چې امت

مې پر درې اوياوو ډلو و ايشل شي او يوازې يوه ډله يې جنتي وي او نـور ټـول به پـه دوزخ کې وي –تر دې چې وايي –نو توره او حيرانوونکې فتنه به راولاړه شي او تـر هغـه روسـته به فتنه په فتنې پسې راځي، تردې چې له اهلبيتو مې يو سـړی راښـکاره شي، چـې ورتـه مهـدي وايي، که و دې ليد؛ نو لاروي ترې وکړه، چې له لار موندليو څنې شې.

(حلية الاوليـاء: دريـيم ټـوک، ۱۸٤ مـخ)، (ذخـائر العقبـی: ٤٤ مـخ) او همـدارزا سـيوطي پـه درمنثور کې په محمد سورت کې او د هغه د وينا له مخې ترمذي، نعيم بن حماد او همـداراز صحيح ابوداود (۲۷ ټوک، ۱۳٤ مخ) د امام مهدي په باب روايتونه راوړي دي، چـې روسـتی يې دادی، چې ام المؤمنين ام سلمه وايي: د الله تعالی له استازي مې واورېدل: مهدي زما لـه عترته او د فاطمې له زامنو څنې دی.

دا روايت ابن ماجه د خپل صحيح د ابواب فتن د مهدي د راووتـو پـه باب کـې او همـدارز (حاکم؛ مستدرک: څلورم ټوک، ۵۵۷ مخ) کـې هـم راوړی دی او ويـلي يـې دي: دا مطلـب حق دی او مهدي د فاطمې له زامنو څنې دی. (ذهبي؛ ميزان الاعتدال، دويـم ټوک، ۲٤ مـخ) او همداراز سيوطي په درمنثور کې د محمد سورت په تفسير کې راوړی دی او ابي داود، ابن ماجه، طبراني او حاکم ته يې نسبت ورکړی دی.

(کنزالعمال: اووم ټوک، ۲٦۱ مخ او همداراز؛ شپږم ټوک: ۲۱۸ مخ) او همداراز؛ اووم ټـوک، ۲۵۹ مخ) او ذخائر العقبی د حضرت امام مهدي په باب روايتونه راوړي دي، چې په روسـتي کې يې له حضرت حذيفه روايتوي، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسـلم وويـل: کـه د دنيا عمر يوه ورځ هم پاتې شي؛ نو الله تعالی به دا ورځ دومره اوږده کړي، چې زما لـه زامنـو څنې يو، چې نوم يې مهدي دی راښکاره شي. سلمان وپوښتل: رسـول اللـه! لـه کومـو زامنـو څنې دې دی؟ د الله تعالی استازي پر حسين لاس کېښود، و يې ويل: له دې زويه مې.

(کنوز الحقايق: ۱۵۳، ۱۵۲ مخونه) او (ذخائر العقبی: ۱۳٦ مخ) د حضرت امام مهدي په باب روايتونه راوړي دي، چې روستی يې دادی، چې علي بن هلالي له پلاره راوايتوي، چې وايي: رسول الله رنځور و، چې ورغلم او په دې رنځ يې رحلت هم وکړ، و مې ليدل، چې فاطمه يې سر ته ناسته، ژاړي، چې غږ يې راپورته شو، د اللـه تعـالی اسـتازي ورتـه وليـدل او ورتـه يـې وويل: فاطمې! پر هغه الله تعالی، چې زه يې په حقه مبعوث کړی يم، ددې امت مهـدي سـتا له حسينه دی او هغه مهال به راښکاره شي، چې دنيا به له ګـډوډۍ ډکـه شوې وي، فتنـې به راولاړې شوې وي، له هر لوري به د خلاصون لارې بندې شوې وي، خلک به يو بل لـوټي؛ نه به پر کشرانو رحم کيږي او نه به د مشرانو درنـاوی؛ نـو دا مهـال به اللـه تعـالی يـو څـوک مبعوث کړي، چې د ضلالت ټولې کلاګانې سوبه کـړي او تـړلي زړونـه پرانځـي او پـه اخره

زمانه کې به د اسلام په دین پاڅون وکړي؛ لکه څنګه چې ما په لومړۍ زمانه کې په اسلام پاڅون وکړ او ځمکه به له عدله ډکه کړي؛ لکه څنګه چې له ظلمه ډکه شوې وه.
(صحيح ترمذي: دويم ټوک: ٣٦ مخ)، (صحيح ابي داود: ٢٧ ټوک، ١٣٦ مخ)، (امام احمد بن حنبل؛ مسند: درېيم ټوک، ١٧مخ)، (هيثمي؛ مجمع الزوائد: اووم ټوک، ٣١٥، ٣١٧مخونه)، (مستدرک الصحيحين: څلورم ټوک، ٥٥٤ او ٥٥٧ مخونه)، (ابن ماجه؛ صحيح: ابواب فتن، د مهدي د راښکاره کېدو باب)، (امام احمد بن حنبل؛ مسند: درېيم ټوک، ٢٨ مخ)، (مستدرک الصحيحين: څلورم ټوک، ٤٦٥ مخ)، (احمد بن حنبل؛ مسند: درېيم ټوک، ٣٧ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ١٨٩ مخ)، (هيثمي؛ مجمع الزوائد: اووم ټوک، ٣١٦ مخ)، (صواعق محرقه: ٩٨ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ٢٦١ مخ)، (صحيح مسلم: د فتن کتاب، د "لاتقوم الساعة حتى يمر الرجل" باب)، (سيوطي؛ درمنثور: محمد سورت)، (امام احمد؛ مسند: درېيم ټوک، ٩٨، ٣١٧ مخونه)، (مستدرک الصحيحين: څلورم ټوک، ٤٦٣، ٥٠٢، ٥٠٣، ٥١٤ مخونه)، (ابن سعد؛ طبقات: درېيم ټوک، ٤ مخ)، (کنزالعمال: اووم ټوک، ٢٦٠، ٢٦١ مخونه)، (ثعلبي؛ قصص الانبياء: ٥٥٤ مخ)، (هيثمي؛ مجمع: اووم ټوک، ٣١٤مخ)، (صواعق محرقه: ٩٨ مخ) او (کنوزالحقايق: ١٥٢) د امام مهدي د ژوند او مړينې په باب روايتونه راوړي دي، چې په يوه يې بسيا کوو او هغه د ثعلبي د قصص الانبياء روايت دی، چې له حضرت ابن عباس نه روايتوي: د الله تعالی استازي صلی الله عليه و آله وسلم وويل: څنګه به شونې وي، چې د محمد امت هلاک شي، حال دا، زه د بنسټ په پيل کې وم، عيسی يې په پای کې او مهدي يې په منځ کې.

پای

# سرچينې

١- محمد بن اسماعيل بخاري؛ صحيح بخاري، چاپ: پر ١٣٢٠ س د مصر خيريه چاپځی.
٢-مسلم بن حجاج نيشابوري؛ صحيح مسلم، چاپ: پر ١٢٩٠س د مصر بولاق مطبعه.
٣-محمد بن عيسى ترمذي؛ صحيح ترمذي، چاپ: پر ١٢٩٢ د مصر بولاق مطبعه.
٤-احمد بن شعيب نسائي؛ صحيح نسائي، چاپ: پر ١٣١٢ د مصر ميمنه مطبعه.
٥- ابي داود سيساتي؛ صحيح سيساتي، پر ١٢٨٠ د کستليه مطبعې چاپ.
٦-ابن ماجه قزويني؛ صحيح، په دهلي کې د فاروقي مطبعې چاپ.
٧-حافظ ابي عبدالله محمد بن عبدالله نيشابوري په حاکم نيشابوري مشهور؛ مستدرک الصحيحين، پر ١٣٢٤ د حيدرآباد د دکن د مجلس دائرة المعارف نظاميه مطبعې چاپ.
٨-امام احمد بن حنبل؛ مسند، چاپ: پر ١٣١٣ د مصر د ميمنه مطبعه.
٩-امام مالک بن انس؛ موطا، چاپ: پر ١٢٨٠ د مصر حجريه مطبعه.
١٠- امام نعمان ابي حنيفه؛ مسند، پر ١٣٠٦ د هندوستان په لاهور کې د محمدي مطبعې چاپ.
١١-امام ابي عبدالله محمد بن ادريس شافعي؛ مسند، پر ١٣٠٦ د هندوستان په شهراره کې د خليلي مطبعې چاپ.
١٢- ابي عبدالله محمدبن اسماعيل بخاري د صحيح بخاري خاوند؛ ادب المفرد، پر ١٣٠٦ د هندوستان په شهراره کې د خليلي مطبعې چاپ
١٣-حافظ سليمان بن داود؛ د ابي داود طيالسي مسند، پر ١٣٢١ د حيدرآباد د دکن د مجلس دائرة المعارف نظاميه مطبعې چاپ.
١٤-حافظ ابي محمد عبدالله بن رحمان دارمي؛ سنن دارمي، پر ١٣٤٩ د د مشق د اعتدال مطبعې چاپ.
١٥-حافظ ابي بکر احمد بن حسين بن علي بيهقي؛ سنن کبری، پر ١٣٤٩ د حيدرآباد د دکن د مجلس دائرة المعارف نظاميه مطبعې چاپ.
١٦-حافظ بن ابي الحسن علي بن عمر دارقطني؛ سنن، چاپ: پر ١٣٥١ د دهلي د انصاري مطبعه.
١٧- ابي نعيم حافظ بن عبدالله اصفهاني؛ حلية الاولياء، چاپ: پر ١٣٥١ د مصر د سعادت مطبعه.

۱۸- حافظ شهاب الدین ابي الفضل عسقلاني په ابن حجر مشهور؛ فتح الباري فی شرح بخاري، چاپ: پر ۱۳۷۸ د مصر د مصطفی بابی حلبي او زامنو مطبعه.
۱۹-محمد بن سعد کاتب واقدي؛ طبقات کبری، چاپ: پر ۱۳۲۲ د بریل لیدن مطبعه.
۲۰-حافظ ابي بکر احمد بن خطیب بغدادي؛ د بغداد تاریخ، چاپ: پر ۱۳٤۹ د سعادت مطبعه.
۲۱-امام ابي جعفر محمد بن جریر طبري؛ تاریخ الامم والملوک، چاپ: پر ۱۳۵۷ د قاهرې استقامت مطبعه.
۲۲-محمد بن حسن شیباني د امام ابوحنیفه زده کړیال؛ مشکل الاثار، چاپ: د هند په لکناهور کې د انوار محمدي مطبعه.
۲۳-ابي جعفر طحاوي؛ شرح معاني الاثار: پر ۱۳۰۰ د مصطفائي مطبعه.
۲٤-عزالدین ابي الحسن علي بن محمد په ابن اثیر مشهور؛ اسدالغابه، چاپ: پر ۱۲۸۵ د مصر وهبیه مطبعه.
۲۵-حافظ ابي عمر یوسف بن عبدالله په ابن عبدالبر مشهور؛ استیعاب، پر ۱۳۳٦ د حیدرآباد د دکن د مجلس دائرة المعارف نظامیه مطبعې چاپ.
۲٦-محمد بن حسن شیباني د امام ابوحنیفه زده کړیال؛ الاثار، چاپ: د هند په لکناهور کې د انوار محمدي مطبعه.
۲۷-امام حافظ شهاب الدین احمد بن علي بن محمد عسقلاني په ابن حجر مشهور؛ الاصابه، پر ۱۸۵۳ ز د کلکتې چاپ، چې د مصر د چاپ له نسخې سره سمون خوري.
۲۸-شیخ الاسلام شهاب الدین احمد بن علي بن حجر عسقلاني؛ تهذیب التهذیب، پر ۱۳۲۵ د حیدرآباد د دکن د مجلس دائرة المعارف نظامیه مطبعې چاپ.
۲۹- حافظ شمس الدین محمد بن احمد په ذهبي مشهور؛ میزان الاعتدال، چاپ: پر ۱۳۲۵د مصر دسعادت مطبعه.
۳۰- د جامع البیان تفسیر؛ امام ابي جعفر محمد بن جریر طبري پر ۳۱۰ مړ، چاپ: پر ۱۳۲۱ د مصر د کبری بولاق مطبعه.
۳۱-د کشاف تفسر؛ امام محمدبن عمر زمخشري پر ۵۲۸ مړ، چاپ: پر ۱۳۵٤ د مصطفی محمد مطبعه.
۳۲-د مفتاح الغیب تفسیر په تفسیر کبیر مشهور، امام محمد رازي فخرالدین د علامه ضیاء الدین عمر په خطیب رازي مشهور زوی، پر ٦۰٦ مړ، چاپ: د دارالطباعه عامره مطبعه.

۳۳-ستر امام جلال الدین عبد الرحمن ابي بکر سیوطي؛ د منثور فی تفسیر الماثور تفسیر، چاپ: پر ۱۳۱٤ د مصر میمنه مطبعه.
۳٤-شیخ امام ابي الحسن علي بن احمد په واحدي مشهور؛ اسباب النزول، چاپ: پر ۱۳۱۵ د غیط النوبي مطبه.
۳۵- احمد بن ابراهیم ثعلبي؛ قصص الانبیاء (عرائس التیجان): پر ۱۲۹٤ د بمبئ حیدري مطبعه.
۳٦-حافظ و حجت ابي عبدالرحمان احمد بن شعیب نسائي د سنن نسائي خاوند؛ خصایص امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب، چاپ: ۱۳٤۸ د التقدم العلمي مطبعه.
۳۷-ابن محمد عبدالله بن مسلم په ابن قتیبه مشهور؛ الامامة والسیاسة، چاپ: پر ۱۳۳۱ د فتوح الادبیه مطبعه.
۳۸- حافظ نورالدین علي بن ابي بکر هیثمي؛ مجمع الزوائد؛ هغه نسخه، چې د حسام الدین قدسي په هڅه او اهتمام پر کال ۱۳۵۲ چاپ شوې ده.
۳۹-کنزالعمال د جمع الجوامع حافظ سیوطي د متقي هندي لیکنې شرح، پر ۱۳۱۲ د حیدرآباد د دکن د مجلس دائرة المعارف نظامیه مطبعې چاپ.
٤۰-فیض القدیر د جامع الصغیر سیوطي شرح د علامه عبدالروف مناوي لیکنه، چاپ: پر ۱۳۵٦ د مصطفی مطبعه.
٤۱-کنوز الحقائق فی احادیث خیر الخلائق د علامه عبدالروف مناوي لیکنه، هغه نسخه، چې د حافظ حسین حلمي په تحریر پر ۱۲۸۵ په اسلامبول کې چاپ شوې ده.
٤۲-حافظ ابي جعفر احمد بن عبدالله په محب طبري طبري مشهور؛ ریاض النضره، هغه نسخه، چې په ړومبي ځل د مصر په اتحاد مطبعه کې چاپ شوې ده.
٤۳-ابي جعفر احمد بن عبدالله په محب طبري مشهور؛ ذخائر العقبی هغه نسخه، چې د حسام الدین قدسي په هڅه پر ۱۳۵٦ چاپ شوې ده.
٤٤-شهاب الدین احمد بن حجر هیثمي؛ صواعق المحرقة، چاپ، پر ۱۳۱٤ د مصر میمنه مطبعه.
٤۵- د علي بن سلطان محمدي قاري مرقاة المفاتیحد خطیب تبریزي د مشکاة المصابیح شرح د ابي محمد حسین بن مسعود فراء بغوي د مصابیح شرح، هغه نسخه، چې پر ۱۳۰۹ د مصر په میمنه مطبعه کې چاپ شوې ده.
٤٦- شیخ شبلجني په مؤمن مشهور؛ نورالابصار، چاپ: ۱۳۲۲ د مصر میمنه مطبعه.